

# نبوي ارشادات

## او پیغمبري لارښوونې

د ژوند په هره برخه کې

لقمان حکیم حکمت

Scanned by CamScanner

# يادونه

د اسلامي لارښود سائټ www. Larkhud. com
له ليکلي موافقې پرته هيڅ چاته اجازت نه ورکوي چې نشريات يې
په کتابي بڼه نشر او اشاعت کړي، دا عمل غير اخلاقي او قانوني
جنايت بولي، د سرغړونې په صورت کې د هر ډول محکمې بشپړ
حقوق لري.

اسلامي لارښود دعوتي خپرونديه اداره ده، له هېڅ چا سره
سياسي اړيکې نه پالي او نه د کوم ګوند او يا تنظيم ترجماني
کوي او نه د ليکوالانو د ليکنو او کتابونو د ملاتړ مسؤليت په
غاړه اخلي، هر ليکوال د خپلې ليکنې عند الله او عند الناس
مسؤول دی.

**په درنښت**
**د اسلامي لارښود سائټ اداره**

**www. Larkhud. com**

Scanned by CamScanner

د ژوند په هره برخه کې

# نبوي ارشادات او پیغمبري لارښووني

لقمان حکیم حکمت

# پېلیزه

الحمدلله ، والصلاة و السلام على رسول الله، وعلى آله و أصحابه ومن والاه، ومن سار بنهجه وتمسک بسنته و نهج منهجه و اهتدى بهداه، امابعد:
د دې نبوي ارشاد له مخې چې ( بَلِّغُوْا عَنِّي وَ لَوْ آيَةً )، د دې اسلامي توجیه او ورته نورې پېغمبرې ښوونېزو اصلاحي او دعوتي سپارښتونو په بنسټ اسلامي احکام تر خلکو رسول او په نبوي اسلوب له هر چا سره ګړېدل هغه ممدوح دعوتي اخلاق دي چې دعوت له ده پرته ناشونی دی.
الحمدلله د حدیثونو دا ټولګه د مسلمان د ژوند هر باب سره ډېره کلکه رابطه لري، امېد دی چې د ژوند متعلق ډېری مسائل يې پرې حل او فصل شي.
الحمدلله په ټولګه کې مو د هر حدیث تخریج او ترڅنګ مو ورسره په عامه ساده پښتو کې ترجمه هم ذکر کړې ده، او کوښښ مو کړی چې په یو باب کې ګڼ شمېر مسئلې منصوصي ذکر کړو ترڅو د چا لپاره په کوم اړخ کې د استفهام ځای پاتې نه شي، برسېره پر دې مو زيار ویستی او د هر حدیث لپاره مو رئیسي عنوان ایښی ترڅو لوستوال وکولی شي په اسانه توګه حدیث په خپل فهم کې راولي.
دا چې محدثینو رحمهم الله چې په هر باب کې حدیثونه راټول کړي دي او ګټه اخستل ترې نهایت زيات اسان دي، په ډېره اسانه ورته مراجعه کېدلی شي، په هر باب کې مو د نبوي حدیثونو له غښتلو موسوعاتو څخه باور وړ حدیثونه چې استدلال نېول پرې سم دي راټول کړل، په داسې حالت کې چې له مکتبه شامله څخه مو د حدیث د حکم اړوند ګټه اخستې ده، دا چې د چاپ بڼې ته يې اړتیا ولیدل شوه چاپ ته مو ورکړل ترڅو هغه مسلمانان ورونه او خوېندې چې د حدیثونو مینوال وي وکولی شي

WWW.LARHKUD.COM

په اسانه توګه نبوي ارشاداتو او پیغمبرې لارښونو ته لاس رسی ولري او د ژوند په بیلابیلو برخو کې یې په سمه توګه د عمل لاندې راولي.

دا چې دیني زده کړې مو د امام بخاري رحمه الله په پوهنتون کې ترسره کړي دي الله پاک دې دغه دعوتي، درسي او ښوونیزه ودانۍ په علم او دین اباده او ودانه لري، الله پاک دې زمونږ د استاذانو حفاظت وکړي او د دعوت او علم په مخ کې ټول خنډونه دې الله پاک له یاد پوهنتون او ټولو منسوبینو څخه پورته کړي.

الله رب کائنات دې دا عمل خالص د هغه د رضا په خاطر وګرځوي او په دې ارشاداتو دې الله پاک ټولو ېې لارو او له احکامو څخه غافلو خلکو ته هدایت وکړي، کومو ورونو چې د کتاب په چاپ او نشر کې زیار ګاللی رب کائنات دې ترې قبول کړي او د قیامت په سخته ورځ دې ورله په کار راولي .

د حدیثونو د ژباړې په تصحیح کې د محترم شیخ ابومنیح عبدالله څخه د زړه له تله شکریه ادا کوم چې ټولې نارسا یې رسا کړې، دغه زیار دې ورڅخه الله قبول کړي او الله دې ثواب دارین ورکړي.

امین

لقمان حکیم حکمت

١٦/٠٤/٢٠١٧

## اسلام عالمي دين دی

١ -: عَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ إِنّ اللّٰهَ زَوَى لِي الْأَرْضَ فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا وَإِنّ أُمّتِي سَيَبْلُغُ مُلْكُهَا مَا زُوِيَ لِي مِنْهَا ] (صحيح مسلم: ۲۸۸۹ )

له ثوبانرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُنه روايت دی چې رسول اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: الله پاک ما ته ځمکه راغونډه کړه ما يې مشرقونه او مغربونه وليدل او زما د امت واک به ماليدلې ځمکې ته ډېر زر ورسيږي .

## د خېر په کارونو کې ګړندي توب په کار دی

۲ -: عن أَنَسَ بْنَ مَالِک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ إِنْ قَامَتِ السّاعَةُ وَبِيَدِ أَحَدِكُمْ فَسِيلَةٌ فَإِنْ اسْتَطَاعَ أَنْ لَا يَقُومَ حَتّى يَغْرِسَهَا فَلْيَفْعَلْ] (مسنداحمد: ۱۲۹۸۱)

د انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ويلي دي: که د قيامت ورځ راشي او ستاسو ديو کس په لاس کې بوټی وي نو که توان يې وي چې نعال يې کړي نو نعال دې کړي

## په حېوان رحم کول !

٣ -: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [ أَرْدَفَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ خَلْفَهُ ذَاتَ يَوْمٍ، فَأَسَرّ إِلَيّ حَدِيثًا لَا أُحَدّثُ بِهِ أَحَدًا النّاسِ، وَكَانَ أَحَبُّ مَا اسْتَتَرَ

عبدالله بن جعفر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي: نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ زه د ځان سره په سپرلۍ سپور کړم، او يوه پټه خبره يې هم راته وکړه چې هيڅ چا ته يې نه کوم، نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ته د قضاء حاجت په وخت کې پسند دا وه

WWW.LARHKUD.COM

بِهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَاجَتِهِ هَدَفًا، أَوْ حَائِشَ نَخْلٍ، قَالَ: فَدَخَلَ حَائِطًا لِرَجُلٍ الْأَنْصَارِ فَإِذَا جَمَلٌ، فَلَمَّا رَأَى النَّبِيَّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَنَّ وَذَرَفَتْ عَيْنَاهُ، فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَسَحَ ذِفْرَاهُ فَسَكَتَ، فَقَالَ:مَنْ رَبُّ هَذَا الْجَمَلِ، لِمَنْ هَذَا الْجَمَلُ؟ فَجَاءَ فَتًى مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ: لِي يَا رَسُولَ اللّٰهِ. فَقَالَ: أَفَلَا تَتَّقِي اللّٰهَ فِي هَذِهِ الْبَهِيمَةِ الَّتِي مَلَّكَكَ اللّٰهُ إِيَّاهَا؟ فَإِنَّهُ شَكَا إِلَيَّ أَنَّكَ تُجِيعُهُ وَتُدْئِبُهُ] ( سنن ابي داود : ۲۵۴۹ )

چې ګڼو ونو یا کجورو ته ولاړ شي ، د یو انصاري د کجورو باغ ته ننوت نو هلته اوښ ولید خوا ته یې راغی او زړیروي یې ورته وکړ له سترګو څخه یې اوښکي رواني شوې، نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورله په څټ لاس راښکو اوښ زړیروي ودرول او خاموش شو ، بیا یې وویل : ددې اوښ څښتن څوک دی؟ دا اوښ د چا دی؟ یو انصاري ځوان هلک راغی او ورته یې وویل : د الله رسوله ! اوښ زما دی . هغه ورته وویل :ددې حېوان په باره کې چې الله پاک یې تاته واک درکړی دی نه دارېږې ؟ ستا نه یې ماته ګیله وکړه چې ته یې ډېر وږی او ستومانه کوې

WWW.LARKUD.COM

د اذان کولو ثواب !

٤-: عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [مَنْ أَذَّنَ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ، وَكُتِبَ لَهُ بِتَأْذِينِهِ فِي كُلِّ يَوْمٍ سِتُّونَ حَسَنَةً وَلِكُلِّ إِقَامَةٍ ثَلَاثُونَ حَسَنَةً] (سنن ابن ماجه: ۷۲۸)

د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په روایت چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي :که څوک دولس کاله آذان وکړي نو جنت ورله واجب شو ، او د هر اذان په بدل کې به ورله شپېته نیکۍ ورکړل شي او د هر اقامت په بدل کې به ورله دېرش نیکۍ ورکړل شي .

د ژوند خاتمه معتبره ده !

٥-: عن مُعَاوِيَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَقُولُ [ إِنّمَا الْأَعْمَالُ بِخَوَاتِيمِهَا كَالْوِعَاءِ إِذَا طَابَ أَعْلَاهُ طَابَ أَسْفَلُهُ وَإِذَا خَبُثَ أَعْلَاهُ خَبُثَ أَسْفَلُهُ] (صحيح ابن حبان : ٣٣٩ )

د معاوية رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روايت چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي :د اعمالو فېصله په خاتمه کېداى شي مثال يې د لوښې دى چې که بره اوبه يې خوږې وي لاندې اوبه يې هم خوږې وي او که د سر اوبه يې پليتې وي لاندېنۍ اوبه هم پليتې وي .

د مرګ نه مخکې د خېر کارونه د ښه عاقبت نښه ده !

٦- : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ إِذَا أَرَادَ اللهُ بِعَبْدٍ خَيْرًا اسْتَعْمَلَهُ فَقِيلَ: كَيْفَ يَسْتَعْمِلُهُ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: يُوَفّقُهُ لِعَمَلٍ صَالِحٍ قَبْلَ المَوْتِ] (سنن ترمذي: ٢١٤٢)

له انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: په کوم انسان چې الله د خېر اراده وکړي نو استعمال (بوخت) يې کړي، ورته وويل شول څنګه يې بوخت کړي؟ هغه وويل: د مرګ نه مخکې ورته د خير کارونو توان ورکړي

نېک عمل دې لږ وي خو چې تل وي !

٧- : عن عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [خُذُوا مِنَ الْعَمَلِ مَا تُطِيقُونَ، فَإِنّ اللهَ عَزّ وَجَلّ لَا يَمَلّ حَتّى تَمَلّوا قَالَتْ عَائِشَةُ: وَكَانَ

له عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: د خپل توان په اندازه د خير کارونه وکړئ، چې تاسو په عمل نه وئ ستړي شوې الله پاک په ثواب درکولو نه ستړى کېږي ، عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي:

WWW.LARHKUD.COM

أَحَبُّ الصَّلَاةِ إِلَى رَسُولِ الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ مَا دَاوَمَ عَلَيْهَا وَإِنْ قَلّتْ، قَالَتْ عَائِشَةُ: وَكَانَ النَّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ إِذَا صَلّى صَلَاةً دَاوَمَ عَلَيْهَا ] (مسند احمد : ٢٤٥٤٠ )

نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ته پسند او نېک عمل هغه و چې دوامداري به پرېکېدای شوه اګر که کم به هم و، او هغه چې به کله لمونځ کو نو همېشوالی به يې پرې کو.

## نېک عمل کول د الله پاک د ديدار سبب دی !

٨– : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: قَالَ اللهُ: إِذَا أَحَبّ عَبْدِي لِقَائِي أَحْبَبْتُ لِقَاءَهُ، وَإِذَا كَرِهَ لِقَائِي كَرِهْتُ لِقَاءَهُ ] (صحيح البخاري: ٧٥٠٤)

له ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: الله پاک وايي: کله چې زما بنده له ما سره ملاقات خوښ بولي زه يي هم ملاقات پسند بولم او که له ما سره يې ملاقات بد وګڼه زه هم ورسره ليدل کتل نا پسند بولم .

## د انسان د نېک عمل صفت کول د خير خبره ده

٩ –: عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [قِيلَ لِرَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ أَرَأَيْتَ الرّجُلَ يَعْمَلُ الْعَمَلَ مِنْ الْخَيْرِ وَيَحْمَدُهُ النّاسُ عَلَيْهِ؟ قَالَ :تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ] (صحيح مسلم : ٢٦٤٢)

ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايی : رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ته وويل شول: د هغه سړي څه حال دی چې د ځان لپاره نيک عملونه کوي خو خلک يي پرې صفتونه بيانوي ؟ هغه وويل : دغه د مسلمان په دنيا کې د خير زېرى دی .

## تېول سعادت د الله پاک په عبادت کې ده

WWW.LARHKUD.COM

١٠ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَقُولُ: يَا ابْنَ آدَمَ تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلَأْ صَدْرَكَ غِنًى وَأَسُدَّ فَقْرَكَ، وَإِلَّا تَفْعَلْ مَلَأْتُ يَدَيْكَ شُغْلًا وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ] (جامع الترمذي : ٢٤٦٦ )

د ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: الله پاک وايي: زما عبادت ته ځان اوزګار کړه زه به دې سينه له مالدارۍ نه ډکه کړم او فقر او غربت به درنه لرې کړم او که زما عبادت ته ځان اوزګار نه کړې، په مصروفتيتونو کې به دې مشغول کړم او فقر به درله هم ختم نه کړم.

## د مور او پلار خوشحالول د جهاد اجر لري

١١ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: جِئْتُ أُبَايِعُكَ عَلَى الْهِجْرَةِ، وَتَرَكْتُ أَبَوَيَّ يَبْكِيَانِ فَقَالَ: ارْجِعْ عَلَيْهِمَا فَأَضْحِكْهُمَا كَمَا أَبْكَيْتَهُمَا ] ( سنن ابوداود : ٢٥٢٨)

د عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې يو سړی رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغی او ويويل : زه راغلم چې له تا سره په هجرت کولو بيعت وکړم خو مور او پلار دواړه مې په داسې حالت کې پرېښودل چې هغوي ژړل ، نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل: لکه څنګه چې دې ژړولي دي بېرته ستون شه او دغسې يې وخندوه.

## په چا مهرباني نه کول د شقاوت سبب دی

١٢ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ الصَّادِقَ، الْمَصْدُوقَ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَاحِبَ هَذِهِ الْحُجْرَةِ يَقُولُ:

د ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ما د رښتيا ګويه او رښتيا ګڼل شوي د دې خونې والا ابو القاسم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلي دي چې ويل يې: رحمت نه پورته کيږي مګر له هغه

WWW.LARHKUD.COM

لَاتُنْزَعُ الرَّحْمَةُ إِلَّا مِنْ شَقِيٍّ] (سنن ابي داود :٤٩٤٢)

چا نه چې شقي وي.

## په خبرو کې نرمي کول نیک خصلت دی !

١٣ - : عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: [ لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا، فَإِنْ لَمْ تَجِدْ، فَالْقَ أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ ] (مسند احمد :٢١٥١٩ )

د ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي: هیڅ د خیر کار بد او ورکوټی مه ګڼه ، که درته د خیر هیڅ کار موقعه په لاس درنه شي نو د خلکو سره په داسې حالت کې نرمي کوه چې مخ دې ورته ګونځې نه وي .

## صدقه انسان له اوره ساتي

١٤ - : عن عَدِيّ بْنَ حَاتِمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [ اتَّقُوا النَّارَ وَ لَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ ] ( صحيح البخاري : ١٤١٧ )

له عدي بن حاتم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې ما له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي: چې ځان له اور نه وساتئ که په نیمه کجوره هم وي، که کجوره درسره نه وي نو په ښو او نیکو خبرو ترې ځان بچ کړئ.

## د چا په ښه والي او بد والي د انسان ګواهي معتبره ده ؟

١٥- : عَنْ عَبْدِاللهِ بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ مَتَى أَكُونُ مُحْسِنًا؟، قَالَ: [ إِذَا قَالَ جِيرَانُكَ: أَنْتَ مُحْسِنٌ، فَأَنْتَ مُحْسِنٌ، وَإِذَا قَالُوا:

له عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې یو سړي نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وویل: زه کله نیکوکار جوړیدای شم؟ هغه وویل: چې ستا ګاونډیان کله وایي : ته نیک یې نو ته رښتیا نیک یې او که هغوی وایي چې ته بد یې

WWW.LARHKUD.COM

إِنَّكَ مُسِيءٌ، فَأَنْتَ مُسِيءٌ ] (صحيح ابن حبان: ٥٢٥)

نو ته رښتيا بد يې .

## د انسان د سعادت نښه دا ده چې د خير اميد تري کېداى شي !

١٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ عَلَى نَاسٍ جُلُوسٍ، فَقَالَ: [أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِكُمْ مِنْ شَرِّكُمْ؟ قَالَ: فَسَكَتُوا، فَقَالَ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَقَالَ رَجُلٌ: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَخْبِرْنَا بِخَيْرِنَا مِنْ شَرِّنَا قَالَ خَيْرُكُمْ مَنْ يُرْجَى خَيْرُهُ وَيُؤْمَنُ شَرُّهُ، وَشَرُّكُمْ مَنْ لَا يُرْجَى خَيْرُهُ وَلَا يُؤْمَنُ شَرُّهُ] (جامع ترمذي: ٢٢٦٣)

له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو ځل په ناستو خلکو ودرېد او ويويل: ايا په تاسو کې تاسو ته د بد خواه نه خيرخواه نه دروښايم؟ نو خلک خاموش شول، درې ځل يې ورته تکرار کړل، بيا يو سړي ورته وويل: ولې نه اى د الله رسوله! خبر راکړه، هغه وويل: په تاسو کې غوره هغه څوک دى چې د خير اميد ترې کېدى شي او د ضرر نه يې خلک په امن کې وي، او بدترين په تاسو کې هغه څوک دى چې د خير اميد ترې نه شي کېدى او شرنه يې هم خلک په امان نه وي .

## ملګرتيا او نفقه دواړه د غوره انسان په ملګرتوب کې !

١٧ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ لَا تُصَاحِبْ إِلَّا مُؤْمِنًا، وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيٌّ] (سنن ابي داود: ٤٨٣٢ )

له ابوسعيد خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دى چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د مومن انسان نه علاوه له بل چا سره ملګرتوب مه کوه او ستا خوراک دې له پرهيزګار پرته بل څوک نه خوري .

## مشران د خیر ښېګنې نه ډک دي !

۱۸ - : عَنِ ابنِ عَبّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنّ النّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قال [ الْبَرَكَةُ مَعَ أَكَابِرِكُمْ ] (صحیح ابن حبان: ۵۵۹)

له عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي : خیر او برکت ستاسو په مشرانو کې دی .

## ډېر مینه ګرکي ډېر غوره دي

۱۹ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [ مَا تَحَابّ اثْنَانِ فِي اللّٰهِ إِلّا كَانَ أَفْضَلَهُمَا أَشَدُّهُمَا حُبًّا لِصَاحِبِهِ ] (صحیح ابن حبان :۵٦٦)

له انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایی: هېڅ دوه کسان د الله لپاره محبت نه کوي مګر په دواړو کې ډېر غوره هغه دی چې د ملګري سره ډېره زیاته مینه او محبت لري .

WWW.LARHKUD.COM

## ځینې دنیادار به په اخرت کې ناداره وي !

۲۰ - : عَنْ أُمّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا [ اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ لَيْلَةً فَزِعاً يَقُولُ: سُبْحَانَ اللّٰهِ مَاذَا أَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ الخَزَائِنِ، وَمَاذَا أُنْزِلَ مِنَ الفِتَنِ، مَنْ يُوقِظُ صَوَاحِبَ الحُجُرَاتِ -يُرِيدُ أَزْوَاجَهُ لِكَيْ يُصَلِّينَ- رُبّ كَاسِيَةٍ فِي الدُّنْيَا عَارِيَةٍ فِي الآخِرَةِ]

ام سلمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وایي : یوه شپه نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ له خوبه د ډار په حالت کې راببدار شو او وېویل: سبحان الله، الله پاک څومره خزانې رانسکته کړې!! او الله پاک څومره ډېرې فتنې راولېږلې، دغه په خونو کې پرتې ښځې به څوک راپاڅوي ـ خپلې بي بیانې یې موخه وه ـ چې لمونځونه وکړي، ډېر په دنیا کې په لباس سمبال خلک به د قیامت په ورځ لوڅ لغړ وي .

(صحيح البخاري: ٧٠٦٩)

دېره دنيا د انسان د هلاکت سبب جوړېدای شي !

٢١ - : عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [أَلَا إِنَّ الدِّينَارَ وَالدِّرْهَمَ أَهْلَكَا مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ وَهُمَا مُهْلِكَاكُمْ ]( صحيح ابن حبان : ٦٩٤ )

له ابو موسی اشعري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ښه خبر شئ چې درهم او دينار له تاسو نه مخکې قومونه برباد کړي دي ، او دغه دواړه به تاسو هم بربادوي .

د اسلام سره لږه دنياداري د خير زېری دی

٢٢ - : عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [طُوبَى لِمَنْ هُدِيَ إِلَى الإِسْلَامِ وَكَانَ عَيْشُهُ كَفَافًا وَقَنَعَ] (جامع ترمذي :٢٣٤٩)

له فضالة بن عبيد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی، هغه له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي ويل يې: هغه انسان ته دې مبارک وي چې اسلام او دين ورته ورکړل شوی وي ، او دومره رزق هم ورکړل شي چې بسنه ورله کوي او د ده پرې قناعت وي .

په مهارت سره قران لوستل د انسان غوره والی دی!

٢٣ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ مَثَلُ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ، وَهُوَ حَافِظٌ لَهُ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ، وَمَثَلُ الَّذِي يَقْرَأُ، وَهُوَ يَتَعَاهَدُهُ،

له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايی : څوک چې قران کريم لولي او ضبط کړی يې وي له عزتمندو ملائکو سره به په ملګرتيا کې وي او څوک چې قرانکريم په سختۍ سره هر وخت لولي د هغه لپار

WWW.LARHKUD.COM

وَهُوَ عَلَيْهِ شَدِيدٌ فَلَهُ أَجْرَانِ ] (صحيح البخاري: ٤٩٣٧)

دوه اجرونه دي .

## د سورت بقرې د لوستلو سره شيطان تښتي !

٢٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ مَقَابِرَ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الَّذِي تُقْرَأُ فِيهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ ] (السنن الكبرى: (٧٩٦١ )

له ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د خپلو کورونو نه مقبرې مه جوړوئ (لمونځونه پکې وکړئ) ځکه له هغه کور نه شيطان تښتي چې سورت بقره پکې لوستل کېږي .

## د دجال له فتنې نه دخلاصون لار !

٢٥ - : عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ ] (صحيح مسلم : ٨٠٩ ) .

له ابوالدرداء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: څوک چې د سورت کهف اولني لس اياتونه ضبط کړي د دجال له فتنې نه به محفوظ شي .

## د( تَبَارَكَ الَّذِيْ ) د سورت غوره والی !

٢٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ إِنَّ سُورَةً فِي الْقُرْآنِ ثَلَاثُونَ آيَةً تَسْتَغْفِرُ لِصَاحِبِهَا حَتَّى يُغْفَرَ لَهُ تَبَارَكَ

له ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: په قرانکريم کې د دېرشتو ايتونو يو سورت دی، تر هغه پورې به خپل لوستونکي لپاره سفارش (بخشش) غواړي چې تر څو ورته ببنښه نه وي

WWW.LARHKUD.COM

الّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ ] (صحيح ابن حبان : ۷۸۷ ).

شوې او دغه سورت (تبارک الذي بیده الملک...) دی.

د( سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ ) ویلو فضیلت

۲۷ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [ مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ، فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرّةٍ، حُطّتْ خَطَايَاهُ، وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِالْبَحْرِ ] (صحيح البخاري: ٦٤٠٥).

له ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي : څوک چې یوه ورځ کې (سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ) سل ځله ووایي، ټول ګناهونه به ورته معاف شي اګر که د دریاب د زړونو په شان هم وي .

د فقر او ظلم نه الله پاک پورې پناه غوښتل !

۲۸ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [تَعَوّذُوا بِاللّٰهِ مِنَ الْفَقْرِ وَالْقِلّةِ، وَالذِّلّةِ، وَأَنْ تَظْلِمَ أَوْ تُظْلَمَ ] (احمد بن حنبل: ۱۰۹۷۳ )

له ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي: له غربت او کموالي او ذلت نه ، د ظلم او پر تا د ظلم کولو نه الله پاک پورې پناه وغواړئ .

د طوفانونو له شره الله پورې پناه وړل!

۲۹ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ [ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ إِذَا رَأَى فِي السّمَاءِ غُبَارًا أَوْ رِيحًا تَعَوّذَ بِاللّٰهِ مِنْ شَرّهِ ، فَإِذَا أَمْطَرَتْ، قَالَ : اللّهُمّ صَيّبًا نَافِعًا

له عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ به کله په اسمان کې ګرد غبار یا بادونه ولیدل نو له شر نه به یې ورځخه الله پورې پناه غوښته چې باران به شروع شو بیا به یې ویل: ای الله د خیر باران

WWW.LARHYUD.COM

] (صحيح ابن حبان : ۱۰۰٦)

وکړه.

۳۰ - : عن سَلَمَةَ بْنَ الْأَكْوَعِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَرْفَعُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ كَانَ إِذَا اشْتَدَّتِ الرِّيحُ، يَقُولُ: اللَّهُمَّ لَقْحًا لَا عَقِيمًا] (صحيح ابن حبان : ۱۰۰۸)

سلمة بن الأكوع رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مرفوعاً ذکر کوي چې کله به بادو طوفان تېز او سخت شو نو وويل به يې: اى الله حمل بارونکي بادونه يې جوړ کړه او بربادونکي يې مه جوړوه.

د جنت طلب کول او اور نه پناه غوښتل !

۳۱ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ مَا اسْتَجَارَ عَبْدٌ مِنَ النَّارِ ثَلَاثَ مِرَارٍ إِلَّا قَالَتِ النَّارُ: اللهُمَّ أَجِرْهُ مِنِّي، وَلَا يَسْأَلُ الْجَنَّةَ إِلَّا قَالَتِ الْجَنَّةُ: اللهُمَّ أَدْخِلْهُ إِيَّايَ ] (صحيح ابن حبان: ۱۲۱۷۰)

له انس بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: هېڅ څوک له اور څخه درې ځله پناه نه غواړي مګر اور وايي: اى الله! له ما څخه ورته نجات ورکړه، او هېڅ څوک جنت نه غواړي مګر جنت وايي: اى الله ما ته يې راوله

WWW.LARHKUD.COM

نېک عملونه ټول بد عملونه له منځه وړي !

۳۲ - : [ وَ أَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ] ( هود : ۱۱٤ )

د ورځې په دواړو طرفونو او د شپې په ځينو برخه کې لمونځونه کوه ځکه نېک عملونه بد کارونه ختموي او دا خبره د پند اخستونکو لپاره عبرت ده.

اودسونه د جنتي ګاڼې لپاره معيار دي

٣٣ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [تَبْلُغُ حِلْيَةُ أَهْلِ الْجَنَّةِ مَبْلَغ الوُضُوْءِ](صحيح ابن حبان ١٠٤٥)

له ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د جنتيانو گاڼه به تر هغه ځايه رسيږي چې (اندام تر کوم ځايه) اودس شوي وي

د خوب نه وروسته اسلامي ادبونه !

٣٤ - : عن أَبَي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ، فَلْيُفْرِغْ عَلَى يَدَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَهُمَا فِي الْإِنَاءِ، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي فِيمَ بَاتَتْ يَدُهُ] (مسند احمد: ٩٢٣٨ )

له ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: تاسو کې چې کله څوک له خوبه رابيدار شي نو لاسونه دې درې ځله ووينځي مخکې له دينه چې په اوبو کې يې کېږدي، ځکه دغه سړي ته پته نشته چې لاس يې شپه چرته تېره کړې ده.

په اسلام کې د مسواک حيثيت !

٣٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ لَوْلاَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي أَوْ عَلَى النَّاسِ لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ مَعَ كُلِّ صَلاَةٍ] (صحيح بالبخاري:٨٨٧)

له ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: که زما په امت يا خلکو سخته نه تمامېده نو ما به ورته د هر لمونځ په وخت کې د مسواک په وهلو امر کړی وی .

د تصويرانو او سپو د ساتلو بدي !

WWW.LARAKUD.COM

۳٦ - : عَنْ أَبِيْ طَلْحَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ [لاَ تَدْخُلُ الْمَلاَئِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلاَ صُورَةُتَمَاثِيلَ] (صحيح البخاري:۳۲۲۵)

له ابو طلحة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ما له رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلي دي: هغه کور چې سپی يا تصوير يا بوتان ورپکې وي ملائک ورته نه ننوځي .

## د جمعې ورځ او د بالغ انسان مسؤليتونه

۳۷ - : عَنْ حَفْصَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا عَنِ النَّبِيِّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ رَوَاحُ إِلَى الْجُمُعَةِ، وَ عَلَى كُلِّ مَنْ رَاحَ إِلَى الْجُمُعَةِ الْغُسْلُ ] (سنن ابي داود: ۳٤۲)

له حفصې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: هر بالغ باندې د جمعې لمونځ ته تلل فرض دي، او په چا چې د جمعې ورځې لمونځ فرض وي پر هغه باندې غسل فرض دي .

## دجمعې د ورځې ثوابونه !

۳۸ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ مَنْ تَوَضَّأَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، ثُمّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَدَنَاوَأَنْصَتَ وَاسْتَمَعَ، غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ، وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيّامٍ "، قَالَ: " وَمَنْ مَسّ

له ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د جمعې په ورځ چې څوک ښايسته اودس وکړي او بيا مسجد ته راشي، امام ته نزدې شي، خاموش شي او خطبې ته غوږ کيږدي، ددغې جمعې او بلې ترمنځ به ورته د درې ورځو په شمول نور ګناهونه هم بخشش شي، او که چا په ګيټکو

WWW.LARHKUD.COM

الْحَصَى فَقَدْ لَغَا ] ( مسند احمد : ۹٤۸٤)

لوبې وکړې نو جمعه یې بې ثوابه شوه.

د اوبو بیان

هغه اوبلن (مائع) شیان چې مچ پکې ولویږي !

۳۹ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْمِسْهُ كُلَّهُ ثُمّ لِيَطْرَحْهُ، فَإِنّ فِي أَحَدِجَنَاحَيْهِ شِفَاءًوَفِي الآخَرِ دَاءً] (صحيح البخاري: ۵۷۸۲)

له ابوهریرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي: کله چې تاسو کې د چا د څښلو په لوښي کې مچ ولویږي نو ټول دې پکې ډوب دې کړي او بیا دې وارتوي، ځکه په یو وزر کې یې شفاء او په بل کې یې بیماري ده

په ولاړو اوبو کې تش بول کول ناروا دي !

٤٠ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [أَنّهُ نَهَى أَنْ يُبَالَ فِي الْمَاءِ الرّاكِدِ] (صحيح مسلم: ۲۸۱)

له جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ له دې نه منعه فرمایلې ده چې په ولاړو اوبو کې دې تش اودس مات کړی شي .

٤١ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ [لَا يَبُولَنّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدّائِمِ ثُمّ يَتَوَضّأُ مِنْهُ ] ( جامع الترمذي : ٦٨ )

له ابوهریرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي: په تاسو کې دې څوک په ولاړو اوبو کې تش اودس ماتی نه کوي چې بېرته ترې لا اودس هم کوي.

WWW.LARHKUD.COM

## د جوټو بیان

### د انسان جوټه پاکه ده

٤٢ -: عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: [ أَخْبَرَنِي مَحْمُودُ بْنُ الرَّبِيعِ وَزَعَمَ مَحْمُودٌ أَنَّهُ عَقَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: وَعَقَلَ مَجَّةً مَجَّهَا مِنْ دَلْوٍ كَانَتْ فِي دَارِهِمْ] ( صحيح البخاري : ٦٤٢٢)

زهري د محمود بن الربيع رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت کوي چې هغه ته یاد شي چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یې د کور له کوهي اوبه په خوله کې واخستې او دېته یې له خولې نه وارتولې .

### دحيض په حالت کې د ښځې جوټه نه حرامیږي!

٤٣ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ أَضَعُ الْإِنَاءَ عَلَى فِي وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ أُنَاوِلُهُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعُ فَاهُ عَلَى مَوْضِعِ فِيّ وَآخُذُ الْعَرْقَ وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ أُنَاوِلُهُ فَيَضَعُ فَاهُ عَلَى مَوْضِعِ فِيّ ] (صحيح ابن حبان : ١٢٩٣)

عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وایي: زه به حائضه وم، په لوښې به مې اوبه وڅښلې بیا به مې لوښی نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورکړ هغه به زما د خولې په ځای خوله کېښوده ، اوله هډوکي به مې غوښه وخوړه بیا به مې هغه ته ورکړ، هغه به پر هغه ځای خوله کېښوده چې ما به پرې ایښې وه.

### سپی چې په لوښي کې خوله ووهي

٤٤ - : عن أَبِي هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [طَهُورُ إِنَاءِ أَحَدِكُمْ

له ابوهریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : سپی چې کله ستاسو د چا د خوراک لوښي کې خوله

إِذَا وَلَغَ الْكَلْبُ فِيهِ، أَنْ يَغْسِلَهُ سَبْعَ مَرّاتٍ] ( صحيح مسلم : ٢٧٩)

ووهي نو پاکوالی یې دا دی چې اووه ځله یې ووینځي.

## د تیمم بیان

### په پاکه خاوره هم طهارت کیدای شي !

٤٥ - : عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [الصّعِيدُ الطّيِّبُ وَضُوءُ الْمُسْلِمِ وَ لَوْ إِلَى عَشْرِ سِنِينَ ، فَإِذَا وَجَدْتَ الْمَاءَ فَأَمِسّهُ جِلْدَكَ فَإِنّ ذَلِكَ خَيْرٌ] (سنن ابي داود: ٣٣٢)

له ابوذر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي: پاکه خاوره د مسلمان لپاره اودس دی اګر که اوبه تر لسو کالو پورې هم ونه مومي، خو چې ته کله اوبه ووینې نو پوستکی دې پرې هرومرو لوند کړه دا ډېره زیاته ښه ده.

WWW.LARHKUP.COM

| | | |
|---|---|---|
| د لمونځ بیان<br>د فرض لمونځونو په وخت کې د اسمان دروازې بیرته کیږي . | | |
| ٤٦ -: عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ سَاعَتَانِ تُفْتَحُ فِيهِمَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ عِنْدَ حُضُورِ الصَّلَاةِ وَعِنْدَ الصَّفِّ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ] ( صحیح ابن حبان : ۱۷۲۰) | | د سهل بن سعد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي: په دوو وختونو کې د اسمان دروازې بیرته کیږي د فرض لمونځ په وخت کې او د الله تعالی په لاره کې د جهاد کولو په وخت کې . |
| فرض لمونځونه ټول ګناهونه ختموي : | | |
| ٤٧ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَاتِ كَمَثَلِ نَهْرٍ جَارٍ عَلَى بَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ ] (صحیح ابن حبان : ۱۷۲۵) | | له جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي: د فرض شوو لمونځونو مثال لکه د نهر په څیر دی چې ستاسو د یو چا د دروازې ترڅنګ وي او هره ورځ ترې پنځه وخته لامبي . |
| فرض لمونځونه او جمعه تر جمعې پورې ټول ګناهونه رژوي ؟ | | |
| ٤٨ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ | | له ابوهریرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایلي دي: پنځه واړه |

WWW.DARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| لمونځونه او د جمعې ورځ تر بلې جمعې ورځې پورې او رمضان تر رمضان پورې ګناهونه رژوي خو چې له غټو ګناهونو نه پکې ځان ساتنه وشي . | | وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: [الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَالْجُمْعَةُ إِلَى الْجُمْعَةِ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ مَا لَمْ تُغْشَ الْكَبَائِرُ ] (صحيح مسلم: ۲۳۳) |
| د لمونځونو خيال ساتل له اور نه پرده ده | | |
| ابوبکرة د خپل پلار نه روايت کوي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : جهنم ته به هغه څوک لاړ نه شي چې د لمر راختو او پرېوتو نه مخکې لمونځونه کوي . | | ٤٩ - عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عُمَارَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ لَا يَلِجُ النَّارَ أَحَدٌ صَلَّى قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا ] ( صحيح ابن حبان : ۱۷۳۸) |
| د سهار او مازديګر د لمونځونو ثواب ! | | |
| د ابو موسى اشعري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : که د سهار او مازديګر لمونځونه چا وکړل جنت ته به لاړ شي . | | ٥٠ - : عَنْ أَبِي مُوسَى الأشعري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [مَنْ صَلَّى الْبَرْدَيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ] ( صحيح البخاري : ٥٧٤) |
| د انسان د خلاصون لارې چارې ! | | |
| د ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: څوک چې په الله | | ٥١ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَسَلَّمَ قَالَ: [مَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ وَ رَسُولِهِ، وَ أَقَامَ الصَّلَاةَ وَصَامَ رَمَضَانَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الجَنَّةَ، هَاجَرَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ، أَوْ جَلَسَ فِي أَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا ](صحيح البخاري: ۷٤۲۳) | | او د هغه په رسول ایمان راوړي او لمونځ وکړي او روژه ونیسي، الله به یې ضرور جنت ته بوځي، خوا که هغه د الله په لاره کې هجرت کړی وي او که په هغه ځمکه میشت وي چې چرته پیدا وي. |
| په مسجدونو کې د تم کېدو غوره والی ! | | |
| ۵۲ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ إِنَّ الْمَلَائِكَةَ تُصَلِّي عَلَى أَحَدِكُمْ مَادَامَ فِي مَجْلِسِهِ تَقُولُ اللهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اللهُمَّ ارْحَمْهُ مَالَمْ يُحْدِثْ وَأَحَدُكُمْ فِي صَلَاةٍ مَاكَانَتِ الصَّلَاةُ تَحْبِسُهُ] (صحيح مسلم: ٦٤٩) | | له ابوهریرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : تاسو کې چې څوک تر څو پورې مسجد کې وي نو تر هغه ورله ملائک دعاګانې غواړي او وایي: ای الله! ګناه یې بخښش کړه او رحم پرې وکړه .تر څو بې اودسه شوی نه وي، او تر هغه هم ستاسو څخه یو نفر په لمونځ کې شمېرل کېږي چې د لمونځ انتظار کوي. |
| لمونځ ته د ودرېدو وخت ! | | |
| ۵۳ - : عَنْ قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ، فَلَا تَقُومُوا حَتَّى تَرَوْنِي وَ عَلَيْكُمْ بِالسَّكِينَةِ] (صحيح البخاري:٦٣٨) | | له قتاده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: کله چې د لمونځ لپاره اقامت وشي نو تر هغه مه پاڅیږئ چې زه مو نه یم لیدلی او په ډېر ارام او اطمئنان سره راځئ. |

WWW.LARHKUB.COM

| | | |
|---|---|---|
| **د چا لمونځونه نه قبلېږي ؟** | | |
| ٥٤ - : عن ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ثَلَاثَةٌ لَا يَقْبَلُ اللَّهُ لَهُمْ صَلَاةً إِمَامُ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَيْهَا غَضْبَان وَ أَخَوَانِ مُتَصَارِمَانِ] (صحيح ابن حبان: ۱۷۵۷) | | له ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د درې قسمه خلکو لمونځ الله نه قبلوي: د خلکو هغه امام چې د خلکو بدي شي، هغه ښځه چې شپه پرې تېره شي او خاوند ورته غصه وي، او دوه ورونه چې خپل منځ کې په جنګ اخته وي |
| **په امامت کې د خلکو خیال ساتل !** | | |
| ٥٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِلنَّاسِ، فَلْيُخَفِّفْ، فَإِنَّ مِنْهُمُ الضَّعِيفَ وَالسَّقِيمَ وَالكَبِيرَ، وَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِنَفْسِهِ فَلْيُطَوِّلْ مَا شَاءَ] ( صحيح البخاري : ۷۰۳) | | له ابوهریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: تاسو کې چې کله څوک خلکو له لمونځ کوي نو لنډ دې وکړي ځکه چې وروسته ترې ناجوړه او بې وسعه او بوډاګان ولاړ وي، او چې کله يواځې لمونځ کوي نو چې څومره يې خوښه وي اوږد دې کړي . |
| ٥٦ - : عن أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ أَحَدٍ قَطُّ أَخَفَّ صَلَاةً مِنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا أَتَمَّ وَإِنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ | | انس بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي: د نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه بغېره نور ما له چا پسې پوره او لنډ لمونځ نه دی کړی ، هغه چې به د ما شوم ژړا له ځان نه وروسته واورېده نو لمونځ به يې د دې لپاره لنډ کړ چې د ماشوم په مور لمونځ خراب نه |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| يَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ وَرَاءَهُ فَيُخَفِّفُ مَخَافَةَ أَنْ تُفْتَنَ أُمُّهُ] (صحيح ابن حبان: ١٨٨٦) | | شي . |

## د بدترین غل نښه او نښانه !

| | | |
|---|---|---|
| ٥٧ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ أَسْوَأُ النَّاسِ سَرَقَةً الَّذِي يَسْرِقُ صَلَاتَهُ" قَالَ وَكَيْفَ يَسْرِقُ صَلَاتَهُ قال: لَا يُتِمُّ رُكُوعَهَا وَ لَا سُجُودَهَا ] (صحيح ابن حبان: ١٨٨٨) | | له ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: په خلکو کې بدترين غل هغه دی چې د لمونځ نه غلا کوي ورته وويل شول: له لمونځ نه لا څنګه غلا کوي؟ هغه وويل: رکوع او سجده يې پوره نه اداء کوي . |

## د لمونځ صحیح او سم کیفیت !

| | | |
|---|---|---|
| ٥٨ - : عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [لَاتُجْزِئُ صَلَاةٌ لَايُقِيمُ فِيهَا الرَّجُلُ -يَعْنِي- صُلْبَهُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ ] (جامع ترمذي : ٢٦٥) | | د ابو مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: هغه لمونځ نه کيږي چې سړی ورپکې خپله ملا په رکوع او سجده کې سمه سيده نه کړي. |

## د رکوع او سجدې دعاګانې !

| | | |
|---|---|---|
| ٥٩ -: عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَكَعَ جَعَلَ يَقُولُ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ ثم سجد | | له حذيفة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ما له رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره لمونځ وکړ چې کله يې رکوع وکړه نو (سبحان ربي العظيم) يې په کې وويل او بيا يې سجده وکړه او (سبحان |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| فقال: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى] (صحيح مسلم : ۷۷۲) | | ربي الأعلى) يې په کې وويل . |
| ٦٠ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: [فِي رُكُوعِهِ وَ سُجُودِهِ سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ، رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَ الرُّوحِ] (صحيح مسلم :٤٨٧) | | له عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به پخپلې رکوع او سجده کې (سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَ الرُّوحِ) ويل . |
| د رکوع نه وروسته نبوي لارښوونې ! | | |
| ٦١ - : عن عَبْدِ اللهِ بْنُ يَزِيدَ قَالَ: [ حَدَّثَنِي الْبَرَاءُ -وَهُوَ غَيْرُ كَذُوبٍ- قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ: سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، لَمْ يَحْنِ أَحَدٌ مِنَّا ظَهْرَهُ، حَتّى يَقَعَ النَّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاجِدًا، ثُمَّ نَقَعُ سُجُودًا بَعْدَهُ] (صحيح البخاري :٦٩٠) | | عبدالله بن يزيد وايي : ماته براء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل او هغه رښتيا ګويه دی چې نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې به کله (سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ) وويل تر هغه به زمونږ څخه چا خپله ملا نه ښکته کوله چې هغه به سجده نه وه کړې ، بيا به له هغه وروسته مونږه په سجده پرېوتو. |
| په هر حالت کې خلک د امام تابع دي ! | | |
| ٦٢ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ، فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا، وَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا، وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُولُوا: رَبَّنَا | | له ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: امام د دې لپاره ګرځول شوی دی چې اقتداء ورپسې وشي، چې کله هغه تکبير وکړي تاسو تکبير وکړئ، او چې کله (سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ) ووايي تاسو (رَبَّنَا |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَ لَکَ الْحَمْدُ) ووایئ او چې کله یې سجده وکړه تاسو سجده وکړئ، او که کله یې په ناسته لمونځ کو نو تاسو هم په ناسته ورسره لمونځ وکړئ. | | وَلَكَ الحَمْدُ، وَإِذَا سَجَدَ فَاسْجُدُوا، وَإِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا أَجْمَعُونَ ] ( صحيح البخاري : ٧٣٤) |
| د (اللّهُمّ رَبّنَا لَكَ الحَمْدُ) ویلو ثواب ! | | |
| له ابوهریرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلّمَ فرمایي: کله چې امام (سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ) ووایي نو تاسو (اللّهُمّ رَبّنَا لَكَ الحَمْدُ) ووایئ، د چا (اللّهُمّ رَبّنَا لَكَ الحَمْدُ) چې د ملایکو د (اللّهُمّ رَبّنَا لَكَ الحَمْدُ ) سره یو شان شو، ټول مخکني ګناهونه به ورته بخشش کړی شي. | | ٦٣ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [ إِذَا قَالَ الإِمَامُ: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُولُوا: اللّهُمّ رَبّنَا لَكَ الحَمْدُ، فَإِنّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ المَلاَئِكَةِ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدّمَ مِنْ ذَنْبِهِ ] (صحيح البخاري: ٧٩٦) |
| د سجدې کولو کیفیت او دعاګانې ! | | |
| له براء بن عازب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلّمَ فرمایي: چې ته کله سجده کوې نو ورغوی دې په ځمکه کېږده او څنګلې دې پورته کړه. | | ٦٤ - : عَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ إِذَا سَجَدْتَ، فَضَعْ كَفّيْكَ وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ ] ( صحيح مسلم : ٤٩٤) |
| له ابوهریرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلّمَ فرمایي : په تاسو کې چې کله څوک سجده کوي نو د اوښ په څېر دې نه کیني، له زنګونانو نه دې مخکې خپل | | ٦٥ - :عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ إِذَاسَجَدَ أَحَدُكُمْ فَلَا يَبْرُكْ كَمَا يَبْرُكُ الْبَعِيرُ، وَلْيَضَعْ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ ] (سنن ابي داود: ٨٤٠) | | دواړه لاسونه کېږدي. |
| ٦٦ - : عَنِ ابْنِ بُحَيْنَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ [كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتَّى يَبْدُوَ بَيَاضُ إِبْطَيْهِ] (صحيح ابن حبان: ١٩١٩) | | له ابن بحينه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې به کله سجده کوله نو دواړه لاسونو به يې دومره خلاص کړل چې د تخرګونو سپينوالی به يې ښکاره شو. |
| ٦٧ - : عَنْ العَبَّاسِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ [ إِذَا سَجَدَ العَبْدُ سَجَدَ مَعَهُ سَبْعَةُ آرَابٍ وَجْهُهُ، وَكَفَّاهُ، وَرُكْبَتَاهُ، وَقَدَمَاهُ] (جامع ترمذي: ٢٧٢) | | له عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مې اوريدلي دي فرمايل يې: کله چې انسان سجده کوي نو اووه اندامونه ورسره سجده کوي : مخ ، دواړه ورغوي، دواړه زنګونان ، دواړه قدمونه. |
| ٦٨- : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ عَلَى الجَبْهَةِ، وَأَشَارَ بِيَدِهِ عَلَى أَنْفِهِ وَاليَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ، وَأَطْرَافِ القَدَمَيْنِ وَلاَ نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَ الشَّعَرَ ] ( صحيح البخاري: ٨١٢) | | له عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ما ته په اوو اندامونو د سجدې کولو امر شوی دی: په تندي او په خپل لاس يې پوزې ته اشاره وکړه او په دواړو لاسونو، په دواړو زنګونونو او د قدمونو په اړخونو باندې، او راته امر شوی دی چې جامې او ويښته به نه راغونډوو . |

WWW.LAPHKUB.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٦٩ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ، وَ هُوَ سَاجِدٌ، فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ] (صحيح مسلم: ٤٨٢) | | له ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: انسان چې خپل رب ته ډېر نزدې وي هغه حالت کې چې په سجده وي، نو ډېرې دعاګانې پکې کوئ. |
| ٧٠ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ [ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَ بِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ] (صحيح البخاري: ٤٩٦٨) | | د عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په رکوع او سجده کې دا ډير ويل چې (سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَ بِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْلِي) دا به يې د قرانکريم تأويل کو. |
| ٧١ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ [فِي سُجُودِهِ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي كُلَّهُ دِقَّهُ، وَجِلَّهُ، وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ وَعَلَانِيَتَهُ وَسِرَّهُ ] (صحيح مسلم: ٤٨٣ ) | | له ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په سجده کې ويل: ای الله ! ما ته زما وړه او غټه ، اولنۍ او اخرنۍ، ښکاره او پټ ټول ګناهونه معاف کړه |
| د تشهد او سلام ګرځولو ترمنځ دعاګانې ! | | |
| ٧٢ - : عَنْ عَلِيّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ بَيْنَ التَّشَهُّدِ وَالتَّسْلِيمِ [ اللَّهُمَّ | | د علي بن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د تشهد او سلام ګرځولو ترمنځ ويل : ای الله ! ما ته زما مخکني او وروستني ګناهونه معاف کړه ، ماته زما هغه |

| | | |
|---|---|---|
| اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَ مَا أَخَّرْتُ، وَ مَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَسْرَفْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ ] ( صحيح مسلم : ۷۷۱ ) | | ګناه معاف کړه چې ما پټه کړېوي او که ښکاره مې کړې وي ، ماته زما اسراف او نور هغه ګناهونه چې ته وربانديې زما نه ډیر ښه پوهېږې معاف کړه ، ته اولنی او اخرنی ذات یې ستا نه بغیر بل هیڅ حق معبود نشته . |
| ۷۳ - : عن ابي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ إِذَا فَرَغَ أَحَدُكُمْ مِنَ التَّشَهُّدِ الْآخِرِ، فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْ أَرْبَعٍ: مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَمِنْ شَرِّ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ]( صحيح مسلم : ۵۸۸) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: تاسو کې چې څوک کله د اخري تشهد نه وزګار شي نو د الله پورې دې دځلورو شيانو نه پناه وغواړي:د جهنم د عذاب نه، د قبر دعذاب نه، دمرګ او ژوند د فتنې نه او د مسيح د جال د شر نه . |
| ۷٤ - : عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [عَلِّمْنِي دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِي صَلَاتِي، قَالَ: قُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا، وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الغَفُورُ الرَّحِيمُ ] ( صحيح البخاري :۸۳٤) | | ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يې وويل : ما ته يوه دعا راوښايه چې لمونځ کې پرې ځان لپاره دعا وغواړم ، هغه ورته وويل : داسې وايه: ای الله ! ما د خپل ځان سره ډېر ظلم کړی دی او ګناه يواځې ته ښښې ماته پوره ښښنه وکړه او رحم راباندې وکړه ته د ښښنې او رحم والا ذات يې |
| د سهار او ماښام لمونځ کې قنوت ويل مسنون دي ! | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٧٥ - : عَنْ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ فِيْ الفَجْرِ وَ المَغْرِبِ ] ( صحيح ابن حبان : ١٩٨٠) | | د براء بن عازب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سهار او ماښام په لمونځ کې دعاء قنوت وويل . |
| ٧٦ - : عن أنس بن مالك رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ أَنَّهُ قَنَتَ شَهْرًا بَعْدَ الرُّكُوعِ، يَدْعُو عَلَى أَحْيَاءٍ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ ] ( صحيح البخاري : ٣١٧٠) | | د انس بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوه مياشت د رکوع نه وروسته قنوت وويل او دبنو سليم ځينو قبيلو ته به يې ښېراه کولې . |
| د سلام ګرځولو بيان | | |
| ٧٧ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ [ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ حَتَّى يَبْدُوَ بَيَاضُ خَدِّهِ، وَ عَنْ يَسَارِهِ حَتَّى يَبْدُوَ بَيَاضُ خَدِّهِ]( سنن النسائي : ١٣٢٣) | | د عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ښي او چپ اړخ ته سلام داسې ګرځو چې دمخ سپينوالی به يې ښکاره کېده . |
| دسلام ګرځولو نه وروسته بيان | | |
| ٧٨ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ [كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْعُدُ بَعْدَ | | عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وايي : نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د سلام ګرځولو نه وروسته د (ای الله ! ته سلام يې او سلامتيا ستا له طرف نه ده، ای د لويې څښتنه او عزت ورکونکی ته د برکت |

WWW.LARKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| التَّسْلِيمِ إِلَّا قَدْرَ مَا يَقُولُ: اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ والإكرام] (صحيح ابن حبان: ۲۰۰۰) | | والا يې) په اندازه کښېناسته . |
| ۷۹ - : عن ثَوْبَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ [ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَنْصَرِفَ مِنَ الصَّلَاةِ، اسْتَغْفَرَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَاذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ] (صحيح ابن حبان :۲۰۰۳) | | د ثوبان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله د لمونځ کولو نه وروسته خلکو ته مخ راړوو نو درې ځل به يې استغفر الله وويل بيا به يې وويل : ( ای الله ! ته سلام يې او سلامتيا ستا له طرف نه ده ، ای د لويې څښتنه او عزت ورکونکی ته د برکت والا يې ) . |
| ۸۰ - : عَنْ عُقْبَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ اقْرَءُوا الْمُعَوِّذَاتِ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ] (صحيح ابن خزيمة: ۷۵) | | عقبة بن عامر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي : ما ته رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد وفرمايل چې : د هر لمونځ نه وروسته ( قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ) او ( قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ) وايه . |
| ۸۱ - : عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [مُعَقِّبَاتٌ لَا يَخِيبُ قَائِلُهُنَّ -أَوْ فَاعِلُهُنَّ- دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ، ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ تَسْبِيحَةً، وَثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ تَحْمِيدَةً، | | د كعب عجرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: پوڅو تکراري کلمات دي چې د هرفرض لمونځ نه وروسته يې ويونکی به هېڅکله نامراده نه شي : درې ديرشت ځله سبحان الله ويل ، درې ديرشت ځله الحمدلله ويل ، درې ديرشت ځله الله |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَأَرْبَعٌ وَثَلَاثُونَ تَكْبِيرَةً ] (صحيح مسلم: ٥٩٦) | | أكبرويل. |
| دجماعت سره د لمونځ اداء كولو بيان | | |
| ٨٢ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ، أَوْ رَاحَ، أَعَدَّ اللّٰهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ نُزُلًا، كُلَّمَا غَدَا، أَوْ رَاحَ ] (صحيح مسلم: ٦٦٩) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: څوک چې د سهار يا د شپې په وخت لمونځ ته لاړ شي نوچې هر كله سهار يا ماښام ځي نو الله پاک به ورله په جنت كې مېلمستوب تيار كړي. |
| ٨٣ - : عَنْ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [إِذَا تَطَهَّرَ الرجُلُ، ثُمَّ أَتَى الْمَسْجِدَ يَرْعَى الصَّلَاةَ، كَتَبَ لَهُ كَاتِبَاهُ أَوْكَاتِبُهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍيَخْطُوهَا إِلىٰ الْمَسْجِدِ عَشْرَ حَسَنَاتٍ وَ الْقَاعِدُ يَرْعَى الصَّلَاةَ كَالْقَانِتِ وَيُكْتَبُ مِنَ الْمُصَلِّينَ مِنْ حِينِ يَخْرُجُ مِنْ بَيْتِهِ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَيْهِ ] ( مسند احمد :١٧٤٤٠) | | عقبة بن عامر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: كله چې څوک ځان پاک کړي او مسجد ته راشي د لمونځ انتظار وكړي نو دواړه ملائک به ورله په هر يو قدم چې مسجد ته يې اخستي وي لس لس نېكۍ وليكي ، هغه څوک چې د لمونځونو انتظار كوي د الله پاک تابعدار بنده ګڼلی شي ، او چې له كوره د لمونځ په نيت ووځي تر هغه په لمونځ كې شمېرل كېږي چې بېرته كورته نه وي راغلی . |
| په تورتمونو كې مسجد ته د تللو مكانت ! | | |
| ٨٤ - : عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ | | د ابودرداء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي |

WWW.JARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: [ مَنْ مَشَى فِي ظُلْمَةِ اللَّيْلِ إِلَى الْمَسَاجِدِ آتَاهُ اللَّهُ نُورًا يوم القيامة ] (صحيح ابن حبان: ٢٠٤٦) | | صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د شپې په تورتمونو کې چې څوک جماعتونو ( مسجدونو ) ته ځي راځي نو د قيامت په ورځ به ورله الله پاک رڼاګانې ورکړي . |
| مسجد ته د ننوتو او د راوتلو په وخت کې دعا ! | | |
| ٨٥ - : عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ، أَوْ عَنْ أَبِي أُسَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم[إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَقُلْ اللهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَإِذَا خَرَجَ فَلْيَقُلْ: اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ ] (صحيح مسلم: ٧١٣) | | د ابو حميد يا ابو اسيد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : په تاسو کې چې کله څوک مسجد ته داخل شي نو سلام دې وکړي او ودې وايي : ای الله ! ستا د رحمت دروازې راته بېرته کړې، او چې کله راوځي نو ودې وايي : ای الله ! زه ستانه ستا د مهربانۍ او فضل غوښتنه کوم . |
| په جماعت سره لمونځ اداء کول پنځه وېشت درجې غوره والی لري ! | | |
| ٨٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [فَضْلُ صَلَاةِ الجَمِيعِ عَلَى صَلَاةِ الوَاحِدِ خَمْسٌ وَعِشْرُونَ دَرَجَةً، وَتَجْتَمِعُ مَلَائِكَةُ اللَّيْلِ وَمَلَائِكَةُ النَّهَارِ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ] | | د ابو هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: په جماعت سره د لمونځ ادا کولو ثواب د سړيپه يواځې لمونځ پنځه وېشت درجې ثواب لري ، د شپې او ورځې دواړه نوعه ملائک د سهار او شپې په لمونځونو کې يوځای کېږي . |

WWW.LARHKUB.COM

| | | |
|---|---|---|
| ( صحيح البخاري : ٤٧١٧) | | |
| په جماعت سره لمونځ اداء کول وويشت درجې غوره والی لري ! | | |
| ٨٧ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاةِ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً ]( صحيح مسلم : ٦٥٠) | | دعبدالله بن عمرر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: په جماعت سره د لمونځ ادا کول په يواځې لمونځ کولو باندې وويشت درجې ثواب لري . |
| په جماعت سره د سهار او ماسخوتن د لمونځ د اداء کولو غوره والی ! | | |
| ٨٨ - : عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ وَالْغَدَاةَ فِيْ جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ اللَّيْلَ ] (صحيح ابن حبان: ٢٠٥٨) | | د عثمان بن عفان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: دماسخوتن او سهار لمونځ چې څوک په جماعت سره ادا کړي دومره ثواب به يې وشي لکه ټوله شپه چې په لمونځ ولاړ وي . |
| د اذان نه وروسته مسجد نه وتل منع دي | | |
| ٨٩ - : عَنْ أَبِي صَالِحٍ قَالَ [رَأَى أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ رَجُلًا قَدْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ وَقَدْ أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ فَقَالَ أَمَّا هَذَا فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ] (صحيح ابن حبان : ٢٠٦٢) | | د ابو صالح نه روايت دی هغه وايي : ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يو سړی وليد چې د اذان نه وروسته د مسجد څخه ووت ، نو وويل : دې سړي دنبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخالفت وکړ . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| چې اذان څوک واوري په کور کې يې لمونځ نه کيږي ! | | |
| ۹۰ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يَأْتِهِ ، فَلاَ صَلاَةَ لَهُ اِلاّ مِنْ عُذْرٍ] ( سنن ابن ماجه : ۷۹۳) | | دعبدالله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: چې څوک اذان واوري او مسجد ته رانه شي او هیڅ عذر يې نه وي نو لمونځ يې نه کيږي . |
| د تيارو خوارو او د ډير اودس ماتي په وخت کې لمونځ نه کېږي ! | | |
| ۹۱ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ [ لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ، وَلَا هُوَ يُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ ] ( صحيح مسلم : ۵۶۰) | | عائشة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وايي : ما له نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي هغه ويل چې : په هغه وخت کې لمونځ نه کېږي چې خوراک حاضر وي او په هغه وخت کې هم نه کېږي چې د دوارو اودس ماتو يې سره په ټينګ کړيوي. |
| امامت کول د مشر شرعي حق دی! | | |
| ۹۲ - : عَنْ مَالِكِ بْنِ الحُوَيْرِثِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ إِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ، فَأَذِّنَا وَأَقِيمَا، ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا ] (صحيح البخاري : ۶۵۸ ) | | د مالک بن الحويرث رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : د لمونځ وخت چې کله حاضر شي نو اذان وکړئ او بيا اقامت وکړئ او په تاسو کې مشر دې ستاسو امامت وکړي . |
| په هيڅ وخت کې د جماعت لمونځ نه پريښودل ! | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٩٣ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [إِذَا كَانُوا ثَلَاثَةً فَلْيَؤُمَّهُمْ أَحَدُهُمْ وَأَحَقُّهُمْ بِالْإِمَامَةِ أَقْرَؤُهُمْ] (صحيح مسلم: ٦٧٢) | | د ابوسعید الخدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: چې کله څوک په سفر کې درې نفره یاست، یو دې ورله خامخا امامت وکړي، او په امامت حقدار هغه دی چې ډېر قران ورته یاد وي . |
| وړوند هم امامت کولای شي ! | | |
| ٩٤ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ اسْتَخْلَفَ ابْنَ أُمِّ مَكْتُومٍ يَؤُمُّ النَّاسَ وَهُوَ أَعْمَى] ( سنن ابي داود :٥٩٥ ) | | له انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عبدالله بن ام مکتوم په مدینه مشر وګماره هغه به د خلکو امامت کو او حالانکه هغه وړوند و . |
| لمونځ ته د راتګ په وخت کې منډې نه وهل ! | | |
| ٩٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَأْتُوهَا تَسْعَوْنَ، وَأْتُوهَا تَمْشُونَ، عَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا، وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا ] (صحيح البخاري:٩٠٨) | | له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلي دي چې کله لمونځ ودرېږي رامنډې ورته مه وهئ بلکې په اطمئنان باندې راشئ، کوم لمونځ چې مو راونیو هغه وکړئ او کوم لمونځ چې درنه فوت شو نو هغه بیرته راپوره کړئ |
| د لومړي صف مقام ! | | |
| ٩٦ - : عَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ | | له عرباض بن سارية رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ ثَلَاثًا، وَعَلَى الَّذِي يَلِيهِ وَاحِدَةً] (مسند احمد: ۱۷۱۵۷) | | چې نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په لومړي صف باندې درې ځل ثناء ویله -یعنې مغفرت به یې ورله غوښته – او په ورپسې صف به یې یوځل ثنا ویله. |
| د صفونو د جوړولو کیفیت! | | |
| ۹۷ - : عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَلَّلُ الصُّفُوفَ مِنْ نَاحِيَةٍ إِلَى نَاحِيَةٍ يَمْسَحُ مَنَاكِبَنَا وَ صُدُورَنَا وَ يَقُولُ لَا تَخْتَلِفُوا فَتَخْتَلِفَ قُلُوبُكُمْ وَكَانَ يَقُولُ: إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصُّفُوفِ الْمُتَقَدِّمَةِ] (سنن النسائي: ۸۱۱) | | براء بن عازب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د صفونو له یو کوڼ نه تر بل پورې په منځ کې ګرځېده، زمونږ اوږې او سینې به یې سره یو برابرولې، او ویل به یې: ګډوډ مه ودرېږئ هسې نه زړونه به مو ګډ وډ شي، او هغه به ویل: الله پاک او ټولې ملائکې یې په لومړي صفونو باندې ثنا وایي. |
| د صفونو نېغوالي ته تیزي | | |
| ۹۸ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: [ أَلَا تَصُفُّونَ كَمَا تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا؟ فَقُلْنَا يَا | | جابر بن سمرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي: نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته راووت او وېویل: لکه څنګه چې ملائکې الله پاک ته په صفونو ودرېږي ایا تاسو د هغوی په څېر صفونه نه جوړوئ؟ مونږ وویل: د الله رسوله! ملائک الله پاک ته څه ډول |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رَسُولَ اللّٰهِ، وَكَيْفَ تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا؟ قَالَ يُتِمُّونَ الصُّفُوفَ الْأُوَلَ وَ يَتَرَاصُّونَ فِي الصَّفِّ] (صحیح مسلم: ٤٣٠) | | صفونه جوړوي؟ هغه وویل: هغوی لومړي صفونه پوره کوي او په صفونو کې جوخت ودریږي . |
| ٩٩ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ الْصُّفُوْفَ وَ مَنْ سَدّ فُرْجَةً رَفَعَهُ اللّٰهُ بِهَا دَرَجَةً ] (سنن ابن ماجه: ٩٩٥) | | عائشة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمايي چې رسول الله صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: الله پاک او د هغه ملائک په هغو خلکو چې د صفونو خالیګاوې ډکوي پرې ثنا وايي او څوک چې د صفونو خالیګاوې بندې کړي الله پاک به یې یوه درجه پورته کړي . |
| ١٠٠–عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ رُصُّوا صُفُوفَكُمْ، وَقَارِبُوا بَيْنَهَا، وحاذوا بالأكتاف، فو الذي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لَأَرَى الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ مِنْ خَلَلِ الصَّفِّ كَأَنَّهَا الحَذَفُ] (صحيح ابن حبان : ٢١٦٦ | | له انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت دې چې رسول الله صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: صفونو جوخت کړئ او نږدې نږدې شئ، اوږې هم ولګوئ، زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما نفس یې په لاس کې دی زه شیطان وینم چې د صفونو په خالي ځایونو کې لکه د مرغومي (چیلوکي) په څیر ګرځي . |
| ١٠١ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رَضِيَ اللّٰهعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَصَلّٰى اللّٰهُ | | د انس بن مالک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، نه روایت دې چې نبي کریمصَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: صفونو پوره کړې ، ځکه د |

WWW.LAPHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [أَتِمُّوا صُفُوفَكُمْ، فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصَّفِّ -يَعْنِي- مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ ] (مسند احمد: ١٣٩٠١) | | صفونو برابروالي دپوره لمونځ حصه او دې . |
| په پیزار کې هم لمونځ کېږي ! | | |
| ١٠٢ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَلْبَسْ نَعْلَيْهِ أَوْ لِيَخْلَعْهُمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ، وَلَا يُؤْذِ بِهِمَا غَيْرَهُ ] (صحيح ابن خزيمة: ١٠٠٩) | | له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: تاسو کې چې کله څوک لمونځ کوي نو خپل پېزار دې يا په پښو کړي او يا دې وباسي او د پښو ترمنځ دې کېږدي ، او هېڅ څوک دې پرې نه تکليفوي . |
| ١٠٣ - : عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [خَالِفُوا الْيَهُودَ فَإِنَّهُمْ لَا يُصَلُّونَ فِي نِعَالِهِمْ وَلَا خِفَافِهِمْ] ( سنن ابي داود : ٦٥٢) | | له شداد بن اوس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: له يهودانو سره کلک مخالفت وکړئ هغوی په خپلو پېزارونو او په خپلو موزو کې لمونځونه نه کوي . |
| چې د فرض لمونځ لپاره اقامت وشي بیا نور لمونځ نه کېږي ! | | |
| ١٠٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَصَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ | | د ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: کله چې فرض لمونځ ودریږي نو بیا نور |

WWW.ARKHUD.COM

| | |
|---|---|
| إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا الْمَكْتُوبَةُ ] ( صحيح مسلم : ۷۱۰) | لمونځونه نه کېږي . |
| **د لمونځ په دوران کې د اودس ماتېدل !** | |
| ۱۰۵ - : عَنْ عَائِشَةَرَضِيَ اللهُ عَنْهَا رَضِيَ اللهُ عَنهَا قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَصَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ إِذَا أَحْدَثَ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلْيَأْخُذْ بِأَنْفِهِ، ثُمَّ لِيَنْصَرِفْ ]( سنن ابي داود : ۱۱۱٤) | د عائشېرَضِيَ اللهُ عَنْهُا رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نهه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: تاسو کې چې کله څوک په لمونځ کې بې اودسه شي نو خپله پوزه دې ونيسي او لمونځ دې پرېږدي . |
| **په لمونځ کې د توکانو ويشتلو حکم !** | |
| ۱۰٦ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُرَضِيَ اللهُ‌عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ، فَلَا يَبْصُقْ بَيْنَ يَدَيْهِ، وَلَا عَنْ يَمِينِهِ، وَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ الْيُسْرَى]( صحيح ابن حبان :۲۲٦٦ ) | دجابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُرَضِيَ اللهُ‌عَنْهُ نه روايت دې چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَصَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: تاسو کې چې کله څوک لمونځ کوي نو خپلې مخې ته دې توکانې نه اچوي ، يا دېکيڼ ( ګڅ ) اړخ ته او يا دې د ګڅ قدم لاندې واچوي . |
| **د ډېر ضرورت له کبله لمونځ ګوزار له خپلې مخېکانې لرې کولای شي !** | |
| ۱۰۷ -: عَنْ مُعَيْقِيب رَضِيَ اللهُ عَنهُرَضِيَ اللهُ‌عَنْهُ قَالَ [ سَأَلْتُ | د معيقيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُرَضِيَ اللهُ‌عَنْهُ نه روايت دی چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ مَسِّ الْحَصَى فِي الصَّلَاةِ، فَقَالَ: إِنْ كُنْتَ لَا بُدَّ فَاعِلًا فَمَرَّةً] ( سنن ابي داود :۲۲۷۵) | | پوښتنه وکړه چې په لمونځ کې کاڼي ګيټی له مخې لرې کولای شم ؟ هغه وويل : که ضرور يې لرې کوې نو يو ځل يې کولای شې . |
| په لمونځ کې د امام نه سبقت کول حرام دي ! | | |
| ۱۰۸ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُرَضِيَ اللّٰهعَنْهُ قَالَ: قَالَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[ أَمَا يَخْشَى الَّذِي يَرْفَعُ رَأْسَهُ قَبْلَ الْإِمَامِ، أَنْ يُحَوِّلَ اللَّهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ؟](صحيح مسلم : ۴۲۷ ) | | د ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُرَضِيَ اللّٰهعَنْهُ نه روايت دب چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : ايا هغه څوک چې د امام نه مخکې سر راپورته کوي له دېنه نه ويريږي چې الله پاک يې سر د خر په سر بدل کړي ؟ |
| په لمونځ کې يو خوا بل خوا کتل د شيطان غلا ده ! | | |
| ۱۰۹ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا رَضِيَ اللّٰهعَنْهَا قَالَتْ: [ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَصَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الِالْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ؟ فَقَالَ: هو اخْتِلَاسٌ يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلَاةِ الْعَبْدِ]( صحيح البخاري :۷۵۱) | | له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا رَضِيَ اللّٰهعَن نه روايت دی چې ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه په لمونځ کې د کتلو راکتلو متعلق پوښتنه وکړه هغه وويل : په لمونځ کې کتل د انسان د لمونځ نه د شيطان غلا ده . |

WWW.LARHKUB.COM

| | | |
|---|---|---|
| هغه کتل چې لمونځ نه خرابوي | | |
| ۱۱۰ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: [ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي يَلْتَفِتُ يَمِينًا وَشِمَالًا، لَا يَلْوِي عُنُقَهُ خَلْفَ ظَهْرِهِ ] ( مسند احمد:۲٤۸۵ ) | | له عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په لمونځ کې ښي او کیڼ اړخ ته داسې کتل چې څټ به یې شاته نه اړوو. |
| په مقبره کې لمونځ نه کیږي | | |
| ۱۱۱ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- رَضِيَ اللهعَنْهُ -[ أَنَّ النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى أَنْ يُصَلَّى بَيْنَ الْقُبُورِ ]( صحيح ابن حبان : ۲۳۱۵) | | د انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قبرونو تر منځ د لمونځ کولو نه منعه فرمایلې ده. |
| د ځمکې هره برخه مسجد دی | | |
| ۱۱۲ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُرَضِيَ اللهعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ الْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدٌ إِلَّا الْحَمَّامَ وَالْمَقْبَرَةَ](سنن ابي داود: ٤٩٢) | | د ابو سعید الخدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رَضِيَ اللهعَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: ټوله ځمکه مسجد مسجد دی خو حمام او مقبره مسجد نه دی. |
| په قبرونو باندې ناسته او ورته لمونځونه کول جائز نه دي ! | | |

WWW.LARHKUZ.COM

| | | |
|---|---|---|
| ١١٣ - : عَنْ أَبِي مَرْثَدٍ الْغَنَوِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ لَا تَجْلِسُوا عَلَى الْقُبُورِ، وَلَا تُصَلُّوا إِلَيْهَا ](صحيح مسلم:۹۷۲) | | د ابو مرثد الغنوي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: په قبرونو باندې مه کېنئ او مه قبرونو ته لمونځونه کوئ. |
| زیارتونه ودانول د یهودانو خصلت دی ! | | |
| ١١٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ قَاتَلَ اللّٰهُ الْيَهُودَ، اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ ] ( صحيح البخاري : ٤٣٧) | | د ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: الله دیهودان تباه او هلاک کړي چې د خپلو پیغمبرانو د قبرونو نه یې مسجدونه جوړ کړي وو . |
| په لمونځ کې د مار یا لړم وژنه لمونځ نه خرابوي | | |
| ١١٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ اقْتُلُوا الْأَسْوَدَيْنِ فِي الصَّلَاةِ: الْحَيَّةَ، وَالْعَقْرَبَ ]( سنن ابي داود : ۹۲۱) | | د ابوهریرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: تاسو په لمونځ کې دواړه تور شیان مار او لړم ووژنئ. |
| لمونځ باید هرومرو سوترې ته وشي | | |
| ١١٦ -: عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ | | دعبد الله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا رَضِيَ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنْهُمَا يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [لَا تُصَلُّوا إِلَّا إِلَى سُتْرَةٍ، وَلَايَدَعْ أَحَدًا يَمُرُّبَيْنَ يَدَيْهِ، فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ، فَإِنَّ مَعَهُ الْقَرِينَ ] (صحيح ابن حبان: ٢٣٦٩) | | اللهعَنْهُما نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي: له سترې نه بغېر لمونځ مه کوئ، او مه خپلې مخې ته څوک پرېږدئ چې تېر شي، که خامخا تېرېده نو جنګ دې ورسره وکړي ځکه چې شیطان ورسره دی . |
| ١١٧ - :عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ يُصَلِّي فَلَا يَدَعْ أَحَدًا يَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ وَلْيَدْرَأْهُ مَا اسْتَطَاعَ، فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ، فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ ] ( صحيح مسلم : ٥٠٥) | | له ابوسعیدالخدري رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: په تاسو کې چې څوک کله لمونځ کوي نو خپلې مخې ته تېرېدو ته دې څوک نه پرېږدي که هغه ضرور تېرېده نو جنګ دې ورسره وکړي ځکه چې له هغه سره شیطان دی. |
| لمونځ ګوزار به سترې ته نزدې ودرېږي | | |
| ١١٨ - : عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى سُتْرَةٍ فَلْيَدْنُ مِنْهَا لَا يَقْطَعُ الشَّيْطَانُ عَلَيْهِ صَلَاتَهُ] ( سنن النسائي : ٧٤٨) | | له سهل بن أبي حثمة رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: په تاسو کې چې کله څوک سترې ته لمونځ کوي نو ښه دې ورته نزدې شي چې شیطان ورباندې لمونځ خراب نه کړي . |
| یو لمونځ دوه ځل کول هم روا دي ! | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ۱۱۹ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [ دَخَلَ رَجُلٌ الْمَسْجِدَ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ صَلَّى، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا مَنْ يَتَصَدَّقُ عَلَى هَذَا فَلْيُصَلِّ مَعَهُ ] ( صحيح ابن حبان : ۲۳۹۷) | | له ابوسعید الخدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی فرمایي: یو سړی مسجد ته راغی او نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لمونځ کړی و، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل : ایا داسې څوک شته چې په دې خیرات وکړي او لمونځ ورسره وکړي؟ |
| د وتر لمونځ سنت مؤکد دي خو فرض نه دي | | |
| ۱۲۰ - :!عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [مَنْ أَدْرَكَ الصُّبْحَ وَلَمْ يُوتِرْ فَلَا وِتْرَ لَهُ] (صحيح ابن حبان: ۲٤۰۸) | | له ابوسعید الخدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : سبا چې په چا راوختو او وتر لمونځ یې نه وي کړې نو وتر دې نه کوي |
| ۱۲۱ - : عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ الْوِتْرُ حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ، فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِخَمْسٍ فَلْيَفْعَلْ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِثَلَاثٍ فَلْيَفْعَلْ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِوَاحِدَةٍ فَلْيَفْعَلْ ] ( سنن ابي داود : ۱٤۲۲) | | له ابو أیوب أنصاري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: وتر په هر مسلمان لازمي حق دی، که د چا خوښه شي پنځه رکعته دې وکړي، که د چا خوښه شي درې دې وکړي، که د چا خوښه شي نو یو رکعت وتر دې وکړي . |
| په ورځ او شپه کې د دولس رکعتونو لمونځ ثواب او اجر ! | | |

WWW.LARHKUE.COM

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲۲ - : عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ [سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّي لِلهِ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا غَيْرَ فَرِيضَةٍإِلَّا بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ] (صحيح مسلم: ۷۲۸) | | له ام حبيبة رَضِيَ اللهُ عَنْهُا د نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بي بي نه روایت دی فرمايي چې ما له نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلي دي ويل يي: هيڅ مسلمان بنده هره ورځ د الله پاک د رضا په خاطر دولس ركعته لمونځ نه كوي مګر الله پاک به ورله په جنت کې كور جوړ كړي . |
| د مازديګر نه مخکې د څلور رکعتونو غوره والی! | | |
| ۱۲۳ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [رَحِمَ اللهُ امرءا صَلّى أَرْبَعًا قَبْلَ الْعَصْرِ ] (صحيح ابن خزيمة: ۱۱۹۳) | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: په هغه سړي دې الله رحم وكړي چې د مازديګر لمونځ نه مخكې څلور ركعته (نفل) كوي . |
| د سهار دوو رکعتونو اجر او ثواب ! | | |
| ۱۲٤- : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [الرَّكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا] ( صحيح ابن حبان: ۲٤٥۸) | | له عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهُا نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د سهار لمونځ نه مخكې دوه ركعتونه ما ته له دنيا او څومره شيان چې ورپکې دي ورڅخه ډېر محبوب دي . |
| د سهار سنت اورده نه کول ! | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ١٢٥ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ [كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ إِذَا صَلّى رَكْعَتَي الْفَجْرِ خَفّفْهُمَا حَتّى يَقَعَ فِي نَفْسِي أَنّهُ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ ] (صحيح ابن حبان : ٢٤٦٥ ) | | د عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهُا نه روايت دی چې نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ به دسهار دواړه رکعتنو دومر لنډ کول چې زما په زړه کې به دا راغلل لکه چې سورت فاتحه يې ونه لوستله . |
| د سهار سنت د فرض لمونځ نه وروسته هم صحيح دي ! | | |
| ١٢٦ - : عَنْ مُحَمّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ جَدّهِ قَيْسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ [ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فَأُقِيمَتِ الصّلَاةُ، فَصَلّيْتُ مَعَهُ الصُّبْحَ، ثُمّ انْصَرَفَ النّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فَوَجَدَنِي أُصَلّي، فَقَالَ: مَهْلًا يَا قَيْسُ، أَصَلَاتَانِ مَعًا ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنّي لَمْ أَكُنْ رَكَعْتُ رَكْعَتَي الفَجْرِ، قَالَ: فَلَا إِذَنْ ] ( جامع الترمذي : ٤٢٢) | | محمد بن ابراهيم له خپل نيکه قيس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت کوي چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ لمونځ ته راووت او لمونځ ودريد، ما هم ورسره د سهار لمونځ وکړ، بيا نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ سلام وګرځو زه يې ولېدم چې لمونځ مې کوو، نو ويويل : قيسه دا څه کوې؟ يو وخت او دوه لمونځونه؟ ما وويل د الله رسوله د سهار دوه رکعته سنت مې نه دي کړي، هغه وويل: خا بيا نو دوه لمونځونه نه دي. |
| د سهار سنت د لمر خاته په وخت کې هم کېداى شي ! | | |
| ١٢٧ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [مَنْ لَمْ يُصَلِّ رَكْعَتَي | | د ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: که د سهار دوه رکعته سنت څوک ونه کړي نو د لمر راختو |

WWW.ARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| الفَجْرِ فَلْيُصَلِّهِمَا بَعْدَ مَا تَطْلُعُ الشَّمْسُ ]( جامع الترمذي : ۴۲۳) | | نه وروسته دې وکړي . |
| د جمعې د ورځې لمونځ نه وروسته څلور رکعت کول ! | | |
| ۱۲۸ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيُصَلِّ بَعْدَهَا أَرْبَعًا] ( صحيح مسلم : ۸۸۱) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: په تاسو کې چې کله څوک دجمعې د ورځې لمونځ وکړي نو وروسته دې ترې څلور رکعته سنت وکړي . |
| د نفل لمونځ کول په کور کې غوره دي ! | | |
| ۱۲۹ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ إِذَا قَضَى أَحَدُكُمُ الصَّلَاةَ فِي مَسْجِدِهِ، فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِهِ نَصِيبًا مِنْ صَلَاتِهِ، فَإِنَّ اللهَ جَاعِلٌ فِي بَيْتِهِ مِنْ صَلَاتِهِ خَيْرًا ](صحيح مسلم: ۷۷۸) | | د جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : په تاسو کې چې کله څوک پخپل مسجد کې لمونځ وکړي نو د کور لپاره دې ترې څه حصه پريږدي ، ځکه چې الله پاک يې په دغې لمونځ په کور کې خير او برکت اچوي . |
| مسجد ته د ننوتو په وخت کې دوه رکعته کول ! | | |
| ۱۳۰ - : عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيُصَلِّ سَجْدَتَيْنِ مِنْ قَبْلِ | | د ابو قتادة السلمي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : تاسو کې چې کله څوک مسجد ته راشي نو د کېناستو نه دېمخکې دوه رکعته وکړي . |

| | | |
|---|---|---|
| أَنْ يَجْلِسَ ] ( سنن ابي داود : ٤٦٧ ) | | |
| په سورلۍ باندې نفلي لمونځ کول روا دي ! | | |
| ۱۳۱ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي عَلَى حِمَارٍ وَهُوَ مُوَجِّهٌ إِلَى خَيْبَرَ] (صحيح مسلم: ۷۰۰) | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُما نه روایت دی فرمايي: ما رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولید چې په خر باندې سپور او لمونځ يې کوو او هغه خیبر ته روان و |
| د اشراق د لمونځ غوره والی ! | | |
| ۱۳۲ - : عَنْ نُعَيْمِ بْنِ هَمَّارٍ الْغَطَفَانِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ رَبِّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَّهُ قَالَ: [ يَاابْنَآدَمَ، صَلِّ لِي أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ أَوَّلَا النَّهَارِ أَكْفِكَ آخِرَهُ] (صحيح ابن حبان : ۲۵۳٤) | | د نعیم بن همار غطفاني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې الله پاک فرمايلي دي : ای انسانه ! د ورځ په اوله برخه زما لپاره څلور رکعته لمونځ وکړ د ورځې اخره پورې به دې زه بس شم |
| د اشراق لمونځ د انسان ټول اندامونه ازاده وي | | |
| ۱۳۳ - :عَنْ أَبِي بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: [ فِي الْإِنْسَانِ ثَلَاثُ مِائَةٍ وَسِتُّونَ، مَفْصِلًا فَعَلَيْهِ أَنْ يَتَصَدَّقَ عَنْ كُلِّ مَفْصِلٍ مِنْهُ بِصَدَقَةٍ ] قَالُوا وَمَنْ يُطِيقُ ذَلِكَ يَا نَبِيَّ اللهِ؟ قَالَ: | | ابو بریده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما دنبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلي دي چې وېل يې : په انسان کې درې سوه شپېته بندونه دي او د هر بند نه صدقه ویستل د انسان لازم او فرض دي ، صحابه وو وویل : د الله پېغمبره ! ددې توان لا |

WWW.ZARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| النُّخَاعَةُ فِي الْمَسْجِدِ تَدْفِنُهَا، وَالشَّيْءُ تُنَحِّيهِ عَنِ الطَّرِيقِ فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فَرَكْعَتَا الضُّحَى تُجْزِئُكَ ](سنن ابي داود: ٥٢٤٢) | | ثوک لرلای شي ؟ هغه ورته وویل : په مسجد کې توکل شوې لاړې لرې کول ، د لارې نه زیانمن شیان ښخول که دا هم نه وي د اشراق لمونځ بسنه کوي |
| د قضا شوو لمونځونو بیان | | |
| ١٣٤ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ مَنْ نَسِيَ صَلَاةً فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَهَا، لَا كَفَّارَةَ لَهَا إِلَّا ذَلِكَ [ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي] (صحيح البخاري: ٥٩٧) | | د انس بن مالک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: له چا نه چې لمونځ هېر شي نو هغه وخت کې دې وکړي چې کله ورته ورياد شي، له کولو یې پرته نوره کفاره نشته ، الله پاک فرمایي: [زما د یاد لپاره لمونځونه وکړه ] |

WWW.LARHKUB.COM

| | | |
|---|---|---|
| دسفر متعلق بیان او نبوي تفصیل<br>د مسافر دعاګانې ډیرې ښې قبلیږي ! | | |
| ۱۳۵ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ ثَلَاثُ دَعَوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٌ لَا شَكَّ فِيهِنَّ: دَعْوَةُ الْوَالِدِ، وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ، وَدَعْوَةُ الْمَظْلُومِ] (سنن ابي داود:۱۵۳۶) | | د ابوهریرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: درې ډوله دعاګانو په قبولوالي کې هیڅ شک نشته : د پلار ښېراه ، د مسافر دعا ، د مظلوم ښېراه . |
| مسافر به له زیان څخه څنګه الله پورې پناه غواړي ؟ | | |
| ۱۳۶ - : عَنْ خَوْلَةَ بِنْتِ حَكِيمٍ السُّلَمِيَّةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [إِذَا نَزَلَ أَحَدُكُمْ مَنْزِلًا، فَلْيَقُلْ: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، فَإِنَّهُ لَا يَضُرُّهُ شَيْءٌ حَتَّى يَرْتَحِلَ مِنْهُ] (صحيح مسلم:۲۷۰۸) | | دخولة بنت حکیم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: په تاسو کې چې کله څوک چرته لاړ شي دا دې ووايي: دالله پاک په پوره کلماتو سره الله پاک پورې د زیانمنو مخلوقاتو نه پناه غواړم تر هغې به ورته هیڅ شي ضرر ونه رسوي چې تر څو له دغې ځایه تللی نه وي |
| د یواځې سفر کولو اړوند نبوي ارشاد ! | | |
| ۱۳۷ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي | | دعبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُما نه روایت دی چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ما ته چې د یواځې سفر کولو متعلق څومره معلومات دي |

WWW.LARKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| الوَحْدَةِ مَا أَعْلَمُ، مَا سَارَ رَاكِبٌ بِلَيْلٍ وَحْدَهُ ] (صحيح البخاري:٢٩٩٨) | | که بل چا ته وای د یوې شپې په اندازه سفر به یې هم یواځې نه و کړی . |
| د ښځې متعلق د سفر کولو نبوي لارښوونې ! | | |
| ١٣٨ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُما أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [لَا تُسَافِرِ المَرْأَةُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا مَعَ ذِي مَحْرَمٍ] (صحيح البخاري : ١٠٨٦) | | دعبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُما نه روایت دي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: هېڅ ښځه دې د درې ورځو په اندازه له محرم نه بغېر سفر نه کوي . |
| ١٣٩ -: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ أَنْ تُسَافِرَ مَسِيرَةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ لَيْسَ مَعَهَا حُرْمَةٌ ] ( صحيح البخاري : ١٠٨٨) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: هغه ښځه چې په الله پاک او د قيامت په ورځ ايمان لري نو دا ورته حلال نه دي چې د يوې ورځې يا شپې په اندازه سفر وکړي په داسې حال کې چې هېڅ محرم ورسره نه وي |
| په سفر کې لمونځ نيم کيداى شي ! | | |
| ١٤٠ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُا قَالَتْ: [ فُرِضَتِ الصَّلَاةُ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ هَاجَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفُرِضَتْ أَرْبَعًا، وَتُرِكَتْ صَلَاةُ السَّفَرِ عَلَى الأُولَى ]( صحيح البخاري : ٣٩٣٥) | | د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهُا نه روایت دی فرمايي: په سفر او حضر کې لمونځ دوه دوه رکعته فرض شويو ، کله چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هجرت وکړ د سفر لمونځ په ځای پرېښودل شو او د حضر لمونځ زيات کړی شو. |

WWW.LARAKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| د انس بن مالک رَضِيَ اللّٰہعَنْہُ نه روایت دی چې ما د رسول الله صَلّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلّمَ سره په مدینه کې د ماسپښین لمونځ څلور رکعتونه وکړ ، او په ذو الحلیفه کې مې ورسره د مازدیګر لمونځ د سفر په حالت کې دوه رکعته وکړ. | | ۱٤۱ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰہعَنْہُ قَالَ: [ صَلَّيْتُ الظُّهْرَ مَعَ رَسُولِ اللّٰہِ صَلّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ أَرْبَعًا، وَصَلَّيْتُ مَعَهُ الْعَصْرَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ، وَكَانَ مُسَافِرًا ] ( صحیح ابن حبان : ۲۷٤۳) |
| د مسافر لپاره د قصر محدوده موده نشته ! | | |
| د جابر رَضِيَ اللّٰہعَنْہُ نه روایت دی فرمایي: نبي صَلّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلّمَ په تبوک کې شل ورځې تیرې کړې او قصر به یې په کې کوو. | | ۱٤۲ - :عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰہِ رَضِيَ اللّٰہعَنْهُمَا قَالَ: [ أَقَامَ النَّبِيُّ صَلّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَبُوكَ عِشْرِينَ يَوْمًا يَقْصُرُ الصَّلَاةَ ] ( صحیح ابن حبان : ۲۷۵۲) |
| په قرانکریم کې د تلاوت سجدې ! | | |
| د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰہعَنْہُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلّمَ به قرانکریم لوست، چې د سجدې په ایت به راغی نو هغه به سجده وکړه او مونږ به هم ورسره سجده وکړه. | | ۱٤۳ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰہعَنْہُ قَالَ: [كَانَ رَسُولُ اللّٰہِ صَلّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ فَيَأْتِي عَلَى السَّجْدَةِ فَيَسْجُدُ، وَنَسْجُدُ مَعَهُ لِسُجُودِهِ](صحیح البخاري : ۱۰۷۵) |
| | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| د جمعې د ورځې غوره والی ! | | |
| ١٤٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [ لَا تَطْلُعُ الشّمْسُ وَلَا تَغْرُبُ عَلَى يَوْمٍ أَفْضَلَ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ، وَمَا مِنْ دَابّةٍ إِلّا وَهِيَ تَفْزَعُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلّا هَذَيْنِ الثّقَلَيْنِ ، الجِنّ وَ الإِنْسُ] ( صحيح ابن حبان : ٢٧٧٠ ) | | د ابوهریرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي: په ټولو ورځو کې چې لمر پرې راخېژي او ډوبېږي غوره په کې د جمعې ورځ ده ، د انسان او پېریانو نه وغیره نور ټول حیوانات د جمعې په ورځ زیات ډارېږي [ چې هسې نه قیامت شي ] . |
| د جمعې په ورځ د سعادت لټون ! | | |
| ١٤٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ أَبُو القَاسِمِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ فِي الجُمُعَةِ سَاعَةٌ، لاَ يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ قَائِمٌ يُصَلِّي، فَسَأَلَ اللّٰهَ خَيْرًا إِلّا أَعْطَاهُ ]( صحيح البخاري : ٥٢٩٤) | | د ابوهریرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي: د جمعې په ورځ کې یو وخت دی که انسان ورسره مخامخ شي او ولاړ وي لمونځ کوي او د الله پاک نه په کې هر نوعه خیر وغواړي نو الله پاک به یې ورکړي . |
| د جمعې ورځې ځانګړی خیال ساتل د ایمان نښه ده ! | | |
| ١٤٦ - : عَنْ أَبِي الجَعْدِ الضّمْرِيّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ مَنْ تَرَكَ الجُمُعَةَ ثَلَاثَ مَرّاتٍ تَهَاوُنًا بِهَا طَبَعَ اللّٰهُ عَلَى قَلْبِهِ ] (سنن الترمذي: ٥٠٠) | | د ابوالجعد الضمري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي: د جمعې د ورځې لمونځ چې څوک درې ځله قصداً او عمداً پرېږدي نو الله پاک به ورله په زړه مهر ولګوي . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ١٤٧ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ وَ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّهُمَا سَمِعَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَقُولُ عَلَى أَعْوَادِ مِنْبَرِهِ: لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ، أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللّٰهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ، ثُمَّ لَيَكُونُنَّ مِنَ الْغَافِلِينَ ] ( صحيح مسلم :٨٦٥) | | د عبدالله بن عمر او ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دی، دواړو د نبي صَلّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ نه د هغه په ممبر اوريدلي دي چې ويل يې: جمعې د ورځې د لمونځ پرېښودلو نه دې ځینې خلک رامنعه شي ، ورنه الله پاک به ورله په زړونو مهر ولګوي بیا به له دین څخه ناخبره وي . |
| د جمعې په ورځ هر نوعه خبرې او کار ناروا دی ! | | |
| ١٤٨ - : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [ إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ يَوْمَ الجُمُعَةِ: أَنْصِتْ، وَالإِمَامُ يَخْطُبُ، فَقَدْ لَغَوْتَ] (صحيح البخاري: ٩٣٤) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: چې امام خطبه وايي او تا خپل ملګري ته وويل چې چپ ( خاموش ) شه نو دجمعې د ورځې ثواب دې ونه شو . |
| په خطبه کې د تشهد مقام ! | | |
| ١٤٩ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [ كُلُّ خُطْبَةٍ لَيْسَ فِيهَا تَشَهُّدٌ، فَهِيَ كَالْيَدِ الْجَذْمَاءِ] ( سنن ابي داود : ٤٨٤١ ) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: هغه خطبه چې تشهد په کې نه وي د پرېکړې شوي لاس په شان ده . |
| | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| د نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ د خطبې کيفيت ! | | |
| ۱۵۰ - : عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍقَالَ سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ سَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَيْفَ كَانَ يَخْطُبُ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ؟ قَالَ: كَانَ يَخْطُبُ قَائِمًا، غَيْرَ أَنّهُ كَانَ يَقْعُدُ قَعْدَةً، ثُمّ يَقُومُ ]( سنن ابن ماجه :۱۱۰۵) | | سماک بن حرب وايي : ما د جابر بن سمرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه وپوښتل چې نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ به څنګه خطبه کوله ؟ هغه وويل : نبي- صلى الله عليه وسلم - به په ولاړه خطبه ولوسته بيا به کښېناست ، بيا به ودرېد او خطبه به يې وويله . |
| د نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ د خطبې او لمونځ کيفيت ! | | |
| ۱۵۱ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [كُنْتُ أُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وَكَانَتْ صَلاَ تُهُ قَصْداً وَ خُطْبَتُهُ قَصْداً ]( سنن الترمذي : ۵۰۷ ) | | د جابر بن سمرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ما به د نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ سره لمونځ کو او خطبه او لمونځ دواړه به يې لنډ لنډ وو. |
| ۱۵۲ - : عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [ أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ كَانَ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ: بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى، وَهَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ] (سنن ابي داود: ۱۱۲۵) | | د سمرة بن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ به دجمعې د ورځ په لمونځ کې ( سَبِّحِ اسْمِ رَبِّکَ الْأَعْلَى ) او ( هَلْ أَتَاکَ حَدِيْثُ الغَاشِيَةِ ) ولوستل . |
| الله پاک ته کومې ورځې ډېرې محبوبې دي ؟ | | |
| ۱۵۳ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ قُرْطٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [إِنّ أَعْظَمَ | | دعبدالله بن قرط رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: د لوی اختر او ورپسې ورځ الله پاک ته ډېرې د |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| الْأَيَّامِ عِنْدَ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَوْمُ النَّحْرِ، ثُمَّ يَوْمُ الْقَرِّ] (سنن ابي داود: ۱۷۶۵) | | لوی اجر ورځې دي . |
| د لوی اختر په ورځ روژه خوله اود ورکوټي اختر په ورځ بوزه خوله عیدګاه ته تللو کې ثواب دی ! | | |
| ۱۵٤ - : عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ كَانَ لاَ يَخْرُجُ يَوْمَ الفِطْرِ حَتّٰى يَأْكُلَ ، وَكَانَ لاَ يَأْكُلُ يَوْمَ النَّحْرِ حَتّٰى يَرْجِعَ] (سنن ابن ماجه: ۱۷۵٦) | | د بريدة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د ورکوټي اختر په ورځ عیدګاه ته ترهغه نه ووتو چې روژه به يې نه وه ماته کړې ، او د لوي اختر په ورځ به يې ترهغه روژه نه ماتوله چې قرباني به يې نه وه کړې . |
| ۱۵۵ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُفْطِرُ عَلَى تَمَرَاتٍ يَوْمَ الفِطْرِ قَبْلَ أَنْ يَخْرُجَ إِلَى الْمُصَلَّى ]( سنن ترمذي : ۵۳٤) | | د انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د ورکوټي اختر په ورځ په يو څو کجورو باندې روژه ماتوله مخکې له دې چې عیدګاه ته ووځي . |
| د اختر په ورځ د تلو راتلو لاره بدلول ! | | |
| ۱۵٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ كَانَ إِذَا خَرَجَ إِلَى الْعِيدِ رَجَعَ فِي غَيْرِ الطَّرِيقِ الَّذِي أَخَذَ فِيهِ] ( سنن ابن ماجه : ۱۳۰۱) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله د اختر په ورځ له کومې لارې عیدګاه ته ووت بېرته به له بلې لارې څخه راستنېده . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| داخترونو د لمونځ نه مخکې او ورسته هیڅ نفل نشته ! | | |
| د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ د وړوکي یا لوی اختر په ورځ ووت او خلکو له یې دوه رکعته لمونځ وکړ، بېرته راستون شو او مخکې وروسته یې تري نور هیڅ لمونځ ونه کړ . | | ١٥٧ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمَ فِطْرٍ أَوْ أَضْحًى، فَصَلَّى بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ انْصَرَفَ وَلَمْ يُصَلِّ قَبْلَهَا وَلاَ بَعْدَهَا ]( صحيح ابن حبان : ٢٨١٨) |
| د اخترونو د لمونځ لپاره اذان او اقامت نشته ! | | |
| د جابر بن سمرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی فرمایې چې ما د نبي صَلّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ سره د اخترونو لمونځ د یو او دوه ځله نه زیات د اذان او اقامت نه بغیر کړی دی . | | ١٥٨ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِيدَيْنِ، غَيْرَ مَرَّةٍ وَلَا مَرَّتَيْنِ، بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ ] ( صحيح مسلم :٨٨٧) |
| د اخترونو په لمونځ کې د قراءت کیفیت ! | | |
| عبیدالله بن عبدالله وایي : عمربن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ابوواقد اللیثي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه وپوښتل چې نبي کریم صَلّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ به په وړوکي او لوی اختر کې کوم سورتونه لوستل ؟ هغه ورته ووېل : هغه به ( ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ )او ( اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ) لوستل | | ١٥٩ - : عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سَأَلَ أَبَا وَاقِدٍ اللَّيْثِيَّ: [ مَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْفِطْرِ وَالْأَضْحَى؟ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِـ {ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ} و {اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ} ] ( صحيح ابن حبان |

WWW.LARHKUR.COM

| | | |
|---|---|---|
| :٢٨٢٠) | | |
| ١٦٠ - : عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللّٰهُعَنْهُ [ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَأُ فِي الْعِيدَيْنِ وَيَوْمِ الْجُمُعَةِ ( بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى) وَ( هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ) ]( سنن ابي داود : ١١٢٢) | | دنعمان بن بشير رَضِيَ اللّٰهُعَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په دواړو اخترونو او د جمعې په ورځ ( سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى ) او (هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ) لوستل . |
| د اختر خطبه به د لمونځ نه وروسته کېدای شي ! | | |
| ١٦١ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ [أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي الفِطْرَ وَالْأَضْحَى ثُمَّ يَخْطُبُ] (صحيح ابن حبان: ٢٨٢٦) | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت دی چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د وړوکې او لوی اختر لمونځونه (لومړی) وکړل بیا به یې خطبه ویله . |
| د کسوف او خسوف بیان<br>د لمر یا سپوږمۍ خړېدل ( بې نوره کېدل ) د چا دمرګ یا ژوند نښه نه ده | | |
| ١٦٢ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ كَانَ يُخْبِرُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[إِنَّ الشَّمْسَ وَالقَمَرَ لاَ يَخْسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلاَ لِحَيَاتِهِ، وَلَكِنَّهُمَا آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللّٰهِ، فَإِذَا رَأَيْتُمُوهَا فَصَلُّوا] (صحيح البخاري: ١٠٤٢) | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روایت دی ، هغه به د نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باره کې ویل چې هغه وايي : لمر او سپوږمۍ د چا مرګ او ژوند له کبله نه بې نوره کیږي ، بلکې دغه دواړه د الله پاک نښې دي چې کله یې د بې نورۍ په حالت کې ووینئ نو لمونځ وکړئ . |
| د کسوف او خسوف لمونځ رکعتونه او کیفیتونه ؟ | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ١٦٣ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِي اللهُ عَنْهَا [ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى سِتَّ رَكَعَاتٍ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ ]( صحيح مسلم : ٩٠١ ) | | د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې د الله نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغه لمونځ کې شپږ رکوعګانې او څلور سجدې وکړې |
| ١٦٤ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهعَنْهَا قَالَتْ: [ كَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَصَلَّى بِهِمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِي رَكْعَتَيْنِ، وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ، وَجَهَرَ بِالْقِرَاءَةِ] (صحيح ابن حبان: ٢٨٥٠) | | د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې دنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وخت کې لمر بې نوره شو ، هغه په دوو رکعتونو کې څلور رکوعګانې او څلور سجدې وکړې، او قراءت يې هم په کې جهري ولوست . |
| داستسقاء بيان:<br>په دعاء کې د کيفيت مبالغه روا ده ! | | |
| ١٦٥ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حَدَّثَهُمْ [ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لاَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي شَيْءٍ مِنْ دُعَائِهِ إِلَّا فِي الِاسْتِسْقَاءِ، فَإِنَّهُ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتَّى يُرَى بَيَاضُ إِبْطَيْهِ ] (صحيح البخاري: ٣٥٦٥) | | د انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د استسقاء د لمونځ نه بغير په بل څه کې لاسونه نه پورته کول ،هغه به په دعاء کې لاسونه دومره اوچت کړل چې د تخرګونو سپینوالی به يې ښکاره شو. |
| د اخترونو او استسقاء لمونځونه يو شان دي ! | | |
| ١٦٦ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ كِنَانَةَ- | | عبدالله بن کنانه وايي : زه يو ګورنر عبدالله بن |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [أَرْسَلَنِي أَمِيرٌ مِنَ الْأُمَرَاءِ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَسْأَلُهُ عَنِ الِاسْتِسْقَاءِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: مَا مَنَعَهُ أَنْ يَسْأَلَنِي؟ خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَوَاضِعًا مُتَبَذِّلًا مُتَخَشِّعًا، مُتَضَرِّعًا، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ كَمَا يُصَلِّي فِي الْعِيدَيْنِ، وَلَمْ يَخْطُبْ خُطْبَتَكُمْ هَذِهِ ](سنن النسائي: ١٥٢١) | | عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا ته واستولم چې داستسقاء په باره کې ترې پوښتنه وکړم ، هغه وويل : نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داستسقاء دلمونځ لپاره په ډېرې زياتې عاجزۍ او خاکسارۍ سره ووت ، د اختر په شان یې دوه رکعتونه وکړل خو ستاسو په شان یې پکې خطبه ونه کړه . |
| داستسقاء په لمونځ کې قراءت جهري دی ! | | |
| ١٦٧ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدٍ الْأَنْصَارِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَسْقِي، فَتَوَجَّهَ إِلَى الْقِبْلَةِ يَدْعُو وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ جَهَرَ فِيهِمَا بِالْقِرَاءَةِ] (صحيح البخاري: ١٠٢٤) | | دعبدالله بن زید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داستسقاء لپاره دوه رکعته لمونځ وکړ او لوستل یې په کې ښکاره وکړل . |
| داستسقاء د لمونځ کیفیت ! | | |
| ١٦٨ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدٍ الْأَنْصَارِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَرَجَ يَسْتَسْقِي، قَالَ: فَحَوَّلَ إِلَى النَّاسِ ظَهْرَهُ، وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ يَدْعُو، | | دعبدالله بن زید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې ما نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولید چې د استسقاء لپاره ووت ، خلکو ته یې شا واړوله او قبلې ته یې مخ کړ ، دخپل څادر مخ یې بدل کړ او په جهري قراءت یې دوه رکعتونه وکړل . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ثُمّ حَوّلَ رِدَاءَهُ، ثُمّ صَلّى لَنَا رَكْعَتَيْنِ جَهَرَ فِيهِمَا بِالقِرَاءَةِ ] ( صحيح البخاري : ۱۰۲۵) | | |
| مصيبت ځپلي انسان ته په حوصلې کولو توصيه کول ! | | |
| ۱۶۹ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ [ أَنّ النّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ مَرّ بِامْرَأَةٍ عِنْدَ قَبْرٍ تَبْكِي فَقَالَ: يَا هَذِهِ اصْبِرِي فَقَالَتْ: إِنّكَ لَا تَدْرِي مَا مُصَابِي فقيل لها بَعْدَ ذَلِكَ هَذَا رَسُولُ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فَأَتَتْهُ فَقَالَتْ: لَمْ أَعْرِفْكَ]( صحيح ابن حبان : ۲۸۹۵) | | د انس رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ روايت دی چې نبي كريم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ د يوقبر خواته په يوې ښځې تېر شو او هغې ژړلې، نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وويل : لږه حوصله وکړه ، ښځې ورته وويل : تاته زما دغم خه پته ده ؟ ښځې ته وويل شول چې دغه خو نبي كريم صلى الله عليه وسلم و ، نو ورته راغله او ويويل : ما نه وې پیژندلی . |
| تكليف برداشت كول د مسلمان ښه صفت دی ! | | |
| ۱۷۰ - : عَنْ مُعَاوِيَةَ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [مَا بَقِيَ مِنَ الدُّنْيَا إلا بلاء وفتنة] (صحيح ابن حبان : ۲۸۹۹) | | د معاويه رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي كريم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: په دنيا کې له ازمېښت او تكليفونو پرته نور هېڅ نه دي پاتې . |
| په هر مسلمان باندې مصيبت د هغه د ايمان موافق وي ! | | |
| ۱۷۱ - : عَنْ سَعْدٍ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ قَالَ[ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّهِ، أَيّ | | سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ وايي چې ما له رسول الله صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ نه وپوښتل : ډېر |

WWW.LARHKUD.COM

النَّاسِ أَشَدُّ بَلَاءً؟ قَالَ: الْأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ، فَيُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ، فَإِنْ كَانَ دِينُهُ صُلْبًا اشْتَدَّ بَلَاؤُهُ، وَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ رِقَّةٌ ابْتُلِيَ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ، فَمَا يَبْرَحُ الْبَلَاءُ بِالعَبْدِ حَتَّى يَتْرُكَهُ يَمْشِي عَلَى الْأَرْضِ مَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ] ( سنن ترمذي : ۲۳۹۸ )

تکليفونه په چا باندې راځي ؟ هغه وويل : پيغمبران او بيا ورپسې چې په چا کې څومره ايمان وي ، په انسان کې د شته ايمان په اندازه هغه ازميښت کېږي ، چې دين يې څومره کلک وي هومره يې ازميښت درووند وي ، او څومره چې په دين کې خام وي هومره يې ازميښت کم وي ، تردې پرې ازميښتونه راځي چې په دنيا کې وي او هېڅ ګناه پرې نه وي پاتې .

مسلمان ته په هر ډول مصيبت اجر ورکول کيږي !

۱۷۲ - : عَنِ الْأَسْوَدِ قَالَ:[ دَخَلَ شَبَابٌ مِنْ قُرَيْشٍ عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وَهِيَ بِمِنًى، وَهُمْ يَضْحَكُونَ فَقَالَتْ:مَا يُضْحِكُكُمْ؟ قَالُوا: فُلَانٌ خَرَّ عَلَى طُنُبِ فُسْطَاطٍ، فَكَادَتْ عُنُقُهُ، أَوْ عَيْنُهُ أَنْ تَذْهَبَ، فَقَالَتْ: لَا تَضْحَكُوا، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُشَاكُ شَوْكَةً، فَمَا فَوْقَهَا إِلَّا كُتِبَتْ لَهُ بِهَادَرَجَةٌ وَمُحِيَتْ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ] (صحيح مسلم: ۲۵۷۲)

اسود وايي : عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په منى کې وه او د قريشو ځينې هلکان ورته راغلل او هغوى خندل ، عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ورنه وپوښتل چې ولې خاندئ ؟ هغوى وويل : دغه فلانکى هلک د خيمې په تار راپربوت نزدې وه چې څټ او يا سترګه يې له منځه تللې واى ، هغې ورته وويل : مه خاندئ ، ما د صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې : د هيڅ مسلمان په خپه کې غنه يا ورڅخه د ډېر نور څه سره نه مخ کيږي مګر يوه درجه يې لوړيږي او يوه ګناه ورڅخه رژيږي .

| | | |
|---|---|---|
| دنیا ته ډېرغور کول د اور سبب گرځي ! | | |
| ۱۷۳ - : عَنْ خَوْلَةَ بِنْتِ قَيْسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [الدُّنْيَا خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ، فَمَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا بُورِكَ لَهُ فِيهَا، وَرُبَّ مُتَخَوِّضٍ فِيمَا شَاءَتْ نَفْسُهُ فِي مَالِ اللهِ وَمَالِ رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ] (صحيح ابن حبان: ۲۸۹۲) | | دخوله بنت قیس رَضِيَ اللهُ عَنْهُا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: د دنیا صفت تروتازه او خورا خوږ دی، که دحلالې لارې چا دنیا ترلاسه کړه نوره به هم بابرکته شي، خو که د الله پاک او د هغه د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مال او دنیا کې چې څوک د خپلې خوښې تصرف کوي د قیامت په ورځ یې برخه اور دی. |
| مسلمان ته د غم او ښادۍ دواړو حالتونو کې اجر ورکول کېږي ! | | |
| ۱۷٤ - : عَنْ صُهَيْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ، إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ، وَلَيْسَ ذَاكَ لِأَحَدٍ إِلَّا لِلْمُؤْمِنِ، إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ، فَكَانَ خَيْرًا لَهُ، وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ، صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ] (صحيح مسلم: ۲۹۹۹) | | دصهیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: د مسلمان ژوند ته حېرانتیا په کار ده ، او د خوشحالۍ دغه مرحلې له مومن پرته نور د هېڅ چا لپاره نشته ، که خوشحالي او خبر ورته ورسېږي شکر پرې وباسي ، دا هم ورله غوره ده ، او که خفگان او درد ورته ورسیږې نو صبر پرې ورکړي دا هم ورله غوره ده . |
| په تکلیفونو باندي الله پاک مسلمان ته د جنت درجې ورکوي ! | | |
| ۱۷۵ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ | | د ابوهریرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې |

| | | |
|---|---|---|
| اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ إِنَّ الرَّجُلَ تَكُونُ لَهُ الْمَنْزِلَةُ عِنْدَ اللهِ فَمَا يَبْلُغُهَا بِعَمَلٍ فَلَا يَزَالُ يَبْتَلِيهِ بِمَا يَكْرَهُ حَتَّى يُبْلِغَهُ ذَلِكَ] (المستدرك على الصحيحين : ١٢٧٤) | | رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ځينې وختونو کې الله پاک انسان ته په جنت کې لويه درجه ورکړې وي ، نو انسان ورته په خپلو عملونو رسېدګې نه شي کولای نو په ازميښتونو يې واړوي ، تر دې چې هغې درجې ته يې ورسوي . |
| ١٧٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ [ جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِهَا لَمَمٌ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ ادْعُ اللهَ أَنْ يَشْفِيَنِي قَالَ: إِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللهَ لَكِ فَشَفَاكِ وَإِنْ شِئْتِ فَاصْبِرِي وَلَا حِسَابَ عَلَيْكِ فَقَالَتْ بَلْ أَصْبِرُ وَلَا حِسَابَ عَلَيَّ]( مسلم : ٢٩٠٩) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي: يوه ښځه چې لېونتوب او چپه پرې وه ، نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغله او ورته يې ووېل:د الله پاک نه وغواړه چې ما ته صحت او روغوالی برښه کړي ، هغه ورته وويل : که دې خوښه وي زه به له الله نه وغواړم تاته به صحت درکړي او که دې خوښه وي نو په دغې ناجوړتيا صبر وکړه بيا به درسره هيڅ دنيوي حساب نه کېږي ، ښځې وويل : چې حساب راباندې نه يې نو صبر کوم . |
| پرله پسې رنځونه او تکليفونه انسان دقيامت د ورځې د حساب نه خلاصوي ! | | |
| ١٧٧ - : عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ:[ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلَاءً؟ قَالَ الْأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ يُبْتَلَى الْعَبْدُ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ، فَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ صُلْبًا، اشْتَدَّ بَلَاؤُهُ، وَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ رِقَّةٌ، | | سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وپوښتل : ډېر تکليفونه په چا راځي ؟ هغه ووېل : پېغمبران او بيا ورپسې چې په چا کې څومره ايمان وي ، انسان د شته ايمان په اندازه ازمېښت کېږي ، چې دين يې څومره کلک وي هومره يې ازمېښت |

WWW.LARKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ابْتُلِيَ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ، فَمَا يَبْرَحُ الْبَلَاءُ بِالْعَبْدِ، حَتَّى يَتْرُكَهُ يَمْشِي عَلَى الْأَرْضِ، وَمَا عَلَيْهِ مِنْ خَطِيئَةٍ] (سنن ابن ماجه: ٤٠٢٣ ) | | دروند وي ، او څومره چې په دين کې خام وي هومره يې ازمېښت کم وي ، تردې پرې ازمېښتونه راځي چې په دنيا کې وي او هېڅ ګناه پرې نه وي پاتې . |
| ه تکليفونو کې د مسلمان او منافق ترمنځ فرق ! | | |
| ١٧٨ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:[ مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَالزَّرْعِ لَا تَزَالُ الرِّيحُ تُفِيئُهُ وَلَا يَزَالُ الْمُؤْمِنُ يُصِيبُهُ الْبَلَاءُ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ كَالشَّجَرَةِ الْأَرْزِ لَا تَهْتَزُّ حَتَّى تُسْتَحْصَدَ](صحيح ابن حبان: ٢٩١٥ ) | | ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : د مسلمان مثال لکه فصل دی چې هواګانې يې مسلسل اړوي راړوي، تل پرې ازمېښتونه راځي او د منافق مثال د نښتر دی چې (د هواګانو راتلو باوجود) هېڅ نه خوځي ، تر دې چې ورېبل شي . |
| د تهمت په وخت د انسان دريځ | | |
| ١٧٩ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ:[ قَسَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسْمًا، فَقَالَ رَجُلٌ: إِنَّ هَذِهِ لَقِسْمَةٌ مَا أُرِيدَ بِهَا وَجْهُ اللهِ، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ، فَغَضِبَ حَتَّى رَأَيْتُ الغَضَبَ فِي وَجْهِهِ، ثُمَّ قَالَ: يَرْحَمُ اللهُ مُوسَى، قَدْ أُوذِيَ بِأَكْثَرَ مِنْ هَذَا فَصَبَرَ ] ( صحيح البخاري : ٣٤٠٥ | | عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي : نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو تقسيم وکړ ، يو سړي وويل چې په دې تقسيم کې خو يې عدل ونه کړل ، نوما ورته وويل : په الله مې دقسم وي چې زه به پرې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خبروم ، ماورته خبر ورکړ ، دومره غصه شو چې په مخ يې د غصې اثار وليدل شول ، بيا يې وويل : الله پاک دې په موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ رحم وکړي ، هغه ته له دې نه هم ډېر تکليف رسېدلی و ، خو بيا به يې هم پرې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ) | | صبر کو. |
| دهغه چا ثواب چې په سترګو ړوند شي | | |
| ۱۸۰ - :اعَنِ بْنِ عَبّاسٍ رَضِيَ اللهعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ يَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: إِذَا أَخَذْتُ كَرِيمَتَيْ عَبْدِي فَصَبَرَ وَاحْتَسَبَ لَمْ أَرْضَ لَهُ ثَوَاباً دُوْنَ الْجَنّةِ ]( صحيح ابن حبان : ۲۹۳۰ ) | | عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي:الله پاک وايي : کله چې زه د خپل بنده نه سترګې واخلم او هغه پرې صبر وکړي او ثواب يې وګڼي د جنت پرته ورله زه په بلې بدلې راضي نه يم. |
| د ناجوړه په پوښتنه کې د ثواب اندازه ! | | |
| ۱۸۱ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: مَنْ عَادَ مَرِيضًا لَمْ يَزَلْ يَخُوضُ الرّحْمَةَ حَتّى يَجْلِسَ فَإِذَا جَلَسَ غَمَرَ فِيْهَا] (صحيح ابن حبان:۲۹۵۶) | | د عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: څوک چې د ناجوړه انسان پوښتنه کوي په رحمت کې غوپې وهي خو چې کله د پوښتنې لپاره کينې نو په رحمت کې دننه ننوځي. |
| د ناجوړه د پوښتنې بدله جنت دى ! | | |
| ۱۸۲ - : عَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللهعَنْهُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [عَائِدُ الْمَرِيضِ فِي مَخْرَفَةِ الْجَنّةِ حَتّى يَرْجِعَ] ( صحيح مسلم : ۲۵۶۸ ) | | د ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: د مريض پوښتنه کونکى تر هغه په جنت کې وي چې تر څو بېرته راستون شي |

WWW.SARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| **د ځان د دمولو نبوي لارښوونه !** | | |
| ١٨٣ - : عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ الثَّقَفِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [أَنَّهُ شَكَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعًا يَجِدُهُ فِي جَسَدِهِ مُنْذُ أَسْلَمَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ضَعْ يَدَكَ عَلَى الَّذِي تَأَلَّمَ مِنْ جَسَدِكَ، وَقُلْ بِاسْمِ اللهِ ثَلَاثًا، وَقُلْ سَبْعَ مَرَّاتٍ أَعُوذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ] ( صحيح مسلم : ٢٢٠٢ ) | | عثمان بن ابي العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته شکایت وکړ چې له اسلام راوړنې وروسته په درد اخته شوی دی ، هغه ورته وویل : د بدن په دردمند ځای باندې لاس کېږده درې ځله بسم الله ووایه اوبیا ( أَعُوذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ ) اووه ځله ووایه . |
| **د زیاتې ناجوړتیا په وخت کې نبوي لارښوونه !** | | |
| ١٨٤ ـ : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [أَلَا لَايَتَمَنَّى أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ لِضُرٍّ نَزَلَ بِهِ، فَإِنْ كَانَ لَا بُدَّ مُتَمَنِّيًا الْمَوْتَ فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي، وَتَوَفَّنِي مَاكَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي] (سنن النسائي: ١٨٢١) | | د انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: د راغلي تکلیف او درد له کبله دې تاسو یو څوک د مرګ ارزو نه کوي ، که ضرور نه ضرور یې غواړي باید داسې ووایي : ای الله ! که ژوند کې مې خیر وي ژوند راته راکړه ، او که مرګ مې خیر وي مرګ راته راکړه . |
| **د ناجوړه انسان د دمولو کلمات !** | | |
| ١٨٥ - : عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ | | دعباده بن الصامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې جبریل عَلَيْهِ السَّلَام په داسې حالت کې نبي |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ أَنَّ جِبْرِيلَ رَقَاهُ وَهُوَ يُوعَكُ، فَقَالَ: بِسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ مِنْ كُلِّ دَاءٍ يُؤْذِيكَ، مِنْ كُلِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ وَسَمٍّ، وَاللهُ يَشْفِيكَ ] ( صحيح ابن حبان : ٢٩٦٨) | | صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دم کړ چې تبې لړزو ، او ویویل : (بِسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ مِنْ كُلِّ دَاءٍ يُؤْذِيكَ، مِنْ كُلِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ وَسَمٍّ، وَاللهُ يَشْفِيكَ ) |
| ١٨٦ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ [كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَوِّذُ بَعْضَهُمْ يَمْسَحُهُ بِيَمِينِهِ ،ذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ، وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِي، لاَ شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لاَيُغَادِرُ سَقَمًا]( صحيح البخاري : ٥٧٥٠ ) | | عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي : نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ځيني خلکو ته له بدو نه پناه غوښته ، خپل ښی لاس به یې پرې راکاږو اوويل به یې : أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ، وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِي، لاَ شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لاَ يُغَادِرُ سَقَمًا ] . |
| ١٨٧ - : عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا عَادَ مَرِيضًا جَلَسَ عِنْدَ رَأْسِهِ ثُمَّ قَالَ سَبْعَ مِرَارٍ: أَسْأَلُ اللهَ الْعَظِيمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيكَ فَإِنْ كَانَ فِي أَجَلِهِ تَأْخِيرٌ عُوفِيَ مِنْ وَجَعِهِ ذلك] (صحيح ابن حبان :٢٩٧٥ ) | | عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وایي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله د يو ناجوړه انسان پوښتنه کوله سر ته به یې کښيناست او اووه ځله به یې ( أَسْأَلُ اللهَ الْعَظِيمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيكَ ) وويل که ژوند به یې پاتي و نو له وریښې ناروغۍ نه به روغ جوړ شو |

## د دې امت د عمرونو بیان

## د انسان عذر په شپېته کلنۍ کې ختمیږي !

| | | |
|---|---|---|
| ١٨٨ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ | | د ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رسول صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: الله پاک چې چاته شپېته کاله عمر ورکړي نو د عمر په حوالې سره يې ورته عذر ختم کړ. | | اللّٰهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى الله عليه وسلم قال: [مَنْ عَمّرَهُ اللّٰهُ سِتّينَ سَنَةً فَقَدْ أَعْذَرَ إِلَيْهِ فِيْ الْعُمْرِ ] ( صحيح ابن حبان : ۲۹۷۹ ) |
| د دې امت د عمرونو اندازه | | |
| د ابوهريره رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: زما د امت عمرونه د شپېته او اويا کلنو ترمنځ وي ، په دوی کې به د ډېرو کمو خلکو عمرله دغه حد څخه واوړي. | | ۱۸۹ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [ أَعْمَارُ أُمّتِي مَا بَيْنَ السِّتّينَ إِلَى السّبْعِينَ، وَأَقَلُّهُمْ مَنْ يَجُوزُ ذَلِكَ] (جامع الترمذي: ۳۵۵۰) |
| د غوره انسان نښه ! | | |
| د ابوهريرة رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: تاسوته په تاسو کې دغوره بنده متعلق خبر نه درکوم ؟ هغوی وويل : ولې نه د الله رسوله ! هغه وويل : په تاسو کې غوره هغه دی چې ډېر عمر او ښايسته نېک عملونه ولري . | | ۱۹۰ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِكُمْ؟ قَالُوا: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ. قَالَ:خِيَارُكُمْ أَطْوَلُكُمْ أَعْمَارًا، وَأَحْسَنُكُمْ أَعْمَالًا ] (مسند احمد بن حنبل: ۷۲۱۲) |
| په اسلام کې د بنده وېښته سپينېدل رڼاګانې دي! | | |
| د کعب بن مرة رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ما له رسول الله صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلي | | ۱۹۱ - : عَنْ كَعْبِ بْنِ مُرّةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ [ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ |

| | | |
|---|---|---|
| صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي الإِسْلَامِ كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ القِيَامَةِ] (جامع ترمذي: ١٦٣٤) | | دي چې : په اسلام کې چې د چا وېښتان سپين شي نو دغه به ورله د قيامت په ورځ رڼاګانې وي . |
| ١٩٢ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وسلم قال: [ لَا تَنْتِفُوا الشَّيْبَ فَإِنَّهُ نُورٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي الْإِسْلَامِ كُتِبَ لَهُ بِهَا حَسَنَةٌ وَحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ وَرُفِعَ له بها درجة ] (صحيح ابن حبان: ٢٩٨٥) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : سپين وېښتان مه وباسئ دغه د قيامت په ورځ رڼاګانې دي ، او په اسلام کې چې د چا وېښتان سپين شول نو په هر وېښته به ورله اجر ورکولی شي او يوه به پرې ورنه ګناه لرې شې ، او يوه درجه به پرې اوچت شي . |
| د مرګ متعلق بيان :<br>مرګ ډېر ډېر يادول مستحب دي ! | | |
| ١٩٣ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ أَكْثِرُوا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ ] (سنن ترمذي: ٢٣٠٧) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د خوندونو ماتوونکی ډېر ډېر يادوئ |
| د ارزوګانو متعلق بيان : | | |
| ١٩٤ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُعَنْهُ قَالَ: [ مَرَّ بِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أُطَيِّنُ حَائِطًا لِي أَنَا وَأُمِّي، فَقَالَ: مَا | | عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا وايي : ما او مور مې د ختو دېوال جوړو او نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راباندې په لاره تېرېده ، ويې پوښتل چې دا څه کوئ ؟ ما ورته وويل : ای د الله |

WWW.LARKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| هَذَا يَا عَبْدَ اللَّهِ؟ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ شَيْءٌ أُصْلِحُهُ، فَقَالَ: الْأَمْرُ أَسْرَعُ مِنْ ذَلِكَ] (سنن ابي داود: ٥٢٣٥) | | رسوله ! خراب شوی دی ببرته یې جوړوم ، هغه وویل : خبره له دغې نه هم چټکه ده ( یعنې مرګ به دې ورته پرې نږدي ) . |
| ١٩٥ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [ خَطَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطًّا مُرَبَّعًا، وَخَطَّ خَطًّا فِي الوَسَطِ خَارِجًا مِنْهُ، وَخَطَّ خُطَطًا صِغَارًا إِلَى هَذَا الَّذِي فِي الوَسَطِ مِنْ جَانِبِهِ الَّذِي فِي الوَسَطِ، وَقَالَ: هَذَا الإِنْسَانُ، وَهَذَا أَجَلُهُ مُحِيطٌ بِهِ - أَوْ: قَدْ أَحَاطَ بِهِ - وَهَذَا الَّذِي هُوَ خَارِجٌ أَمَلُهُ، وَهَذِهِ الخُطَطُ الصِّغَارُ الأَعْرَاضُ، فَإِنْ أَخْطَأَهُ هَذَا نَهَشَهُ هَذَا، وَإِنْ أَخْطَأَهُ هَذَا نَهَشَهُ هَذَا ] (صحيح البخاري: ٦٤١٧) | | د عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څلور ګوټی خط وویست ، منځنی خط یې اوږد راښکو تر دې چې بهر ووت ، او د منځني خط شاوخوا یې وړې وړې نورې کرښې وویستې ، بیا یې وویل : دا انسان دی او دغه یې اجل دی چې ګېره یې پرې اچولې ده ، او کوم خط چې له دائرې نه وتلی دی دغه یې امېدونه دی ، او واړه خطونه مصیبتونه او کړاونه دي ، که له یو کړاو نه خلاص شي بل یې مخامخ ونیسي . |
| د مرګ ارزو ولې حرامه ده ! | | |
| ١٩٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ لَا يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ، إِمَّا مُحْسِنًا فَلَعَلَّهُ أَنْ يَعِيشَ يَزْدَادُ خَيْرًا وَهُوَ خَيْرٌ لَهُ، وَإِمَّا مُسِيئًا فَلَعَلَّهُ أَنْ يَسْتَعْتِبَ] ( سنن النسائي : ١٨١٩ ) | | د ابوهریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: په تاسو کې هېڅ څوک دې د مرګ ارزوګانې نه کوي ، که څوک ښه انسان وي نېکي به یې نوره هم ډېره شي او که بد انسان وي نو توبه به اوباسي . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| په زنکدن اخته ته د کلمې تکرارول ! | | |
| ۱۹۷ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ] ( صحيح مسلم : ۹۱٦ ) | | د ابوسعيد الخدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : خپلو مړو ته باروبار د لااله الا الله تکرار وکړئ . |
| د مسلمان د مرګ نښه ! | | |
| ۱۹۸ - : عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ الْمُؤْمِنُ يَمُوتُ بِعَرَقِ الجَبِينِ ] ( جامع ترمذي :۹۸۲ ) | | د بريدهرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې د مومن انسان د مرګ نښه په تندي باندې خوله وي |
| مړي ته د درېو شيانو ثواب رسيږي ! | | |
| ۱۹۹ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ [إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ: إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍصَالِحٍ يَدْعُو لَهُ ] (صحيح مسلم: ۱٦۳۱) | | دابوهريرةرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: انسان چې کله مړ شي له درېو شيانو پرته يې نوره د دنيا سره علاقه ختمه شي : صدقه جاريه ، ګټور علم ، او نيک زوی چې دعاګانې ورته کوي . |
| مړو ته سپورې ستغې ويل ناروا دي ! | | |
| ۲۰۰ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، | | دعائشي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول |

| | | |
|---|---|---|
| قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ لاَ تَسُبُّوا الأَمْوَاتَ، فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا ] (صحيح البخاري :۱۳۹۳) | | الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: مړو ته سپورې ستغې مه وایئ هغوی د خپلو عملونو سره مخامخ شوي دي . |
| ۲۰۱ - :عَنِ الْمُغِيرَةَ بْنَ شُعْبَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنهُ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [لَا تَسُبُّوا الْأَمْوَاتَ فَتُؤْذُوا الْأَحْيَاءَ] (جامع الترمذي: ۱۹۸۲) | | د مغيره بن شعبه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: مړو ته سپورې ستغې مه وایئ ، ځکه چې ژوندي به پرې خفه کړئ . |
| په مړو باندې د ژوندو ګواهي معتبره وي ! | | |
| ۲۰۲ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهعَنْهُ قَالَ:[ مُرَّ بِجِنَازَةٍ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: أَثْنُوا عَلَيْهَا فَقَالُوا: كَانَ مَا عَلِمْنَا يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَأَثْنَوْا عَلَيْهِ خَيْرًا، فَقَالَ: وَجَبَتْ ،ثُمَّ مُرَّ عَلَيْهِ بِجِنَازَةٍ أُخْرَى، فَقَالَ: أَثْنُوا عَلَيْهَا فَقَالُوا: بِئْسَ الْمَرْءُ كَانَ فِي دِينِ اللَّهِ، فَقَالَ: وَجَبَتْ، أَنْتُمْ شُهُودُ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ ] (مسند احمد: ۱۳۰۳۹) | | انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي : نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې يوه جنازه تېرېده نو ويويل : دې مړي باره کې تاسو څه وایئ ؟ ټولو وويل : مونږ ته چې څومره معلومات دي نو د الله او دهغه د رسول سره يې ډېره مينه وه او نوره ثنا يې پرې هم وويله ، بيا بله جنازه راوړل شوه ، ويې فرمايل : ددې اړوند څه وایئ ؟ ټولو ورته وويل : دا ډېر بد سړی و ، نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : تاسو په ځمکه کې د الله پاک ګواهان یاست . |
| ۲۰۳ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ | | د انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: هر مسلمان چې کله مړ شي او څلوېښت نزدې ګاونډي |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| فَيَشْهَدُ لَهُ أَرْبَعَةُ أَهْلِ أَبْيَاتٍ مِنْ جِيرَتِهِ الْأَدْنَيْنَ أَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ إِلَّا خَيْرًا إِلَّا قَالَ اللَّهُ جَلَّ وَعَلَا قَدْ قَبِلْتُ عِلْمَكُمْ فِيهِ وَغَفَرْتُ لَهُ ما لا تعلمون] (صحيح ابن حبان: ٣٠٢٦) | | کورنه پرې د خبر ثنا ووايي ، نو الله پاک ووايي : ستاسو خبره مې قبوله کړه او تاسوته چې کوم گناهونه نه دي معلوم ما ورته وبښل . |
| د مړي ښکلول روا دي ! | | |
| ٢٠٤ - :عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَائِشَةَ رَضِيَ اللهعَنْهُما[أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَبَّلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مَيِّتٌ] (صحيح البخاري: ٥٧٠٩) | | د عبدالله بن عباس او عائشي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روايت دي چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مړ و ، او ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ښکل کړ . |
| د دنيا ذخيره کول برکت ختموي ! | | |
| ٢٠٥ - : عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رَضِي اللَّهُ عَنهَمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [أَنْفِقِي، وَلاَ تُحْصِي، فَيُحْصِيَ اللَّهُ عَلَيْكِ وَلاَ تُوعِي، فَيُوعِيَ اللَّهُ عَلَيْكِ] (صحيح البخاري: ٢٥٩١) | | د اسما رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: خرچه کوه ، حسابونه مه کوه کنه الله پاک به درسره حساب وکړي ، او ذخيرې هم مه کوه کنه الله پاک به درته نور څه در نه کړي. |
| له صدقاتو پرته دنياداري بې خيره ده ! | | |
| ٢٠٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ، وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ، وَعَبْدُ الخَمِيصَةِ، إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ، وَإِنْ لَمْ يُعْطَ سَخِطَ، | | د ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : د دينار او درهم او د شړۍ بنده دې تباه او برباد شي ، که څه ورته ورکړل شي پرې خوشحاله وي او که ورنه کړل شي خفه او ناراضه وي ، دغسې سړی |

WWW.DARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| تَعِسَ وَانْتَكَسَ، وَإِذَا شِيكَ فَلاَ انْتَقَشَ ] (صحيح البخاري: ۲۸۸۷) | | دې برباد او ټيټ سرى شي ، او چې په خپو کې يې غنې لاړې شي ترې ودې نه ويستل شي . |
| انسان ددوه شيانوسره ډېره مينه لري ! | | |
| ۲۰۷ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ قَلْبُ ابْنِ آدَمَ شَابٌّ عَلَى حُبِّ اثْنَتَيْنِ: طُولِ الْعُمُرِ وَالْمَالِ ] (صحيح ابن حبان : ۳۲۱۹) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : د انسان زړه د دوو شيانو په محبت ځوان دى : ډېره زندګي اودولت . |
| ۲۰۸ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ، وَإِنَّ اللهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا، فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْمَلُونَ، فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ، فَإِنَّ أَوَّلَ فِتْنَةِ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَانَتْ فِي النِّسَاءِ ] (صحيح مسلم : ۲۷۴۲ ) | | د ابوسعيد الخدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : په يقين سره چې دنيا ډېره خوږه او تروتازه ده، تاسو ته به الله پاک دنياداري درکوي هغه ګوري چې تاسو په دنيا څه کوئ ؟ د دنيا او ښځو له ازميښت څخه په ډډه شئ ، په بني اسرائيلو کې هم لومړۍ فتنه د ښځو فتنه راولاړه شوه |
| مال ذخيره کول چې زيات شي د عذابونو سبب جوړيږي ! | | |
| ۲۰۹ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [مَا أَخْشَى عَلَيْكُمُ الْفَقْرَ، وَلَكِنْ أَخْشَى عَلَيْكُمُ التَّكَاثُرَ، وَمَا أَخْشَى عَلَيْكُمُ الْخَطَأَ، وَلَكِنْ | | د ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: زه په تاسو باندې له فقره نه ويريږم بلکې له مالدارۍ نه درباندې ويريږم ، او په خطا عملونو مو نه ويريږم بلکې ستاسو په قصداً عمل ويريږم . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| أَخْشَى عَلَيْكُمُ الْعَمْدَ ] (مسند احمد: ۸۰۷٤ ) | | |
| دا امت به په څه ازمول کېږي ! | | |
| ۲۱۰ - : عَنْ كَعْبِ بْنِ عِيَاضٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ فِتْنَةً وَفِتْنَةُ أُمَّتِي الْمَالُ] (سنن ترمذي : ۲۳۳٦ ) | | كعب بن عياض رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې : د هر امت لپاره ازمېښت وي ، او زما امت به په مال ازمول كيږي . |
| هغه شیان چې دین له منځه وړي ! | | |
| ۲۱۱ - : عَنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ أُرْسِلَا فِي غَنَمٍ بِأَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِينِهِ ] ( جامع ترمذي : ۲۳۷٦ ) | | د كعب بن مالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : دوه وږي شرمخان چې د ګډو په رمه ورشي دومره به يې خرابي نه کړي لکه مال دولت او شرف چې د انسان ديندارۍ ځومره خرابوي . |
| په دنيا باندې د انسان حرص ! | | |
| ۲۱۲ - : عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى ثَالِثًا، وَلاَ يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ، وَيَتُوبُ اللهُ عَلَى مَنْ تَابَ] (صحيح البخاري: | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: كه انسان د شتمنۍ دوه ناوچې ولري د درېمې په درک به هم وي ، د انسان خېټه يواځې په خاورو ډكيدای شي ، خو الله پاک چې په چا توبه وباسي |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٦٤٣٦) | | نو توفېق ورته ورکړي . |
| | | د حلال رزق لټه کول ! |
| ٢١٣ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا اللّٰهَ وَأَجْمِلُوا فِي الطَّلَبِ، فَإِنَّ نَفْسًا لَنْ تَمُوتَ حَتَّى تَسْتَوْفِيَ رِزْقَهَا وَإِنْ أَبْطَأَ عَنْهَا، فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَأَجْمِلُوا فِي الطَّلَبِ، خُذُوا مَا حَلَّ، وَدَعُوا مَا حَرُمَ ] ( سنن ابن ماجه: ٢١٤٤) | | د جابر بن عبدالله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ای خلکو ! د الله نه وډارېږئ او دحلال رزق په لټه کې شئ ، تر هغه پورې انسان نه مړ کېږي چې اخرنی رزق یې نه وي خوړلی اګر که رزق یې وروسته هم وي ، له الله څخه وډار شئ او د حلالې په لټه کې شئ ، هغه واخلئ چې حلال وي او هغه پرېږدئ چې حرام وي |
| | | جنت ته ننویستونکي عملونه ! |
| ٢١٤ - : عَنْ أَبِي أَيُّوبَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَا مِنْ عَبْدٍ يَعْبُدُ اللّٰهَ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَيُقِيمُ الصَّلَاةَ، وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَيَصُومُ رَمَضَانَ، وَيَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ ] (صحيح ابن حبان: ٣٢٤٧) | | د ابوايوب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: هر بنده چې دا الله عبادت وکړي او شریک ورسره ونه ګرځوي ، لمونځ ادا کړي ، زکات ورکړي او روژه ونيسي ، له لویو ګناهونو څخه هم ځان رابندوي مګر دا چې جنت ته به ننوځي |
| | | خیرات کول مال نور هم زیاتوي ! |
| ٢١٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ | | د ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| اللهعَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ: [ مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ، وَمَا زَادَ اللهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ، إِلّا عِزًّا، وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّهِ إِلّا رَفَعَهُ اللهُ ] (صحيح مسلم: ٢٥٨٨) | | الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: خيرات کول مال بېخي مال نه کموي ، په درګزرۍ باندې الله پاک انسان ته نور عزت هم ورکوي ، او څوک چې الله ته عاجزي کوي ، الله پاک به يې نور هم پورته کړي. |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| د زکات تفصيلي بيان<br>د زکات ويستلو ثواب | | |
| ۲۱٦ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ أَعْرَابِيًّا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الهِجْرَةِ، فَقَالَ: [ وَيْحَكَ، إِنَّ شَأْنَهَا شَدِيدٌ، فَهَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ تُؤَدِّي صَدَقَتَهَا؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَاعْمَلْ مِنْ وَرَاءِ البِحَارِ، فَإِنَّ اللَّهَ لَنْ يَتِرَكَ مِنْ عَمَلِكَ شَيْئًا ] ( صحيح البخاري : ۱٤٥۲ ) | | د ابوسعېد الخدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې بو بانده چې له رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ څخه د هجرت د ثواب په باره کې وپوښتل هغه ورته ووېل : خوارشې د هجرت خو ډېر لوی ثواب دی ، ايا ته داسې اوښان لرې چې صدقه يې ورکوې ؟ هغه ووېل : هو ، نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ورته وويل : په خپل کلي کې دې نېک عملونه کوه الله پاک د هېڅ چا نېک عمل نه بې ثوابه کوي . |
| هغه چا ته وعيد چې زکات نه ورکوي ! | | |
| ۲۱۷ - : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:[ شَرُّ مَا فِي رَجُلٍ شُحٌّ هَالِعٌ وَجُبْنٌ خَالِعٌ ] (سنن ابي داود:۲٥۱۱) | | له ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: په انسان کې د بخل سره ګيلې کول او بې تحاشا بوزدېلي توب ډېر بدترين خصلتونه دي . |
| ۲۱۸ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ لَا يَجْتَمِعُ الشُّحُّ وَالْإِيمَانُ فِي جَوْفِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ، وَلَا يَجْتَمِعُ غُبَارٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَدُخَانُ | | له ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: شديد ترين بخل او ايمان دواړه د مسلمان په زړه کې هېڅکله نه يوځای کيږي ، او هېڅکله د مسلمان سړي په خېټه کي د الله پاک په لاره کې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| جَهَنَّمَ فِي جَوْفِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ ] (مسند احمد: ۹۶۹۳) | | غبار او د جهنم اور نه یو ځای کیږي . |
| ۲۱۹ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ آتَاهُ اللَّهُ مَالًا، فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يَوْمَ القِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ لَهُ زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ القِيَامَةِ، ثُمَّ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ - يَعْنِي بِشِدْقَيْهِ - ثُمَّ يَقُولُ أَنَا مَالُكَ أَنَا كَنْزُكَ، ثُمَّ تَلاَ: (وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ) ] (صحيح البخاري:۱۴۰۳ ) | | له ابوهريرةرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: چا ته چې الله پاک مال او دولت ورکړي او زکات تري ونه باسي د قيامت په ورځ به ورته د ګنجي نر خامار په شکل راشي د سترګو د پاسه به يې دوه تکي توري غوټې وي او په وښکو به يې چيچي او ورته به وايي : زه ستا مال دولت ا خزانه يم ، بيايې دا ايت ولوست (وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ) . |
| ۲۲۰ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [ يَكُونُ كَنْزُ أَحَدِكُمْ يَوْمَ القِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ ] ( صحيح البخاري : ۴۶۵۹ ) | | له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: په تاسو کې د خلکو د خزانه کړي مال او دولت نه به د قيامت په ورځ ګنجی نر خامار جوړ شي . |

| د زکات نصاب ! | | |
|---|---|---|
| ۲۲۱ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ، وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ صَدَقَةٌ، وَلَيْسَ | | د ابوسعيد الخدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د ځلوېښتو درهمو نه په لږ مال کې زکات نشته ، د پنځو اوښانو نه په کمو کې هم زکات نه کيږي ، له پنځو وسقو ( د يوسلو يوديرشت نيم کيلونه نه |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ ] ( صحيح البخاري :١٤٠٥) | | کم ) دانو کې هم زکات نشته . |
| د باران یا د کوهي په اوبو خړوب شوي فصلونو دانو کې د زکات کمیت ! | | |
| ٢٢٢ - : عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ فِيمَا سَقَتِ السَّمَاءُ وَالعُيُونُ أَوْ كَانَ عَثَرِيًّا العُشْرُ، وَمَا سُقِيَ بِالنَّضْحِ نِصْفُ العُشْرِ ] ( سنن ابن ماجه : ١٨١٦ ) | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: کوم فصلونه (باغونه) چې په باران، چینو، یا خپله په ستې اوبه کېږي لسمه حصه په کې واجبه ده او په کوښښ او خوارۍ چې اوبه کېږي د لسمې نیمه برخه په کې واجب ده . |
| زکات اخستل د چا لپاره روا دي ! | | |
| ٢٢٣ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهما عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ، وَلَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ ] ( جامع الترمذي : ٦٥٢ ) | | د عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: زکات نه د مالدار لپاره حلال دی او نه په کارکسب توان لرونکي لپاره حلال دی . |
| دډېر شرف له وجې نبوت کورنۍ لپاره زکات حلاله نه دی ! | | |
| ٢٢٤ - : عَنْ أَبِي رَافِعٍ رَضِيَ اللهُ عَنْه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [إِنَّ الصَّدَقَةَ لَا تَحِلُّ لَنَا، وَإِنَّ مَوَالِيَ القَوْمِ مِنْ أَنْفُسِهِمْ ] ( جامع ترمذي : ٦٥٧ ) | | د ابو رافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: زمونږ لپاره زکات اخستل حلال نه دي ، او د قوم مریان د قوم څخه شمېرل کېږي – یعني د دوی لپاره هم حلال نه دی – |

WWW.LARHKUD.COM

<table>
<tr><td colspan="3">د نبوت کورنۍ د زکات يوه کجوره خوري !</td></tr>
<tr><td>۲۲۵ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنه يَقُولُ: [ أَخَذَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ تَمْرَةً مِنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ، فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كِخْ كِخْ، ارْمِ بِهَاأَمَا عَلِمْتَ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ؟ ] ( صحيح مسلم :۱۰٦۹)</td><td></td><td>ابوهريرةرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي : حسن بن علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د زکات له کجورو نه يوه کجوره واخسته او خوله کې يې واچوله نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : تف تف ، کجوره وارتوه ايا تا ته پته نشته چې مونږ زکات نه خورو ؟</td></tr>
<tr><td colspan="3">د سرسايې ( صدقة الفطر ) بيان<br>د سرسايې ورکولو وخت</td></tr>
<tr><td>۲۲٦ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا [ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِإِخْرَاجِ زَكَاةِ الْفِطْرِ، أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ ] ( صحيح مسلم :۹۸٦ )</td><td></td><td>د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خلکو عيدګاه ته له وتلو مخکې په سرسايه ورکولو امر کړی دی .</td></tr>
<tr><td colspan="3">سرسايه په چا فرض ده !</td></tr>
<tr><td>۲۲۷ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [ فَرَضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ عَلَى الْعَبْدِ وَالْحُرِّ وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى وَالصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، وَأَمَرَ بِهَا أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ ]</td><td></td><td>د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مسلمانانو په مريي ، ازاد ، نارينه ، زنانه ، ماشوم او لوی باندې د کجورو يو صاع يا د وربشو يو صاع فرض کړی دی ، او په دې يې امر کړی دی چې لمونځ ته له وتلو دې مخکې ورکړل شي .</td></tr>
</table>

WWW.LARHUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ( صحيح البخاري : ١٥٠٣ ) | | |
| په سرسایه کې به څه شی ورکوي ! | | |
| ٢٢٨ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ [كُنَّا نُخْرِجُ زَكَاةَ الْفِطْرِ يَوْمَ الْفِطْرِ صَاعَ طَعَامٍ أَوْ صَاعَ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ زَبِيبٍ أَوْ صَاعًا مِنْ أَقِطٍ ، فَلَمْ نَزَلْ نُخْرِجُهُ حَتَّى قَدِمَ عَلَيْنَا مُعَاوِيَةُ مِنَ الشَّامِ حَاجًّا أَوْ مُعْتَمِرًا وَهُوَ يَوْمَئِذٍ خَلِيفَةٌ فَخَطَبَ النَّاسَ عَلَى مِنْبَرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ زَكَاةَ الْفِطْرِ وَقَالَ إِنِّي لَأَرَى مُدَّيْنِ مِنْ سَمْرَاءِ الشَّامِ تَعْدِلُ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ وَكَانَ ذَلِكَ أَوَّلَ مَا ذَكَرَ النَّاسُ الْمُدَّيْنِ ] (سنن الدارقطني: ٢٠٩٧) | | د ابوسعيدالخدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: مونږ به په سرسایه کې يو صاع خوراک ، يا کجورې ، يا وربشې ، يا وڅکې ( مميز ) ، يا پنير تر هغه ورکو چې معاويه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د خلافت په دور کې مدينې ته د حاجي يا معتمر په صفت راغی د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ممبر يې خطبه ورکړه او د سرسايه باره کې يې وويل چې د شام دوه مده غنم د کجورو د يو صاع مساوي دي په مُد سرسايه ورکونه لومړی دغلته خلکو وپيژندله . |
| د نفلي خېرات کولو بيان<br>نفلي خيرات کول له اور څخه انسان ساتي ! | | |
| ٢٢٩ - : عَنْ عَدِيِّ بْنَ حَاتِمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [ اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ] (صحيح البخاري :١٤١٧) | | عدي بن حاتم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې ما د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې ويل يې : له اوره ځان وساتئ اګر که په نيمه کجوره هم وي . |
| د قيامت په ورځ به هر سړی د صدقې د سيوري لاندې وي ! | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ۲۳۰ - : عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: [ كُلُّ امْرِئٍ فِي ظِلِّ صَدَقَتِهِ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ ] ( صحيح ابن حبان : ۳۳۱۰ ) | | عقبه بن عامر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي : ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې ویل یې: د قیامت په ورځ به هر سړی د خپلې صدقې (خیرات) د سیوري لاندې وي تردې چې د خلکو تر منځ فیصله وشي . |
| ۲۳۱ - : عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَتِرَ مِنَ النَّارِ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، فَلْيَفْعَلْ ] ( صحيح مسلم : ۱۰۱٤ ) | | عدي بن حاتم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلي دي چې که څوک توان لري چې له اور څخه بچ شي ، ځان دې بچ کړي ولو که په نیمه کجوره هم وي |
| ۲۳۲ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا ؟ قَالَ: أَنْ تَصَدَّقَ وَ أَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ تَخْشَى الفَقْرَ ، وَ تَأْمُلُ الغِنَى ، وَ لَاتُمْهِلُ حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الحُلْقُومَ ، قُلْتَ لِفُلَانٍ كَذَا، وَلِفُلَانٍ كَذَا وَقَدْ كَانَ لِفُلَانٍ] ( صحيح البخاري : ۱٤۱۹ ) | | ابوهریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې یو سړی نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغی او ورته یې وویل : ای د الله رسوله ! کوم خیرات ډېر لوی اجر لري ؟ هغه ورته وویل : هغه خیرات ډېر اجر لري چې ته روغ رمټ او بخیل یې او خیرات وکړې ، له فقر څخه هم ډرابړې او د مالدارۍ امېد هم لرې ، تر هغه دې خیرات مه وروسته کوه چې ساه دې چنغړق ته ورسیږي او بیا وایې چې دومره فلانکي او دومره فلانکي ته ورکړئ ، سره له دې چې ستا له وینا پرته ورته پاتې دي . |

WWW.DARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| له ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بخیل او خیرات کونکي انسان د هغه دووسړیو سره ورکړ چې چې اوسپنیزې زغرې پرې پرتې وي ، د دواړو لاسونه تر سینو او مرۍ پورې کلک تړل شوي وي ، د خیراتونو په کولو سره له خیرات کونکي ته په دمه دمه دومره پراخه شي چې تر خپو یې ورسیږي او د بند اثر یې هم ختم کړي ، او بخیل چې کله صدقه ورکوي نو زغره پرې لا تنګه شي او هره کړۍ یې پرې مضبوطه شي ، ما رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم ولید چې لاس یې په جیب کې ننویست چې که بخیل هرڅومره زغره خلاصوي ( بېرته کوي ) خو نه کولاویږي . | | ٢٣٣ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: ضَرَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلَ الْبَخِيلِ وَالْمُتَصَدِّقِ، كَمَثَلِ رَجُلَيْنِ عَلَيْهِمَا جُنَّتَانِ مِنْ حَدِيدٍ، قَدْ اضْطُرَّتْ أَيْدِيهِمَاإِلَى ثُدِيِّهِمَا وَتَرَاقِيهِمَا فَجَعَلَ الْمُتَصَدِّقُ كُلَّمَا تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ انْبَسَطَتْ عَنْهُ، حَتَّى تُغَشِّيَ أَنَامِلَهُ وَتَعْفُوَ أَثَرَهُ، وَجَعَلَ الْبَخِيلُ كُلَّمَا هَمَّ بِصَدَقَةٍ قَلَصَتْ، وَأَخَذَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ مَكَانَهَا قَالَ: فَأَنَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: بِإِصْبَعِهِ فِي جَيْبِهِ فَلَوْ رَأَيْتَهُ يُوَسِّعُهَا وَلَا تَوَسَّعُ ] (صحيح مسلم: ١٠٢١ ) |
| له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یې ځینو بي بیانو وویل : په مونږ کې به څوک درپسې زر درځي ( وفات کیږي ) هغه وویل : چې د چا لاس اوږد وي ، هغوی لرګی راواخست او ټولو سره خپل لاسونه پیمانه کړل نو د سوده بنت زمعه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا لاس پکې اوږد و ، وروسته بیا پوهه | | ٢٣٤ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا [ أَنَّ بَعْضَ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قُلْنَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَيُّنَا أَسْرَعُ بِكَ لُحُوقًا؟ قَالَ: أَطْوَلُكُنَّ يَدًا ، فَأَخَذُوا قَصَبَةً يَذْرَعُونَهَا ، فَكَانَتْ سَوْدَةُ أَطْوَلَهُنَّ يَدًا ، فَعَلِمْنَا بَعْدُ أَنَّ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| مَا كَانَتْ طُولَ يَدِهَا الصَّدَقَةُ، وَكَانَتْ أَسْرَعَنَا لُحُوقًا بِهِ وَكَانَتْ تُحِبُّ الصَّدَقَةَ ] ( صحيح البخاري : ١٤٢٠ ) . | | شو چې د اوږد لاس څخه صدقه موخه ده ، له ټولو څخه لومړی هغه وفات شوه ، د هغه به صدقه ورکول ډېر خوښ و . |
| ٢٣٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ تَصَدَّقَ بِعَدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ، وَلَا يَقْبَلُ اللَّهُ إِلَّا الطَّيِّبَ، وَإِنَّ اللَّهَ يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِينِهِ، ثُمَّ يُرَبِّيهَا لِصَاحِبِهِ، كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ، حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الجَبَلِ ] (صحيح البخاري: ١٤١٠) | | د ابوهریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : که د حلال مال څخه څوک د کجورې په اندازه هم صدقه ورکړي او حالانکه الله پاک له حلال مال پرته نور صدقات نه قبلوي ، نو په خپل ښی لاس به یې ترې قبوله کړي ، او دغه صدقه به ورله غټوي لکه تاسو کې چې څوک خپل د آس بچی ساتي ، دغه صدقه دومره غټه کړي لکه غر . |
| ٢٣٦ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [إِنَّ اللَّهَ لَيُرَبِّي لِأَحَدِكُمُ التَّمْرَةَ، وَاللُّقْمَةَ ،كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ أَوْ فَصِيلَهُ حَتَّى يَكُونَ مِثْلَ أُحُدٍ ] ( صحيح ابن حبان :٣٣١٧ ) | | له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : ستاسو د یو نفر لپاره الله پاک د کجورې او د ډوډۍ مړۍ صدقه داسې غټوي ( ستروي ) لکه تاسو کې چې څوک د خپل اوښ بچی غټوي ( ساتي ) ، صدقه دومره ستره کړي لکه د احد غر . |
| خلک په صدقې کولو هڅول نبوي سنت دي ! | | |
| ٢٣٧ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى يَوْمَ الفِطْرِ رَكْعَتَيْنِ لَمْ | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ورکوټي اختر لمونځ دوه رکعته وکړ چې مخکې او وروسته یې ترې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| يُصَلِّ قَبْلَهَا وَ لاَ بَعْدَهَا، ثُمّ أَتَى النِّسَاءَ وَمَعَهُ بِلاَلٌ فَأَمَرَهُنّ بِالصّدَقَةِ، فَجَعَلْنَ يُلْقِينَ تُلْقِي الْمَرْأَةُ خُرْصَهَا وَسِخَابَهَا ] (صحيح البخاري: ٩٦٤) | | نور لمونځ و نه کړ ، بیا د ښځو خوا ته راغی او بلال هم ورسره و ، په صدقه کولو یې دومره وهڅولې چې ښځو خپلې د سرو او سپینو زرو والۍ او د لونګو امیلونه هم صدقه کړل . |
| ٢٣٨ - : عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيّ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ عَنِ النّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [ أَطْعِمُوا الجَائِعَ ، وَ عُودُو االمَرِيضَ ، وَفُكّوْا العَانِيَ ] ( صحيح البخاري : ٥٣٧٣ ) . | | له ابوموسی اشعري رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي : وږي ته خواړه ورکړئ ، د رنځور پوښتنه وکړئ ، او بندیوان ازاد کړئ . |
| الله د انسان لپاره صدقات ذخیره کوي ! | | |
| ٢٣٩ - : عَنْ مُطَرّفٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ [ أَتَيْتُ النّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وَهُوَ يَقْرَأُ: أَلْهَاكُمُ التّكَاثُرُ، قَالَ: يَقُولُ ابْنُ آدَمَ: مَالِي، مَالِي، قَالَ: وَهَلْ لَكَ، يَا ابْنَ آدَمَ مِنْ مَالِكَ إِلّا مَا أَكَلْتَ فَأَفْنَيْتَ أَوْلَبِستَ فَأَبْلَيْتَ أَوْ تَصَدّقْتَ فَأَمْضَيْتَ؟ ] (صحيح مسلم :٢٩٥٨ ) . | | مطرف دخپل پلار (عبدالله ) رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روایت کوي چې زه نبي کریم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ته راغلم او هغه (أَلْهَاكُمُ التّكَاثُرُ) سورت لوست، نو ویویل : انسان وایي : زه دومره او دومره شتمني لرم ، انسانه ! ستا شتمني هغه ده چې ودې خوړله او درنه پاتې نه شوه ، وادې اغوستله او زړه دې کړه ، او شتمني دې هغه ده چې خیرات دې پرې وکړ او ځان له دې ذخیره کړ . |
| د انسان شتمني درې ډوله ده ! | | |
| ٢٤٠ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ: [ يَقُولُ الْعَبْدُ: مَالِي، | | د ابوهریره رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایلي دي: انسان وایي زما دومره او دومره شتمني ده، په |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| مَالِي، إِنَّمَا لَهُ مِنْ مَالِهِ ثَلَاثٌ: مَا أَكَلَ فَأَفْنَى، أَوْ لَبِسَ فَأَبْلَى، أَوْ أَعْطَى فَاقْتَنَى، وَمَا سِوَى ذَلِكَ فَهُوَ ذَاهِبٌ، وَتَارِكُهُ لِلنَّاسِ ] ( صحيح مسلم : ۲۹۵۹ ) | | شتمنې کې يې خپله برخه دومره وي چې وېې خوري او ختمه يې کړي ، وايې اغوندي او زړو يې کړي ، خيرات پرې وکړي او ذخيره يې کړي ، له دې پرته نور ټول ترې تلونکی دی او دا يې خلکو ته پرېږدي. |
| هر سهار ملائک بخيل ته ښېراه کوي ! | | |
| ۲٤۱ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ العِبَادُ فِيهِ، إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا ] (صحيح البخاري: ۱٤٤۲) | | د ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : هېڅ ورځ نشته چې بندګان پکې صباح کوي مګر دوه ملائک پکې راښکته کيږي ، يو مَلَک وايي : ای الله ! خيرات کونکي انسان ته عوضونه ورکړه ، او بل مَلَک وايي: ای الله ! بخيل انسان ته تاوانونه ورکړه |
| ۲٤۲ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [ أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالصَّدَقَةِ، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، عِنْدِي دِينَارٌ، فَقَالَ: تَصَدَّقْ بِهِ عَلَى نَفْسِكَ ، قَالَ: عِنْدِي آخَرُ، قَالَ: تَصَدَّقْ بِهِ عَلَى وَلَدِكَ ، قَالَ: عِنْدِي آخَرُ، قَالَ: تَصَدَّقْ بِهِ عَلَى زَوْجَتِكَ - أَوْ قَالَ: | | د ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خيرات کولو امر وکړ ، يو سړي ورته وويل : ما سره يو دينار دی څه پرې وکړم ؟ هغه وويل : په ځان يې صدقه کړه ، سړي وويل : يو راسره بل دی ، هغه ورته وويل : پخپلو بچو دې نفقه کړه ، سړي وويل : بل هم راسره دی ، هغه وويل : په خپلې ښځې دې نفقه کړه ، سړي وويل : بل هم راسره |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| زَوْجِكَ -، قَالَ: عِنْدِي آخَرُ، قَالَ: تَصَدَّقْ بِهِ عَلَى خَادِمِكَ ، قَالَ: عِنْدِي آخَرُ، قَالَ: أَنْتَ أَبْصَرُ] (سنن أبي داود: ١٦٩١) | | دی ، هغه وویل : په خپل مزدور ( خدمتګار ) دې نفقه کړه ، سړي وویل : بل هم راسره دی ، هغه وویل : ته پرې ښه پوهیږې چې چرته یې نفقه کړې . |
| په خپلو خپلوانو صدقه کول ډېر اجر لري ! | | |
| ٢٤٣ - : عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، [ أَنَّ مَيْمُونَةَ بِنْتَ الحَارِثِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَخْبَرَتْهُ، أَنَّهَا أَعْتَقَتْ وَلِيدَةً وَلَمْ تَسْتَأْذِنِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا كَانَ يَوْمُهَا الَّذِي يَدُورُ عَلَيْهَا فِيهِ، قَالَتْ: أَشَعَرْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنِّي أَعْتَقْتُ وَلِيدَتِي، قَالَ: أَوَفَعَلْتِ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: أَمَا إِنَّكِ لَوْ أَعْطَيْتِهَا أَخْوَالَكِ كَانَ أَعْظَمَ لِأَجْرِكِ] (صحيح البخاري: ٢٥٩٢) | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا غلام کریب له میمونې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه نقلوي چې یوه وینځه یې ازاده کړه خو د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه یې اجازه نه وه غوښتې ، کله چې یې د شپې نمبر راغی نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یې وویل : ای د الله رسوله ! تا ته پته ده چې ما خپله وینځه ازاده کړېده ؟ هغه وویل : ازاده کړې دې ده ؟ هغې وویل : هو . هغه ورته وویل : که خپلو ماماګانو ته دې ورکړې وه ډېر اجر ( ثواب ) به دې شوی و . |
| ٢٤٤ - : عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ إِنَّ الصَّدَقَةَ عَلَى الْمِسْكِينِ صَدَقَةٌ، وَعَلَى ذِي الرَّحِمِ اثْنَتَانِ صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ ] ( سنن النسائي : ٢٥٨٢) | | د سلمان بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : په مسکین خیرات کول یو اجر لري ، او په خپلوان خیرات کول دوه اجرونه لري ، یو یې د خیرات او بل یې د خپلولۍ. |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| **په فقر کې صدقه کول ډېر ثواب لري !** | | |
| ٢٤٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [سَبَقَ دِرْهَمٌ مِائَةَ أَلْفِ دِرْهَمٍ قَالُوا: وَكَيْفَ؟ قَالَ: كَانَ لِرَجُلٍ دِرْهَمَانِ تَصَدَّقَ بِأَحَدِهِمَا، وَانْطَلَقَ رَجُلٌ إِلَى عُرْضِ مَالِهِ، فَأَخَذَ مِنْهُ مِائَةَ أَلْفِ دِرْهَمٍ فَتَصَدَّقَ بِهَا ] ( سنن النسائي: ٢٥٢٧ ) | | د ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : په ثواب کې یو درهم له زرو درهمو څخه درون شو ، صحابه وو وویل : څنګه درون شو ؟ هغه وویل : یو سړي سره دوه درهمه وو په یو یې ترې صدقه وکړه ، او بل سړي خپل ډېر مال ته ورغی او زر درهم یې ترې راواخستل او خیرات یې پرې وکړ . |
| **د ډېر ثواب والا کارونه !** | | |
| ٢٤٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: [ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: جُهْدُ الْمُقِلِّ ، وَ ابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ ] ( سنن أبي داود : ١٦٧٧). | | ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وویل : کوم خیرات ډېر غوره دی ؟ هغه وویل : د هغه چا صدقه چې څه نه لري ، او ته په خپل زیردست افرادو باندې د صدقې کولو پیل وکړه |
| ٢٤٧ - : عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: سَقْيُ الْمَاءِ ] ( سنن النسائي : ٣٦٦٥ ) . | | د سعبد بن عباده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې ما وویل : ای رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کوم ډول خیرات ډېر غوره دی ؟ هغه وویل : په اوبو خړوبول ډېر غوره دي . |
| **غریب څوک دی ؟** | | |
| ٢٤٨ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ | | د ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : هغه |

| | | |
|---|---|---|
| عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِي تَرُدُّهُ التَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ، وَالْأُكْلَةُ وَالْأُكْلَتَانِ، وَلَكِنَّ الْمِسْكِينَ الَّذِي لَا يَسْأَلُ النَّاسَ شَيْئًا، وَلَا يَفْطِنُونَ بِهِ فَيُعْطُونَهُ ] ( سنن أبي داود : ١٦٣١ ) . | | څوک مسکین نه دی چې کجوره یا دوه کجورې ، مړۍ یا دوه مړۍ امدن لري ، بلکې مسکین هغه دی چې نه خو له خلکو نه څه غواړي او نه ورته د خلکو پام ( سوچ ) وي چې څه ورته ورکړي . |
| ٢٤٩ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِي يَطُوفُ عَلَى النَّاسِ تَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ، وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ، وَلَكِنِ الْمِسْكِينُ الَّذِي لاَ يَجِدُ غِنًى يُغْنِيهِ، وَلاَ يُفْطَنُ بِهِ، فَيُتَصَدَّقُ عَلَيْهِ وَلاَ يَقُومُ فَيَسْأَلُ النَّاسَ] ( صحيح البخاري : ١٤٧٩ ) . | | له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : هغه څوک مسکین نه دی چې په خلکو ګرځي مړۍ یا دوه مړۍ ، کجوره یا دوه کجورې راټولوي ، بلکې مسکین هغه دی چې د بسنې یې هېڅ نه وي ، نه خو ورته د خلکو پام وي چې صدقه پرې وکړي او نه د خلکو تر منځ پاڅیږي چې څه ورڅخه وغواړي . |
| یوه صدقه دوه ثوابونه ! | | |
| ٢٥٠ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ طَعَامِ بَيْتِهَا غَيْرَ مُفْسِدَةٍ فَلَهَا أَجْرُهَا، وَلِلزَّوْجِ بِمَا اكْتَسَبَ، وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذَلِكَ ] ( صحيح البخاري : ١٤٤١ ) | | د عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : که یوه ښځه د خپل کور له خوارو څخه صدقه وکړي او ورانکارۍ یې نیت نه وي نو دې لپاره د ورکړې اجر ، د خاوند لپاره یې د ګټلو اجر دی ، او نوکر ( خزانچي ) هم همدغه شان دی ( یعنې که په ښه نیت یې صدقه ورکړه نو د ورکړې اجر به ورته ورکړل شي) . |

WWW.BAHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| په ښه نیت باندې صدقه ورکولو کې خزانچي هم د ثواب شریک دی ! | | |
| ۲۵۱ - : عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [الخَازِنُ المُسْلِمُ الأَمِينُ، الَّذِي يُنْفِذُ وَرُبَّمَا قَالَ: يُعْطِي مَا أُمِرَ بِهِ كَامِلًا مُوَفَّرًا طَيِّبًا بِهِ نَفْسُهُ، فَيَدْفَعُهُ إِلَى الَّذِي أُمِرَ لَهُ بِهِ أَحَدُ المُتَصَدِّقَيْنِ ] (صحيح البخاري: ۱۴۳۸) | | د ابو موسی اشعري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : هغه مسلمان امانتګر خزانچي چې د امر سره سم د زړه په خوشحالۍ صدقه هغه چا ته ورکړي چې امر ورته پرې شوی دی ، له متصدقینو ( ډېر خېرات کوونکو ) څخه شمېرل کېږي . |
| ۲۵۲ - : عَنْ عُمَيْرٍ، مَوْلَى آبِي اللَّحْمِ قَالَ [ كُنْتُ مَمْلُوكًا، فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَأَتَصَدَّقُ مِنْ مَالِ مَوَالِيّ بِشَيْءٍ ؟ قَالَ: نَعَمْ وَ الْأَجْرُ بَيْنَكُمَا نِصْفَانِ ] ( صحيح مسلم : ۱۰۲۵ ) | | د ابواللحم غلام عمیر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دي چې زه غلام وم له نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه مې وپوښتل چې ایا زه د خپلو بادارانو له شتمنۍ څخه خیرات کولی شم؟ هغه وویل : هو او اجر به مو تر منځ شریک وي . |
| په الله توکل لویه مالداري ده ! | | |
| ۲۵۳ - : عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ اليَدُ العُلْيَا خَيْرٌ مِنَ اليَدِ السُّفْلَى ، وَ ابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ، وَ خَيْرُ الصَّدَقَةِ عَنْ ظَهْرِ غِنًى ، وَ مَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ | | د حکیم بن حزام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : لوړ لاس ( چې څه ورکوي ) له لاندې لاس نه ( چې څه غواړي ) غوره دی ، غوره صدقه هغه ده چې په مالدارۍ کې وشي ، څوک چې ځان له سوال څخه ساتي الله به وساتي ( یعني له خپل پلوه به |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| يُغْنِهِ اللَّهُ ] ( صحيح البخاري : ١٤٢٧ ) . | | ورته رزق ورکړي ) او څوک چې ځان د پردو شتمنيو نه غني ګڼي الله به ورله زړه غني کړي . |
| د حرام مال صدقه کې ثواب نشته ! | | |
| ٢٥٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[ إِذَا أَدَّيْتَ زَكَاةَ مَالِكَ، فَقَدْ قَضَيْتَ مَا عَلَيْكَ فِيهِ، وَمَنْ جَمَعَ مَالًا حَرَامًا، ثُمَّ تَصَدَّقَ بِهِ، لَمْ يَكُنْ لَهُ فِيهِ أَجْرٌ، وَكَانَ إِصْرُهُ عَلَيْهِ ] ( صحيح ابن حبان : ٣٣٦٧ ) . | | د ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : کله چې ته د خپل مال زکات ادا کړې تا خپل حق ادا کړ ، او څوک چې حرام مال راغونډ کړي او بيا په کې صدقه کوي ګناه پرې شته او هيڅ اجر يې نه کيږي |
| د مرغانو او حيواناتو خوراک هم د انسان لپاره صدقه ده ! | | |
| ٢٥٥ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى أُمِّ مُبَشِّرٍ الْأَنْصَارِيَّةِ فِي نَخْلٍ لَهَا، فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ غَرَسَ هَذَا النَّخْلَ؟ أَمُسْلِمٌ أَمْ كَافِرٌ؟ فَقَالَتْ: بَلْ مُسْلِمٌ، فَقَالَ: لَا يَغْرِسُ مُسْلِمٌ غَرْسًا، وَلَا يَزْرَعُ زَرْعًا، فَيَأْكُلَ مِنْهُ إِنْسَانٌ، وَلَا دَابَّةٌ، وَلَا شَيْءٌ، إِلَّا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً] (صحيح مسلم: ١٥٥٢) | | د جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ام مبشر باغ ته ورغی او ورته يې وويل : دا کجورې چا کېنولي دي ؟ د کجورې نالونکی مسلمان دی که کافر ؟ هغې ورته وويل : مسلمان دی ، نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : هيڅ مسلمان بوټی نه نالوي، يا کشت کر نه کوي او مرغان يا انسان يا بل حيوان ترې خوراک وکړي مګر د هغه لپاره صدقه وي |
| ٢٥٦ - : عَنْ أَنَسٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا، أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا، فَيَأْكُلُ | | د انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : هيڅ مسلمان بوټي نه ږدي او کشت کر نه کوي چې مرغان يا انسان يا حيوان ترې خوراک وکړي مګر د هغه |

WWW.LAPHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ، إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ] ( صحيح البخاري : ٢٣٢٠ ). | | لپاره به صدقه وي |
| د چا په لړ خیرات پسې ملنډې وهل نه دي په کار ! | | |
| ٢٥٧ - : عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ [ لَمَّا أُمِرْنَا بِالصَّدَقَةِ كُنَّا نَتَحَامَلُ، فَجَاءَ أَبُو عَقِيلٍ بِنِصْفِ صَاعٍ، وَجَاءَ إِنْسَانٌ بِأَكْثَرَ مِنْهُ، فَقَالَ الْمُنَافِقُونَ: إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنْ صَدَقَةِ هَذَا، وَمَا فَعَلَ هَذَا الآخَرُ إِلَّا رِئَاءً، فَنَزَلَتْ (الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِينَ لَايَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ) ] (صحيح البخاري: ٤٦٦٨ ) | | ابو مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي : مونږ ته چې په صدقاتو کله امر وشو مونږ به ژواليتوب کوو ، ابوعقيل نيم صاع صدقه راوړه ، يو بل چا ترې ډېره صدقه راوړه ، منافقانو به ويل : دغې لږې صدقې ته خو د الله هيڅ ضرورت نشته ، او بل خو د رياء لپاره صدقه وکړه ، نو الله پاک دا قول نازل کړ: هغه خلک چې په مومنانو خيرات کونکو په خيرات عيب لګوي او نور هغه مومنان چې له خپلې مزدورۍ پرته نور څه نه مومي. |
| صدقه څه ته وايي ؟ | | |
| ٢٥٨ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ[ كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ ] (صحيح البخاري : ٦٠٢١) | | د جابر بن عبدالله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : هر نيک کار صدقه ( خيرات ) دی . |
| له خلکو څخه د سوال کولو شرعي حيثيت ! | | |
| ٢٥٩ - : عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ: | | سمره بن جندب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې نبي |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ إِنَّ الْمَسْأَلَةَ كَدٌّ يَكُدُّ بِهَا الرَّجُلُ وَجْهَهُ، إِلَّا أَنْ يَسْأَلَ الرَّجُلُ سُلْطَانًا، أَوْ فِي أَمْرٍ لَا بُدَّ مِنْهُ ] (جامع الترمذي: ٦٨١) | | کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : له خلکو څخه په سوال کولو سړی خپل مخ شکوي ، خو که له باچا څخه څه وغواړي یا داسې کار وي چې د سوال پرته نه کیږي نو سوال پکې کولی شي |
| الله ته د بندګانو پسند او ناپسند کارونه ! | | |
| ٢٦٠ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ [ إِنَّ اللَّهَ يَرْضَى لَكُمْ ثَلَاثًا، وَيَسْخَطُ لَكُمْ ثَلَاثًا، يَرْضَى لَكُمْ أَنْ تَعْبُدُوهُ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، وَأَنْ تَعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا، وَأَنْ تَنَاصَحُوا مَنْ وَلَّاهُ اللَّهُ أَمْرَكُمْ، وَيَسْخَطُ لَكُمْ قِيلَ، وَقَالَ: وَإِضَاعَةَ الْمَالِ، وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ] (صحیح ابن حبان: ٣٣٨٨ ) | | د ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : ستاسو لپاره الله په درېو شیانو راضي دی او درې شیان یې ستاسو بدي شي ، ستاسو څخه ورته دا خوښ دي چې عبادت یې وکړئ او هیڅ شریک ورسره جوړ نه کړئ ، ټول د الله په رسۍ منګولې ولګوئ ، او هغه خلک چې الله ورته ستاسو د چارو واک ورکړی دی ورته نصیحت وکړئ ، او ستاسو څخه ورته دا بدي شي چې فلانکی او فلانکي ویلي دي ، فضول خرچي کول او ډېر سوال کول . |
| په سوال کولو کې ډېر ټینګېدل ناروا دي ! | | |
| ٢٦١ - : أَخِيهِ هَمَّامٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ لَا تُلْحِفُوا فِي الْمَسْأَلَةِ، فَوَاللَّهِ، لَا يَسْأَلُنِي أَحَدٌ مِنْكُمْ شَيْئًا، فَتُخْرِجَ لَهُ مَسْأَلَتُهُ مِنِّي شَيْئًا، وَأَنَا لَهُ كَارِهٌ، فَيُبَارَكَ لَهُ | | د معاویه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : په سوال کولو کې ډېر مه ټینګیږئ ، زما دې په الله قسم وي که د چا ډېرې غوښتنې راڅخه څه وباسي او زه پرې ناراضه یم ، هیڅ برکت به ورله پکې وانه اچول شي . |

WWW.LAPHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| فِيمَا أَعْطَيْتُهُ ] (صحيح مسلم: ١٠٣٨) | | |
| ٢٦٢ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ إِنَّ الرَّجُلَ يَأْتِينِي مِنْكُمْ لَيَسْأَلَنِي فَأُعْطِيهِ، فَيَنْطَلِقُ وَمَا يَحْمِلُ فِي حِضْنِهِ إِلَّا النَّارَ] (صحيح ابن حبان: ٣٣٩٢) | | د جابر بن عبدالله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : کله چې ما ته څوک راشي او څه راڅخه وغواړي او زه يې ورکړم ، هغه بېرته ستون شي خو پخپلې لمن کې د ځان سره له اور پرته نور څه يو نه سي . |
| د خلکو نه سوال کول د اور غوښتل دي ! | | |
| ٢٦٣ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ سَأَلَ النَّاسَ أَمْوَالَهُمْ تَكَثُّرًا، فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْ لِيَسْتَكْثِرْ] (صحيح مسلم : ١٠٤١ ). | | د ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : که څوک له خلکو نه په دې خاطر سوال کوي چې خپل ماليت پرې ډېر کړي نو د اور بڅرکي (سکروټې) راټولوي، خوښه يې ده که لږې سکروټې راغونډوي او که ډېرې |
| سوال نه کول د انسان مال ډېروي ! | | |
| ٢٦٤ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ [ أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أَسْأَلَهُ، فَسَمِعْتُهُ يَخْطُبُ، وَهُوَ يَقُولُ: مَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّهُ، وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفُّهُ اللَّهُ، وَمَنْ سَأَلَنَا أَعْطَيْنَاهُ ، قَالَ: فَرَجَعْتُ وَلَمْ أَسْأَلْهُ، فَأَنَا الْيَوْمَ | | ابوسعيد خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي : زه نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلم څه مې ترې غوښتل ، نو په خطبه کې مې ترې واورېدل چې : که څوک د پردو مالونو نه ځان غني کړي الله به يې زړه غني کړي ، او څوک چې سوال نه کوي الله به يې حاجتونه پوره کړي خو که څوک له مونږ نه څه وغواړي مونږ يې ورته ورکوو ، ابوسعيد رَضِيَ اللَّهُ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| أَكْثَرُ الْأَنْصَارِ مَالًا] (صحيح ابن حبان: ٣٣٩٨) | | عَنْهُ وايي : بېرته راستون شوم او هېڅ مې ترې ونه غوښتل ، اوس په انصارو کې زه د ډېر مال څښتن یم . |
| د الله په نوم معاملات نیمګړې مه پرېږدئ ! | | |
| ٢٦٥ - : عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنِ اسْتَعَاذَ بِاللهِ فَأَعِيذُوهُ، وَمَنْ سَأَلَ بِاللهِ فَأَعْطُوهُ، وَمَنْ دَعَاكُمْ فَأَجِيبُوهُ، وَمَنْ صَنَعَ إِلَيْكُمْ مَعْرُوفًا فَكَافِئُوهُ، فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا مَا تُكَافِئُونَهُ، فَادْعُوا لَهُ حَتَّى تَرَوْا أَنَّكُمْ قَدْ كَافَأْتُمُوهُ] (سنن أبي داود: ١٦٧٢) | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : چا چې درنه د الله پورې پناه وغوښته پناه ورته ورکړئ ، او که یې د الله په نوم درنه څه وغوښتل ورېې کړئ ، او که چا دعوت کړئ دعوت یې قبول کړئ ، او چا چې درسره ښه وکړل نېکه بدله ورته ورکړئ ، که څه مو په لاس کې نه ول تر هغه ورله دعاګانې وکړئ چې ستاسو یقین راشي چې حق مې ورله ادا کړ . |
| الله به د هر چا نه د نعمتونو پوښتنې کوي ! | | |
| ٢٦٦ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ [ أَتَانِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، فَأَطْعَمْتُهُمْ رُطَبًا، وَأَسْقَيْتُهُمْ مَاءً، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَذَا مِنَ النَّعِيمِ الَّذِي تُسْأَلُونَ عَنْهُ ] (مسند أحمد: ١٤٦٣٧) | | د جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وايي : ما ته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او ابوبکر اوعمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا راغلل ، ما ورته تازه کجورې او اوبه ورکړې ، بیا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وویل : دا هغه نعمتونه دي چې له تاسو څخه به یې پوښتنه کېدای شي . |
| د هېڅ چا ښېګړې مه هیروئ ! | | |
| ٢٦٧ - : عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ [ قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ | | د عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وویل : ما |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي رَأَيْتُ فُلَانًا يَدْعُو وَيَذْكُرُ خَيْرًا، وَيَذْكُرُ أَنَّكَ أَعْطَيْتَهُ دِينَارَيْنِ، قَالَ: لَكِنْ فُلَانٌ أَعْطَيْتُهُ مَا بَيْنَ كَذَا إِلَى كَذَا، فَمَا أَثْنَى وَلَا قَالَ خَيْرًا ] (صحيح ابن حبان: ٣٤١٢) | | فلانکی سړی ولید دعاګانې یې کولې او ویل یې چې تا ورته دوه دیناره ورکړي دي ، هغه وویل : خو فلانکي ته مې دومره دومره دینارونه ورکړي وو هېڅ شکریه یې ادا نه کړه او نه یې دعا وکړه . |
| د مرستې په مهال چا ته ( جزاک الله خیرا ) ویل سنت دي ! | | |
| ٢٦٨ - : عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [مَنْ صُنِعَ إِلَيْهِ مَعْرُوفٌ فَقَالَ لِفَاعِلِهِ: جَزَاكَ اللَّهُ خَيْرًا فَقَدْ أَبْلَغَ فِي الثَّنَاءِ ] (جامع الترمذي: ٢٠٣٥) | | د اسامه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : چا سره چې احسان وکړی شي او احسان کونکي ته یې (جَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا ) ووایو نو پوره ثناء یې ورله بیان کړه. |

WWW.LARHKUD.COM

## د روژې بیان

### د روژې ادبونه

| | | |
|---|---|---|
| ٢٦٩ - :عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ قَالَ اللَّهُ: كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ، إِلَّا الصِّيَامَ، فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، وَالصِّيَامُ جُنَّةٌ، وَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلاَ يَرْفُثْ وَلاَ يَصْخَبْ، فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ، فَلْيَقُلْ إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ ] (صحيح البخاري: ١٩٠٤) | | د ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : الله وایي : له روژې پرته نور هر عمل ( عبادت ) د انسان لپاره دی ، روژه زما ده او زه پرې ورته اجر او ثواب ورکوم ، روژه ډال دی ، کله چې تاسو کې څوک روژه وي نو نه دې ښکنځل کوي او نه دې په لوړ اواز غږ پورته کوي ، که چا ورته ښکنځلې وکړې او یا یې ورسره جنګ کو نو ورته ودې وایي : زه روژه دار سړی یم . |

### روژه انسان له اوره لرې کوي

| | | |
|---|---|---|
| ٢٧٠ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ [ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، بَعَّدَاللَّهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِينَ خَرِيفًا ] (صحيح البخاري: ٢٨٤٠) | | د ابوسعید الخدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : که د الله د رضا په خاطر چا یوه ورځ روژه ونیوله نو اویا کاله به یې الله له اور څخه لرې کړي . |

### روژه دار به جنت ته له ځانګړې دروازې څخه ننوځي

| | | |
|---|---|---|
| ٢٧١ - : عَنْ سَهْلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ [ إِنَّ فِي الجَنَّةِ بَابًا يُقَالُ لَهُ | | د سهل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : د جنت یوه دروازه ده ( ریان ) یې نوم دی ، د قیامت په ورځ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| الرَّيَّانُ، يَدْخُلُ مِنْهُ الصَّائِمُونَ يَوْمَ القِيَامَةِ، لَا يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ، يُقَالُ: أَيْنَ الصَّائِمُونَ؟ فَيَقُومُونَ لَا يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ، فَإِذَا دَخَلُوا أُغْلِقَ فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ أَحَدٌ ] (صحيح البخاري : ۱۸۹٦ ) | | به ترې یواځې روژه دار ننوځي ، له دوی پرته به ترې نور څوک ونه ننوځي ، ویلی به شي : روژه دار چرته دی ؟ روژه دار به پورته شي له دوی پرته به ترې نور څوک جنت ته لاړ نه شي ، چې څنګه دوی ننوځي دروازه به بنده شي نور هیڅ څوک به ترې جنت ته لاړ نه شي . |
| د روژه دار د معدې بوی الله ته له تمامې خوشبوی څخه بهتر دی | | |
| ۲۷۲ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلَّا الصَّوْمَ ، فَإِنَّهُ لِي وَ أَنَا أَجْزِي بِهِ ، وَلَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ رِيحِ المِسْكِ] (صحيح البخاري: ۵۹۲۷ ) | | د ابوهریرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : له روژې پرته نور د انسان هر عمل (عبادت) د هغه لپاره دی ، روژه زما ده او زه پرې ورته اجر او ثواب ورکوم ، د روژه دار د خولې بوي ( د معدې براس ) د الله په نېز له مسکو څخه هم ډېر خوشبودار دی |
| د روژې ثواب بې اندازه دی | | |
| ۲۷۳ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ، الْحَسَنَةُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ، قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ: إِلَّا الصَّوْمَ، فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، يَدَعُ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ مِنْ أَجْلِي ، | | د ابوهریرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : د انسان هر نیک عمل په چندونو کیږي ، یوه نیکي ترې په لس چنده او تر اووه سوه چنده پورې قبلیږي، الله فرمایي خو روژه نه ، روژما زما لپاره ده او زه به د روژې اجر ورکوم ځکه چې انسان پکې له زما له کبله خپل شهوت ، خپل خوراک څښاک |

| | | |
|---|---|---|
| لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ: فَرْحَةٌ عِنْدَ فِطْرِهِ، وَفَرْحَةٌ عِنْدَ لِقَاءِ رَبِّهِ ] ( صحيح مسلم : ١١٥١ ) . | | پریږدي ، روژه دار لپاره دوه خوشحالۍ دي ، یو چې روژه ماتوي او دوهم چې د خپل رب سره مخامخ شي . |
| هیڅ نیک عمل د روژې برابر نه دی | | |
| ٢٧٤ - : عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [ أَنَّهُ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: عَلَيْكَ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَا عِدْلَ لَهُ ] (سنن النسائي: ٢٢٢٢ ) | | ابو امامه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه وکړه چې کوم عمل ډېر غوره دی ؟ هغه ورته وویل : روژه ونیسه ، روژه همسیال نه لري |
| روژه دار به د هر غیر اخلاقي کارونو نه ځان ساتي | | |
| ٢٧٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: الصِّيَامُ جُنَّةٌ فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَجْهَلْ، وَإِنِ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ أَوْ شَاتَمَهُ فَلْيَقُلْ: إِنِّي صَائِمٌ مَرَّتَيْنِ ] ( صحيح البخاري : ١٨٩٤ ) | | د ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : روژه ډال دی ، نه به روژه دار د ښځو خبرې کوي او نه به نور جهالت کوي ، که چا ورسره جنګ کو یا یې ورته کنځلې کولې دوه ځل دې ورته وایي : زه روژه یم ، زه روژه یم . |
| روژه دار ته د خوراک ورکولو ثواب | | |
| ٢٧٦ - : عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ غَيْرَ أَنَّهُ لَا يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِ الصَّائِمِ شَيْئًا] | | د زید بن خالد الجهني رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : څوک چې روژه دار ته روژه ماتی تیار کړي د روژه دار هومره اجر به یې وشي ، سره له دې چې د روژه دار په اجر کې به هیڅ کمې نه راځي |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| (سنن الترمذي : ٨٠٧ ) | | |
| روژه دار سره د خوراک کولو ثواب | | |
| ٢٧٧ - : عَنْ أُمِّ عُمَارَةَ بِنْتِ كَعْبٍ [ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا، فَدَعَتْ لَهُ بِطَعَامٍ، فَقَالَ: تَعَالَيْ فَكُلِي، فَقَالَتْ: إِنِّي صَائِمَةٌ، فَقَالَ: إِنَّ الصَّائِمَ إِذَا أُكِلَ عِنْدَهُ صَلَّتْ عليه الملائكة] (صحيح ابن حبان : ٣٤٣٠ ) | | رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ام عماره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا کور ته ولاړ نو هغې ورله خواړه راوړ ، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : راځه ته يې هم وخوره ، هغې ورته وويل : زه روژه يم ، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : د روژه دار سره چې څوک خواړه خوري ملائک ورته دعاګانې کوي |
| که د رمضان میاشت دېرش پوره نه شي ثواب يې د ديرشو ورځو دی | | |
| ٢٧٨ - : عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ [ شَهْرَانِ لاَ يَنْقُصَانِ، شَهْرَا عِيدٍ رَمَضَانُ، وَذُو الحَجَّةِ ] ( صحيح البخاري : ١٩١٢ ) . | | عبدالرحمن بن ابي بکره له خپل پلار ابوبکره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت کوي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د دوو مياشتو اجرونه نه کميږي ، د اخترونه دواړه مياشتې : رمضان او ذوالحجه . |
| روژه ټول ګناهونه روژوي | | |
| ٢٧٩ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ، إِيمَانًا وَ احْتِسَابًا ، غُفِرَ لَهُ مَاتَقَدَّمَ | | د ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : د ايمان سره چې د اجر په نيت څوک د رمضان د مياشتې روژه ونيسي مخکني ټول ګناهونه به ورته معاف |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| مِنْ ذَنْبِهِ ] (صحیح البخاري : ۳۸ ) | | شي . |
| روژه د انسان د ازادۍ میاشت ده | | |
| ۲۸۰ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، وَ غُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ وَ سُلْسِلَتِ الشَّيَاطِينُ ] (صحيح البخاري: ۱۸۹۹) | | د ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د رمضان مياشت چې کله داخله شي، د اسمان دروازې خلاصې (بيرته) شي او د جهنم دروازې بندې (وتړل) شي، او شيطانان هم په زنځيرونو وتړل شي . |
| د رمضان په اخرنو لسو ورځو شپو کې ډېر اطاعت کول مستحب دي | | |
| ۲۸۱ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا، قَالَتْ: [ كَانَ النَّبِيُّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ العَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهُ ، وَ أَحْيَا لَيْلَهُ ، وَ أَيْقَظَ أَهْلَهُ ] (صحيح البخاري: ۲۰۲٤) | | د عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا نه روايت دی چې کله به هم د رمضان اخرنې لس ورځې داخلې شوې نو رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ملا وتړله ، شپه به يې په عبادت روښوله او خپل اهل ( بي بياني ) به يې عبادت ته راپورته کړې . |
| روژه دار به د شهيدانو او صديقينو ملګری وي | | |
| ۲۸۲ - : عَنْ عَمْرِو بْنَ مُرَّةَ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، أَرَأَيْتَ إِنْ شَهِدْتُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَأَنَّكَ رَسُولُ اللّٰهِ، وَصَلَّيْتُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ، وَأَدَّيْتُ الزَّكَاةَ، وَصُمْتُ | | عمرو بن مرة الجهني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي : نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يو سړی راغی اوورته يې وويل : ما په دې خبر کړه که زه د الله په وحدانيت او ستا په رسالت ګواهي ورکړم ، پنځه ( فرض ) لمونځونه وکړم ، زکات ورکړم او د رمضان روژه ونيسم او شپه يې په عبادت روښه کړم نو زه به له چا څخه يم ؟ هغه ورته وويل: له |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رَمَضَانَ، وَقُمْتُهُ، فَمِمَّنْ أَنَا؟ قَالَ: مِنَ الصِّدِّيقِينَ وَ الشُّهَدَاءِ ] (صحيح ابن حبان: ٣٤٣٨ ) | | صدیقینو (رښتیا ګویه) او شهیدانو له جملې څخه به شې. |
| روژه به د میاشت په لیدلو نیول کیږي او د میاشت په لیدو به ماتیږي | | |
| ٢٨٣ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ذَكَرَ رَمَضَانَ فَقَالَ: [ لَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوُا الْهِلَالَ ، وَ لَا تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ ، فَإِنْ أُغْمِيَ عَلَيْكُمْ فَاقْدِرُوا لَهُ ] (صحيح مسلم: (١٠٨٠) | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو وخت د رمضان یاداشت وکړ ویویل : تر هغه روژه مه نیسئ چې میاشت مو نه وي لیدلې ، او تر هغه یې مه ماتوې تر څو مو میاشت نه وي لیدلې ، خو که ( اسمان ) دربادې وریځ شو میاشت خپله اندازه کړئ . |
| ٢٨٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ ، وَ أَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ ، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدِرُوا ثَلَاثِينَ] (سنن النسائي:٢١١٨) | | د ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي: د میاشت په لیدلو روژه ونیسئ او په لیدلو یې روژه ماته کړئ ، که (اسمان) دربادې وریځ شي دیرش ورځې اندازه یې پوره کړئ . |
| میاشت څو ورځې وي ؟ | | |
| ٢٨٥ - : عَنْ عُقْبَةَ وَهُوَ ابْنُ حُرَيْثٍ، قَالَ: [ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ وَ طَبَّقَ شُعْبَةُ يَدَيْهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ، وَ كَسَرَ الْإِبْهَامَ فِي الثَّالِثَةِ ، قَالَ عُقْبَةُ : وَ | | ابن حریث وایي ما له ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه واورېدل چې ویل یې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : میاشت نهه ویشت ورځې وي ، شعبه خپل دواړه لاسونه درې ځل خلاص کړل او په دریم ځل یې غټه ګوته بنکته |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| أَحْسِبُه قَالَ: الشَّهْرُ ثَلَاثُونَ وَ طَبَّقَ كَفَّيْهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ ] (صحيح مسلم: ١٠٨٠) | | کړه ، عقبه وايي : زما په ګومان چې داسې يې هم وويل : مياشت ديرش ورځې هم وي ، او درې ځل يې د دواړو لاسونو ګوتې خلاصې کړې. |
| پيشلمې برکتي خوراک دی | | |
| ٢٨٦ - : عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِ يكَرِبَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [عَلَيْكُمْ بِغَدَاءِ السُّحُورِ فَإِنَّهُ هُوَ الْغَدَاءُ الْمُبَارَكُ ] ( سنن النسائي : ٢١٦٤ ). | | د مقداد بن معديکرب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : پيشلمې ضرور وکړئ ، پيشلمې برکتي خوراک دی |
| ٢٨٧– عَنْ أَنَسِ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ تَسَحَّرُوا فَإِنَّ فِي السَّحُورِ بَرَكَةً ] ( صحيح البخاري : ١٩٢٣ ). | | د انس بن مالک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : پيشلمې وکړئ ځکه چې په پيشلمې کې خير او برکت وي |
| په پيشلمې کونکي د الله رحمت | | |
| ٢٨٨ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ إِنَّ اللّٰهَ وَ مَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الْمُتَسَحِّرِينَ ] (صحيح ابن حبان: ٣٤٦٧) | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: په پيشلمې کونکو الله پاک رحمت او ملائک ورته د مغفرت دعاګانې کوي |
| اذان د وخت په داخليدو دليل دی | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ۲۸۹ - : عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ : [ إِنّ بِلَالًا يُؤَذّنُ بِلَيْلٍ ، فَكُلُوا وَ اشْرَبُوا حَتّى يُنَادِيَ ابْنُ أُمّ مَكْتُومٍ ثُمّ قَالَ: وَكَانَ رَجُلًاأَعْمَى لَايُنَادِي حَتّى يُقَالَ لَهُ أَصْبَحْتَ أَصْبَحْتَ] (صحيح البخاري:۶۱۷) | | سالم له خپل پلار عبدالله نه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت کوي چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایلي دي : بلال چې د شپې اذان کوي نو تاسو پکې خپل خوراک او څښاک کوئ تر دې عبدالله بن ام مکتوم اذان وکړي ، بیا عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما وویل : ابن ام مکتوم وړوند و تر هغه به یې اذان نه کو چې خلکو به ورته وویل : سهار شو سهار شو. |
| **د مسلمان پیشلمې** | | |
| ۲۹۰ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [نِعْمَ سَحُورُ الْمُؤْمِنِ التّمْرُ ] (سنن النسائي: ۲۳۴۵) | | د ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي : د مومن ښه پیشلمې کجوري دي . |
| **پیشلمې کول د مسلمان نښه ده** | | |
| ۲۹۱ - : عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [ إِنّ فَصْلَ مَا بَيْنَ صِيَامِنَا وَ صِيَامِ أَهْلِ الْكِتَابِ أَكْلَةُالسّحُورِ] (سنن النسائي: ۲۱۶۶) | | د عمرو بن العاصرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : زموږ او د اهل کتابو د روژې منځ کې فرق پیشلمی کول دي |
| **د روژې ادبونه** | | |
| ۲۹۲ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ | | د ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایلي دي : د دروا‌غو |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [ مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَ العَمَلَ بِهِ ، فَلَيْسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ ] ( صحيح البخاري : ۱۹۰۳ ) | | خبرې او په درواغو عمل کول چې څوک نه پرېږدي نو د خوراک او څښاک پرېښودلو ته يې الله هېڅ احتياج نه لري. |
| د روژې خيال نه ساتلو سره روژه بې ثوابه کېږي | | |
| ۲۹۳ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [ رُبَّ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلّاالْجُوعُ ، وَرُبَّ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلّا السَّهَرُ ] (سنن ابن ماجه:۱۶۹۰) | | د ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايلي دي : زياتره وخت روژه دار له ولږې پرته نور څه په لاس ورنه شي ، او زياتره وخت د شپې رونړونکي لپاره له شوګير پرته نور هيڅ نه وي ( يعني تکليف يې وي او ثوابونه يې نه وي ) . |
| په جنابت کې روژه نيول | | |
| ۲۹٤ - : عَنْ عَائِشَةَ وَ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا [ أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ كَانَ يُدْرِكُهَا الفَجْرُ وَ هُوَ جُنُبٌ مِنْ أَهْلِهِ ، ثُمّ يَغْتَسِلُ، وَ يَصُومُ ] (صحيح البخاري : ۱۹۲٦). | | د عائشې او ام سلمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ باندې به سهار شو او هغه به د خپلو ځېنو بي بيانو نه جنب و ، غسل به يې وکړل او روژه به يې ونيوله . |
| ۲۹٥ - : عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، أَنّهُ سَأَلَ أُمّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، عَنِ الرّجُلِ يُصْبِحُ جُنُبًا أَيَصُومُ، قَالَتْ [ | | سليمان بن يسار د ام سلمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه د هغه سړي متعلق پوښتنه وکړه چې په جنابت کې پرې صبا شي ايا روژه نيولی شي ؟ هغې وويل : په |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصْبِحُ جُنُبًا مِنْ غَيْرِ احْتِلَامٍ، ثُمَّ يَصُومُ ] (صحيح مسلم: ۱۱۰۹ ) | | نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به له احتلام پرته د جنابت په حالت کې صبا کېده او روژه به یې نیوله . |
| ۲۹۶ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: [ إِنْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَبِيتُ جُنُبًا، فَيَأْتِيهِ بِلَالٌ لِصَلَاةِ الْغَدَاةِ، فَيَقُومُ فَيَغْتَسِلُ، فَأَنْظُرُ إِلَى الْمَاءِ يَنْحَدِرُ مِنْ جِلْدِهِ وَرَأْسِهِ، ثُمَّ أَسْمَعُ قِرَاءَتَهُ فِي صَلَاةِ الْغَدَاةِ، ثُمَّ يَظَلُّ صَائِمًا ] ( صحيح ابن حبان : ۳٤۹۰ ) . | | عائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وايي : نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې شپه د جنابت په حالت کې صبا شوه ، د سهار لمونځ لپاره به ورپسې بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ راغی ، هغه به پورته شو او غسل به یې وکړل ، ما به ورته کتل چې له سر او بدن نه به یې اوبه څڅېدې ، بیا به مې ورله د سهار لمونځ قراءت اورېده او په همدې حالت کې به روژه کېده . |
| په روژه ماتي کې تيزي په کار ده | | |
| ۲۹۷ - : عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ لَا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الفِطْرَ ] (صحيح البخاري:۱۹۵۷) | | د سهل بن سعد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : تر هغه به خلک په فایده کې وي چې روژه ماتی وختي کوي . |
| ۲۹۸ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : [ لَا يَزَالُ الدِّينُ ظَاهِرًا مَا عَجَّلَ النَّاسُ الْفِطْرَ ، لِأَنَّ الْيَهُودَ وَ النَّصَارَى يُؤَخِّرُونَ ] ( سنن أبي | | د ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : اسلامي دين به تر هغه سرلوړی وي چې خلک روژه وختي کوي ، څکه چې یهودان او نصرانیان روژه ماتې ناوخته کوي . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| داود : ٢٣٥٣ ) . | | |
| ٢٩٩ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطُّ صَلَّى صَلَاةَ الْمَغْرِبِ حَتَّى يُفْطِرَ، وَلَوْ عَلَى شَرْبَةٍ مِنْ مَاءٍ ] (صحيح ابن حبان: ٣٥٠٤) | | انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي : ما هېڅکله رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دی ليدلی چې لمونځ دې وکړي او روژه يې نه وي ماته کړې ، و لو که د اوبو په ګوټ ولې نه وې . |
| د ماښام په راښتو د روژه دار روژه ماتيږي | | |
| ٣٠٠ - : عَنْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : [ إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ مِنْ هَاهُنَا ، وَ أَدْبَرَ النَّهَارُ مِنْ هَاهُنَا ، وَغَرَبَتِ الشَّمْسُ فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ ] (صحيح البخاري:١٩٥٤) | | د عمر بن الخطاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : له دې اړخه چې کله شپه راپورته شي او له دې اړخه ورځ شا کړي ، لمر پرېوځي نو د روژه دار روژه ماته شوه . |
| د نفلي روژې قضايي راوړل مستحب دي | | |
| ٣٠١ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: [ أَصْبَحْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ، صَائِمَتَيْنِ مُتَطَوِّعَتَيْنِ، فَأُهْدِيَ لَنَا طَعَامٌ ، فَأَفْطَرْنَا ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: صُومَا مَكَانَهُ يَوْمًا آخَرَ ] (صحيح ابن حبان: ٣٥١٧) | | عايشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وايي : زه او حفصه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا دواړو نفلي روژه ونيوله ، چا راته خواړه ډالۍ کړل نو مونږ روژه ماته کړه ، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راته وويل : د دې پر ځای بله ورځ روژه ونيسئ . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| **څوک چې په قصد اولټۍ ( کانګې ) ووهي د روژې قضايي به راوړي** | | |
| ۳۰۲ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ مَنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ ، فَلَيْسَ عَلَيْهِ قَضَاءٌ، وَ مَنْ اسْتَقَاءَ عَمْدًا فَلْيَقْضِ] (سنن الترمذي:۷۲۰) | | د ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْه نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي ، له چا څخه چې اولټۍ (کانګې ) وشي د روژې قضا پرې نشته ، او څوک چې په قصد سره کانګې وکړي قضايي دې راوړي . |
| **په هير سره څه خوړل روژه نه ماتوي** | | |
| ۳۰۳ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ : [إِذَا نَسِيَ فَأَكَلَ وَ شَرِبَ ، فَلْيُتِمّ صَوْمَهُ ، فَإِنّمَاأَطْعَمَهُ اللّٰهُ وَ سَقَاهُ ] ( صحيح البخاري : ۱۹۳۳ ) | | د ابوهريرةرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : په هير چې کله څوک خورا او څښاک وکړي نو خپله روژه دې پوره کړي ، دا ورته الله خوراک او څښاک ورکړ. |
| **په هير روژه خوړلو کې نه قضا شته او نه کفاره** | | |
| ۳۰٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : [ مَنْ أَفْطَرَ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ نَاسِيًا فلَا قَضَاءَ عَلَيْهِ وَ لَا كَفَّارَةَ ] (سنن الدارقطني:۲۲٤۳) | | د ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : د رمضان په مياشت کې چې څوک په هېر سره روژه ماته کړي نه پرې قضا شته او نه پرې کفاره شته . |
| **د روژې د کفارې بيان**<br>**د فرضي روژې په مهال د جماع کولو حکم** | | |
| ۳۰۵ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ | | د ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې يو |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنْهُ [ أَنّ رَجُلًا وَقَعَ بِامْرَأَتِهِ فِي رَمَضَانَ، فَاسْتَفْتَى رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، فَقَالَ : هَلْ تَجِدُ رَقَبَةً قَالَ: لَا، قَالَ: هَلْ تَسْتَطِيعُ صِيَامَ شَهْرَيْنِ ؟ قَالَ : لَا، قَالَ: فَأَطْعِمْ سِتِّينَ مِسْكِينًا ] (صحيح البخاري:٦٨٢١) | | سړي په رمضان کې له خپلې ښځې سره يو ځای شوی و ( جماع يې کړې وه ) له رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ څخه يې پوښتنه وکړه، هغه ورته وويل: غلام ازادولی شې؟ سړي وويل: نا. هغه ورته وويل: د دوو مياشتو روژې نيولی شې؟ سړي وويل: نا، هغه ورته وويل: شپیته مسکينانو ته خوراک ورکړه . |
| ٣٠٦ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُا [ أَتَى رَجُلٌ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فِي المَسْجِدِ، قَالَ: احْتَرَقْتُ، قَالَ : مِمّذَاكَ ؟ قَالَ : وَقَعْتُ بِامْرَأَتِي فِي رَمَضَانَ ، قَالَ لَهُ : تَصَدّقْ قَالَ : مَاعِنْدِي شَيْءٌ ، فَجَلَسَ ، وَ أَتَاهُ إِنْسَانٌ يَسُوقُ حِمَارًا وَمَعَهُ طَعَامٌ قَالَ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ : أَيْنَ المُحْتَرِقُ فَقَالَ : هَا أَنَا ذَا ، قَالَ : خُذْ هَذَا فَتَصَدّقْ بِهِ قَالَ : عَلَى أَحْوَجَ مِنّي ، مَا لِأَهْلِي طَعَامٌ ؟ قَالَ: فَكُلُوهُ ] (صحيح البخاري : ٦٨٢٢ ) | | د عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهُا نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ په مسجد کې يو سړی راغی اوورته يې وويل : غرق شوم ، هغه ورته وويل : ولې ؟ سړي وويل : په رمضان ( د ورځې مې ) خپلې ښځې سره جماع وکړه ، هغه ورته وويل : خيرات ( صدقه ) وکړه ، سړي ورته وويل : ما سره هېڅ نشته او کښيناست ، يو بل سړی راغی خر ورسره و او خواړه ( خوراک ) هم ورسره و ، نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وويل : هغه ( غرق ) شوی څه شو ؟ سړي وويل : دا يم ، ورته يې وويل : دا واخله او خيرات پرې وکړه ، سړي ورته وويل : له ما څخه به لا هم بل محتاج وي ؟ زما بچيان بيخي خوراک نه لري !! هغه ورته وويل : تاسو يې وخورئ . |
| له مړي څخه د روژې قضا وارث راوړلی شي | | |
| ٣٠٧ - :اعَنْ ابْنِ عَبّاسٍ رَضِيَ اللهُ | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنْهُمَا قَالَ[ جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: إِنَّ أُخْتِي مَاتَتْ وَعَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ، قَالَ: أَرَأَيْتِ لَوْ كَانَ عَلَى أُخْتِكِ دَيْنٌ أَكُنْتِ تَقْضِينَهُ قَالَتْ : نَعَمْ ، قَالَ : فَحَقُّ اللّٰهِ أَحَقُّ ] ( سنن الترمذي : ٧١٦ ) . | | دى چې نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يو ښځه راغله او ورته يې وويل : زما خور مړه شوې ده او پرله پسې دوه مياشتې روژې پرې پاتې وې ، نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : كه ستا په خور قرض و نو تا پوره كو ؟ هغې وويل : هو ، نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : د الله قرض په ادا كولو ډېر اولى دى |
| روژه دار چې ښکر ولګوي | | |
| ٣٠٨ - : عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا [ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ وَ هُوَ مُحْرِمٌ، وَ احْتَجَمَ وَ هُوَ صَائِمٌ ] (صحيح البخاري:١٩٣٨) | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روايت دى چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ښکر ولګو او هغه محرم و او ښکر يې ولګو او هغه روژه وه. |
| روژه دار خپله ښځه ښکلولی شي | | |
| ٣٠٩ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ [ إِنْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُقَبِّلُ بَعْضَ أَزْوَاجِهِ وَ هُوَ صَائِمٌ ، ثُمَّ ضَحِكَتْ ] (صحيح البخاري:١٩٢٨) | | عايشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وايي : رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خپلې ځينې بي بيانې ښکلولې او هغه به روژه و، او بيا يې وخندل . |
| ٣١٠ - : عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، أَنَّهُ سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ أَيُقَبِّلُ الصَّائِمُ؟ فَقَالَ لَهُ | | عمر بن ابي سلمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ له رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه وپوښتل چې ايا روژه دار خپله ښځه ښکلولی شي ؟ هغه ورته وويل : |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رَسُولُ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: «سَلْ هَذِهِ لِأُمّ سَلَمَةَفَأَخْبَرَتْهُ ، أَنّ رَسُولَ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَصْنَعُ ذَلِكَ ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّهِ ! قَدْ غَفَرَ اللّهُ لَكَ مَا تَقَدّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخّرَ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ : أَمَا وَاللّهِ ، إِنّي لَأَتْقَاكُمْ لِلّهِ، وَ أَخْشَاكُمْ لَهُ ] ( صحيح مسلم : ١١٠٨ ) . | | له دې نه پوښتنه وکړه او ام سلمه رَضِيَ اللّهُ عَنْهَا ته یې اشاره وکړه ، هغې ورته وویل چې نبي کریم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ښکلول کوي ، عمر بن ابي سلمه رَضِيَ الله عَنْهُ ورته وویل : تا ته خو الله ټولې مخکني او وروستني ګناهونه معاف کړي دي ، نبي کریم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ورته وویل : په تاسو ټولو کې زه له الله څخه ډېر وېرېږم او ورڅخه ډارېږم . |
| ٣١١ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ يُقَبِّلُ وَ هُوَ صَائِمٌ وَ يُبَاشِرُ وَ هُوَ صَائِمٌ ، وَ لَكِنّهُ كَانَ أَمْلَكَ لِإِرْبِهِ ] (سنن أبي داود: ٢٣٨٢) | | عایشه رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ ا وایي : نبي کریم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ به ښکلول کول او هغه به روژه و، د خپلو بي بیانو سره به یې مباشرت (یوځای کېده) او هغه به روژه و ، خو هغه د خپل شهوت مالک و . |
| په تکلیف کې روژه نیول ثواب نه لري | | |
| ٣١٢ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّهِ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُمَا قَالَ: [ كَانَ رَسُولُ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فِي سَفَرٍ، فَرَأَى زِحَامًا وَرَجُلًا قَدْ ظُلّلَ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَا هَذَا ؟ فَقَالُوا: صَائِمٌ ، فَقَالَ: لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصّوْمُ فِي | | د جابر بن عبدالله رَضِيَ اللّهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ د سفر په دوران کې ګڼه ګوڼه ولیده چې یو سړی باندې ورپکې سوری شوی و ، ویې پوښتل چې ولې ؟ هغو ورته وویل : روژه یې نیولې ده ، نبي کریم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ورته وویل : په سفر کې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| السّفَرِ] (صحيح البخاري : ١٩٤٦). | | روژه نیول نیک عمل نه دی. |
| د سفر په دوران کې مسافر روژه ماتولی شي | | |
| ٣١٣ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ [ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ على نَهَرٍ مِنْ مَاءِ السَّمَاءِ وَهُوَ عَلَى بَغْلَةٍ لَهُ وَ النّاسُ صِيَامٌ، فَقَالَ: اشْرَبُوا، فَجَعَلُوا يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ، فَقَالَ: اشْرَبُوا، فَإِنِّي رَاكِبٌ وَإِنِّي أَيَسَرُكُمْ، وَأَنْتُمْ مُشَاةٌ ، فَجَعَلُوا يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ، فَحَوّلَ وَرِكَهُ فَشَرِبَ وَشَرِبَ النّاسُ ] (صحيح ابن حبان: ٣٥٥٠) | | د ابوسعيد الخدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ مونږ ته د باراني اوبو د لښتي په سر چې خلک روژه وو وفرمایل او هغه په خپله سورلۍ سپور و : اوبه وڅکئ ، خلکو ورته کتل راکتل او اوبه یې نه څکلې ، هغه ورته بیا وویل : ای خلکو اوبه وڅکئ ستاسو څخه زما سفر اسان دی ، زه سپور یم او تاسو پیادل یئ ، بیا ورته خلکو هسې کتل راکتل ، خپل ورون راوګرځو او اوبه یې وڅکلې نو خلکو هم اوبه وڅکلې . |
| مسافر ته د روژې د نیولو او ماتول اختیار دی | | |
| ٣١٤ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنّ حَمْزَةَ الْأَسْلَمِيّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ عَنِ الصّوْمِ فِي السّفَرِ، فَقَالَ: [ أَنْتَ بِالْخِيَارِ ، إِنْ شِئْتَ فَصُمْ ، وَ إِنْ شِئْتَ فَأَفْطِرْ ] (صحيح ابن حبان: ٣٥٦٠ ) | | د عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روایت دی چې حمزه اسلمي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ له نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ څخه په سفر کې د روژې اړوند وپوښتل، هغه ورته وویل: ستا خپله خوښه ، که دې خوښه وي روژه شه او که دې خوښه روژه ماته کړه . |
| ٣١٥ - :عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [ غَزَوْنَا مَعَ | | د ابوسعيد الخدري رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې مونږ د رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ په |

WWW.LARAKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رَسُولِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِسِتَّ عَشْرَةَ مَضَتْ مِنْ رَمَضَانَ ، فَمِنَّا مَنْ صَامَ وَ مِنَّا مَنْ أَفْطَرَ ، فَلَمْ يَعِبِ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ ، وَ لَا الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ ] (صحيح مسلم: ١١١٦) | | ملتيا د رمضان په مياشت کې چې شپاړس ورځې يې تېرې شوې وې غزا وکړه ، چا په کې روژه ونيوله او چا روژه ماته کړه ، روژه دار بوزه پسې بد نه ويل او بوزه د روژه دار پسې به نه ويل |
| ٣١٦ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : [ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِسَبْعَ عَشْرَةَ حِينَ فَتْحَ مَكَّةَ ، فَصَامَ صَائِمُونَ، وَ أَفْطَرَ مُفْطِرُونَ، فَلَمْ يَعِبْ هَؤُلَاءِ عَلَى هَؤُلَاءِ، وَلَا هَؤُلَاءِ عَلَى هَؤُلَاءِ ] (صحيح ابن حبان: ٣٥٦٢) | | د ابوسعيد خدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فتح مکې په ورځ چې د رمضان اولس ورځې تېرې شوې وې مونږ ووتوو ، روژه دار په روژه پاتې شول او چا روژه ماته کړه دوی په هغوی او هغوی په دوی بد ونه ويل . |
| ٣١٧ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ خَرَجَ إِلَى مَكَّةَ فِي رَمَضَانَ ، فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ الكَدِيدَ ، أَفْطَرَ، فَأَفْطَرَ النَّاسُ] (صحيح البخاري : ١٩٤٤ ) | | عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما وايي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په رمضان کې مکې ته ووت او ورژه يې نيولې وه ، چې کديد ته ورسيد روژه يې ماته کړه خلکو هم روژه ماته کړه |
| ٣١٨ - : عَنْ حَمْزَةَ بْنِ عَمْرٍو الْأَسْلَمِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، أَجِدُ بِي قُوَّةً عَلَى الصِّيَامِ فِي السَّفَرِ، فَهَلْ عَلَيَّ | | د حمزة بن عمرو اسلمي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وويل : زه په سفر کې د روژې نيولو توان لرم ، په سفر کې د روژې نيول ما باندې کومه ګناه شته ؟ نبي کريم صَلَّى |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| جُنَاحٌ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ هِيَ رُخْصَةٌ مِنَ اللّٰهِ ، فَمَنْ أَخَذَ بِهَا ، فَحَسَنٌ وَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَصُومَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ ] ( صحيح مسلم : ۱۱۲۱ ) | | اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل : دا د الله پاک له پلوه رخصت دی ، که چا یې رخصت واخست ښه یې وکړ او که د چا خوښه وي چې روژه ونیسې نو ګناه پرې نشته . |
| د الله په ورکړې سهولتونو عمل کول ډېر ثواب لري | | |
| ۳۱۹ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ أَنْ تُؤْتَى رُخَصُهُ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ تُؤْتَى مَعْصِيَتُهُ] (صحيح ابن حبان: ۲۷۴۲) | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي: الله ته دا محبوب دي چې په رخصتونوېې عمل وشي لکه څنګه چې ورته دا بد دي چې معصیتونو ته یې راتګ کیږي |
| له مړي څخه روژه نیول دورسته ده | | |
| ۳۲۰ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ مَنْ مَاتَ وَ عَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ ] (صحيح البخاري : ۱۹۵۲ ) | | د عایشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روایت دی چې رسول الله- صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – فرمایي : څوک چې مړ شي او په ذمه یې روژې پاتې وي وارث به ترې روژه نیسي . |
| ۳۲۱ - : عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ [جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ إِنَّ أُخْتِي مَاتَتْ وَعَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ، قَالَ: أَرَأَيْتِ لَوْ كَانَ عَلَى | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یوه ښځه راغله او ورته یې وویل : زما خور مړه شوې ده او پرله پسې دوه میاشتې روژې پرې پاتې دي ، هغه ورته وویل : څه فکر لرې که په خور |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| أُخْتِكِ دَيْنٌ أَكُنْتِ تَقْضِينَهُ،قَالَتْ: نَعَمْ،قَالَ فَحَقُّ اللّٰهِ أَحَقُّ ] ( سنن الترمذي : ٧١٦ ) | | دي د چا پور و تا ترې ادا کو ؟ هغې وويل : هو . نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : د الله حق په ادا کولو ډېر حقدار دی |
| د خاوند له اجازې پرته ښځه نفلي روژه نه شي نيولی | | |
| ٣٢٢ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [لَاتَصُومُ الْمَرْأَةُ وَ بَعْلُهَا شَاهِدٌ إِلَّابِإِذْنِهِ ] (صحيح البخاري: ٥١٩٢) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : د خاوند په حضور کې ښځه نه شي کولای (نفلي) روژې ونيسي مګر دا چې هغه ورته اجازه وکړي . |
| ٣٢٣ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ لَايَحِلُّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ ، وَلَا تَأْذَنَ فِي بَيْتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ، وَمَا أَنْفَقَتْ مِنْ نَفَقَةٍ عَنْ غَيْرِ أَمْرِهِ فَإِنَّهُ يُؤَدَّى إِلَيْهِ شَطْرُهُ ] ( صحيح البخاري : ٥١٩٥) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هېڅ زنانه لپاره جائز نه دي چې خاوند يې حاضر وي او روژه ونيسي مګر دا چې هغه ورته اجازه ورکړي ، او نه به کور ته د راتګ هغه چا ته اجازه کوي چې خاوند يې ورته اجازه نه وي کړي ، او د خاوند له اجازې بغير چې کومه صدقه وکړي د دواړو ترمنځ يې ثواب نيم دی |
| په روژه کې د وصال کولو حکم | | |
| ٣٢٤ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ [ لَا تُوَاصِلُوا ، فَأَيُّكُمْ إِذَا أَرَادَ أَنْ يُوَاصِلَ ، فَلْيُوَاصِلْ حَتَّى السَّحَرِ ، قَالُوا: فَإِنَّكَ | | د ابوسعيد خدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه يې اوريدلي دي : په روژه کې وصل مه کوئ ، که څوک هرومرو وصال کوي بايد تر پېشلمي پورې يې وکړي ، صحابه وو ورته وويل : ته خو هم په |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| تُوَاصِلُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ:إِنِّي لَسْتُ كَهَيْئَتِكُمْ إِنِّي أَبِيتُ لِي مُطْعِمٌ يُطْعِمُنِي، وَسَاقٍ يَسْقِينِ ] (صحيح البخاري: ١٩٦٣) | | روژه کې وصال کوې ؟ هغه ورته وویل : زه ستاسو په څېر نه یم ، زه شپه تېروم خو خواړه ورکونکی راته خوراک او څښاک راکوي . |
| ٣٢٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ إِيَّاكُمْ وَ الْوِصَالَ قَالُوا : فَإِنَّكَ تُوَاصِلُ ، يَا رَسُولَ اللّٰهِ ، قَالَ : إِنَّكُمْ لَسْتُمْ فِي ذَلِكَ مِثْلِي ، إِنِّي أَبِيتُ يُطْعِمُنِي رَبِّي وَ يَسْقِينِي ، فَاكْلَفُوا مِنَ الْأَعْمَالِ مَا تُطِيقُونَ ] ( صحيح مسلم : ١١٠٣ ) . | | د ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي: له وصال څخه ځانونه وساتئ ، صحابه وو ورته وویل : ته چې خپله وصال کوې ای د الله رسوله ؟ هغه ورته وویل : په وصال کې تاسو زما په شان نه یاست ، زه شپه تېروم خو رب مې راته خوراک هم راکوي او څښاک هم راکوي ، په نېک عمل دومره تکلیف وباسئ چې ستاسو په طاقت کې وي . |
| تېول ژوند روژه نیول | | |
| ٣٢٦ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا، قَالَتْ: [ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ حَتّى نَقُولَ: لَا يُفْطِرُ، وَيُفْطِرُ حَتّى نَقُولَ: لَا يَصُومُ، فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَكْمَلَ صِيَامَ شَهْرٍ إِلَّا رَمَضَانَ، وَمَا رَأَيْتُهُ أَكْثَرَ صِيَامًا مِنْهُ فِي شَعْبَانَ ] | | عایشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وایي : نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې به روژې شروع کړې تر دې چې مونږ به وویل : نور به نه بوزه کیږي ، او کله دومره بوځه شو چې مونږ به وویل : نور نه روژه کیږي ، ما ته معلومات نشته چې د رمضان نه بغیر دې نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کومې میاشت روژې پوره نیولې وي ، او نه راته د دې معلومات شته چې د شعبان نه بغیر به یې په بله |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| (صحيح البخاري:۱۹۶۹۹) | | مياشت کې ډېرې روژې نيولې وي . |
| ۳۲۷- : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنَ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [ يَا عَبْدَاللّٰهِ بْنَ عَمْرٍو إِنّكَ لَتَصُومُ الدّهْرَ ، وَ تَقُومُ اللّيْلَ ، وَ إِنّكَ إِذَا فَعَلْتَ ذَلِكَ ، هَجَمَتْ لَهُ الْعَيْنُ وَ نَهَكَتْ لَا صَامَ مَنْ صَامَ الْأَبَدَ ، صَوْمُ ثَلَاثَةِ أَيّامٍ مِنَ الشّهْرِ ، صَوْمُ الشّهْرِ كُلّهِ قُلْتُ: فَإِنّي أُطِيقُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ ، قَالَ: فَصُمْ صَوْمَ دَاوُدَ ، كَانَ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا، وَلَا يَفِرُّ إِذَا لَاقَى ] (صحيح مسلم:۱۱۵۹) | | د عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ما ته رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وويل : ای عبدالله ! ته ټول عمر روژه يې او ټوله شپه تهجد کوې ، که دغسې کوې نو سترګې به دې دننه ننوځي او کمزورې به شي ، څوک چې تل روژه وي روژه يې نه کيږي ، هره مياشت کې درې ورځې روژې نيول د ټولې مياشتې د روژی سره يو شان دي ، ما ورته وويل : زه له دغې هم ډېر طاقت لرم ، هغه وويل: بيا نو د داود عَلَيْهِ السّلَامَ روژه ونيسه ، هغه به يوه ورځ روژه کېده او بله ورځ به بوخه کېده او د جنګ له مېدان نه به نه تښتېده |
| ۳۲۸ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [ مَنْ صَامَ الْأَبَدَ فَلَا صَامَ ] ( سنن النسائي : ۲۳۷۳ ) . | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي : څوک چې هميشه روژه وي د روژو ثواب يې نه کيږي . |
| ۳۲۹ - : عَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ النّبِيُّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [ مَنْ صَامَ الْأَبَدَ، فَلَا صَامَ، وَلَا أَفْطَرَ ] (سنن ابن ماجه:۱۷۰۵) | | مطرف د خپل پلار عبدالله بن شخير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت کوي چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي : څوک چې ټول عمر روژه وي نه يې روژه کيږي او نه يې څه وخوړل . |

WWW.LARKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| د شک د ورځې روژه نیول : | | |
| ۳۳۰ - : عَنْ صِلَةَ قَالَ: [ كُنَّا عِنْدَ عَمَّارٍ فِي الْيَوْمِ الَّذِي يُشَكُّ فِيهِ، فَأَتَى بِشَاةٍ فَتَنَحَّى بَعْضُ الْقَوْمِ، فَقَالَ عَمَّارٌ: مَنْ صَامَ هَذَا الْيَوْمَ، فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ] (سنن أبي داود:۲۳۳٤) | | صِله وایي : مونږ د عمار بن یاسر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره په هغه ورځ ناست چې شکي روژه په کې نیول کیږي ، د بزې غوښه یې راوړه نو ځینو خلک غاړې ته شول ، عمار رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته وویل : د دې ورځ روژه چې څوک ونیسي نو د پیغمبر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نافرماني یې وکړه . |
| ۳۳۱ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ لَا تَقَدَّمُوا قَبْلَ الشَّهْرِ بِصِيَامٍ إِلَّا رَجُلٌ كَانَ يَصُومُ صِيَامًا أَتَى ذَلِكَ الْيَوْمُ عَلَى صِيَامِهِ ] ( سنن النسائي : ۲۱۷۲ ) | | د ابوهریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : د رمضان نه مخکې روژه مه نیسئ ، مګر هغه سړی دې ونیسي چې نورې روژې یې نیولې او دغه ورځ یې په روژو کې راشي |
| د شعبان د وروستیو ورځو روژو غوره والی | | |
| ۳۳۲ - : عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا [أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهُ - أَوْ لِآخَرَ -: أَصُمْتَ مِنْ سُرَرِ شَعْبَانَ؟ قَالَ: لَا،قَالَ: فَإِذَا أَفْطَرْتَ، فَصُمْ يَوْمَيْنِ ] (صحیح مسلم : ۱۱٦۱ ) | | عمران بن حصین رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ یا بل صحابي ته نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وویل : تا د شعبان میاشت د منځنو ورځو روژه نیوله وه ؟ هغه وویل : نا ، نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل : کله چې دې د رمضان روژې ونیولې نو بیا دوه ورځې روژې ونیسه . |
| ۳۳۳ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَرَضِيَ اللَّهُ | | د ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ إِذَا كَانَ النِّصْفُ مِنْ شَعْبَانَ فَلَا صَوْمَ حَتَّى يَجِيءَ رَمَضَانُ ] (سنن ابن ماجه:۱٦٥۱) | | اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : شعبان چې له نيمې څخه واوړي تر رمضان راتلو پورې روژې نه کيږي . |
| له رمضان نه مخکې روژه نيول بد عمل دی | | |
| ۳۳٤ - : عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ، فَإِنْ حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ سَحَابٌ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ، وَلَا تَسْتَقْبِلُوا الشَّهْرَ اسْتِقْبَالًا ] ( سنن النسائي : ۲۱۲۹ ) | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : د مياشت د ليدو سره روژه ونيسئ او په ليدلو يې روژه ماته کړئ ، که ستاسو او دمياست ترمنځ وريځ راشي نو ديرش عدد پوره کړئ او د رمضان مياشت د روژو په نيولو مخکې نه مه استقبالوئ . |
| ۳۳٥ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ لَيْلَةً، فَلَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوْهُ، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا العِدَّةَ ثَلَاثِينَ ] ( صحيح البخاري : ۱۹۰۷ ) . | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : مياشت نهه ويشت شپې وي ، تر هغه روژه مه نيسئ چې مياشت مو نه وي ليدلي ، که اسمان درباندې وريځ شو نو ديرش ورځې پوره کړئ . |
| د اختر په ورځ روژه نيول | | |
| ۳۳٦ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ [ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ | | د ابوسعيد الخدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کوچني او لوي اختر د ورځې روژې نه منعه کړې ده ، او له سر څخه تر خپو |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الفِطْرِ وَالنَّحْرِ، وَعَنِ الصَّمَّاءِ، وَأَنْ يَحْتَبِيَ الرَّجُلُ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ ] ( صحيح البخاري : ١٩٩١ ) . | | پورې يو لباس اچولو نه يې هم منعه کړې او له احتباء نه يې منعه کړې ده ( چې څوک په ناسته کې زنګونونه سينې ته ولګوي او په خپله حصه داسې حالت کې کينې چې څادر يا نور څه يې له ځان نه تاو کړي وي ) |
| کله چې نذر اوفرض روژه سره يو ځای شي | | |
| ٣٣٧ - : عَنْ زِيَادِ بْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، فَقَالَ [ رَجُلٌ نَذَرَ أَنْ يَصُومَ يَوْمًا، - قَالَ: أَظُنُّهُ قَالَ: الِاثْنَيْنِ -، فَوَافَقَ ذَلِكَ يَوْمَ عِيدٍ، فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: أَمَرَاللَّهُ بِوَفَاءِالنَّذْرِ وَنَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَوْمِ هَذَا اليَوْمِ ] ( صحيح البخاري : ١٩٩٤) . | | زياد بن جبير رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي : يو سړی عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا ته راغی ورته يې وويل : که څوک د کومې ورځې – زما په خيال چې د دوشنبې ورځ يې ياده کړه – نذر وکړي چې روژه به يې نيسم او هغه د اختر ورځ وخيژي ، نو ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا ورته وويل : د نذر په پوره کولو الله پاک امر کړی دی او د اختر په ورځ روژه کېدو نه نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منعه فرمايلې ده . |
| په اخترونو کې روژې نيول | | |
| ٣٣٨ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: [ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ صِيَامِ يَوْمَيْنِ ، يَوْمِ الْفِطْرِ، وَيَوْمِ النَّحْرِ ] (صحيح مسلم:١١٣٨) | | د ابوسعيد خدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دوو ورځو د روژو نه منعه کړې ده ، د ورکوټي اختر ورځ او د لوی اختر ورځ . |
| ٣٣٩ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا، قَالَتْ: [ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ | | عايشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا وايي : نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له دوو روژو نه منعه کړېده ، د |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَوْمَيْنِ: يَوْمِ الْفِطْرِ، وَيَوْمِ الْأَضْحَى ] ( صحيح مسلم : ۱۱٤۰ ) . | | ورکوټي اختر ورځ او د لوی اختر ورځ . |
| ۳٤۰ - : عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ قَالَ: شَهِدْتُ الْعِيدَ مَعَ عُمَرَ، فَبَدَأَ بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ، ثُمَّ قَالَ: [ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ صِيَامِ هَذَيْنِ الْيَوْمَيْنِ، أَمَّا يَوْمُ الْأَضْحَى فَتَأْكُلُونَ مِنْ لَحْمِ نُسُكِكُمْ، وَأَمَّا يَوْمُ الْفِطْرِ فَفِطْرُكُمْ مِنْ صِيَامِكُمْ ] ( سنن أبي داود : ۲٤۱٦ ) . | | ابوعبیده وايي : دعمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره په اختر کې حاضر شوم ، د خطبې نه مخکې یې لمونځ وکړ بیا یې وویل : نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې دواړو ورځو د روژې نیولو نه منعه کړېده ، کومه چې د لوی اختر ورځ ده نو تاسو په کې د خپلو قربانیو ( اضحیې ) غوښې خورئ ، او د کوچني اختر ورځ ځکه روژه نه کیږي چې تاسو په کې له روژې نه بوځه شوئ . |
| د کوچني اختر په ورځ به عیدګاه ته له وتلو نه مخکې روژه ماتیږي | | |
| ۳٤۱– : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُفْطِرُ عَلَى تَمَرَاتٍ يَوْمَ الفِطْرِ قَبْلَ أَنْ يَخْرُجَ إِلَى المُصَلَّى ] ( سنن الترمذي : ٥٤۳ ) . | | د انس بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د کوچني اختر په ورځ په کجورو روژه ماتوله مخکې له دې چې عیدګاه ته به ووت . |
| د تشریق د ورځو روژه نیول | | |

WWW.LARAKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٣٤٢ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ أَيَّامُ مِنًى أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ ] (سنن ابن ماجه : ١٧١٩) | | د ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : د تشريق ورځې ( يولسم ، دولسم ، ديارلسم ) د خوراک او څښاک ورځې دي . |
| ٣٤٣ - : عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [يَوْمُ عَرَفَةَ، وَيَوْمُ النَّحْرِ، وَأَيَّامُ التَّشْرِيقِ عِيدُنَا أَهْلَ الْإِسْلَامِ، وَهِيَ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ ] ( سنن أبي داود : ٢٤١٩ ) | | عقبه بن عامر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : ای مسلمانانو ! د عرفې ورځ ، دقربانۍ ورځ او د تشريق ورځې زمونږ اختر دی ، دا د خوراک او څښاک ورځې دي |
| ٣٤٤ - : عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَهُ وَأَوْسَ بْنَ الْحَدَثَانِ أَيَّامَ التَّشْرِيقِ، فَنَادَى أَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا مُؤْمِنٌ وَأَيَّامُ مِنًى أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ ] (صحيح مسلم: ١١٤٢) | | كعب بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې زه او اوس بن حدثان دواړه نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تشريق په ورځو کې د دې اعلان لپاره واستولو چې د مومن نه بغير جنت ته څوک نه شي تللای ، او د منی ورځې د خوراک او څښاک ورځې دي . |
| ٣٤٥ - : عَنْ نُبَيْشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ إِنَّا كُنَّا نَهَيْنَاكُمْ عَنْ لُحُومِهَا أَنْ تَأْكُلُوهَا فَوْقَ ثَلَاثٍ لِكَيْ تَسَعَكُمْ، فَقَدْ جَاءَ اللَّهُ | | نبيشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : مخکې مو له دينه منعه کولې چې د درې ورځو وروسته به د اختر غوښې څوک نه خوري ، د الله پاک له خوا نه نوره اساني هم راغله ، غوښې خپله هم وخورئ ، |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| بِالسَّعَةِ فَكُلُوا وَادَّخِرُوا وَاتَّجِرُوا، أَلَا وَإِنَّ هَذِهِ الْأَيَّامَ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ وَذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ ] ( سنن أبي داود : ۲۸۱۳ ) | | هم يې ذخيره کړئ او خرڅولی يې هم شئ ، خبردار چې دا ورځې د الله د ذکر او د خوراک ورځې دي . |
| ۳۴۶ - : عَنْ بِشْرِ بْنِ سُحَيْمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ أَيَّامَ التَّشْرِيقِ فَقَالَ: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ، وَإِنَّ هَذِهِ الْأَيَّامَ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ ] (سنن ابن ماجه: ۱۷۲۰) | | د بشر بن سحيم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تشريق په ورځ خطبه وکړه ويويل : جنت ته به د مسلمان نه بغير څوک نه شي ننوتلای، او دا د خوراک او څښاک ورځې دي . |
| **حاجي صيبان به د عرفې روژه نه نيسي** | | |
| ۳۴۷ - : عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [حَجَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَصُمْهُ - يَعْنِي يَوْمَ عَرَفَةَ - وَمَعَ أَبِي بَكْرٍ فَلَمْ يَصُمْهُ، وَمَعَ عُمَرَ فَلَمْ يَصُمْهُ، وَمَعَ عُثْمَانَ فَلَمْ يَصُمْهُ ] (سنن الترمذي: ۷۵۰) | | د عبدالله بن عمررَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ما د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ، د ابوبکر او عمر اوعثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ سره حجونه کړي دي هيڅ چا په کې د عرفې د ورځې روژه نه ده نيولې . |
| ۳۴۸ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : [أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْطَرَ بِعَرَفَةَ، وَأَرْسَلَتْ إِلَيْهِ أُمُّ الفَضْلِ بِلَبَنٍ فَشَرِبَ ] (سنن الترمذي:۷۵۰) | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عرفې په ورځ بوخه و ، ام الفضل ورته شېدې وليږلې نو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وڅښلې . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٣٤٩ - : عَنْ أُمِّ الفَضْلِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا قَالَتْ [ شَكَّ النَّاسُ يَوْمَ عَرَفَةَ فِي صَوْمِ النَّبِيِّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَبَعَثْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرَابٍ فَشَرِبَهُ ] (صحيح البخاري: ١٦٥٨ ) | | دام الفضل رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا نه روایت دی چې د عرفې په ورځ خلکو د نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په روژه کې شک وکړ نو ما ورته څښاک ولیږدول هغه وڅښل . |
| خاص د جمعې په ورځ روژه نیول ګناه ده | | |
| ٣٥٠- : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : [مَا نَهَيْتُ النَّاسَ أَنْ يَصُومُوا يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَلَكِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: لَاتَصُومُوايَوْمَ الْجُمُعَةِ ، فَإِنَّهُ يَوْمُ عِيدٍ إِلَّا أَنْ تَصِلُوهُ بِأَيَّامٍ ] ( صحيح ابن حبان : ٣٦١١ ) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې د جمعې د ورځې روژې نه خلک ما نه دي منعه کړي بلکې ما د نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې ویل یې : د جمعې د ورځې روژه مه نیسئ ځکه چې دا د اختر ورځ ده ، خو که مخکې یا وروسته ورسره روژه نیسئ بیا صحیح ده |
| ٣٥١ - : عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبَّادٍ، قَالَ: [ سَأَلْتُ جَابِرًا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: نَهَى النَّبِيُّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الجُمُعَةِ؟ قَالَ:نَعَمْ ] (صحيح البخاري: ١٩٨٤) | | محمد بن عباد وایي ما د جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه پوښته وکړه چې ایا د جمعې د ورځې له روژې نه نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منعه کړې ده ؟ هغه وویل : هو |
| ٣٥٢ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى | | عبدالله بن عمرو رَضِيَ الله عَنْهُ وایي : د جمعې په ورځ نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جویریه بنت الحارث رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا کور ته ولاړ او هغه روژه وه ، |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| جُوَيْرِيَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَهِيَ صَائِمَةٌ، فَقَالَ: أَصُمْتِ أَمْسِ؟، قَالَتْ: لَا، قَالَ: أَفَتُرِيدِينَ أَنْ تَصُومِي غَدًا ؟ قَالَتْ: لَا، قَالَ: فَأَفْطِرِي ] ( صحيح ابن حبان : ٣٦١١) | | ورته يې وويل : ايا پرون دې روژه نيولې وه ؟ هغې وويل : نا . ورته يې وويل : ايا سبا به روژه نيسې ؟ هغې وويل : نا . نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : بيا دې روژه ماته كړه . |
| د جمعې ورځ يل شپه به څوک د عبادت لپاره نه خاص كوي | | |
| ٣٥٣ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ [ لَا تَخْتَصُّوا لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ بِقِيَامٍ مِنْ بَيْنِ اللَّيَالِي، وَلَا تَخُصُّوا يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِصِيَامٍ مِنْ بَيْنِ الْأَيَّامِ، إِلَّا أَنْ يَكُونَ فِي صَوْمٍ يَصُومُهُ أَحَدُكُمْ ] ( صحيح مسلم: ١١٤٤ ) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : د نور شپو ترمنځ د جمعې شپه په تهجدو مه خاص كوئ او مه د نورو ورځو بغير د جمعې په ورځ روژه نيسئ، مګر دا چې څوک ترې مخكې وروسته بله روژه ونيسي |
| د جمعې د ورځې سره د نورو ورځو روژه نيول په مخكنى نهي كې نه راځي | | |
| ٣٥٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ لَا يَصُومُ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الجُمُعَةِ إِلَّا أَنْ يَصُومَ قَبْلَهُ أَوْ يَصُومَ بَعْدَهُ ] (سنن الترمذي: ٧٤٣) | | د ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : خاص د جمعې په ورځ دې څوک روژه نه نيسي مګر دا چې يا ترې مخكې او يا ترې وروسته بله روژه ونيسي |
| د شنبې د ورځې د روژې نيولو حكم | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٣٥٥ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُسْرٍ، عَنْ أُخْتِهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ لَا تَصُومُوا يَوْمَ السَّبْتِ إِلَّا فِيمَا افْتَرَضَ اللهُ عَلَيْكُمْ، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا لِحَاءَ عِنَبَةٍ أَوْ عُودَ شَجَرَةٍ فَلْيَمْضُغْهُ ] ( سنن الترمذي : ٧٤٤ ) . | | عبدالله بن بسر د خپلې خور نه روایت کوي چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : د شنبې د ورځې روژه مه نيسئ مګر هغه ورځ چې الله پاک درباندې فرض کړې روژه په کې راشي ، تر دې چې که څوک د انګور پوستکی او څانګې لرګی هم وومي ودې ژوي ( خو روژه دې نه نيسي ) . |
| د نفلي روژو بيان | | |
| ٣٥٦ - : عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ، قَالَتْ: أَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةَ عَاشُورَاءَ إِلَى قُرَى الأَنْصَارِ: [ مَنْ أَصْبَحَ مُفْطِرًا ، فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ وَ مَنْ أَصْبَحَ صَائِمًا ، فَلْيَصُمْ ، قَالَتْ فَكُنَّا نَصُومُهُ بَعْدُ، وَ نُصَوِّمُ صِبْيَانَنَا، وَنَجْعَلُ لَهُمُ اللُّعْبَةَ مِنَ العِهْنِ، فَإِذَا بَكَى أَحَدُهُمْ عَلَى الطَّعَامِ أَعْطَيْنَاهُ ذَاكَ حَتَّى يَكُونَ عِنْدَ الإِفْطَارِ ] (صحيح البخاري: ١٩٦٠) | | د ربيع بنت معوذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې د عاشوراء په ورځ نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د انصارو کلو ته استازي واستول چې که چا روژه نه وي نيولې پاتې ورځ دې روژه ونيسي او که چا روژه نيولې وي روژه دې پوره کړي ، هغه وايي : له دې وروسته به دغه روژه مونږ هم نيوله او په ماشومانو به مو هم نيوله ، ماشومانو لپاره به مو له مالچو څخه د لوبو شيان جوړ کړل چې کله به يې ډوډۍ پسې ژړل ان تر افطاره به مو په لوبو بې غوره کول . |
| ٣٥٧ - : عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِرَجُلٍ مِنْ أَسْلَمَ: [ أَذِّنْ فِي قَوْمِكَ، أَوْ فِي | | د سلمة بن الأكوع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بنو اسلم د قبيلې يو سړي ته وويل : د عاشورا په ورځ په خپل قوم کې دا اعلان وکړه چې که څوک روژه |

WWW.LARAKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| النَّاسِ - يَوْمَ عَاشُورَاءَ- أَنَّ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ أَكَلَ فَلْيَصُمْ ] (صحيح البخاري: ٧٢٦٥) | | وي روژه دې پوره کړي او که روژه نه وي پاتې ورځ دې روژه شي . |
| ٣٥٨ - : عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ صَيْفِيٍّ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَقَالَ: [ هَلْ مِنْكُمْ أَحَدٌ طَعِمَ الْيَوْمَ؟ قَالُوا: مِنَّا مَنْ طَعِمَ، وَمِنَّا مَنْ لَمْ يَطْعَمْ، فَقَالَ: مَنْ كَانَ لَمْ يَطْعَمْ مِنْكُمْ فَلْيَصُمْ، وَمَنْ طَعِمَ فَلْيُتِمّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَآذِنُوا أَهْلَ الْعَرُوضِ، فَلْيُتِمُّوا بَقِيَّةَ يَوْمِهِمْ ] (صحيح ابن حبان: ٣٦١٧) | | د محمد بن صيفي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې د عاشورا په ورځ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو ځل راووت او ويويل : تاسو کې نن چا څه خوړلي دي ؟ هغوی وويل : چا خوراک کړی دی او چا لا څه نه دي خوړلې ، هغه وويل چا چې څه نه وي خوړلې نور روژه دې شي ، او چا چې څه خوړلي دي پاتې ورځ دې روژه شي او د مکې او مدينې نور شاوخوا خلک هم وخبروئ چې پاتې ورځ روژه شي . |
| ٣٥٩ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: [ كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ المَدِينَةَ صَامَهُ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تَرَكَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ ] (صحيح | | عايشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وايي : په جاهليت کې به قريشو د عاشورا د ورځې روژه نېوله او نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هم نيوله خو مدينې ته چې راغی خپله به يې نيوله او خلکو ته به يې پرې امر هم کو ، کله چې د رمضان روژه فرض شوه د عاشورا روژه يې پرېښوده . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| | | البخاري:۲۰۰۲) |
| عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روايت دي چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ چې کله مدينې ته راغی يهودان يې وليدل چې د عاشورا روژه يې نيوله ، نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ورته وويل : تاسو ولې د دې ورځې روژه نيسئ ؟ هغوی وويل : دا د لوی مرتبې ورځ ده ، په دې ورځ کې الله پاک موسی عَلَيْهِ السّلَام او قوم ته يې نجات ورکړی و نو موسی عَلَيْهِ السّلام به په دې ورځ د شکر لپاره روژه و او مونږ يې هم د شکر لپاره روژه نيسو ، نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وويل : له تاسو څخه مونږ په موسی عَلَيْهِ السّلَام ډېر حقدار يو خپله به هم په دې ورځ روژه و او خلکو ته يې پرې هم امر کو. | | ۳٦۰ - : عَنِ ابْنِ عَبّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَا أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ قَدِمَ الْمَدِينَةَ فَوَجَدَ الْيَهُودَ صِيَامًا يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: مَا هَذَاالْيَوْمُ الّذِي تَصُومُونَهُ ؟ فَقَالُوا : هَذَا يَوْمٌ عَظِيمٌ ، أَنْجَى اللّٰهُ فِيهِ مُوسَى وَ قَوْمَهُ ، وَ غَرّقَ فِرْعَوْنَ وَ قَوْمَهُ ، فَصَامَهُ مُوسَى شُكْرًا ، فَنَحْنُ نَصُومُهُ ، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: فَنَحْنُ أَحَقُّ وَ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْكُمْ فَصَامَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ، وَ أَمَرَ بِصِيَامِهِ ] (صحيح مسلم: ۱۱۳۰) |
| حميد بن عبدالرحمن وايي چې معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يو وخت مدينې ته د عاشورا په ورځ راغی خطبه يې وکړه او ويويل :ای د مدينې والاو! ستاسو علماء چرته دي؟ ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې د عاشوراء ورځې روژه پر تاسو فرض نه ده خو زه روژه يم، | | ۳٦۱ - : عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرّحْمَنِ [أَنّ مُعَاوِيَةَ خَطَبَ بِالْمَدِينَةِ فِي قَدْمَةٍ قَدِمَهَا يَوْمَ عَاشُورَاءَ ، فَقَالَ: أَيْنَ عُلَمَاؤُكُمْ يَا أَهْلَ الْمَدِينَةِ؟ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَقُولُ: هَذَا |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| يَوْمُ عَاشُورَاءَ وَلَمْ يُكْتَبْ عَلَيْكُمْ صِيَامُهُ ، وَأَنَا صَائِمٌ ، فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَصُومَ فَلْيَصُمْ ] ( صحيح ابن خزيمة : ۲۰۸۵ ) | | که څوک دوسته بولي چې روژه شي نو روژه دې شي. |
| ۳٦۲ - : عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [ كَانَتْ يَهُودُ تَتَّخِذُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ عِيدًا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِفُوهُمْ صُومُواأَنْتُمْ ] ( صحيح ابن حبان : ۳٦۲۷ ) . | | ابوموسى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه وايي : د عاشورا په ورځ به يهودانو اختر کو ، نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وويل : تاسو د يهودوسره مخالفت وکړئ او روژه په کې ونيسئ . |
| سبا راختو نه وروسته د روژې نيت | | |
| ۳٦۳ - : عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ [ دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَقَالَ: هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ ؟فَقُلْنَا : لَا، قَالَ : فَإِنِّي إِذَنْ صَائِمٌ ثُمَّ أَتَانَا يَوْمًا آخَرَ فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أُهْدِيَ لَنَا حَيْسٌ فَقَالَ: أَرِينِيهِ ، فَلَقَدْ أَصْبَحْتُ صَائِمًا فَأَكَلَ ] ( صحيح مسلم : ۱۱٥٤ ) | | عايشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وايي : يو ورځ نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما کور ته رانږوت راته يې وويل: د خوراک درسره څه شته؟ ما وويل: نا . هغه وويل : (چې څه نشته نو) زه روژه شوم ، بله روځ ما ورته وويل: د الله رسوله! چا راته حلوا تحفه کړې ده ، هغه وويل: ما ته يې وښايه زه خو نن روژه شوی وم ، نو حلوا يې وخوړه . |
| د عرفې د ورځې ثواب | | |
| ۳٦٤ - : عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللَّهُ | | د ابوقتاده رَضِيَ اللَّهُ عنْهُ نه روايت دی چې نبی |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنْهُ أَنّ النَّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [ صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ، إِنّي أَحْتَسِبُ عَلَى اللّٰهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الّتِي قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الّتِي بَعْدَهُ ] (جامع الترمذي:٧٤٩) | | كريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي : له الله نه امېد لرم چې د عرفې د ورځې په روژه د مخكنې او راروان كال ګناهونه ورژوي . |
| د شوال د شپږو روژو ثواب | | |
| ٣٦٥ - : عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمّ أَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوّالٍ، كَانَ كَصِيَامِ الدّهْرِ ] (صحيح مسلم: ١١٦٤) | | د ابوايوب انصاري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: څوک چې د رمضان روژې ونيسي او ورپسې د شوال شپږ روژې نورې ونيسي داسې دى لكه د ټول عمر روژه . |
| د محرم دمياشتې روژو ثواب | | |
| ٣٦٦– : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ : أَفْضَلُ الصِّيَامِ، بَعْدَ رَمَضَانَ، شَهْرُ اللّٰهِ الْمُحَرّمُ، وَأَفْضَلُ الصّلَاةِ، بَعْدَ الْفَرِيضَةِ، صَلَاةُ اللّيْلِ ] (صحيح مسلم: ١١٦٣) | | د ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي : د رمضان نه وروسته غوره ترينې روژې د محرم د مياشتې روژې دي ، او له فرض لمونځ وروسته غوره لمونځ د شپې لمونځ دى . |
| د هرې مياشت اولنې ورځې روژه | | |
| ٣٦٧ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [ كَانَ رَسُولُ | | د عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ به د هرې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ يَعْنِي مِنْ غُرَّةِ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ] (سنن أبي داود: ٢٤٥٠) | | مياشتې اولنۍ درې ورځې روژه نيوله . |
| د شعبان د مياشت روژو غوره والى | | |
| ٣٦٨ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ شَهْرًا أَكْثَرَ مِنْ شَعْبَانَ، فَإِنَّهُ كَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ كُلَّهُ ] (صحيح البخاري: ١٩٧٠) | | عايشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي : د شعبان نه بغېر به نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نور مياشتو كې ډېر روژې نه نيولې ، هغه به ټول شعبان روژه نيوله . |
| ٣٦٩ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: [ كَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ كُلَّهُ حَتَّى يَصِلَهُ بِرَمَضَانَ ] ( سنن ابن ماجه : ١٦٤٩) | | عايشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي : نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټول شعبان روژه نيوله تر دې چې رمضان سره به يې وصل كړ . |
| د دوشنبې او پنجشنبې ورځو د روژې ثواب | | |
| ٣٧٠ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ تُفْتَحُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ، وَيَوْمَ الْخَمِيسِ، فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا، إِلَّا رَجُلًا كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ، فَيُقَالُ: أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا، أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى | | د ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ د جنت دروازې بېرته كيږي چا چې د الله سره هېڅ شريک نه وي كړى هغه ته پكې بخشش كيږي ، مګر هغه څوک چې د مسلمان ورور سره كينه لري ، وويل شي : دا دواړه تر هغه پرېږدئ چې روغه جوړه وكړي ، تر هغه پرېږدئ چې روغه جوړه وكړي ، تر هغه |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| يَصْطَلِحَا، أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا ] (صحيح مسلم: ٢٥٦٥ ) | | پرېږدئ چې روغه جوړه وکړي . |
| ايا د روژو لپاره ورځې خاص کولی شي | | |
| ٣٧١ - : عَنْ عَلْقَمَةَ، قُلْتُ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا [ هَلْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْتَصُّ مِنَ الأَيَّامِ شَيْئًا؟ قَالَتْ لاَ، كَانَ عَمَلُهُ دِيمَةً، وَأَيُّكُمْ يُطِيقُ مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطِيقُ ] (صحيح البخاري : ١٩٨٧ ) | | علقمه وايي ما عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا ته وويل : ايا نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ کومې ورځې په روژو خاص کړې دي ؟ هغې وويل : نا ، د هغه عمل دوامداره و ، په تاسو کې د هغه په څېر طاقت څوک لري ؟ |
| ٣٧٢ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ: لاَ يُفْطِرُ، وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ: لاَ يَصُومُ، فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَكْمَلَ صِيَامَ شَهْرٍ إِلَّا رَمَضَانَ، وَمَا رَأَيْتُهُ أَكْثَرَ صِيَامًا مِنْهُ فِي شَعْبَانَ ] ( صحيح البخاري : ١٩٦٩ ) . | | عايشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا وايي رسول کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ به روژې دومره مسلسلې کړې چې مونږ به ويل : نور روژه نه ماتوي او دومره بوزه شو چې مونږ به وويل نور روژې نه نيسي ، د رمضان نه بغير مې نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ نه دی ليدلی چې پوره مياشت يې روژې نيولې وي ، او نه مې دی ليدلی چې د شعبان نه بغير يې په کومه مياشت کې زياتې روژې نيولې وي . |
| ٣٧٣ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ | | د ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ما |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنْهُ، قَالَ: أَوْصَانِي خَلِيلِي بِثَلاَثٍ لاَ أَدَعُهُنَّ حَتَّى أَمُوتَ: «صَوْمِ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، وَصَلاَةِ الضُّحَى، وَنَوْمٍ عَلَى وِتْرٍ ] (صحيح البخاري: ١١٧٨) | | ته مې خالص دوست رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په درې شيانو وصيت کړی دی : په هره مياشت کې درې ورځې روژې ، د څاښت لمونځ کول او له خوب نه مخکې وتر کول . |
| اعتکاف به کله کولی شي؟ | | |
| ٣٧٤ - :عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: [ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْتَكِفُ العَشْرَ الأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ ] ( صحيح البخاري : ٢٠٢٥ ) | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د رمضان په اخرو ورځو شپو کې اعتکاف کو. |
| ٣٧٥ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا [ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْتَكِفُ العَشْرَالأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ، ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ ] (صحيح البخاري: ٢٠٢٦) | | عايشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي : تر وفات پورې به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درمضان په اخرو لسو کې اعتکاف کو ، له وفات وروسته به يې بيا بي بيانو اعتکاف کو. |
| ايا د اعتکاف قضاء راوړل کيدای شي ؟ | | |
| ٣٧٦ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَادَ أَنْ يَعْتَكِفَ، فَلَمَّا | | عايشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي : نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اعتکاف اراده وکړه، خپل اعتکاف ځای ته چې راغی خيمې يې وليدې ، د عائشې او |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| انْصَرَفَ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِي أَرَادَ أَنْ يَعْتَكِفَ إِذَا أَخْبِيَةٌ خِبَاءُ عَائِشَةَ، وَخِبَاءُ حَفْصَةَ، وَخِبَاءُ زَيْنَبَ، فَقَالَ: أَلْبِرَّ تَقُولُونَ بِهِنَّ ثُمَّ انْصَرَفَ، فَلَمْ يَعْتَكِفْ حَتَّى اعْتَكَفَ عَشْرًا مِنْ شَوَّالٍ] ( صحيح البخاري : ۲۰۳٤ ) . | | حفصې او زینب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُنَّ بیلې بیلې خیمې وې ، ویویل : تاسو څه وایئ چې ښه یې کړیدي ؟ بیا لاړ او اعتکاف یې ونه کړ ، په شوال کې یې بیا لس ورځې اعتکاف وکړ. |
| د اطاعت په نذر وفاء هرومرو ده | | |
| ۳۷۷ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نَذَرَ فِي الجَاهِلِيَّةِ أَنْ يَعْتَكِفَ فِي المَسْجِدِ الحَرَامِ -قَالَ: أُرَاهُ قَالَ لَيْلَةً- قَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْفِ بِنَذْرِكَ ] ( صحيح البخاري : ۲۰٤۳ ) | | عبدالله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په جاهلیت کې منښته کړې وه چې په مسجد حرام کې به یوه شپه اعتکاف نیسي، نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل : نذر دې پوره کړه |
| په رمضان کې د قران د لوستلو خاص خیال ساتل ! | | |
| ۳۷۸ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [ كَانَ يَعْرِضُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ القُرْآنَ كُلَّ عَامٍ مَرَّةً، فَعَرَضَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ فِي العَامِ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ، وَكَانَ يَعْتَكِفُ كُلَّ عَامٍ عَشْرًا، فَاعْتَكَفَ | | ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايي: جبریل عَلَيْهِ السَّلَام به هر کال نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یو ځل قران کریم لوسته ، په کوم کال چې وفات کېده دوه ځل یې ورته ولوست او هر کال به نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په رمضان کې لس ورځې اعتکاف کو خو په کوم کال چې وفات |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عِشْرِينَ فِي العَامِ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ ] ( صحيح البخاري : ٤٩٩٨ ) . | | کېده شل ورځې اعتکاف يې وکړ. |
| د اعتکاف د شروع وخت : | | |
| ٣٧٩ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُا قَالَتْ: [ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَعْتَكِفَ صَلّى الفَجْرَ، ثُمّ دَخَلَ فِي مُعْتَكَفِهِ ] (جامع الترمذي: ٧٩١) | | عايشه رَضِيَ اللهُ عَنْهُا وايي : نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ چې به کله اعتکاف کو نو د سهار لمونځ به يې وکړ او بيا به خپل اعتکاف ځای ته ننوت . |
| له شديد حاجت پرته به معتکف له مسجد نه نه وځي | | |
| ٣٨٠ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُا قَالَتْ: وَإِنْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ لَيُدْخِلُ عَلَيّ رَأْسَهُ وَهُوَ فِي المَسْجِدِ، فَأُرَجِّلُهُ، وَكَانَ لاَ يَدْخُلُ البَيْتَ إِلّا لِحَاجَةٍ إِذَا كَانَ مُعْتَكِفًا ] (صحيح البخاري: ٢٠٢٩) | | عايشه رَضِيَ اللهُ عَنْهُا وايي : نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ په مسجد کې اعتکاف کې و او سر به يې په کړکۍ کې رادننه کړ ما به ورله سر کمنځ کړ ، او چې اعتکاف کې به و نو له شديد حاجت پرته به کورته نه ننوتو. |
| ليلة القدر په اخرونو اوو تاقو شپو کې وي | | |
| ٣٨١ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنّ رِجَالًا مِنْ أَصْحَابِ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ أُرُوا لَيْلَةَ القَدْرِ فِي المَنَامِ فِي السّبْعِ الأَوَاخِرِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې د رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ځينو ملګرو په خوب کې ليلة القدر په وروستنيو تاقو شپو کې وليد ، نو نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وويل : د وروستنيو تاقو شپو کې د ليلة |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَسَلَّمَ أَرَى رُؤْيَاكُمْ قَدْ تَوَاطَأَتْ فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ، فَمَنْ كَانَ مُتَحَرِّيهَا فَلْيَتَحَرَّهَا فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ ] (صحيح البخاري: ٢٠١٥) | | القدر سره ستاسو خوب یو شان دی ، که څوک د ليلة القدر تالاش کوي نو په اوو ورستنيو تاقو شپو کې دې وکړي . |
| په جنګ جګړو برکتونه پورته کيږي | | |
| ٣٨٢ - : عَنْ عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ[ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يُخْبِرُ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحَى رَجُلَانِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَقَالَ إِنِّي خَرَجْتُ لِأُخْبِرَكُمْ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ، وَإِنَّهُ تَلَاحَى فُلَانٌ وَفُلَانٌ، فَرُفِعَتْ، وَعَسَى أَنْ يَكُونَ خَيْرًا لَكُمْ، التَمِسُوهَا فِي السَّبْعِ وَالتِّسْعِ وَالْخَمْسِ ] ( صحيح البخاري : ٤٩ ) | | د عبادة بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ليلة القدر د اعلان لپاره راووت نو په مسلمانانو کې د دوو خلکو جنګ و ، هغه وويل : زه د دې لپاره راووتم چې د ليلة القدر شپه درته وښايم خو د فلانکي او فلانکي جنګ و نو بېرته پورته شوه ، شايد په دې کې به ستاسو لپاره خير وي ، په اوويشتمه ، نهه ويشتمه او پنځه ويشتمه کې يې تالاش کړئ . |
| ليلة القدر په لسو اخرنو تاقو شپو کې ده : | | |
| ٣٨٣ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [التَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ، فِي تَاسِعَةٍ تَبْقَى، فِي سَابِعَةٍ تَبْقَى فِي خَامِسَةٍ تَبْقَى ] (صحيح البخاري: ٢٠٢١) | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : د رمضان په اخرو لسو کې د ليلة القدر تالاش وکړئ ، په نهه ويشتمه کې ، په اوويشتمه کې او په پنځه ويشتمه کې پاتې ده . |
| ٣٨٤ - : عَنِ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وايي چې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنْهُمَا يَقُولُ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ الْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ - يَعْنِي لَيْلَةَ الْقَدْرِ - فَإِنْ ضَعُفَ أَحَدُكُمْ أَوْ عَجَزَ، فَلَا يُغْلَبَنّ عَلَى السّبْعِ الْبَوَاقِي ] (صحيح مسلم:١١٦٥) | | رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايلي دي : ليلة القدر په اخرنو لسو شپو کې ولټوئ که څوک درپکې بيا هم عاجزه شي نو په اوو تاقو کې دې بيخي نه مغلوبه کيږي . |
| ٣٨٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ أُرِيتُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ، ثُمّ أَيْقَظَنِي بَعْضُ أَهْلِي، فَنُسّيتُهَا فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْغَوَابِرِ ] ( صحيح مسلم : ١١٦٦ ) . | | د ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي : په خوب کې راته ليلة القدر وښودل شوه خو ځينې کوروالاو مې راويښ کړم نو راڅخه هېره شوه ، په راروانو لسو کې يې تالاش کړئ . |

WWW.LARHKUD.COM

| د حج بیان<br>حاجي صاحبان د الله میلمانه دي | | |
|---|---|---|
| ۳۸٦ - : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قال: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ وَفْدُ اللّٰهِ ثَلَاثَةٌ: الْغَازِي، وَالْحَاجُّ، وَالْمُعْتَمِرُ ] (سنن النسائي: ٢٦٢٥) | | د ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : درې قسمه خلک د الله میلمانه دي : غازي ، حاجی او معتمر . |
| حج او عمره ګناه او فقر ختموي | | |
| ۳۸۷ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ تَابِعُوا بَيْنَ الحَجِّ وَالعُمْرَةِ، فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الكِيرُ خَبَثَ الحَدِيدِ، وَالذَّهَبِ، وَالفِضَّةِ، وَلَيْسَ لِلْحَجَّةِ المَبْرُورَةِ ثَوَابٌ إِلَّا الجَنَّةُ ] (سنن الترمذي : ٨١٠ ) . | | د عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : حج او عمره بار بار کوئ ، دا دواړه غربت او ګناهونه داسې رژوي لکه بټۍ چې له اوسپنې نه او د سپینو او سرو زرو نه خیرې ( زنګ ) لرې کوي ، او د مقبول حج بدله له جنت پرته نور څه نشته |
| د حج ادبونه | | |
| ۳۸۸ - : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [ مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ، وَلَمْ يَفْسُقْ، رَجَعَ كَيَوْمِ | | د ابوهریرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې د رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ما اوریدلي دي هغه ویل : څوک چې حج وکړي او په دوران کې یې د ښځو متعلق خبرې ونه کړي ، ګناه ونه کړي ، د |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَلَدَتْهُ أُمُّهُ ] ( صحيح البخاري : ۱۵۲۱ ) . | | ګناهونو نه به داسې پاک راستون شي لکه په کومه ورځ چې له مور نه پیدا شوی وي . |
| ۳۸۹ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ مَنْ حَجَّ فَلَمْ يَرْفُثْ، وَلَمْ يَفْسُقْ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ ] ( سنن الترمذي : ۸۱۱ ) . | | د ابوهریرةرَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول صَلَّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : څوک چې حج وکړي او د ښځو متعلق او د ګناه خبرې ونه کړي ، ټول مخکني ګناهونه به ورته معاف شي . |
| ۳۹۰ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[ الْحَجَّةُ الْمَبْرُورَةُ: لَيْسَ لَهَا جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ، وَالْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا ] (سنن النسائي : ۲۶۲۲ ) . | | د ابوهریرة رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : د مقبول حج جزا له جنت پرته نور څه نه ده ، او یوه عمره تر بلې عمرې پورې ګناهونه رژوي . |
| طواف کول او د حجر اسود مچه ول ګناهونه رژوي | | |
| ۳۹۱ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، أَنَّ رَجُلًا قَالَ: [ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ مَا أَرَاكَ تَسْتَلِمُ إِلَّا هَذَيْنِ الرُّكْنَيْنِ؟ قَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ مَسْحَهُمَا: يَحُطَّانِ الْخَطِيئَةَ، وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: مَنْ طَافَ سَبْعًا ، فَهُوَ كَعِدْلِ رَقَبَةٍ ] ( سنن النسائي : ۲۹۱۹ ) . | | عبدالله بن عبید بن عمیر وایي : یو سړي وویل : ای ابو عبدالرحمن ! زه دې وینم چې له رکنینو پرته نور څه نه مچې کوې ؟ هغه ورته وویل : ما له رسول الله صَلَّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې د دې دواړو مچې کول ګناهونه رژوي ، او دا مې ترې هم اوریدلي دي : څوک چې اووه ځله طواف وکړي د یو غلام د ازادولو په څیر ثواب به یې وشي . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| په رمضان کې د عمرې کولو ثواب | | |
| ٣٩٢ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِامْرَأَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ: [ إِذَا كَانَ رَمَضَانُ فَاعْتَمِرِي فِيهِ، فَإِنَّ عُمْرَةً فِيهِ تَعْدِلُ حَجَّةً ] ( سنن النسائي : ٢١١٠ ) . | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یوې انصارې ښځې ته وویل : چې کله رمضان وي نو عمره پکې کوه، په رمضان کې عمره کول د حج ثواب سره برابر دي . |
| ٣٩٣ - : عَنْ أَبِي مَعْقِلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ عُمْرَةٌ فِي رَمَضَانَ، تَعْدِلُ حَجَّةً ] (سنن ابن ماجه: ٢٩٩٣) | | د ابومعقل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : په رمضان کې عمره کول د حج په څېر ثواب لري . |
| د ښځو حج جهاد کول دي | | |
| ٣٩٤ - : عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: اسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الجِهَادِ، فَقَالَ جِهَادُكُنَّ الحَجُّ ] (صحيح البخاري:٢٨٧٥) | | د عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روایت دی چې ما د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه جهاد ته د تللو اجازه وغوښتله ، هغه را ته وویل : ستاسو حج کول جهاد کول دي . |
| ٣٩٥ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ عَلَى النِّسَاءِ جِهَادٌ؟ قَالَ: " نَعَمْ، عَلَيْهِنَّ جِهَادٌ، لَا قِتَالَ فِيهِ: الْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ ] (سنن ابن ماجه: ٢٩٠١) | | عایشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وایي ما له نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه وپوښتل چې ایا په ښځو جهاد کول شته ؟ هغه وویل : هو ، خو جنګ په کې نشته : حج او عمره یې جهاد دي |

WWW.LARHKUD.COM

### ډېر بد نصیبه انسان څوک دی؟

٣٩٦ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ قَالَ اللّٰهُ: إِنَّ عَبْدًا صَحَّحْتُ لَهُ جِسْمَهُ، وَوَسَّعْتُ عَلَيْهِ فِي الْمَعِيشَةِ يَمْضِي عَلَيْهِ خَمْسَةُ أَعْوَامٍ لَا يَفِدُ إِلَيَّ لَمَحْرُومٌ ] ( صحيح ابن حبان : ٣٧٠٣ ).

د ابوسعيد الخدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : الله وايي : هغه بنده چې بدني صحت مې ورکړی دی ، ژوند مې پرې پراښه کړی دی او پنځه کلونه پرې تېر شي او ما ته رانه شي ( حج ونه کړي ) ډېر بې برخې انسان دی .

### د حج فرضيت

٣٩٧ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: خَطَبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ، فَقَالَ: [ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ، قَدْ فَرَضَ عَلَيْكُمُ الْحَجَّ»فَقَالَ رَجُلٌ: فِي كُلِّ عَامٍ؟ فَسَكَتَ عَنْهُ حَتَّى أَعَادَهُ ثَلَاثًا، فَقَالَ: لَوْ قُلْتُ نَعَمْ، لَوَجَبَتْ، وَلَوْ وَجَبَتْ، مَا قُمْتُمْ بِهَا، ذَرُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ، فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِكَثْرَةِ سُؤَالِهِمْ، وَاخْتِلَافِهِمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ، فَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِالشَّيْءِ فَخُذُوا بِهِ مَا اسْتَطَعْتُمْ، وَإِذَا

د ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلکو ته خطبه وکړه ويويل : په تاسو باندې الله حج فرض کړی دی يو سړي وويل : په هر کال کې ؟ هغه خاموش خوسړي پوښتنه درې ځله تکرار کړه ، بيا يې وويل : که هو مې ويلی وی نو درباندې فرض شوی به وی او چې فرض شوی وی نو بيا به مو نه شوی کولی ، تر څو چې مو زه پرېږدم ما پرېږدئ ، ستاسو نه مخکې خلک هم په دې هلاک شوي وو چې ډېرې پوښتنې به يې کولې او د پيغمبرانو سره به يې اختلاف کو ، زه چې درته په څه شي امر وکړم دومره وکړئ چې ستاسو توان وي ، او له څه چې مو منعه کړم بيخې

WWW.LARIKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ، فَاجْتَنِبُوه ] ( سنن النسائي : ۲٦۱۹ ) | | ترې رابند شئ . |
| فرض حج راروان کال ته وروسته کولای شي ! | | |
| ۳۹۸ - : عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ فِي قَوْلِهِ بَرَاءَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ، قَالَ: لَمَّا قَفَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حُنَيْنٍ، اعْتَمَرَ مِنَ الْجِعْرَانَةِ، ثُمَّ أَمَّرَ أَبَا بَكْرٍ عَلَى تِلْكَ الحَجَّةِ ] (صحيح ابن حبان : ۳۷۰۷) | | په ( بَرَاءَةٌ مِنَ اللَّهِ ) په تفسير کې ابن المسيب له ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه نقلوي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له حنين څخه راستون شو ، له جعرّانې مقام نه يې عمره وکړه او ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته يې امر وکړ چې د حج مشري وکړي . |
| د مکې غوره والی | | |
| ۳۹۹ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَدِيّ بْنِ حَمْرَاءَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفًا عَلَى الحَزْوَرَةِ فَقَالَ: [ وَاللَّهِ إِنَّكِ لَخَيْرُ أَرْضِ اللَّهِ، وَأَحَبُّ أَرْضِ اللَّهِ إِلَى اللَّهِ، وَلَوْلَا أَنِّي أُخْرِجْتُ مِنْكِ مَا خَرَجْتُ ] ( سنن الترمذي : ۳۹۲۵ ) . | | عبد الله بن عديرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي : نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مې مکه کې په حزوره مقام کې ولاړ وليد او ويل يې : لوړه په رب لايزال چې ته د الله غوره ترينه او هغه ته ډېره محبوبه ځمکه يې ، که زه درنه په زوره نه ويستل کيدی درڅخه نه وتلم . |
| ٤۰۰ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَكَّةَ: [ مَا أَطْيَبَكِ مِنْ بَلَدٍ، وَأَحَبَّكِ إِلَيَّ، وَلَوْلَا أَنَّ قَوْمِي أَخْرَجُونِي مِنْكِ مَا سَكَنْتُ غَيْرَكِ ] | | عبد الله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مکې ته ووېل : څومره خوږ ښار يې ! ما ته څومره ګرانه يې ! خو که قوم مې له تا څخه نه ويستلم ستا نه بغير به په بل ښار کې نه اوم اوسيدلی . |

WWW.LARIKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ( سنن الترمذي : ۳۹۲۶ ) . | | |
| **حجر اسود او مقام ابراهيم جنتي ياقوت دي** | | |
| ۴۰۱ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنَ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُولُ [سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَهُوَ مُسْنِدٌ ظَهْرَهُ إِلَى الْكَعْبَةِ: الرُّكْنُ وَ الْمَقَامُ يَاقُوتَتَانِ مِنْ يَوَاقِيتِ الْجَنَّةِ ، وَلَوْلَا أَنَّ اللّٰهَ طَمَسَ عَلَى نُورِهِمَا لَأَضَاءَتَا مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ ] (صحيح ابن حبان: ۳۷۱۰ ) | | عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي : ما د نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه واورېدل ويل يې او كعبې ته يې تكيه وهلې وه : حجر اسود او مقام ابراهيم د جنت دوه ملغلري دي ، خو كه الله يې ځلاګاني نه وې اخستې د مشرق اومغرب ترمنځ ټوله ساحه به يې رڼا كړې وه . |
| **حجر اسود به د خلكو لپاره ګواهي وركوي** | | |
| ۴۰۲ - : عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الحَجَرِ: [ وَاللّٰهِ لَيَبْعَثَنَّهُ اللّٰهُ يَوْمَ القِيَامَةِ لَهُ عَيْنَانِ يُبْصِرُ بِهِمَا، وَلِسَانٌ يَنْطِقُ بِهِ، يَشْهَدُ عَلَى مَنْ اسْتَلَمَهُ بِحَقٍّ ] (سنن الترمذي: ۹۶۱) | | د ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حجر اسود متعلق ويلي دي : لوړه رب لايزال چې د قيامت په ورځ به الله حجر اسود داسې راجوړ كړي چې ليدلو والا ستركې ، د خبرې والا ژبه به يې وي او چا چې لاس وروړی وي د هغه په حق كې به ګواهي وركوي . |
| **په مكه كې اسلحې ګرځول منعه دي !** | | |
| ۴۰۳ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [ لَا يَحِلُّ لِأَحَدِكُمْ أَنْ يَحْمِلَ بِمَكَّةَ السِّلَاحَ ] (صحيح | | د جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ما د نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي ويل يې : تاسو كې د هېڅ چا لپاره روا نه دي چې په مكه كې اسلحې وګرځوي . |

WWW.LARHIKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| مسلم: ١٣٥٦ ) | | |
| مدينه هم د مكې په څېر حرامه ده ! | | |
| ٤٠٤ - : عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [ مَا كَتَبْنَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا الْقُرْآنَ وَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْمَدِينَةُ حَرَامٌ مَا بَيْنَ عَائِرٍ إِلَى كَذَا، فَمَنْ أَحْدَثَ حَدَثًا أَوْ آوَى مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ عَدْلٌ وَلاَ صَرْفٌ، وَذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ، يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ، فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلاَ عَدْلٌ، وَمَنْ وَالَى قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلاَ عَدْلٌ ] (صحيح البخاري: ٣١٧٩) | | علي رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ وايي : مونږ د نبي كريم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ له قران او په دې كتاب كې بغېر نور څه نه دي ليكلي ، نبي كريم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي : د عائر له غر څخه تر دومره پورې مدينه هم حرامه ده ، څوک چې په كې بدعتونه وكړي اويا مبتدعينو ته ځای وركړي په هغوی دې د الله ، د ملائكو او د ټولو خلكو لعنت وي ، هېڅ فرضي او نفلي عبادتونه به ترې قبول نه شي ، د مسلمانانو ذمه يوه ده ولو كه ادنى مسلمان هم وي ، څوک چې د مسلمان ذمه ماته كړي په هغه د الله او ملائكو او د ټولو خلكو لعنت وي ، هېڅ فرضي او نفلي عبادتونه به ترې قبول نه شي ، د بادارانو له اجازې پرته چې څوک د بل قوم سره مينه او محبت ولري په هغه دې د الله ، د ملائكو او د ټولو خلكو لعنت وي ، هېڅ فرضي او نفلي لمونځ به ترې قبول نه شي . |
| مكه كې فسادونه كول حرام دي | | |
| ٤٠٥ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ | | د ابن عباس رَضِيَ اللّهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې نبي |

WWW.ARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ حَرَّمَ اللَّهُ مَكَّةَ فَلَمْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي، وَلاَ لِأَحَدٍ بَعْدِي، أُحِلَّتْ لِي سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ، لاَ يُخْتَلَى خَلاَهَا وَلاَ يُعْضَدُ شَجَرُهَا، وَلاَ يُنَفَّرُ صَيْدُهَا، وَلاَ تُلْتَقَطُ لُقَطَتُهَا إِلَّا لِمُعَرِّفٍ» فَقَالَ العَبَّاسُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: إِلَّا الإِذْخِرَ لِصَاغَتِنَا وَقُبُورِنَا؟ فَقَالَ: إِلَّا الإِذْخِرَ ] ( صحيح البخاري : ٢٠٩٠ ) | | کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : الله پاک مکه حرامه کړېده ، له ما نه مخکې یا وروسته د هیڅ چا لپاره حلاله نه ده ، د ورځې لږ وخت زما لپاره حلاله شوې وه ، نه به یې واښه او ګیاګانې ریبلی شي او نه به یې ونې غوڅولی شي او نه بې ښکار څغلولی شي او نه به یې راولیدلي شیان راختسلی شي مګر په دې خاطر راخستلی شي چې د ورکړې لپاره یې خلکو ته وپیژني ، عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وویل : سرګړی نه د الله رسوله ! چې زمونږ زرګران یې به بنو او زمونږ په قبرونو کې مصرف کیږي ، هغه وویل : سرګړی ناروا نه دی |
| ٤٠٦ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ دَخَلَ عَامَ الفَتْحِ، وَعَلَى رَأْسِهِ المِغْفَرُ، فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ: إِنَّ ابْنَ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الكَعْبَةِ فَقَالَ : اقْتُلُوهُ ] ( صحيح البخاري : ١٨٤٦ ) . | | د انس بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکې د فتح په ورځ مکې ته ننوت او په سر یې جنګي خولۍ وه ، کله چې یې لرې کړه یو سړی راغی ورته یې وویل : ابن خطل د کعبې پردو پسې نښتی دی ، نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل : مړ یې کړئ |
| د مدینې غوره والی ! | | |
| ٤٠٧ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ أُمِرْتُ بِقَرْيَةٍ تَأْكُلُ القُرَى، يَقُولُونَ يَثْرِبُ، وَهِيَ | | د ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : ما ته یوکلي ته په تللو امر شوی دی چې په ټولو ښارونو به لوړه وي ( یا د هر کلي رزق به خوري ددوي په لاسونو به نور کلي فتحه کیږي اودوی به یې غنیمتونه خوري )او خلک ورته یثرب وایي |

WWW.LARPIKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| الْمَدِينَةُ، تَنْفِي النَّاسَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ ] ( صحيح البخاري : ۱۸۱۷ ) . | | ، په حقيقت کې دغه کلی بې ايمانه خلک داسې ختموي لکه اور چې د وسپنې زنګ ختموي . |
| د احد د غر فضيلت | | |
| ۴۰۸ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ طَلَعَ لَهُ أُحُدٌ فَقَالَ: هَذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ، اللَّهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ، وَإِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا ] ( صحيح البخاري : ۳۳۶۷ ) | | د انس بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د احد غر راښکاره شو ، نو ويويل : دا غر له مونږ سره محبت لري او مونږ هم ورسره محبت لرو، ای الله! ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام مکه حرامه کړې ده او زه د دواړو کاڼرجنو ميرو ترمنځ مدينه حراموم . |
| مدينه د ايمان اخرنی ځای دی | | |
| ۴۰۹ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ إِنَّ الْإِيمَانَ لَيَأْرِزُ إِلَى الْمَدِينَةِ، كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا ] ( صحيح مسلم : ۱۴۷ ) . | | د ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : مدينې ته به ايمان داسې راغونډ شي لکه مار چې خپلې سوړې (سوراخ) ته راغونډيږي . |
| مدينې ته دجال نه شي ننوتلای | | |
| ۴۱۰ -: عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ أَبْشِرُوا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ، لَا يَدْخُلُهَا | | د فاطمې بنت قيس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : ای مسلمانانو مبارک شئ ، دجال مدينې ته نه شي ننوتلای . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| الدَّجَّالُ ] (صحیح ابن حبان:۳۷۳۰ ) | | |
| ۴۱۱ - : عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ [لَا يَدْخُلُ المَدِينَةَ رُعْبُ المَسِيحِ، لَهَا يَوْمَئِذٍ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ عَلَى كُلِّ بَابٍ مَلَكَانِ ] ( صحیح البخاري : ۷۱۲۶ ) | | د ابوبکر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : مدینې ته د مسیح الدجال رعب ډار هم ونه ننوځي ، دغه مهال به مدینه اووه دروازې لري او په هره دروازه به یې دوه دوه ملائک ولاړ وي . |
| په مدینه کې د مرګ غوره والی | | |
| ۴۱۲ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَمُوتَ بِالْمَدِينَةِ، فَلْيَفْعَلْ، فَإِنِّي أَشْهَدُ لِمَنْ مَاتَ بِهَا ] (سنن ابن ماجه : ۳۱۱۲ ) . | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : که د چا توان وي چې مدینه کې مړ شي نو مړ دې شي ، په مدینه کې چې څوک مړ شي زه به ورله د ایمان ګواهي کوم . |
| د مدینې والا سره د دوکې سزا | | |
| ۴۱۳ -: عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: [ لَا يَكِيدُ أَهْلَ المَدِينَةِ أَحَدٌ، إِلَّا انْمَاعَ كَمَا يَنْمَاعُ المِلْحُ فِي المَاءِ ] ( صحیح البخاري : ۱۸۷۷ ) . | | د سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې ما د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي : هیڅ څوک د مدینې والا سره دوکه نه کوي مګر داسې به ویلی شي لکه مالګه چې په اوبو کې ویلي کیږي . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٤١٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ أَرَادَ أَهْلَ هَذِهِ الْبَلْدَةِ بِسُوءٍ - يَعْنِي الْمَدِينَةَ - أَذَابَهُ اللَّهُ كَمَا يَذُوبُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ ] ( صحيح مسلم : ١٣٨٦ ). | | د ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : د دې ښار ( مدینې ) والا باندې که هر څوک بده اراده ولري الله پاک به یې داسې ویلي کړي لکه په اوبو کې چې مالګه ویلي کیږي. |
| ٤١٥ - : عَنِ السَّائِبِ بْنِ خَلَّادٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ مَنْ أَخَافَ أَهْلَ الْمَدِينَةِ ظُلْمًا أَخَافَهُ اللَّهُ وَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لَا يَقْبَلُ اللَّهُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا ] (مسند احمد: ١٦٥٥٧ ) | | د سائب بن خلاد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : څوک چې په ناحقه د مدینې والا وډاروي ، الله به یې وډاروي او په هغه دې د الله ، د ټولو ملائکو او د ټولو خلکو لعنت وي ، د قیامت په ورځ به ترې الله پاک هیڅ فرضي او نفلي عبادتونه قبول نه کړي. |
| ٤١٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ لَا يَصْبِرُ عَلَى لَأْوَاءِ الْمَدِينَةِ وَشِدَّتِهَا أَحَدٌ مِنْ أُمَّتِي، إِلَّا كُنْتُ لَهُ شَفِيعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَوْ شَهِيدًا ] ( صحيح مسلم : ١٣٧٨ ) | | د ابوهریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : زما له امت نه د مدینې په ولږې او ګرمۍ هیڅ څوک صبر نه کوي مګر زه به ورله د قیامت په ورځ سفارش او یا ګواهي ورکوم. |
| مدینه بابرکته ده | | |
| ٤١٧ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ | | د ابوسعید الخدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايلي دي : اى الله ! زمونږ په صاع او مد کې برکت واچوه ، اى الله ! يو برکت دوه چنده کړه . | | رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [ اللهُمّ بَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَمُدِّنَا، وَاجْعَلْ مَعَ الْبَرَكَةِ بَرَكَتَيْنِ ] (صحيح مسلم: ۱۳۷٤) |
| د ممبرنبوي ځاى د جنت توکړه ده | | |
| د ام سلمة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي : زما د ې ممبره پښې په جنت کې دي . | | ٤١٨ - : عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنّ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [ إِنّ قَوَائِمَ مِنْبَرِي هَذَا رَوَاتِبُ فِي الْجَنّةِ ] ( سنن النسائي : ٦٩٦ ) |
| په مسجد نبوي کې جنتي ځاى | | |
| د ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: زما د کور او ممبر ترمنځ ځاى د جنت له باغيچو څخه يوه باغيچه ده ، او زما ممبر زما په حوض باندې دى . | | ٤١٩ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ [ مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الجَنّةِ، وَمِنْبَرِي عَلَى حَوْضِي ] (صحيح البخاري: ۱۱۹٦ ) |
| جزيرة العرب صرف د مسلمان هستوګنځاى دى | | |
| عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما د رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ نه اوريدلي دي ويل يې : زه به هرومرو يهودان او نصرانيان د عربانو له | | ٤٢٠ - : عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَقُولُ: [ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| لَأُخْرِجَنّ الْيَهُودَ، وَالنّصَارَى مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ حَتّى لَا أَدَعَ إِلّا مُسْلِمًا ] ( صحيح مسلم : ۷٦۷ ) | | جزیرې نه اوباسم ، تر دې چې له مسلمان پرته به هیڅ څوک پرې نه ږدم. |
| که د سورلۍ توان څوک لري ، پیدل حج ترې هم صحیح کیږي ! | | |
| ٤٢١ - : عَنِ ابْنِ عَبّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ مَرّ بِوَادِي الْأَزْرَقِ، فَقَالَ: [ أَيُّ وَادٍ هَذَا ؟ فَقَالُوا: هَذَا وَادِي الْأَزْرَقِ، قَالَ: كَأَنّي أَنْظُرُ إِلَى مُوسَى عَلَيْهِ السّلَامُ هَابِطًا مِنَ الثّنِيّةِ، وَلَهُ جُؤَارٌ إِلَى اللّٰهِ بِالتّلْبِيَةِ ، ثُمّ أَتَى عَلَى ثَنِيّةِ هَرْشَى، فَقَالَ: أَيُّ ثَنِيّةٍ هَذِهِ؟ قَالُوا: ثَنِيّةُ هَرْشَى، قَالَ: كَأَنّي أَنْظُرُ إِلَى يُونُسَ بْنِ مَتّى عَلَيْهِ السّلَامُ عَلَى نَاقَةٍ حَمْرَاءَ جَعْدَةٍ عَلَيْهِ جُبّةٌ مِنْ صُوفٍ، خِطَامُ نَاقَتِهِ خُلْبَةٌ وَهُوَ يُلَبّي ] ( صحيح مسلم : ١٦٦ ) . | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په وادي ازرق ( د ازرق په خوړ ) تیرېده ویویل : دا کوم وادي دی ؟ خلکو ورته وویل : وادي ازرق دی ، هغه وویل : لکه زه چې اوس هم موسی علیه السلام ته ګورم او له ثنیة الوداع ( د وداع له لارې ) ښخه راښکته کیږي او په لوړ اواز تلبیه وايي ، بیا په ثنیة الهرشی ( جحفې ته نږدې د غر نوم دی ) راتیرېده ویویل : دا کومه لاره ده ؟ هغوی وویل : دا د هرشی لاره ده ، هغه وویل : لکه زه چې اوس هم یونس بن متی علیه الصلاة والسلام ته ګورم ، او په سره اوښه چې په غوښه ډکه ده ناسته وي ، او د وړیو چپن یې اچولې وي ، د اوښې مهار یې له وچې ګیا ( واښو ) وي ، اوتلبیه وايي . |
| له محرم پرته به ښځه حتی چې حج هم نه کوي | | |
| ٤٢٢ - :عَنْ ابْنِ عَبّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَا يَقُولُ:[ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ | | عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا وايي چې ما د رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ نه اوریدلي دي چې په ممبر یې خطبه کوله یو سړی ور ولاړ شو او ویویل |

WWW.DARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| يَخْطُبُ، فَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ اكْتُتِبْتُ فِي غَزَاةِ كَذَا وَكَذَا، وَخَرَجَتِ امْرَأَتِي حَاجَّةً، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اذْهَبْ فَحُجَّ بِامْرَأَتِكَ ] ( صحيح ابن حبان : ٣٧٥٦ ) . | | : ای د الله رسوله ! په فلانکۍ غزا کې مې نوم لیکل شوی دی او ښځه مې حج ته روانه ده ، نبي کریم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل : لاړ شه او له ښځې سره دې حج وکړه . |
| ٤٢٣ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ لاَ تُسَافِرِ المَرْأَةُ إِلَّا مَعَ ذِي مَحْرَمٍ، وَلاَ يَدْخُلُ عَلَيْهَا رَجُلٌ إِلَّا وَمَعَهَا مَحْرَمٌ ، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أَخْرُجَ فِي جَيْشِ كَذَا وَكَذَا، وَامْرَأَتِي تُرِيدُ الحَجَّ، فَقَالَ: اخْرُجْ مَعَهَا ] ( صحيح البخاري : ١٨٦٢ ) . | | د ابن عباس رَضِيَ اللّهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : ښځه به سفر نه کوي مګر دا چې محرم ورسره وي ، او تر هغه به ورته څوک نه راځي تر څو محرم ورسره وي ، یو سړي وویل: د الله رسوله! زه غواړم چې فلانکۍ غزا کې لاړ شم او ښځې مې د حج اراده کړې ده ، نبي کریم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل : له ښځې سره دې ووځه (لاړشه). |
| د حج میقاتونه | | |
| ٤٢٤ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا [ أَنَّ رَجُلًا، قَامَ فِي المَسْجِدِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، مِنْ أَيْنَ تَأْمُرُنَا أَنْ نُهِلَّ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُهِلُّ أَهْلُ المَدِينَةِ مِنْ ذِي الحُلَيْفَةِ، | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې په مسجد کې یو سړی وپاځېد او ویویل : ای د الله رسوله ! ته مونږ ته د احرام په تړلو د کوم ځایه امر کوې ؟ رسول الله صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل : د مدینې والا به د ذوالحلیفه نه احرام تړي ، د شام خلک به یې د جحفې نه تړي ، د نجد خلک به |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَيُهِلُّ أَهْلُ الشَّأْمِ مِنَ الجُحْفَةِ، وَيُهِلُّ أَهْلُ نَجْدٍ مِنْ قَرْنٍ ، وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ وَيَزْعُمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: وَيُهِلُّ أَهْلُ اليَمَنِ مِنْ يَلَمْلَمَ ] ( صحيح البخاري : ۱۳۳ ) . | | يې د قرن منازل نه تړي ، ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي : خلک داسې ګمان هم کوي چې نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ دا هم فرمايلي دي چې د يمن خلک به د يلملم نه احرام تړي . |
| حاجي صيب به په حج کې کوم نوعه لباس اغوندي ! | | |
| ۴۲۵ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: [ قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا تَأْمُرُنَا أَنْ نَلْبَسَ إِذَا أَحْرَمْنَا؟ قَالَ: لاَ تَلْبَسُوا القَمِيصَ، وَالسَّرَاوِيلَ، وَالعَمَائِمَ، وَالبَرَانِسَ، وَالخِفَافَ، إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَجُلٌ لَيْسَ لَهُ نَعْلاَنِ فَلْيَلْبَسِ الخُفَّيْنِ أَسْفَلَ مِنَ الكَعْبَيْنِ، وَلاَ تَلْبَسُوا شَيْئًا مِنَ الثِّيَابِ مَسَّهُ زَعْفَرَانٌ وَلاَ وَرْسٌ ] ( صحيح البخاري : ۵۸۰۵ ) . | | عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا وايي چې يو سړی پاڅېد او ويويل : اى د الله رسوله ! ته مونږ ته په څه امر کوې کله چې احرام وتړو ؟ هغه ورته وويل : کميس مه اغوندئ ، پرتوګ مه اغوندئ ، پټکی ( پګړۍ ) او خولۍ مه په سروئ ، بوټان مه په خپو کوئ مګر دا چې يو سړی څپلۍ (کيړۍ) و نه لري نو موزې (بوټان) دې واچوي خو چې د خنګرو نه کم وي او هغه ډول پوښاک بيخي مه په تن کوئ چې زعفران او ورس (خوشبو) پرې لګيدلي وي . |
| د نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ عمرې | | |
| ۴۲۶ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَمَرَ أَرْبَعَ عُمَرٍ كُلُّهُنَّ فِي | | انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ څلور عمرې کړي دي او ټولې يې په ذوالقعده کې کړي دي مګر هغه عمره چې د حج يې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ذِي الْقَعْدَةِ إِلَّا الَّتِي مَعَ حَجَّتِهِ: عُمْرَةً مِنَ الْحُدَيْبِيَةِ، أَوْ زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ، وَعُمْرَةً مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ، وَعُمْرَةً مِنْ جِعْرَانَةَ حَيْثُ قَسَمَ غَنَائِمَ حُنَيْنٍ فِي ذِي الْقَعْدَةِ، وَعُمْرَةً مَعَ حَجَّتِهِ ] ( صحيح مسلم : ۱۲۵۳ ) . | | سره یو ځای وکړه ، د حدیبي عمره یې هم په ذوالقعده کې کړې وه ، د راروان کال عمره یې هم په ذوالقعده کې وکړه ، د حنین د غنیمتونو تقسیم وروسته یې په ذوالقعده کې بله عمره هم د جعرانې مقام نه وکړه او بله عمره یې د حج سره یو ځای وکړه . |
| له احرام نه مخکې خوشبو لګول روا دي | | |
| ٤٢٧ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: [ كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِإِحْرَامِهِ حِينَ يُحْرِمُ، وَلِحِلِّهِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ ] (صحيح البخاري: ۱۵۳۹) | | عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا وایي: ما به نبي صلی الله علیه وسلم باندې خوشبو لګوله د هغه د احرام له کبله چې احرام به یې تړو، او په هغه وخت کې به مې ورله خوشبو لګوله چې له طواف ا لافاضه نه مخکې به حلال شو. |
| ٤٢٨ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا قَالَتْ [كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ الطِّيبِ فِي مَفْرِقِ النَّبِيِّ صلّى الله عليه وسلم وَهُوَ مُحْرِمٌ ] (صحيح البخاري: ۲۷۱) | | د عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا نه روایت دی چې ګویاکې زه د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سر ( ویښتانو ) کې د خوشبو پړقا ( ځلا ) ته ګورم او هغه به محرم و. |
| ٤٢٩ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ | | عایشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا وایي: د ضباعه بنت زبیر کور |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنْهُا قَالَتْ [ دَخَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ عَلَى ضُبَاعَةَ بِنْتِ الزُّبَيْرِ، فَقَالَ لَهَا: لَعَلّكِ أَرَدْتِ الحَجّ؟ قَالَتْ: وَاللّٰهِ لاَ أَجِدُنِي إِلّا وَجِعَةً، فَقَالَ لَهَا: حُجّي وَاشْتَرِطِي، وَقُولِي: اللّهُمّ مَحِلّي حَيْثُ حَبَسْتَنِي ] ( صحيح البخاري : ٥٠٨٩ ) | | ته نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ راغی اوورته يې وويل : لکه چې د حج اراده دې کړې ده ؟ هغې وويل : په الله قسم چې ناجوړه يم ، هغه ورته وويل : حج دې وکړه او دا په کې شرط ولګوه چې ای الله! په کوم ځای کې چې دې رابنده کړم هلته به حلاله ( له احرام وتلې ) يم . |
| ٤٣٠ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ [ أَمَرَ النّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ عَلِيًّا أَنْ يُقِيمَ عَلَى إِحْرَامِهِ فَقَدِمَ عَلِيّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، بِسِعَايَتِهِ، قَالَ لَهُ النّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: بِمَ أَهْلَلْتَ يَا عَلِيّ؟ قَالَ: بِمَا أَهَلّ بِهِ النّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ: فَأَهْدِ، وَامْكُثْ حَرَامًا كَمَا أَنْتَ ، قَالَ: وَأَهْدَى لَهُ عَلِيّ هَدْيًا ] ( صحيح البخاري : ٤٣٥٢ ). | | د جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته امر وکړ چې په خپل احرام باقي پاتې شي ، علي بن ابي طالب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د حرم لپاره له ځان سره د هديې ځاروي راوستل ، نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ورڅخه وپوښتل د کوم حج نيت دې کړی دی؟ هغه ورته وويل: د څه نيت چې نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ کړی دی، هغه ورته وويل: د هديې ځاروي راوله او په احرام کې پاتې شه، جابررَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ورته د هديې ځاروي ورکړل |
| محرم به خوشبوي نه استعمالوي | | |
| ٤٣١ - : عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى عَنْ أَبِيهِ قَالَ: أَتَى النّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ رَجُلٌ وَهُوَ بِالْجِعْرَانَةِ، | | صفوان له خپل پلار نه روايت کوي چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ته په جعرانه کې يو سړی راغی او زه ورسره وم ، سړي چپن اغوستې وه او عطر |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَأَنَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَعَلَيْهِ مُقَطَّعَاتٌ-يَعْنِي جُبَّةً- وَهُوَ مُتَضَمِّخٌ بِالْخَلُوقِ، فَقَالَ: إِنِّي أَحْرَمْتُ بِالْعُمْرَةِ وَعَلَيَّ هَذَا، وَأَنَا مُتَضَمِّخٌ بِالْخَلُوقِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا كُنْتَ صَانِعًا فِي حَجِّكَ؟ قَالَ: أَنْزِعُ عَنِّي هَذِهِ الثِّيَابَ، وَأَغْسِلُ عَنِّي هَذَا الْخَلُوقَ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا كُنْتَ صَانِعًا فِي حَجِّكَ، فَاصْنَعْهُ فِي عُمْرَتِكَ ] ( صحيح مسلم : ۱۱۸۰ ) | | يې پرې وهلي وو ، ورته يې وويل : د عمرې لپاره مې احرام تړلی دی او دا خوشبوداره چپن راباندې پرته ده ، نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : په حج کې به څه کوې ؟ هغه ورته وويل : خپل دا کالي به اوباسم او خوشبو به له ځانه ووينځم ، نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : چې په حج کې څه کوې هغه په عمره کې هم وکړه . |
| د ضرورت په وخت کې حاجي پرتوګ او موزې هم استعمالولی شي | | |
| ٤٣٢ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَخْطُبُ يَقُولُ: [ السَّرَاوِيلُ، لِمَنْ لَمْ يَجِدِ الْإِزَارَ وَالْخُفَّانِ، لِمَنْ لَمْ يَجِدِ النَّعْلَيْنِ ] ( صحيح مسلم : ۱۱۷۸ ) . | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې ما د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي او هغه خطبه کوله : هغه څوک دې پرتوګ واغوندي چې لنګ ورسره نه وي ، او هغه څوک دې موزې په خپو کړي چې پڼې (څپلۍ) نه لري . |
| د غیرې ماشومانو حج کول هم صحیح دي | | |
| ٤٣٣ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ | | عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا وایي چې په |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ لَقِيَ رَكْبًا بِالرَّوْحَاءِ، فَقَالَ: مَنِ الْقَوْمُ؟ قَالُوا: الْمُسْلِمُونَ، فَقَالُوا: مَنْ أَنْتَ؟ قَالَ: رَسُولُ اللّٰهِ ، فَرَفَعَتْ إِلَيْهِ امْرَأَةٌ صَبِيًّا، فَقَالَتْ: أَلِهَذَا حَجٌّ؟ قَالَ: نَعَمْ، وَلَكِ أَجْرٌ ] ( صحيح مسلم : ١٣٣٦ ) | | روحاء کې د نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره خلک مخامخ شول ، پوښتنه يې ورنه وکړه چې څوک ياستئ ؟ هغوی وويل : مسلمانان يو . هغوی وويل : ته څوک يې ؟ هغه ورته وويل : زه د الله رسول يم ، يوې ښځې ورته ماشوم راپورته کړ اوورته يې وويل : ايا د ده حج صحيح دی ؟ هغه ورته وويل : هو او ستا لپاره په کې هم اجر دی . |
| **د نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تلبيې کلمات** | | |
| ٤٣٤ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا [ أَنَّ تَلْبِيَةَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالمُلْكَ، لاَ شَرِيكَ لَكَ ] ( صحيح البخاري : ١٥٤٩ ) . | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تلبيه دا وه : حاضر يم ای الله حاضر يم ، حاضر يم تا لره هيڅ شريک نشته حاضريم ، حمدونه ، نعمتونه او بادشاهي ستا ده تا لره شريک نشته . |
| **په تلبيه به اواز اوچتولی شي** | | |
| ٤٣٥ - : عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [جَاءَنِي جِبْرِيلُ فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ مُرْ أَصْحَابَكَ فَلْيَرْفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ بِالتَّلْبِيَةِ، فَإِنَّهَا مِنْ شِعَارِ الْحَجِّ ] ( | | د زيد بن خالد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته جبريل عَلَيْهِ السَّلَام راغی او ورته يې وويل : ملګرو ته دې امر وکړه چې په تلبيې اوازونه پورته کړي ، ځکه په لوړ اواز تلبيه ويل د حج نښنه ده . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| سنن ابن ماجه : ۲۹۲۳ ). | | |
| د احرام نه بغير مكې ته ننوتل جائز دي | | |
| ٤٣٦ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، دَخَلَ عَامَ الفَتْحِ، وَعَلَى رَأْسِهِ المِغْفَرُ، فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ: إِنَّ ابْنَ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الكَعْبَةِ فَقَالَ اقْتُلُوهُ ] (صحيح البخاري: ١٨٤٦) | | د انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ د مكې د فتح په ورځ مكې ته ننوت او په سر يې جنګي خولۍ وه، چې كله يې لرې كړه يو سړی ورته راغی او ويويل : ابن خطل د كعبې پردو پسې نښتی دی، هغه ورته وويل : مړ يې كړئ. |
| مكې ته له كومې لارې ننوتل مستحب دي | | |
| ٤٣٧ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: [ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ مِنْ كَدَاءٍ مِنَ الثَّنِيَّةِ العُلْيَا الَّتِي بِالْبَطْحَاءِ، وَخَرَجَ مِنَ الثَّنِيَّةِ السُّفْلَى ] ( صحيح البخاري : ١٥٧٦ ). | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې په بطحاء كې د ثنية العلياء د كداء له لارې نبي كريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ مكې ته ننوت او بيرته د ثنية السفلى له لارې ووت. |
| مكې ته له ننوتو وروسته به حاجي لومړی څه كوي | | |
| ٤٣٨ - : عَنْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا: [ أَنَّ أَوَّلَ شَيْءٍ بَدَأَ بِهِ حِينَ قَدِمَ مَكَّةَ أَنَّهُ تَوَضَّأَ، ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ، ثُمَّ حَجَّ ] ( صحيح مسلم : ١٢٣٥ ). | | د عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا نه روايت دی چې رسول صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ كله مكې ته ننوت لومړی يې اودس وكړ بيا يې له كعبې څخه طواف وكړ او بيا يې حج وكړ. |

WWW.LARHAUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| د حج او عمرې والا به ښنګه طواف کوي | | |
| ٤٣٩ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: [ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَدِمَ مَكَّةَ طَافَ بِالبَيْتِ سَبْعًا فَقَرَأَ: {وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى} فَصَلَّى خَلْفَ المَقَامِ، ثُمَّ أَتَى الحَجَرَ فَاسْتَلَمَهُ، ثُمَّ قَالَ: نَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللَّهُ وَقَرَأَ: {إِنَّ الصَّفَا وَالمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ} ] ( سنن الترمذي : ٢٩٦٧ ) . | | د جابر بن عبدالله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې ما د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي کله چې هغه مکې ته ننوت ، له کعبې يې اووه طوافه وکړل او بيا يې دا ايت ولوست {وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى} د مقام ابراهيم نه شاته يې دوه رکعته لمونځ وکړ بيا حجر اسود ته راغی او ښکل يې کړ بيا يې وويل : تاسو په هغه څه شروع وکړئ چې الله پرې شروع کړې ده او دا ايت يې ولوست {إِنَّ الصَّفَا وَالمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ} . |
| په طواف کې رمل کول سنت دي | | |
| ٤٤٠ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: [ رَمَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْحَجَرِ إِلَى الْحَجَرِ ثَلَاثًا، وَمَشَى أَرْبَعًا ] (صحيح مسلم: ١٢٦٢) | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې د حجر اسود نه تر حجر اسود پورې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درې ځله طواف کې رمل ( منډه ووهله ) او څلور ځله قلار ولاړ. |
| په طواف کې د درې منډو حکمت | | |
| ٤٤١ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ وَقَدْ وَهَنَتْهُمْ حُمَّى يَثْرِبَ فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ: إِنَّهُ | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله مکې ته راغی نو د يثرب ( مدينې ) تبو وهلي وو ، مشرکانو وويل : تاسو ته داسې خلک راروان دي چې د يثرب |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| يَقْدَمُ عَلَيْكُمْ قَوْمٌ قَدْ وَهَنَتْهُمْ الْحُمَّى وَلَقُوا مِنْهَا شَرًّا فَأَطْلَعَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ نَبِيَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَا قَالُوهُ: فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَرْمُلُوا الْأَشْوَاطَ الثَّلَاثَةَ، وَأَنْ يَمْشُوا بَيْنَ الرُّكْنَيْنِ فَلَمَّا رَأَوْهُمْ رَمَلُوا قَالُوا: هَؤُلَاءِ الَّذِينَ ذَكَرْتُمْ أَنَّ الْحُمَّى قَدْ وَهَنَتْهُمْ هَؤُلَاءِ أَجْلَدُ مِنَّا ] ( سنن ابي داود : ١٨٨٦) | | تبو ځپلي دي او حالت يې ورله خراب کړی دی ، الله پاک خپل پېغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مشرکانو په خبرو خبر کړ نو خپلو ملګرو ته يې امر وکړ چې په دريو لومړيو طوافونو کې منډه ووهئ، مشرکانو چې کله دوی په منډو وليدل ويويل : تاسو خو ويل چې تبو ځپلي دي ، دوی خو له مونږ هم چوست چالاکه دي . |
| مفرِد کولای شي د خپل حج لپاره يو طواف وکړي | | |
| ٤٤٢ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: [ لَمْ يَطُفِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا أَصْحَابُهُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ إِلَّا طَوَافًا وَاحِدًا] (صحيح مسلم:١٢١٥) | | جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او ملګرو يې د صفا مروه ترمنځ له يو طواف څخه زيات نه دی کړی |
| مشرک او لوڅ انسان به له کعبې نه طواف نه کوي | | |
| ٤٤٣ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بَعَثَهُ فِي الحَجَّةِ الَّتِي أَمَّرَهُ عَلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ حَجَّةِ الوَدَاعِ يَوْمَ النَّحْرِ فِي رَهْطٍ يُؤَذِّنُ فِي النَّاسِ : أَلَا لَا | | د ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حجة الوداع نه مخکې چې په کوم حج ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ امير ټاکلی و ورته يې امر کړی و چې د قربانۍ په ورځ خلکو ته اعلان وکړي : له دې کال وروسته به نه مشرک حج کوي او نه به له کعبې څخه لوڅ لغړ څوک طواف |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| يَحُجُّ بَعْدَ العَامِ مُشْرِكٌ، وَلاَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ ] (صحيح البخاري:١٦٢٢) | | کوي . |
| طواف کونکي لپاره د حجر اسود ښکلول مستحب دي | | |
| ٤٤٤ - : عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ جَاءَ إِلَى الحَجَرِ الأَسْوَدِ فَقَبَّلَهُ، فَقَالَ: [ إِنِّي أَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ، لاَ تَضُرُّ وَلاَ تَنْفَعُ، وَلَوْلاَ أَنِّي رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُكَ مَا قَبَّلْتُكَ ] (صحيح البخاري: ١٥٩٧) | | عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حجر اسود ته راغی او ورته یې وویل : زه پوهیږم چې ته کاڼی یې نه تکلیف او نه خیر رسولی شې خو که ما نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه و لیدلی چې ته یې ښکلولې نو ما به نه وې ښکل کړی . |
| د حجر اسود د ښکلولو طریقه | | |
| ٤٤٥ - : عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [ قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَيْفَ صَنَعْتَ فِي اسْتِلَامِ الْحَجَرِ؟ فَقُلْتُ: اسْتَلَمْتُ وَتَرَكْتُ، قَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَصَبْتَ ] (صحيح ابن حبان: ٣٨٢٣) | | د عبدالرحمن بن عوف رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې ما ته نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وویل : د حجر اسود ښکلولو سره دې څه وکړل ؟ ما ورته وویل : هم مې ښکل کړ او هم پرېښود ، هغه وویل : سم کار دې کړی دی . |
| حجر اسود ته اشاره کول هم بسنه کوي | | |
| ٤٤٦ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [ طَافَ النَّبِيُّ صَلَّى | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې له کعبې نه رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْبَيْتِ عَلَى بَعِيرٍ، كُلَّمَا أَتَى عَلَى الرُّكْنِ أَشَارَ إِلَيْهِ ] (صحيح البخاري:١٦١٢) | | طواف وکړ او په اوښ سپور و ، کله چې به حجر ته اسود ته راورسېد نو اشاره به یې ورته وکړه . |
| د رکن او حجر اسود ترمنځ دعا | | |
| ٤٤٧ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ السَّائِبِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [ مَا بَيْنَ الرُّكْنَيْنِ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ] (سنن ابي داود: ١٨٩٢ ) | | عبدالله بن سائب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي ما له رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې د حجراسود او رکن یماني ترمنځ یې دا دعا وویله :ای زمونږ ربه ! په دنیا کې راته خیر او په اخرت کې راته جنت راکړه او د اور له عذاب نه مو وساته . |
| په طواف کې د کعبې ښکلول نشته | | |
| ٤٤٨ - : عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ، عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: [ لَمْ أَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُ مِنَ البَيْتِ إِلَّا الرُّكْنَيْنِ اليَمَانِيَيْنِ ] (صحيح البخاري:١٦٠٩) | | سالم له خپل پلار عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهما نه روایت کوي چې ما نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دی لیدلی چې له یمني رکنینو پرته یې د کعبې له نورې برخې سره لاس لګولی وي |
| که خلکو ته تکلیف نه و په سیورلۍ هم طواف کېدای شي | | |
| ٤٤٩ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ [ طَافَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْبَيْتِ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ عَلَى رَاحِلَتِهِ يَسْتَلِمُ الْحَجَرَ بِمِحْجَنِهِ، لِأَنْ يَرَاهُ | | د جابر بن عبدالله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حجة الوداع کې له کعبې نه په خپلې سورلۍ طواف وکړ په امسا به یې حجر اسود ښکلو ، د دې لپاره چې خلک یې ووینې او پوښتنې ترې وکړي ځکه چې خلکو په |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| النّاسَ وَلِيُشْرِفَ وَلِيَسْأَلُوهُ، فَإِنّ النّاسَ غَشُوهُ ] ( صحيح مسلم : ۱۲۷۳ ) . | | خپلو ځانونو کې پټ کړی و . |
| حائضه له طواف پرته هرڅه کولی شي | | |
| ٤٥٠ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا قَالَتْ : خَرَجْنَا لاَ نَرَى إِلّا الحَجّ، فَلَمّا كُنّا بِسَرِفَ حِضْتُ، فَدَخَلَ عَلَيّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وَأَنَا أَبْكِي، قَالَ: مَا لَكِ أَنُفِسْتِ؟ قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: إِنّ هَذَا أَمْرٌ كَتَبَهُ اللّٰهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ، فَاقْضِي مَا يَقْضِي الحَاجُّ، غَيْرَ أَنْ لاَ تَطُوفِي بِالْبَيْتِ قَالَتْ: وَضَحّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ عَنْ نِسَائِهِ بِالْبَقَرِ ] ( صحيح البخاري : ۲۹٤ ) | | عائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا وايي: د حج لپاره ووتوو ، سرف ته په رسېدو زه حائضه شوم ، نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ رانږوت او ما ژړل ، راته يې وويل: ولې؟ ايا حائضه شوې يې؟ ما ورته وويل: هو، هغه وويل: دا مرض الله پاک د ادم په لورګانو ليکلی دی ، حاجيان چې څه کوي ته يې هم کوه خو له کعبې نه طواف مه کوه ، هغه وايي : نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ له خپلو ښځو بيانو اضحيه کې غوا قرباني کړه. |
| د صفا او مروه ترمنځ سعي فرض ده | | |
| ٤٥١ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [كَانَتِ الْأَنْصَارُ يَكْرَهُونَ أَنْ يَطُوفُوا بَيْنَ الصّفَا وَالْمَرْوَةِ، حَتّى نَزَلَتْ: إِنّ الصّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِاللّٰهِ، فَمَنْ حَجّ الْبَيْتَ أَوِ | | د انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې د صفا او مروه ترمنځ سعي به انصارو بنه نه ګڼله تر دې چې دا ايت نازل شو ( ترجمه : صفا او مروه د الله اسلامي شعاير ( نښې ) دي ځوک چې حج يا عمره کوي نو که سعيه په کې وکړي هيڅ ګناه پرې نشته ) . |

WWW.LARAKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا ] ( صحيح مسلم : ۱۲۷۸ ) | | |
| په صفا او مروه کې به کومه دعا لوستلی شي | | |
| ۴۵۲ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا وَقَفَ عَلَى الصَّفَا يُكَبِّرُ ثَلَاثًا، وَيَقُولُ: [ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ يَصْنَعُ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، وَيَدْعُو، وَيَصْنَعُ، عَلَى الْمَرْوَةِ مِثْلَ ذَلِكَ ] ( سنن النسائي : ۲۹۷۲ ). | | د جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله په صفا ودرېد درې ځله به يې تکبير ووايه او بيا به يې ويل : د عبادت لائق له الله پرته نور څوک نشته او هېڅ شريک نه لري ، هغه لره بادشاهي او ثنا ده او هغه په هر څه توان او قدرت لري ، دا به يې درې ځله ويل ، دعاګانې به يې هم وکړې او په مروه کې به يې هم دغه شان کول . |
| له مکې څخه منی ته تلل | | |
| ۴۵۳ - : عَنْ عَبْدِ العَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ، قَالَ: [ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قُلْتُ: أَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ عَقَلْتَهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَيْنَ صَلَّى الظُّهْرَ وَالعَصْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ؟ قَالَ: بِمِنًى قُلْتُ:فَأَيْنَ صَلَّى العَصْرَ يَوْمَ النَّفْرِ؟ قَالَ: بِالأَبْطَحِ، ثُمَّ قَالَ: افْعَلْ كَمَا يَفْعَلُ أُمَرَاؤُكَ ] ( صحيح البخاري : ۱۶۵۳ | | عبدالعزيز بن رفيع وايي : ما له انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه وپوښتل: ما په داسې څه وخبروه چې تا له نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه زده کړي وي چې د ترويه په ورځ ( اتم ذوالحجه ) کې يې د ماسپښنين او مازديګر لمونځونه چرته کړي دي ؟ هغه وويل : په منی کې . ما ورته وويل : د مازديګر لمونځ يې د اختر په دوهم ورځ چرته کړی دی ؟ هغه وويل : په ابطح کې ، بيا يې راته وويل : ته دې د خپلو اميرانو په څېر کارونه ترسره کړه . |

| | | |
|---|---|---|
| ). | | |
| له منی څخه عرفات ته تلونکی به کوم اذکار وايي؟ | | |
| ٤٥٤ - : عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ الثَّقَفِيِّ، [ أَنَّهُ سَأَلَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، وَهُمَا غَادِيَانِ مِنْ مِنًى إِلَى عَرَفَةَ: كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ فِي هَذَا الْيَوْمِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ: كَانَ يُهِلُّ الْمُهِلُّ مِنَّا، فَلَا يُنْكَرُ عَلَيْهِ، وَيُكَبِّرُ الْمُكَبِّرُ مِنَّا، فَلَا يُنْكَرُ عَلَيْهِ ] ( صحيح مسلم : ۱۲۸٥ ). | | محمد بن ابي بكر ثقفي له انس بن مالک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ څخه وپوښتل په داسې حال کې چې دواړه له منی څخه عرفات ته سهار وختي راروان وو: په دې ورځ به تاسو له رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ملتيا څه کول ؟ هغه وويل : چا به لَاۤاِلَهَ اِلَّااللّٰهُ ويل او چا به تکبيرات ويل ، خو يو به بل نه ملامته کو . |
| په عرفات کې قيام د حج رکن دی | | |
| ٤٥٥ - : عَنْ عُرْوَةَ بْنِ مُضَرِّسٍ الطَّائِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [ أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَوْقِفِ يَعْنِي بِجَمْعٍ قُلْتُ: جِئْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مِنْ جَبَلِ طَيِّئٍ أَكْلَلْتُ مَطِيَّتِي وَأَتْعَبْتُ نَفْسِي وَاللَّهِ مَا تَرَكْتُ مِنْ حَبْلٍ إِلَّا وَقَفْتُ عَلَيْهِ فَهَلْ لِي مِنْ حَجٍّ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَدْرَكَ مَعَنَا هَذِهِ الصَّلَاةَ، وَأَتَى عَرَفَاتٍ، قَبْلَ ذَلِكَ لَيْلًا أَوْ نَهَارًا، فَقَدْ تَمَّ حَجُّهُ، وَقَضَى تَفَثَهُ ] ( سنن ابي داود : ۱۹٥۰ | | عروة بن مضرّس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي : زه رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د عرفې په ورځ راغلم او ورته مې وويل : د الله رسوله ! دطي له غرونو څخه اوس راورسېدم ، خپله سورلۍ مې هم ستړې کړه او ځان مې هم ستومانه کړ ، په هرې غونډه کۍ ودرېدم ايا حج مې دروست دی ؟ هغه ورته وويل : دا لمونځ چې مونږ سره هر چا کړی وي او عرفات ته يې حضور کړی وي شپه وي او که ورځ وي حج يې پوره او موخه يې بشپړه شوه . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ) | | |
| په عبادتونو باندې الله پاک فخر کوي | | |
| ٤٥٦ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: [ صَلَّيْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَغْرِبَ، فَرَجَعَ مَنْ رَجَعَ، وَعَقَّبَ مَنْ عَقَّبَ، فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْرِعًا، قَدْ حَفَزَهُ النَّفَسُ، وَقَدْ حَسَرَ عَنْ رُكْبَتَيْهِ، فَقَالَ:أَبْشِرُوا، هَذَا رَبُّكُمْ قَدْ فَتَحَ بَابًا مِنْ أَبْوَابِ السَّمَاءِ، يُبَاهِي بِكُمُ الْمَلَائِكَةَ، يَقُولُ:انْظُرُوا إِلَى عِبَادِي قَدْ قَضَوْا فَرِيضَةً، وَهُمْ يَنْتَظِرُونَ أُخْرَى ] ( سنن ابن ماجه : ٨٠١ ) . | | د عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې مونږ د ماښام لمونځ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وکړ ، له لمونځ وروسته څوک ولاړل او څوک د دعا یا پوښتنې لپاره ناست وو ، نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له توندۍ سره په ساه تیګاه راغی او ویویل : مبارک مو شه ، ستاسو رب د اسمان دروازه ببرته کړې ده او ملائکو ته په تاسو باندې فخر کوي او ورته وایي : زما بندګانو ته وګورئ چې یو فرض یې ادا کړ او د بل فرض انتظار کوي . |
| د عرفې په ورځ الله پاک له اور څخه خلک ازادوي | | |
| ٤٥٧ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: [ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:مَا مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرَ مِنْ أَنْ يُعْتِقَ اللهُ فِيهِ عَبْدًا مِنَ النَّارِ، مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ، وَإِنَّهُ لَيَدْنُو، ثُمَّ يُبَاهِي بِهِمِ الْمَلَائِكَةَ، فَيَقُولُ: مَا أَرَادَ هَؤُلَاءِ؟ ] ( صحیح مسلم : ١٣٤٨ ) | | د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : د عرفې د ورځې په څېر الله پاک په نورو ورځو کې دومره ډېر خلک له اوره نه ازادوي ، هغه د عرفې په ورځ ډېر نزدې شي او د خلکو په عبادتونو باندې ملائکو ته فخر کوي او ورته وایي چې دا خلک څه غواړي ؟ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ټول خلک به له عرفات څخه راځي | | |
| ٤٥٨ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُا، قَالَتْ: [ الْحُمْسُ هُمُ الَّذِينَ أَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيهِمْ: ثُمَّ ( أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ) قَالَتْ: كَانَ النَّاسُ يُفِيضُونَ مِنْ عَرَفَاتٍ، وَكَانَ الْحُمْسُ يُفِيضُونَ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ، يَقُولُونَ: لَا نُفِيضُ إِلَّا مِنَ الْحَرَمِ، فَلَمَّا نَزَلَتْ: (أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ) رَجَعُوا إِلَى عَرَفَاتٍ ] ( صحيح مسلم : ۱۲۱۹ ) | | عایشه رضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې متشدده قریش هغه خلک دي چې الله پاک یې اړوند دا ایت نازل کړی دی (ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ ) وایي : خلک به له عرفات څخه راتلل او دوی ( قریش ) به له مزدلفې څخه راتلل اوویل به یې : مونږ له حرم پرته بل ځای نه نه راځو ، کله چې دا ایت (ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ ) نازل شو بېرته عرفات ته ستانه شول . |
| د حاجي لپاره په عرفه کې وقوف ضروري دی | | |
| ٤٥٩ - : عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: دَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَرَفَةَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِالشِّعْبِ نَزَلَ فَبَالَ، ثُمَّ تَوَضَّأَ وَلَمْ يُسْبِغِ الْوُضُوءَ فَقُلْتُ الصَّلَاةَ يَا رَسُولَ اللهِ، فَقَالَ: الصَّلَاةُ أَمَامَكَ فَرَكِبَ، فَلَمَّا جَاءَ الْمُزْدَلِفَةَ نَزَلَ فَتَوَضَّأَ، فَأَسْبَغَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ، فَصَلَّى الْمَغْرِبَ ثُمَّ أَنَاخَ كُلُّ إِنْسَانٍ بَعِيرَهُ | | د اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه یې اوریدلي دي : نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له عرفات څخه راروان و چې خوږ ته راورسېد تش اودس یې مات کړ اودس یې وکړ خو پوره اودس یې ونه کړ ، ما ورته وویل : د الله رسوله ! د لمونځ وخت دی ، هغه راته وویل : لمونځ دې مخې ته دی (مخکې به یې کوو) بیا په سورلۍ سپور شو چې مزدلفې ته راورسېد له سورلۍ راښکته شو او پوره اودس یې وکړ ، د لمونځ لپاره اقامت وکړی شو او د ماښام لمونځ یې وکړ ، هر چا خپل اوښ په خپل ځای کې چو کړ ، بیا د ماسخوتن |

WWW.DARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| فِي مَنْزِلِهِ، ثُمّ أُقِيمَتِ العِشَاءُ فَصَلّى، وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا ] ( صحيح البخاري : ۱۳۹). | | لمونځ لپاره اقامت وکړی شو هغه لمونځ یې هم وکړ او د دواړو ترمنځ یې نور لمونځ و نه کړ. |
| د ماښام او ماسخوتن لمونځونه به حاجي صيب په مزدلفه کې کوي | | |
| ٤٦٠ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا [ أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ صَلّى الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِالْمُزْدَلِفَةِ جَمِيعًا ] ( صحيح مسلم : ۷۰۳ ). | | د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ د ماښام او ماسخوتن لمونځ په مزدلفه کې یو ځای (جمع بین الصلاتین) وکړ. |
| حاجیان به له مزدلفې څخه منی ته کله ځي ؟ | | |
| ٤٦١ - : عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ[إِنّ الْمُشْرِكِينَ كَانُواذلاَ يُفِيضُونَ مِنْ جَمْعٍ، حَتّى تَشْرُقَ الشّمْسُ عَلَى ثَبِيرٍ، فَخَالَفَهُمُ النّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فَأَفَاضَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشّمْسُ ] (صحيح البخاري: ۳۸۳۸) | | د عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې مشرکان به له منی څخه تر هغه نه تلل چې څو به لمر په ثبیر غر لوړ راپورته شوی نه و، نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ یې مخالفت وکړ او د لمر ختو نه مخکې لاړ. |
| ښځې کولی شي چې له نارینه و څخه مخکې د شپې مزدلفې نه منی ته ولاړې شي ! | | |
| ٤٦٢ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا قَالَتْ: [ نَزَلْنَا الْمُزْدَلِفَةَ فَاسْتَأْذَنَتِ النّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ | | د عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا نه روایت دی وایي چې مونږ کله مزدلفې ته ورسیدو له نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ څخه سوده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا وغوښتل چې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَسَلَّمَ سَوْدَةُ، أَنْ تَدْفَعَ قَبْلَ حَطْمَةِ النَّاسِ، وَكَانَتِ امْرَأَةً بَطِيئَةً، فَأَذِنَ لَهَا، فَدَفَعَتْ قَبْلَ حَطْمَةِ النَّاسِ ، وَأَقَمْنَا حَتَّى أَصْبَحْنَا نَحْنُ، ثُمَّ دَفَعْنَا بِدَفْعِهِ، فَلَأَنْ أَكُونَ اسْتَأْذَنْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا اسْتَأْذَنَتْ سَوْدَةُ، أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ مَفْرُوحٍ بِهِ] (صحيح البخاري: ١٦٨١) | | د خلکو له کڼې ګوڼې مخکې له مزدلفې ولاړه شي ، چونکه هغه به مزل نه شو کولای نو نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته اجازه ورکړه چې د خلکو له کڼې ګوڼې مخکې لاړه شي او مونږ تر سبا پاتې شوو ، خو که ما د سوده رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا په څېر ورڅخه اجازه غوښتې وه ډېره زياته به پرې خوشحاله شوي وم . |
| اهل اعذار منی ته مخکې هم تللی شي | | |
| ٤٦٣ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: [ بَعَثَنِي أَوْ قَدَّمَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الثَّقَلِ مِنْ جَمْعٍ بِلَيْلٍ ] ( صحيح البخاري : ١٨٥٦ ) . | | د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې د شپې له مخې د کور له کمزورو سره زه نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له مزدلفې نه منی ته مخکې واستولم . |
| جمرات به د لمر راښتو وروسته ويشتل کيږي ! | | |
| ٤٦٤ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: [ قَدِمْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أُغَيْلِمَةَ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، عَلَى حُمُرَاتٍ لَنَا مِنْ جَمْعٍ، يَلْطَحُ، أَفْخَاذَنَا وَيَقُولُ: أُبَيْنِيّ فَجَعَلَ لَا تَرْمُوا الْجَمْرَةَ، حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ ] ( سنن ابن ماجه : ٣٠٢٥ ) | | له ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې مونږ د بنومطلب ځنې زلموټي نبي صلى الله عليه وسلم ته راغلو چې په خپلو خرو باندې سپاره وو، زمونږ ورنونه يې وهل او راته يې ويل: زامنو! چې لمر نه وي راختلی نو جمره مه ولئ . |

| | | |
|---|---|---|
| حاجي به جمرات له کوم ځایه ولي ؟ | | |
| ٤٦٥ - : عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، قَالَ: [ رَمَى عَبْدُ اللهِ مِنْ بَطْنِ الوَادِي، فَقُلْتُ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ إِنَّ نَاسًا يَرْمُونَهَا مِنْ فَوْقِهَا؟ فَقَالَ: وَالَّذِي لاَ إِلَهَ غَيْرُهُ، هَذَا مَقَامُ الَّذِي أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ البَقَرَةِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ] (صحيح البخاري:۱۷٤۷) | | عبدالرحمن بن یزید وایی چې عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ جمرات له بطن الوادي څخه وویشتل ، ما ورته وویل : خلک خو جمرات له بره څخه ولي ؟ هغه وویل : په هغه ذات مې دې قسم وي چې له هغه پرته برحق معبود بل څوک نشته چې دا هغه ځای دی چې سورت بقره په کې نازله شوې ده . |
| په کوم ډول کاڼو به جمرات ویشتل کیږي ؟ | | |
| ٤٦٦ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُولُ: [ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَمَى الْجَمْرَةَ بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ] (صحيح مسلم: ۱۲۹۹) | | د جابر بن عبدالله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې ما رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولید او د ګیټکو په څیر وړو کاڼو باندې یې جمرات وویشتل |
| حاجي کولی شي جمرات په داسې حالت کې وولي چې په سورلۍ سپور وي ! | | |
| ٤٦٧ - : عَنْ قُدَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَرْمِي جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ يَوْمَ النَّحْرِ عَلَى نَاقَةٍ لَهُ صَهْبَاءَ، لَا ضَرْبَ، وَلَا طَرْدَ، وَلَا إِلَيْكَ إِلَيْكَ ] (سنن النسائي: ۳۰٦۱) | | قدامه بن عبدالله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې ما رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولید چې د اختر په ورځ یې جمره وویشته او پخپلې سپینې سرې اوښې باندې سپور و ، نه یې څوک وهل او نه یې څوک شړل او نه یې دا ویل چې تا ته وایم تا ته وایم لاره خلاصه کړه . |
| امام کولای شي په جمراتو کې خلکو ته ارشادات وکړي ! | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٤٦٨ - : عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، قَالَ: رَأَيْتُ أَبَا كَاهِلٍ وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ، فَحَدَّثَنِي أَخِي عَنْهُ، قَالَ: [ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ عَلَى نَاقَةٍ وَحَبَشِيٌّ آخِذٌ بِخِطَامِهَا ] (سنن ابن ماجه: ١٢٨٤ ) | | اسماعيل بن ابي خالد وايي : ما ابوكاهل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وليد ورور مې راته له هغه څخه روايت وکړ چې وايي : ما نبي کريم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وليد چې په خپله سورلۍ يې خطبه ورکړه او يو حبشي يې د سورلۍ واګې نيولې وې . |
| د جمراتو له ويشتو مخکې ذبح يا وينستان کمول حج نه خرابوي ! | | |
| ٤٦٩ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَمَّنْ حَلَقَ قَبْلَ أَنْ يَذْبَحَ وَنَحْوِهِ فَقَالَ :لاَ حَرَجَ، لاَ حَرَجَ ] (صحيح البخاري:١٧٢١) | | د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې له نبي کريم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه وپوښتل شول چې که څوک له ذبح نه مخکې وينسته وخروي ! هغه وويل : هيڅ باک نه کوي ، هيڅ باک نه کوي . |
| ٤٧٠ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، [ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: حَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ؟ فَقَالَ: اذْبَحْ وَلَا حَرَجَ ، وَسَأَلَهُ آخَرُ، فَقَالَ: نَحَرْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ؟ قَالَ: ارْمِ وَلَا حَرَجَ ] ( سنن الترمذي : ٩١٦ ) . | | د عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې له رسول الله صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه يو سړي پوښتنه وکړه چې له ذبح نه مخکې د سر وينستان وخريل ! هغه ورته وويل : ذبح وکړه او هيڅ باک نه کوي ، بل ورڅخه پوښتنه وکړه چې له جمراتو ويشتو نه مخکې مې ذبح وکړه ، هغه ورته وويل : جمرات ووله هيڅ باک نه کوي. |
| په طواف زيارت کې سنت دي چې محرم په منى کې خوشبو ولګوي ! | | |
| ٤٧١ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا قَالَتْ [ كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِأَطْيَبِ مَا | | عائشې رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا فرمايي : د نبي کريم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د احرام او حلالېدو ( احرام نه د وتو لپاره ) او د بيت الله د زيات په مهال به ما د خپل |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| أَجِدُ لِحُرْمِهِ، وَلِحِلِّهِ وَحِينَ يُرِيدُ أَنْ يَزُورَ الْبَيْتَ ] ( سنن النسائي : ۲۶۹۱ ) . | | توان په انداز په هغه ښه عطر لګول . |
| د طواف زيارت لپاره له منی نه د حاجي صيب د راتګ کيفيت ! | | |
| ٤٧٢ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ أَفَاضَ يَوْمَ النَّحْرِ، ثُمَّ رَجَعَ فَصَلَّى الظُّهْرَ بِمِنًى] ( صحيح مسلم : ۱۳۰۸ ) | | له عبدالله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د لوی اختر په ورځ له منی څخه طواف زيارت لپاره راغی ، بېرته به منی ته ستون شو او دماسپښين لمونځ به يې هلته وکړ . |
| د جمراتو د ويشتلو وخت ! | | |
| ٤٧٣ - : عَنْ جَابِرٍرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُقَالَ [ رَمَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَمْرَةَ يَوْمَ النَّحْرِ ضُحًى، وَأَمَّا بَعْدُ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ ] ( صحيح مسلم : ۱۲۹۹ ) . | | له جابر بن عبدالله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د لوی اختر د سهار په مهال جمرې وويشتې او په وروستيو ورځو کې يې له زوال نه وروسته وويشتې . |
| د جمراتو د ويشتو کيفيت | | |
| ٤٧٤ - : عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ [ لَمَّا أَتَى عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ، اسْتَبْطَنَ الْوَادِيَ، وَاسْتَقْبَلَ الْكَعْبَةَ، وَجَعَلَ الْجَمْرَةَ عَلَى حَاجِبِهِ الْأَيْمَنِ، ثُمَّ رَمَى بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ، يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ، ثُمَّ قَالَ: «مِنْ هَاهُنَا، وَالَّذِي لَا إِلَهَ غَيْرُهُ | | عبدالرحمن يزيد وايي چې عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې کله جمره کبری ويشته نو د خوړ منځ ته شو او کعبې ته يې مخ کړ او جمره يې ښۍ اړخ ته کړه ، اووه ګوزاره يې پرې وکړل او د هر ګوزار سره به يې تکبير وايو ، بيا يې وويل : په هغه ذات مې دې قسم وي چې له هغه پرته بل حق معبود نشته چې |

WWW.LARHAUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رَمَى الَّذِي أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ ] ( سنن ابن ماجه : ۳۰۳۰ ) | | جمرات له دې ځایه هغه چا ویشتلي دي چې سورت بقره پرې نازله شوې وه |
| ٤٧٥ - : عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ [ كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمْ يَزَلْ يُلَبِّي حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ، فَرَمَاهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ، يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ (سنن النسائي:۳۰۷۰) | | فضل بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وايي چې زه د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې په سورلۍ وروسته سپور وم ، تر هغه یې تلبیه ویله چې لویه جمره یې وویشته ، په داسې حال کې یې اووه ګوزاره وویشته چې د هر ګوزار سره به یې تکبیر وایو . |
| د جمراتو په ویشتلو کې ټېل ته هېڅ ضرورت نشته ! | | |
| ٤٧٦ - : عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْأَحْوَصِ، عَنْ أُمِّهِ، قَالَتْ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِي الْجَمْرَةَ مِنْ بَطْنِ الْوَادِي، وَهُوَ رَاكِبٌ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ وَرَجُلٌ مِنْ خَلْفِهِ يَسْتُرُهُ، فَسَأَلْتُ عَنِ الرَّجُلِ، فَقَالُوا: الْفَضْلُ بْنُ الْعَبَّاسِ، وَازْدَحَمَ النَّاسُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ، لَا يَقْتُلْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا، وَإِذَا رَمَيْتُمُ الْجَمْرَةَ فَارْمُوا بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ] ( سنن ابي داود : ۱۹٦٦ ) . | | سلیمان بن عمرو بن الاحوص له خپلې مور څخه روایت کوي چې ما رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولید چې د خوړ له منځ نه یې جمره وویشته په داسې حال کې چې هغه په سورلۍ سپور و او د هر ګوزار سره به یې تکبیر ویل ، له شا څخه چا له ګنې ګونې ساته ، ما وپوښتل چې دا څوک دی ، هغوی وویل : فضل بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دی ، خلکو سره ډېر ټېل وکړ ، نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وویل : ای خلکو ! یو بل سره مه مړه کوئ ، کله چې مو جمرات ویشتل په دا ډول کوچنیو کاڼو یې ووليئ. |
| ضرورت مند کولی شي چې د دوو ورځو جمرات سره یو ځای کړي ! | | |
| ٤٧٧ - : عَنْ أَبِي الْبَدَّاحِ بْنِ عَدِيٍّ، | | ابوالبداح له خپل پلار عدیرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [رَخَّصَ لِلرِّعَاءِ أَنْ يَرْمُوا يَوْمًا، وَيَدَعُوا يَوْمًا] (سنن ابي داود: ١٩٧٦ ) | | کوي چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شپونکو ته اجازه کړې وه چې جمرات يوه ورځ وولي او يوه ورځ جمرات پرېږدي . |
| عرفات کې له وقوف پرته حج نه صحیح کيږي ! | | |
| ٤٧٨ - : عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَعْمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [ أَنَّ نَاسًا مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ أَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِعَرَفَةَ فَسَأَلُوهُ، فَأَمَرَ مُنَادِيًا، فَنَادَى: «الحَجُّ عَرَفَةُ، مَنْ جَاءَ لَيْلَةَ جَمْعٍ قَبْلَ طُلُوعِ الفَجْرِ فَقَدْ أَدْرَكَ الحَجَّ، أَيَّامُ مِنًى ثَلَاثَةٌ، فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ، وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ ] ( سنن الترمذي : ٨٨٩ ) . | | له عبدالرحمن بن يعمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې له نجد څخه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ځيني خلک راغلل او هغه په عرفه کې و ، نو ډېرې پوښتنې يې ورڅخه وکړې ، نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چا ته وويل چې اعلان وکړي چې عرفه کې پاتې کېدل حج دی ، که د مزدلفې په شپه له سهار راختو وړاندې څوک عرفې ته راشي نو حج يې سم دی ، په منی کې قيام درې ورځې دی ، که دوه ورځې وروسته څوک ولاړ شي هېڅ ګناه پرې نشته او که څوک پاتې شي هم څه ګناه پرې نشه . |
| په منی کې د حاجي صیب لمونځ کول ! | | |
| ٤٧٩ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ [ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ، وَأَبُو بَكْرٍ بَعْدَهُ، وَعُمَرُ بَعْدَ أَبِي بَكْرٍ، وَعُثْمَانُ صَدْرًا مِنْ خِلَافَتِهِ، ثُمَّ إِنَّ عُثْمَانَ صَلَّى بَعْدُ أَرْبَعًا ] ( صحيح مسلم : ٦٩٤ ) . | | له عبدالله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په منی کې دوه رکعته لمونځ وکړ، ابوبکر او عمر او عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ هم دوه رکعته وکړل ، بيا عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پوره څلور رکعته وکړل . |
| د حج په دوران کې تجارت کول روا دي ! | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٤٨٠ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ [عُكَاظُ وَذُو الْمَجَازِ أَسْوَاقٌ كَانَتْ لَهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَلَمَّا جَاءَ اللَّهُ بِالْإِسْلَامِ كَأَنَّهُمْ تَأَثَّمُوا، أَنْ يَتَّجِرُوا فِي الْحَجِّ، فَسَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَزَلَتْ {لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ} فِي مَوَاسِمِ الْحَجِّ ] ( صحيح ابن حبان : ٣٨٩٤ ) . | | له عبدالله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وايي چې عکاظ او ذوالمجاز په جاهلیت کې د دوی بازارونه وو ، کله چې اسلام راغی داسې یې اټکل کړل چې ګنې د حج په دوران کې اخستلو باندې ګناهګار نه شي نو له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه یې وپوښتل ، هغه وچې الله پاک د حج په موسم کې (د الله له مهرباني څخه په لټه کې په تاسو هیڅ ګناه نشته ) ایت نازل کړ . |
| د حج وروستنی کار طواف وداع دی ! | | |
| ٤٨١ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ [ كَانَ النَّاسُ يَنْصَرِفُونَ فِي كُلِّ وَجْهٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَنْفِرَنَّ أَحَدٌ حَتَّى يَكُونَ آخِرُ عَهْدِهِ الطَّوَافَ بِالْبَيْتِ ] ( سنن ابي داود : ٢٠٠٢ ) . | | د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي ، تر هغه دې څوک له مکې څخه نه ځي ترڅو یې وروستی کار له بیت الله څخه طواف نه وي کړی . |
| ډېر ضرورتمند کولای شي طواف وداع پریږدي ! | | |
| ٤٨٢ - : عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ [مَنْ حَجَّ الْبَيْتَ فَلْيَكُنْ آخِرُ عَهْدِهِ بِالْبَيْتِ إِلَّا الْحُيَّضَ، وَرَخَّصَ لَهُنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ] (جامع الترمذي : ٩٤٤) | | ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنهما وايي : څوک چې حج کوي نو اخري کار به یې طواف وي سوا له حائضو ښځو نه، هغوی ته نبي صلی الله علیه وسلم رخصت ورکړی دی - چې بې له طوافه لاړې شي - . |

WWW.LARHKUA.COM

| | | |
|---|---|---|
| حج او عمره دواړه یو ځای کول ناروا نه دي : | | |
| ٤٨٣ - : عن ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ جَمَعَ بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ، وَطَافَ لَهُمَا سَبْعًا، وَسَعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ سَبْعًا، وَقَالَ: هَكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ ] ( صحيح ابن حبان : ۳۹۱۳ ) . | | عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا حج او عمره دواړه سره یو ځای کړل او د دواړو لپاره یې یو طواف وکړ ، د صفا او مروه ترمنځ یې هم اووه ګشته سعیه وکړه ، بیا یې وویل : ما نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لیدلی و چې داسې به یې کول . |
| له افراد او قران څخه حج تمتع غوره دی : | | |
| ٤٨٤ - : عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [ يَا آلَ مُحَمَّدٍ مَنْ حَجَّ مِنْكُمْ فَلْيُهِلَّ بِعُمْرَةٍ فِي حَجَّةٍ ] ( صحيح ابن حبان : ۳۹۲۰ ) | | له ام سلمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روایت دی چې ما له رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي ویل یې : ای د محمد کورنۍ ! له تاسو څخه چې څوک حج کوي نو حج سره دې د عمرې نیت هم وکړي . |
| حج تمتع کې انسان د عمرې په کولو حلالیږي | | |
| ٤٨٥ - : عَنْ حَفْصَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، أَنَّهَا قَالَتْ [ يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا شَأْنُ النَّاسِ حَلُّوا بِعُمْرَةٍ، وَلَمْ تَحْلِلْ أَنْتَ مِنْ عُمْرَتِكَ؟ قَالَ: «إِنِّي لَبَّدْتُ رَأْسِي، وَقَلَّدْتُ هَدْيِيْ، فَلاَ أَحِلُّ حَتَّى أَنْحَرَ ] ( صحيح البخاري : ۱۵٦٦ ) | | حفصه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وایي چې ما رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وویل : خلکو ځانونه له عمرې کولو وروسته حلال کړل او تا ځان په عمرې سره حلال نه کړ ؟ هغه وویل : ما پرسر کې لګولی دی او قرباني هم راسره ده ، تر هغه ځان نه شم حلالولی تر څو مې قرباني نه وي ذبحه کړې |
| پر ځان سیوری کول احرام نه ماتوي | | |
| ٤٨٦ - : عَنْ أُمِّ الْحُصَيْنِ رَضِيَ اللّٰهُ | | ام الحصین رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وایي چې ما له رسول الله |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنْهَا قَالَتْ [ حَجَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّةَ الْوَدَاعِ، فَرَأَيْتُ أُسَامَةَ وَبِلَالًا، وَأَحَدُهُمَا آخِذٌ بِخِطَامِ نَاقَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْآخَرُ رَافِعٌ ثَوْبَهُ يَسْتُرُهُ مِنَ الْحَرِّ، حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ] (صحيح مسلم:١٢٩٨) | | صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره حجة الوداع وکړ، اسامه او بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا مې ولیدل چې یو یې د اوښې مهار نیولی و او بل پرې له ګرمۍ له وجې خپله جامه سیوری کړې وه تر دې چې جمرات یې وویشتل. |
| ښکر لګول روژه نه ماتوي | | |
| ٤٨٧ - : عَنِ ابْنِ بُحَيْنَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [ احْتَجَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ مُحْرِمٌ بِلَحْيِ جَمَلٍ فِي وَسَطِ رَأْسِهِ ] (صحيح البخاري : ١٨٣٦) | | د ابن بحينه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اوښ په ژامې د خپل سر په منځ کې ښکر ولګو او هغه محرم و. |
| تداوي کول احرام نه ماتوي | | |
| ٤٨٨ - : عَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ أَنَّ الْمُحْرِمَ إِذَا اشْتَكَى عَيْنَهُ ضَمَّدَهَا بِالصَّبِرِ ] ( صحيح ابن حبان : ٣٩٥٤ ). | | له عثمان بن عفان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم ویلي دي : کله چې د محرِم سترګي خوږیږي نو ( صبر ) دارو دې په کې واچوي. |
| هغه جامې چې محرم یې نه شي استعمالولی : | | |
| ٤٨٩ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ رَجُلًا قَالَ [ يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ مِنَ | | له عبدالله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یو سړی راغی او وېویل: ای د الله رسوله! محرم کوم ډول |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| الثِّيَابِ؟ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ يَلْبَسُ القُمُصَ، وَلاَ العَمَائِمَ، وَلاَ السَّرَاوِيلاَتِ، وَلاَ البَرَانِسَ، وَلاَ الخِفَافَ إِلَّا أَحَدٌ لاَ يَجِدُ نَعْلَيْنِ، فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ، وَلْيَقْطَعْهُمَا أَسْفَلَ مِنَ الكَعْبَيْنِ، وَلاَ تَلْبَسُوا مِنَ الثِّيَابِ شَيْئًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ أَوْ وَرْسٌ] (صحيح البخاري : ١٥٤٣) | | پوښاک استعمالولی شي؟ هغه وویل: کمیس به نه اچوي ، پګړۍ به نه په سروي، پرتوګ به نه اغوندي، نه به ټوپۍ په سروي ، او بوټان به هم نه په خپو کوي مګر که څپلۍ ورسره نه وي بیا بوټان په خپو کولی شي خو تر ګټکو لاندې پورې به یې غوڅوي ، او هغه ډول لباس هم مه اغوندئ چې ورس او زعفران ( د خوشبو نومونه دي ) پرې لګېدلي وي . |
| که د احرام په حالت کې څوک مړ شي باید څه ورسره وشي ؟ | | |
| ٤٩٠ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: [ وَقَصَتْ بِرَجُلٍ مُحْرِمٍ نَاقَتُهُ، فَقَتَلَتْهُ، فَأُتِيَ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اغْسِلُوهُ، وَكَفِّنُوهُ، وَلاَ تُغَطُّوا رَأْسَهُ، وَلاَ تُقَرِّبُوهُ طِيبًا، فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يُهِلُّ ] (صحيح البخاري: ١٨٣٩) | | له عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې په یو محرم سړي باندې خپلې اوښې خپې کېښودې ښخ یې ورله مات او مړ یې کړ، نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راوړل شو هغه وویل : غسل ورکړئ ، کفن هم ورکړئ او سر یې مه پټوئ ، خوشبویي پرې هم مه لګوئ ، دا به د قیامت په ورځ په داسې حالت کې راپورته کیږي چې تلبیه به وایي . |
| محرم کولی شي چې زیانمن حیوانات ووژني | | |
| ٤٩١ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ خَمْسٌ مِنَ الدَّوَابِّ، كُلُّهُنَّ فَاسِقٌ، يَقْتُلُهُنَّ فِي الحَرَمِ: الغُرَابُ، | | له عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : پنځه زنده سر دي چې واړه ورانکاري دي او په حرم کې هم |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَالحِدَأَةُ، وَالعَقْرَبُ، وَالفَأْرَةُ، وَالكَلْبُ العَقُورُ ] صحيح البخاري : ۱۸۲۹ ). | | وژلی شي ، کارغه ، تپوس ، لړم ، مږه او لیونی سپی . |
| مارښیرک هم په پنځه ورانکارو کې شامل دی | | |
| ٤۹۲ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا [ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْوَزَغِ الفُوَيْسِقُ وَلَمْ أَسْمَعْهُ أَمَرَ بِقَتْلِهِ وَزَعَمَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِهِ ] ( صحيح البخاري : ۳۳۰٦) | | له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مارښیرک ته هم ورانکاری ویلی دی ، عروه وایي : د مارښیرک د وژلو متعلق ما څه نه دي اوریدلي خو ولې سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یې په وژلو امر کړی دی |
| که محرم په ښکار کې هیڅ ډول مرسته ونه کړي نو ښکار خوړلی شي : | | |
| ٤۹۳ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، قَالَ: كَانَ أَبُو قَتَادَةَ فِي نَفَرٍ مُحْرِمِينَ، وَأَبُو قَتَادَةَ مُحِلٌّ، فَعَرَضَ لِأَصْحَابِهِ حِمَارٌ وَحْشِيٌّ فَلَمْ يُؤْذِنُوهُ حَتَّى أَبْصَرَهُ وَ هُوَ جَالِسٌ ، فَاخْتَلَسَ مِنْ بَعْضِهِمْ سُوْطاً ، فَحَمَلَ عَلَيْهِ فَصَرَعَهُ فَأَتَاهُمْ بِهِ فَأَكَلُوْهُ وَحَمَلُوْا مَعَهُمْ فَأَتَوْا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: هَلْ أَشَارَ إِلَيْهِ إِنْسَانٌ مِنْكُمْ أَوْ أَمَرَهُ بِشَيْءٍ؟» قَالُوا: لَا، يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: فَكُلُوا ] | | له عبدالله بن ابي قتاده نه روایت دی چې ابوقتاده د ځینو ملګرو سره و چې احرامونه یې تړلي وو خو ابوقتاده احرام نه و تړلی ، ملګرو یې وحشي خر ولید خو هیڅ چا ورته څه ونه ویل ، تر دې چې خپله یې په داسې حالت کې ولیده چې ناست و ، له ځینو ملګرو یې قمچینه واخسته او برید یې پرې وکړ نو رالاندې یې کړ ، ملګرو ته یې راوړ ټولو ورڅخه خوراک وکړ او له ځان سره یې هم څه غوښه یوړه ، چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلل نو هغه ورته وویل چې ایا تاسو کې ورته چا اشاره یا ښودل کړې وو ؟ هغوی وویل : نا ، نو هغه ورته |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| (صحيح مسلم: ١١٩٦) | | وويل : ويې خورئ . |
| د هغه چا حکم چې حج پرې فرض وي او تللی نه شي | | |
| ٤٩٤ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ [ كَانَ الفَضْلُ رَدِيفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَاءَتِ امْرَأَةٌ مِنْ خَشْعَمَ، فَجَعَلَ الفَضْلُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا وَتَنْظُرُ إِلَيْهِ، وَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَصْرِفُ وَجْهَ الفَضْلِ إِلَى الشِّقِّ الآخَرِ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ فَرِيضَةَ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ فِي الحَجِّ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيرًا، لاَ يَثْبُتُ عَلَى الرَّاحِلَةِ، أَفَأَحُجُّ عَنْهُ؟ قَالَ: نَعَمْ، وَذَلِكَ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ ] ( صحيح البخاري : ١٥١٣ ) | | له عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې فضل بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره شاته په سورلۍ سپور و ، له خشعم څخه يوه ښځه راغله نو فضل ښځې ته او ښځې فضل ته کتلې او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د فضل مخ بل خوا ته اړو ، ښځې ورته وويل : ای د الله رسوله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! الله فرض کړی حق (حج) مې په پلار باندې داسې حالت کې راغی چې هغه ډېر بوډا دی په خپلې سيورلۍ هم نه شي ټينګيدلی ، ايا زه ترې حج کولی شم ؟ هغه ورته وويل : هو ، دا پوښتنه يې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حجة الوداع کې ځواب کړې وه . |
| په حج کې نائب لپاره ضرور دي چې حج يې کړی وي : | | |
| ٤٩٥ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا [ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ: لَبَّيْكَ عَنْ شُبْرُمَةَ، قَالَ: مَنْ شُبْرُمَةُ؟ قَالَ: أَخٌ لِي - أَوْ قَرِيبٌ لِي - قَالَ: حَجَجْتَ عَنْ نَفْسِكَ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: حُجَّ عَنْ | | له ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له يو سړي څخه واورېدل چې ويل يې : لَبَّيْكَ عَنْ شُبْرُمَةَ ، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : شبرمه څوک دی ؟ هغه وويل : زما ورور – يا بل کوم خپلوان يې ياد کړ – دی ، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وويل : ايا خپله دې حج کړی دی ؟ سړي وويل : نا ، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ |

WWW.LARKIUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| نَفْسِكَ ثُمّ حُجّ عَنْ شُبْرُمَةَ ] ( سنن ابي داود : ۱۸۱۱ ) . | | وَسَلّمَ ورته وویل : لومړی د ځان لپاره حج وکړه بیا یې له شبرمه نه وکړه . |
| له مړي څخه د حج نذر پوره کول : | | |
| ٤٩٦ - : عَنِ ابْنِ عَبّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا [ أَنّ امْرَأَةً مِنْ جُهَيْنَةَ، جَاءَتْ إِلَى النّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، فَقَالَتْ: إِنّ أُمِّي نَذَرَتْ أَنْ تَحُجّ فَلَمْ تَحُجّ حَتّى مَاتَتْ، أَفَأَحُجُ عَنْهَا؟ قَالَ: «نَعَمْ حُجِّي عَنْهَا، أَرَأَيْتِ لَوْ كَانَ عَلَى أُمِّكِ دَيْنٌ أَكُنْتِ قَاضِيَةً؟ اقْضُوا اللّٰهَ فَاللّٰهُ أَحَقُّ بِالوَفَاءِ ] ( صحيح البخاري ۱۸٥۲ ) . | | له ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې له جهینه څخه یوه ښځه نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ته راغله او ویې ویل : مور مې نذر منلی و چې حج به کوي ، خو ولې داسې حالت کې مړه شوه چې حج یې ونه کړ ، ایا زه ترې حج کولی شم ؟ هغه وویل : هو ، حج ترې وکړه ، خو که په مور دې د چا پور وای نو ایا تا به ادا کړی و ؟ د الله پورونه هم ادا کړئ ، له نورو څخه الله په خپلو حقوقو ډېر حقدار دی . |
| له نذر پرته له مړي څخه حج کول دروست دي : | | |
| ٤٩٧ - : عن ابن عَبّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنّ رَجُلًا أَتَى النّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، فَقَالَ [ إِنّ أَبِي مَاتَ وَلَمْ يَحُجّ أَفَأَحُجّ عَنْهُ؟ قَالَ: أَرَأَيْتَ لَوَ كَانَ عَلَى أَبِيكَ دَيْنٌ أَكُنْتَ قَاضِيَهُ؟ قَالَ: نَعَمْ، قال: حُجّ عَنْ أَبِيكَ ] ( صحيح ابن حبان : ۳۹۹۲ ) | | له ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ته یو سړی راغی او ورته یې وویل : زما پلار مړ شوی دی ، ایا زه ترې حج کولی شم ؟ هغه ورته وویل : که ستا په پلار د چا پور وای نو ایا تا به ترې ادا کړی وای ؟ سړي وویل : هو ، نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وویل : له پلار څخه دې حج وکړه |
| حاجي کولی شي له کوره ځان سره قرباني مکې ته بوځي | | |

WWW.LARKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ۴۹۸ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ [ أَنَّهُمْ كَانُوا حَاضِرِينَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ يَبْعَثُ بِالْهَدْيِ، فَمَنْ شَاءَ مِنَّا أَخَّرَ، وَمَنْ شَاءَ تَرَكَ ] ( صحيح ابن حبان : ۳۹۹۹ ) | | له جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغوی د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په مدینه کې وو چې هغه خپله قرباني مکې ته واستوله ، د خپلې خوښې له مخې مونږ کې چا قرباني استول تاخیر کړه او چا پرېښوده. |
| کعبې لپاره هدیه شوې قربانۍ باندې نښه کول سنت دي | | |
| ۴۹۹ - : عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا [ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَتَى ذَا الْحُلَيْفَةِ، أَشْعَرَ الْهَدْيَ فِي جَانِبِ السَّنَامِ الْأَيْمَنِ، ثُمَّ أَمَاطَ عَنْهُ الدَّمَ، وَقَلَّدَهُ نَعْلَيْنِ، ثُمَّ رَكِبَ نَاقَتَهُ، فَلَمَّا اسْتَوَتْ بِهِ الْبَيْدَاءَ، لَبَّى وَأَحْرَمَ عِنْدَ الظُّهْرِ، وَأَهَلَّ بِالْحَجِّ ] ( سنن النسائي : ۲۷۸۲ ). | | له ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله ذوالحلیفه ته راورسېد ، د څارویو کوپې ښۍ اړخ کې یې نښې وکړې ، وینه یې ترې پاکه کړه او څپلې یې ورته غاړه کې واچولې ، په خپلې اوښه سپور شو چې د بیداء په ځمکه ورپورته شو تلبیه یې وویله او دماسپښین مهال و چې احرام یې وتړه او د حج نیت یې وکړ |
| په قربانۍ کې شراکت جائز دی | | |
| ۵۰۰ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: [ اشْتَرَكْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ كُلُّ سَبْعَةٍ فِي بَدَنَةٍ فَقَالَ رَجُلٌ لِجَابِرٍ: أَيُشْتَرَكُ فِي الْبَدَنَةِ مَا يُشْتَرَكُ فِي الْجَزُورِ؟ قَالَ: | | له جابر بن عبدالله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مونږ په حج او عمره کې ونډوال وو ، په هره اوښه کې اووه کسان سره یو ځای شوي وو ، یو سړي جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته وویل : ایا د اوښاو په بچو کې هم اووه نفره یو ځای کېدای شي ؟ هغه وویل : هو هغه هم اوښین |

WWW.LARAKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| مَا هِيَ إِلَّا مِنَ الْبُدْنِ، وَحَضَرَ جَابِرٌ الْحُدَيْبِيَةَ، قَالَ: نَحَرْنَا يَوْمَئِذٍ سَبْعِينَ بَدَنَةً اشْتَرَكْنَا كُلُّ سَبْعَةٍ فِي بَدَنَةٍ ] (صحيح مسلم:١٣١٨) | | مال دی ، جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حديبې صلحه کې هم حاضر شوی و ، هغه وايي : په دغه ورځ مونږ اویا اوښان ذبحه کړل او په هره اوښه کې اووه نفره سره يو ځای شول . |
| کعبې ته قرباني استول جائز دي خو د محرم په څېر پرې څه نه حرامېږي | | |
| ٥٠١ - : عَنْ مَسْرُوقٍ أَنَّهُ أَتَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فَقَالَ لَهَا: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ، إِنّ رَجُلًا يَبْعَثُ بِالهَدْيِ إِلَى الكَعْبَةِ وَيَجْلِسُ فِي المِصْرِ، فَيُوصِي أَنْ تُقَلَّدَ بَدَنَتُهُ، فَلاَ يَزَالُ مِنْ ذَلِكَ اليَوْمِ مُحْرِمًا حَتَّى يَحِلّ النّاسُ، قَالَ: فَسَمِعْتُ تَصْفِيقَهَا مِنْ وَرَاءِ الحِجَابِ، فَقَالَتْ: لَقَدْ كُنْتُ أَفْتِلُ قَلاَئِدَ هَدْيِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَيَبْعَثُ هَدْيَهُ إِلَى الكَعْبَةِ، فَمَا يَحْرُمُ عَلَيْهِ مِمّا حَلّ لِلرِّجَالِ مِنْ أَهْلِهِ، حَتَّى يَرْجِعَ النّاسُ] (صحيح البخاري : ٥٥٦٦) | | مسروق له عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه وپوښتل چې ای ام المؤمنين ! که يو سړی په خپل کلي کور کې وي او قرباني کعبې ته واستوي ، وصيت وکړي چې د هغه قربانۍ ته دې نښه واچول شي ، او له دغې ورځې تر هغه ځان محرم وبولي تر څو نور خلک هم له احرام څخه ووځي ، له حجاب له بلې خوا مې د هغې د لاس پړق واورېد ، وېويل : د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قربانۍ پړي به مې په خپل لاس کلک وتړل ، هغه به کعبې ته واستول او پر ځان به يې هغه څه نه حرامول چې د کور نورو غړو ته به يې حلال وو ، ان چې خلک به بېرته راستانه شول . |
| د ضرورت په وخت پر قربانۍ سپرېدل جائز دي | | |
| ٥٠٢ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، [ أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يَسُوقُ بَدَنَةً، فَقَالَ لَهُ: ارْكَبْهَا قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ | | له ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو سړی وليد چې قرباني ( اوښه ) يې روانه کړې وه ، ورته يې وويل : پرې سپور شه ، هغه ورته وويل : د الله رسوله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| إِنَّهَا بَدَنَةٌ، قَالَ: ارْكَبْهَا وَيْلَكَ فِي الثَّانِيَةِ أَوْ فِي الثَّالِثَةِ ] ( صحيح البخاري : ٦١٦٠ ) | | وَسَلَّمَ ! دا خو قرباني ده ، هغه ورته وويل : خوار شې سپور شه پرې ، په دويم يا دريم ځل يې ورته وويل چې خوار شې . |
| په قربانۍ سپرېدل هله جائز دي چې بله سورلۍ ورسره نه وي | | |
| ٥٠٣ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: ارْكَبْهَا بِالْمَعْرُوفِ، إِذَا أُلْجِئْتَ إِلَيْهَا حَتَّى تَجِدَ ظَهْرًا ] ( صحيح مسلم : ١٣٢٤ ) . | | له جابر بن عبدالله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روايت دى چې له رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مې اورېدلي دي ويل يې : په نېکه توګه پرې سپور شه ، تر هغه پرې سپور شه چې بله سورلۍ درته په لاس درشي . |
| که د چا توان وي زياتې قربانۍ هم کولی شي | | |
| ٥٠٤ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ بَاتَ بِهَا يَعْنِي بِذِي الْحُلَيْفَةِ حَتَّى أَصْبَحَ، ثُمَّ رَكِبَ حَتَّى إِذَا اسْتَوَتْ بِهِ عَلَى الْبَيْدَاءِ حَمِدَ اللهَ وَسَبَّحَ وَكَبَّرَ، ثُمَّ أَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ وَأَهَلَّ النَّاسُ بِهِمَا» ، فَلَمَّا قَدِمْنَا أَمَرَ النَّاسَ فَحَلُّوا حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ أَهَلُّوا بِالْحَجِّ، وَنَحَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ بَدَنَاتٍ بِيَدِهِ قِيَامًا ] ( سنن ابي داود : ١٧٩٦ ) . | | له انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دى چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ذوالحليفه کې شپه سباه کړه ، بيا په سورلۍ سپور شو تر دې چې مېرې ( صحرا ) ته شو ، الحمدلله ، سبحان الله او الله اکبر يې وويل ، بيا يې د حج او عمرې لپاره نيت وکړ او خلکو هم نيتونه وکړل ، کله چې مکې ته ورسېد خلکو ته يې امر وکړ چې حلال شي ، او د ترويه په ورځ ( اتم ذوالحجه ) باندې د حج لپاره احرامونه وتړل ، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کې اووه اوښان په خپل لاس په داسې حالت کې ذبحه کړل چې ولاړ وو ( د نورو حيواناتو په خبر يې نه وو څملولي ) . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| له خپلې قرباني څخه خوراک کول ناروا نه دي | | |
| له جابر بن عبدالله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر وکړ چې له هرې اوښې ( قربانۍ ) څخه یې غوښه راوړل شي ، په کټوۍ ( دیګي ) کې واچول شوه وه ، هم یې غوښه وخوړه او هم یې خوروا ( شوروا ) وڅښله . | | ۵۰۵ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ أَمَرَ مِنْ كُلِّ جَزُورٍ بِبَضْعَةٍ، فَجُعِلَتْ فِي قِدْرٍ، فَأَكَلُوا مِنَ اللَّحْمِ، وَحَسَوْا مِنَ الْمَرَقِ ] ( سنن ابن ماجه : ۳۱۵۸ ) |
| خپله قرباني ټوله صدقه کول ناروا نه دي | | |
| علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي : نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سل اوښان ټول خیرات کړل ، ما ته یې امر وکړ چې زه یې غوښې تقسیم کړم ، بیا یې راته امر وکړ چې پرتې کټې پرې هم په خلکو تقسیم کړم ، بیا یې راته امر وکړ چې پوستکي یې هم تقسیم کړم . | | ۵۰۶ - : أَنَّ عَلِيّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ [ أَهْدَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِائَةَ بَدَنَةٍ، فَأَمَرَنِي بِلُحُومِهَا، فَقَسَمْتُهَا ثُمَّ أَمَرَنِي بِجِلاَلِهَا فَقَسَمْتُهَا، ثُمَّ بِجُلُودِهَا فَقَسَمْتُهَا ] (صحيح البخاري: ۱۷۱۸) |
| کله چې د قربانۍ ( حیوان ) بوتلل له امکانه ووځي | | |
| له ناجیة الاسلمي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پر قربانیو ګمارلی و چې ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه وپوښتل : که کومه قرباني ( څاروی ) په لاره کې ستړی ستومانه شي څه باید ورسره وکړم ؟ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وویل : که هره اوښه داسې ستومانه شي چې بوتلل یې ممکن نه وي ذبحه یې کړه او بوټان یې په وينو کې واچوه ، خلکو ته یې | | ۵۰۷ - : عَنْ نَاجِيَةَ الْأَسْلَمِيِّ - صَاحِبِ هَدْيِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَيْفَ أَصْنَعُ بِمَا عَطِبَ مِنَ الْهَدْيِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُلُّ بَدَنَةٍ عَطِبَتْ فَانْحَرْهَا، ثُمَّ أَلْقِ نَعْلَهَا فِي دَمِهَا، ثُمَّ خَلِّ بَيْنَهَا وَبَيْنَ النَّاسِ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| فَلْيَأْكُلُوهَا ] ( سنن الدارمي : ۱۹۵۰ ) . | | پرېږده چې ویې خوري . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| د نکاح بیان<br>د نکاح ګټې او فایدې | | |
| ٥٠٨ - : عَنْ عَبْدُ اللّٰهِ بنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قال [ كُنّا مَعَ النّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ شَبَابًا لَا نَجِدُ شَيْئًا، فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: يَا مَعْشَرَ الشّبَابِ، مَنِ اسْتَطَاعَ البَاءَةَ فَلْيَتَزَوّجْ، فَإِنّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصّوْمِ فَإِنّهُ لَهُ وِجَاءٌ ] (صحيح البخاري : ٥٠٦٦ ) | | له عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې مونږ د رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ سره په داسې مرحله کې وو چې ځوانان وو او ښځې بچې مو نه لرل ، مونږ ته رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وویل : ای ځوانانو ! که د چا د نکاح توان وي نو ښځه دې وکړي ، نکاح نظرونه ښکته کوي او فرج له ګناه نه سالم ساتي ، که د نکاح توان د چا نه وي نو روژه دې ونیسي ، روژه ورله ښه خصي توب دی . |
| د ډېرو بچو مور د ډېر برکت والا ده | | |
| ٥٠٩ - : عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، فَقَالَ: [ إِنّي أَصَبْتُ امْرَأَةً ذَاتَ حَسَبٍ وَجَمَالٍ وَإِنّهَا لَاتَلِدُ أَفَأَتَزَوّجُهَا قَالَ: لَا، ثُمّ أَتَاهُ الثّانِيَةَ فَنَهَاهُ، ثُمّ أَتَاهُ الثّالِثَةَ، فَقَالَ: تَزَوّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ ] ( سنن ابي داود : ٢٠٥٠ ) | | له معقل بن یسار رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې یو سړی رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ته راغی او وېویل : د ډېر ښایست او د ښه نسب ښځه مې نظر کې نیولې ده خو بچې نه راوړي ( شنډه ده ) ایا په نکاح یې واخلم؟ هغه ورته وویل : نا ، بیا ورته په دوهم ځل راغی نو ترې یې منعه کړ ، په دریم ځل بیا راغی نو ورته یې وویل : ډېرې مینه ناکې او ډېر بچې راوړونکې ښځې وکړئ ، د قیامت په ورځ به زه تاسو باندې په نورو امتونو د کثرت فخر کوم . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| د عفت په خاطر نکاح کولو کې د الله مرسته : | | |
| له ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : درې قسمه خلکو سره مرسته پر الله پاک ( تفضلي ) حق دی : د الله په لاره کې مجاهد سره ، له هغه مکاتب (غلام) سره چې متفق مبلغ ادا کولو کې ربنتونی وي ، د هغه سړي سره چې د عفت په خاطر نکاح کوي . | | ۵۱۰ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ ثَلَاثَةٌ حَقٌّ عَلَى اللَّهِ عَوْنُهُمْ: الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَالْمُكَاتَبُ الَّذِي يُرِيدُ الْأَدَاءَ، وَالنَّاكِحُ الَّذِي يُرِيدُ الْعَفَافَ] (جامع الترمذي ۱۶۵۵) |
| نېکه ښځه د دنيا غوره څکه ده | | |
| له عبدالله بن عمرو بن بن العاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : دنيا ټوله څکه څکه(فايده) ده ، او نېکه فايده يې صالحه ښځه ده | | ۵۱۱ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ إِنَّ الدُّنْيَا كُلَّهَا مَتَاعٌ، وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ ] (سنن النسائي: ۳۲۳۲) |
| نېکه ښځه د دنيا ښه برخه ده | | |
| له سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : څلور شيان د انسان د سعادت نښې دي ، نېکه ښځه ، پراخه کور ، غوره ګاونډي ، له سکون نه ډکه سورلۍ ، او څلور د شقاوت نښې دي ، بې کاره | | ۵۱۲ - : عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ أَرْبَعٌ مِنَ السَّعَادَةِ: الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ، وَالْمَسْكَنُ الْوَاسِعُ، وَالْجَارُ الصَّالِحُ، وَالْمَرْكَبُ الْهَنِيءُ، وَأَرْبَعٌ مِنَ الشَّقَاوَةِ: الْجَارُ السُّوءُ، وَالْمَرْأَةُ السُّوءُ، |

WWW.LARHIKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَالْمَسْكَنُ الضِّيقُ، وَالْمَرْكَبُ السُّوءُ ] ( صحيح ابن حبان : ٤٠٣٢ ) . | | ګاونډي ، بې کاره ښځه ، تنګ کور ، او کړاوجنه سورلي . |
| په نکاح باید دینداره ښځه واخستل شي | | |
| ٥١٣ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ: لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا، فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ، تَرِبَتْ يَدَاكَ ] ( صحيح البخاري : ٥٠٩٠ ) . | | له ابوهریرةرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : د څلورو شیانو په خاطر ښځه په نکاح اخستلی شي : دمالدارۍ په خاطر ، د ښه نسب په خاطر ، د ښکلا په خاطر ، او د دین په خاطر ، لاسونه دې خاورې شه دینداره ښځه باندې غازي شه . |
| له نکاح نه مخکې متزوج کولی شي ښځې ته اوګوري | | |
| ٥١٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ [ كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ تَزَوَّجَ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَظَرْتَ إِلَيْهَا؟ قَالَ: لَا، قَالَ: فَاذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا، فَإِنَّ فِي أَعْيُنِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا ] ( صحيح مسلم : ١٤٢٤ ) . | | له ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې زه له نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وم چې یو سړی راغی او خبر یې کړ چې په انصارو کې یې ښځه کړې ده ، نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل : ایا ښځه دې لیدلې ده ؟ هغه وویل : نا ، نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل : لومړی ښځه ووینه ، د انصارو ښځو سترګې وړې دي . |
| ٥١٥ - : عَنْ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ خَطَبَ امْرَأَةً، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ | | مغیرة بن شعبه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ یوه ښځه په نکاح واخسته ، نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل : ښځې ته دې اوګوره ، ځکه لیدل یې شاید ستاسو |

WWW.LARHAUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| [انْظُرْ إِلَيْهَا، فَإِنَّهُ أَحْرَى أَنْ يُؤْدَمَ بَيْنَكُمَا ] ( جامع الترمذي : ١٠٨٧ ). | | دواړو ترمنځ مينه لازياته کړي . |
| پر هغې ښځې به څوک نکاح نه تړي چې بل څوک يې غواړي | | |
| ٥١٦ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا كَانَ يَقُولُ [ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيعَ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَلاَ يَخْطُبَ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ، حَتَّى يَتْرُكَ الخَاطِبُ قَبْلَهُ أَوْ يَأْذَنَ لَهُ الخَاطِبُ ] ( صحيح البخاري : ٥١٤٢ ). | | له عبدالله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منعه کړېده چې څوک دې د چا په اخستلو خرڅولو خپل اخستل خرڅول وکړي ، يا د خپل ورور په نکاح خپله نکاح وتړي تر دې چې يا خو يې خاطب ( څوک چې ښځه کوي ) پريږدي او يا ورته اجازه ورکړي . |
| ٥١٧ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رِضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ لَا يَسْتَامُ الرَّجُلُ عَلَى سَوْمِ أَخِيهِ حَتَّى يَشْتَرِيَ أَوْ يَتْرُكَ، وَلَا يَخْطُبُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ حَتَّى يَنْكِحَ أَوْ يَذَرَ ] ( صحيح ابن حبان : ٤٠٥٠ ). | | له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي (مسلمان) سړی به د بل (مسلمان) سړي په بيعه خپله بيعه نه کوي تر څو يې اخستی نه وي او يا يې پرېښی نه وي ، او نه به يې په خِطبه ( ښځې کولو ) خطبه کوي تر څو يې په نکاح واخلي او يا يې پرېږدي . |
| نکاح کونکي ته دعا کول | | |
| ٥١٨ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ | | له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې کله به چا ښځه وکړه نو نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا رَفَّأَ الْإِنْسَانَ إِذَا تَزَوَّجَ ، قَالَ بَارَكَ اللَّهُ لَكَ، وَبَارَكَ عَلَيْكَ، وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ ] (سنن ابي داود : ٢١٣٠ ) | | ورته د خير دعا كوله ، او ورته به يې وويل : پر تا او ستا لپاره دې په كې الله بركت واچوي ، او تاسو دواړه دې په خير او محبت سره يو ځای كړي . |
| د شوال په مياشت كې كور ودانولو باندې بدپالي نيول ناروا دي | | |
| ٥١٩ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ [ تَزَوَّجَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَوَّالٍ، وَبَنَى بِي فِي شَوَّالٍ، فَأَيُّ نِسَاءِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَحْظَى عِنْدَهُ مِنِّي؟ ] ( صحيح مسلم : ١٤٢٣ ) . | | عايشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا وايي : د شوال په مياشت كې راباندې نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نكاح وتړله او د شوال په مياشت كې يې واده كړم ،ايا له ما پرته نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته بله كومه بي بي د ډېرې برخې خاونده وه ؟ ( سره له دې چې نورې په شوال كې نه وې واده شوې ) . |
| په ودونو كې خيرات كول ناروا نه دي | | |
| ٥٢٠ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِهِ أَثَرُ صُفْرَةٍ، فَسَأَلَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ تَزَوَّجَ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ، قَالَ : كَمْ سُقْتَ إِلَيْهَا؟ قَالَ: زِنَةَ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ ] ( | | له انس بن مالك رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دى چې عبدالرحمن بن عوف نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته په داسې حالت كې راغى چې د خوشبو اثر پرې و ، نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترې پوښتنه وكړه ، هغه ورته وويل چې په انصارو كې يې ښځه كړې ده ، نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل چې څومره مهر دې وركړى دى ؟ هغه ورته وويل : د زړې په اندازه سره زر مې وركړي دي ، نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : خيرات وكړه كه |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| صحيح البخاري : ٥١٥٣ ) . | | څه هم يوه بزه وي . |
| د واده خيرات کول مندوب دی ، فرض نه دي | | |
| ٥٢١ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: «أَوْلَمَ عَلَى صَفِيَّةَ بِسَوِيقٍ، وَتَمْرٍ ] ( سنن ابي داود : ٣٧٤٤ ) . | | له انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې د صفيه رَضِيَ اللهُ عَنْهُا په وليمه کې نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ حلوا او کجورې ورکړې . |
| ٥٢٢ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [ أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ أَعْتَقَ صَفِيَّةَ وَتَزَوّجَهَا، وَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا، وَأَوْلَمَ عَلَيْهَا بِحَيْسٍ ] (صحيح البخاري:٥١٦٩) | | له انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ صفيه رَضِيَ اللهُ عَنْهُا ازاده کړه ، او مهر يې ازادي وه ، او په وليمه کې يې خلکو ته حلوا ورکړه . |
| په نکاح کې کفائت شرط نه دی | | |
| ٥٢٣ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [ أَنّ أَبَا هِنْدٍ حَجَمَ النبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فِي اليَافُوخِ فَقَال النَّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ : يَا بَنِيْ بَيَاضَةَ! أَنْكِحُوْا أَبَا هِنْدٍ وَ أَنْكِحُوْا إِلَيْهِ ] ( صحيح ابي داود : ١٨٣٢ ) | | له ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ابوهند د نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ د سر په منځ کې ښکر ولګو ، نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وويل ای بنوبياضه ! ابوهند سره نکاحونه هم وکړئ او نکاحونه ترې هم وکړئ . |
| څوک په طلاق مجبوروول حرام دي | | |
| ٥٢٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ [ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلّى | | له ابوهريرةرَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ له دې څخه منعه کړېده چې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُنْكَحَ الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا أَوْ خَالَتِهَا، أَوْ أَنْ تَسْأَلَ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا لِتَكْتَفِئَ مَا فِي صَحْفَتِهَا، فَإِنّ اللّٰهَ عَزّ وَجَلّ رَازِقُهَا ] ( صحيح مسلم : ١٤٠٨ ) | | د پلار او مور له مخې ترور باندې دې ښځه ( وریره یا خورزه ) په نکاح کړی شي ، یا ښځه وغواړي د خپلې خور طلاق له خاوند څخه وغواړي په دې خاطر چې د هغې لوښی ځان ته چپه کړي ، نا بلکې الله ورته رزق ورکونکی دی . |
| | ښځه به ولې د خپل بن طلاق نه غواړي ؟ | |
| ٥٢٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ لاَ تَسْأَلِ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا لِتَسْتَفْرِغَ صَحْفَتَهَا، وَلْتَنْكِحْ، فَإِنّ لَهَا مَا قُدّرَ لَهَا ] (صحيح البخاري:٦٦٠٠) | | له ابوهریرةرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي : هیڅ ښځه دې د خپلې خور ( بن ) طلاق نه غواړي په دې خاطر چې ځان ته یې له لوښي څخه هر څه راواړوي هرومرو دې نکاح وکړي، بلکې هغې ته هغه اندازه ورکړل کیږي چې ورته تقدیر کې لیکل شوي وي . |
| | په نکاح کې د ولي بیان | |
| ٥٢٦ - : عَنِ الحَسَنِ قَالَ أَنّ مَعْقِلَ بْنَ يَسَارٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَتْ أُخْتُهُ تَحْتَ رَجُلٍ، فَطَلّقَهَا ثُمّ خَلّى عَنْهَا، حَتّى انْقَضَتْ عِدّتُهَا، ثُمّ خَطَبَهَا، فَحَمِيَ مَعْقِلٌ مِنْ ذَلِكَ أَنَفًا، فَقَالَ: خَلّى عَنْهَا وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَيْهَا، ثُمّ يَخْطُبُهَا، فَحَالَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا، فَأَنْزَلَ اللّٰهُ: {وَإِذَا طَلّقْتُمُ | | حسن رَحِمَهُ اللّٰهُ وایي چې د معقل بن یسار رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خور د یو چا په نکاح کې وه نو طلاق یې ورته ورکړ او مخه یې ورله خلاصه کړه ، تر دې چې عدت یې پوره شو ، بیرته یې ترې مطالبه وکړه ، معقل رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ غیرت ونیو او شدید انکار یې وکړ ، او ویویل : ښه یې طاقت درلوده او مخه یې ورله خلاصه پرېښوه او لا بیا یې په نکاح غواړي ؟!! نو ترمنځ یې مانع واقع شو ، الله پاک دا ایت نازل کړ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلاَ تَعْضُلُوهُنَّ} إِلَى آخِرِ الآيَةِ «فَدَعَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فَقَرَأَ عَلَيْهِ» ، فَتَرَكَ الحَمِيّةَ وَاسْتَقَادَ لِأَمْرِ اللهِ ] ( صحيح البخاري : ٥٣٣١ ) | | ( تاسو چې کله ښځو ته طلاق ورکړئ او تر خپلې نیتې ورسیږي ( عدت پوره شي ) نو له نکاح څخه یې مه راېندوئ ..) نبي کریم ځان ته راوغوښت او نازل شوي ایتونه یې پرې ولوستل ، معقل رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خپل غیرت پریښود او د الله حکم ته یې تن کېښود |
| که ښځه ولي نه لري حاکم یې ولي ګرځېدی شي | | |
| ٥٢٧ - : عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [ أَنّ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ لِرَجُلٍ: أَتَرْضَى أَنْ أُزَوِّجَكَ فُلَانَةَ؟ قَالَ: نَعَمْ، وَقَالَ لِلْمَرْأَةِ: أَتَرْضَيْنَ أَنْ أُزَوِّجَكِ فُلَانًا؟ قَالَتْ: نَعَمْ، فَزَوّجَ أَحَدَهُمَا صَاحِبَهُ فَدَخَلَ بِهَا الرّجُلُ وَلَمْ يَفْرِضْ لَهَا صَدَاقًا، وَلَمْ يُعْطِهَا شَيْئًا وَكَانَ مِمّنْ شَهِدَ الْحُدَيْبِيَةَ وَكَانَ مَنْ شَهِدَ الْحُدَيْبِيَةَ لَهُ سَهْمٌ بِخَيْبَرَ فَلَمّا حَضَرَتْهُ الْوَفَاةُ قَالَ: إِنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ زَوّجَنِي فُلَانَةَ، وَلَمْ أَفْرِضْ لَهَا صَدَاقًا، وَلَمْ أُعْطِهَا شَيْئًا، وَإِنِّي أُشْهِدُكُمْ أَنِّي | | له عقبه بن عامر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو سړي ته وویل : خوښه دې نه ده چې فلانکۍ ښځه درته په نکاح کړم ؟ هغه وویل : هو، ولې نه ، او ښځې ته یې وویل : خوښه دې نه ده چې فلانکي سړي ته دې په نکاح ورکړم ؟ هغې وویل : هو ، ولې نه ، د دواړو نکاح یې وتړله ، سړی ورسره میلاو شو خو لا مهر یې نه و تعین شوی او نه یې څه ورکړي وو ، خو سړی د حدیبې ګډونوال و او هر ګډونوال په خیبر کې برخه لرله ، چې کله مړ کېده سړي وویل : فلانکۍ ښځه را ته نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نکاح راکړې وه ، نه مهر تعین شوی و او نه ما څه ورکړي وو ، تاسو ټول ګواهان شئ چې ما ورته په مهر کې د خیبر خپله برخه ورکړه ، ښځې یې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| أَعْطَيْتُهَا مِنْ صَدَاقِهَا سَهْمِي بِخَيْبَرَ، فَأَخَذَتْ سَهْمًا فَبَاعَتْهُ بِمِائَةِ أَلْفٍ ] (سنن ابي داود: ٢١١٧) | | برخه واخسته او په يو لاک يې خرڅه کړه . |
| د ولي له اجازې پرته نکاح نه صحيح کيږي | | |
| ٥٢٨ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ أَيُّمَا امْرَأَةٍ لَمْ يُنْكِحْهَا الْوَلِيُّ، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، فَإِنْ أَصَابَهَا، فَلَهَا مَهْرُهَا بِمَا أَصَابَ مِنْهَا، فَإِنِ اشْتَجَرُوا، فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ ] ( سنن ابن ماجه : ١٨٧٩ ) . | | له عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا نه روايت دی چې رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : هره ښځه که د ولي له اجازې پرته نکاح وکړي نو نکاح يې باطله ده ، نکاح يې باطله ده ، نکاح يې باطله ده ، که سړی ورسره ميلاو شو نو مهر به ورته ورکوي ، که ترمنځ يې شخړه راشي نو حاکم د هغه چا ولي دی چې ولي نه لري . |
| ولي بايد د نکاح په مهال له ښځې څخه مشوره واخلي : | | |
| ٥٢٩ - : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حَدَّثَهُمْ: أَنَّ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ لاَ تُنْكَحُ الأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ، وَلاَ تُنْكَحُ البِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، وَكَيْفَ إِذْنُهَا؟ قَالَ: أَنْ تَسْكُتَ ] ( صحيح البخاري : ٥١٣٦ ) | | له ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : له مشورې پرته کونډه په نکاح نه شي ورکول کېدی ، او باکره به له اجازې پرته په نکاح نه ورکول کيږي ، هغوی ( صحابه کرامو ) وويل : د اللّٰه رسوله ! باکره لا څنګه اجازه کولی شي ؟ هغه وويل : چې خاموشه شي . |
| ٥٣٠ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ الثَّيِّبُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ | | له ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې نبی کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي ، ثيبه ( کونډه ) له ولي څخه په ځان ډېره حقداره ده ، او له |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَلِيِّهَا، وَالْبِكْرُ تُسْتَأْمَرُ، وَإِذْنُهَا سُكُوتُهَا ] ( صحيح مسلم : ۱٤۲۱ ) | | باکرې ښځه به مشوره اخستلی شي ، مشوره يې چپوالی دی . |
| يتيمه به هم له اجازې پرته په نکاح نه ورکول کيږي : | | |
| ۵۳۱ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ تُسْتَأْمَرُ الْيَتِيمَةُ فِي نَفْسِهَا، فَإِنْ سَكَتَتْ فَهُوَ إِذْنُهَا، وَإِنْ أَبَتْ فَلَا جَوَازَ عَلَيْهَا ] ( سنن ابي داود :۲۰۹۳ ) . | | له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : له يتيمې ښځه به د ځان ( نکاح ) په باره کې مشوره اخستلی شي ، که خاموش شوه نو دغه يې اجازه ده ، خو که انکار يې وکړي نو په نکاح به نه شي مجبورلی . |
| مهر معنويات هم کېدلی شي | | |
| ۵۳۲ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْتَقَ صَفِيَّةَ وَتَزَوَّجَهَا، وَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا، وَأَوْلَمَ عَلَيْهَا بِحَيْسٍ ] ( صحيح البخاري : ۵۱٦۹ ) . | | له انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صفيه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ازاده کړه ، او مهر يې ازادي وه ، او په وليمه کې يې خلکو ته حلوا ورکړه |
| مهر حسيات هم کېدلی شي : | | |
| ۵۳۳ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَثَرَ صُفْرَةٍ، فَقَالَ: مَهْيَمْ، أَوْ مَهْ قَالَ: تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً عَلَى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ | | له انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په عبدالرحمن بن عوف رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ باندې د خوشبويي اثر وليد ، ورنه يې وپوښتل چې دا څه دي ؟ هغه وويل : د الله رسوله ! صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په انصارو کې مې د کجورې د زړې په اندازه سرو زرو په بدل کې ښځې سره واده وکړ ، هغه ورته وويل : الله دې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ذَهَبٍ، فَقَالَ: بَارَكَ اللَّهُ لَكَ، أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ ] ( صحيح البخاري : ٦٣٨٦) | | په کې ستا لپاره برکت واچوي ، ولیمه ورکړه که څه هم ووزه ( بزه ) هم وي . |
| ښځې ته مهر ورکول فرض دي : | | |
| ٥٣٤ - : عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ أَحَقُّ الشُّرُوطِ أَنْ تُوفُوا بِهِ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الفُرُوجَ ] ( صحيح البخاري :٢٧٢١ ). | | له عقبة بن عامر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : په وفاء باندې ډېر حقدار شروط هغه دي چې تاسو پرې ځانونو ته فرجونه ( ښځې ) حلالې کړي دي |
| لږ مهر د ښځې د برکت نښه ده | | |
| ٥٣٥ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ مِنْ يُمْنِ الْمَرْأَةِ تَسْهِيلُ أَمْرِهَا، وَقِلَّةُ صَدَاقِهَا ] ( صحيح ابن حبان : ٤٠٩٥ ). | | له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روایت دی چې ما ته رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وویل : د ښځې د ښه والي نښه دا ده چې نکاح یې اسانه وي او مهر یې کم وي . |
| که څوک توان لري ډېر مهر هم ورکولی شي : | | |
| ٥٣٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ [ كَانَ صَدَاقُنَا إِذْ كَانَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ أَوَاقٍ، وَطَبَّقَ بِيَدَيْهِ، وَذَلِكَ أَرْبَعُ مِائَةٍ ] ( مسند احمد : ٨٨٠٧ ) | | له ابوهریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغه وخت چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمونږ ترمنځ ژوندی و ، لس اوقیې زمونږ مهر و، دواړه لاسونه یې سره راغونډ کړل چې لس اوقیې د څلوره سوه درهمو مساوي دي . |

WWW.LARHAND.COM

| | | |
|---|---|---|
| **د غیر مدخول بها ځینې احکام** | | |
| ٥٣٧ -: عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [ فِي رَجُلٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةً فَمَاتَ عَنْهَا، وَلَمْ يَدْخُلْ بِهَا وَلَمْ يَفْرِضْ لَهَا الصَّدَاقَ، فَقَالَ: لَهَا الصَّدَاقُ كَامِلًا، وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ، وَلَهَا الْمِيرَاثُ، فَقَالَ مَعْقِلُ بْنُ سِنَانٍ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى بِهِ فِي بِرْوَعَ بِنْتِ وَاشِقٍ] (سنن ابي داود: ٢١١٤ ) | | مسروق رَحِمَهُ اللّهُ وايي چې له عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه چا د هغې ښځې متعلق پوښتنه وکړه چې خاوند يې وفات شي او دخول پرې نه وي شوی او نه يې مهر معلوم وي ، هغه ورته وويل : ښځې ته به پوره مهر ورکول کيږي او عدت به تېروي اومېراث هم ورلی شي ، معقل بن سنان رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ وويل : ما له رسول الله صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه همدغه فيصله د بروع بنت واشق کې اورېدلې وه |
| **په اثارو د نسب پېژندل د اسلام ضد نه دي** | | |
| ٥٣٨ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا [ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا مَسْرُورًا، تَبْرُقُ أَسَارِيرُ وَجْهِهِ، فَقَالَ: أَلَمْ تَسْمَعِي مَا قَالَ الْمُدْلِجِيُّ لِزَيْدٍ ، وَأُسَامَةَ ، وَرَأَى أَقْدَامَهُمَا: إِنَّ بَعْضَ هَذِهِ الْأَقْدَامِ مِنْ بَعْضٍ ] (صحيح البخاري:٣٥٥٥) | | له عائشې رَضِيَ اللّهُ عَنْهَا نه روايت دی چې ما ته رسول الله په داسې حالت کې راغی چې ډېر خوشحاله او خوشحالي يې په مخ کې پرقېده، او وې ويل: د مدلجي خبره دې وانه ورېده چې د زيد او اسامه رَضِيَ اللّهُ عَنْهُمَا قدمونه يې وليدل وويل : دا قدمونه سره خپل منځ کې ورته والی لري . |
| **په زنا سره نسب نه شي ثابتېدلی** | | |
| ٥٣٩ - :عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ [ اخْتَصَمَ سَعْدٌ وَابْنُ زَمْعَةَ، | | له عائشې رَضِيَ اللّهُ عَنْهَا نه روايت دی چې سعد بن ابي وقاص او ابن زمعه ( په يو ماشوم سره په جنګ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هُوَ لَكَ يَا عَبْدُ بْنَ زَمْعَةَ، الوَلَدُ لِلْفِرَاشِ، وَاحْتَجِبِي مِنْهُ يَا سَوْدَةُ زَادَ لَنَا قُتَيْبَةُ، عَنِ اللَّيْثِ : وَلِلْعَاهِرِ الحَجَرُ ] (صحيح البخاري: ٦٨١٧) | | شول ) نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : ای عبدبن زمعه ! ماشوم ستا حق دی ، ماشوم د بسترې پسې ځي ، ای سوده رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهَا ! ته ورڅخه پرده کوه ، له ليث څخه راته قتيبه دا زيادت هم روايت کړ چې د زناکار لپاره کاڼی ( رجم ) دی . |
| رنګونه له نسب سره هېڅ تعلق نه لري | | |
| ٥٤٠ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَهُ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ امْرَأَتِي وَلَدَتْ غُلَامًا أَسْوَدَ ، فَقَالَ: هَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ قَالَ : نَعَمْ ، قَالَ: مَا أَلْوَانُهَا قَالَ : حُمْرٌ، قَالَ : هَلْ فِيهَا مِنْ أَوْرَقَ قَالَ: نَعَمْ ، قَالَ: فَأَنَّى كَانَ ذَلِكَ قَالَ : أُرَاهُ عِرْقٌ نَزَعَهُ، قَالَ: فَلَعَلَّ ابْنَكَ هَذَا نَزَعَهُ عِرْقٌ ] ( صحيح البخاري : ٦٨٤٧ ) . | | له ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يوه اعرابي راغی او وېويل ای د الله رسوله ! ښځې مې تور ماشوم زېږولی دی ، نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : ايا اوښان لرې ؟ هغه وويل : هو ، نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : له رنګه څخه څه ډول دي ، سړي وويل : له رنګه سره دي ، نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : ايا اېره رنګی په کې شته ؟ هغه وويل : هو ، نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : چې دا به ترې ولې پيدا شوی وي ؟ هغه وويل : شايد رګ يې راښکلی وي ! نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : شايد ستا ځوی به هم کوم رګ راښکلی وي . |
| له رضاعت څخه هغه څه حراميږي چې په نسب سره حراميږي : | | |
| ٥٤١ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ: [جَاءَ عَمِّي مِنَ الرَّضَاعَةِ فَاسْتَأْذَنَ عَلَيَّ فَأَبَيْتُ أَنْ آذَنَ لَهُ، حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ | | له عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دی چې ما ته مې د رضاعت له مخې تره راغی او غوښتل يې ملاقات راسره وکړي خو ولې ما ورته اجازه ونه کړه تر څو له رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه |

WWW.LARHKUD.COM

وَسَلَّمَ، فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: إِنَّهُ عَمُّكِ، فَأْذَنِي لَهُ قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّمَا أَرْضَعَتْنِي المَرْأَةُ، وَلَمْ يُرْضِعْنِي الرَّجُلُ، قَالَتْ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّهُ عَمُّكِ، فَلْيَلِجْ عَلَيْكِ قَالَتْ عَائِشَةُ: وَذَلِكَ بَعْدَ أَنْ ضُرِبَ عَلَيْنَا الحِجَابُ، قَالَتْ عَائِشَةُ: يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ الوِلاَدَةِ ] (صحيح البخاري: ٥٢٣٩)

پوښتنه وکړم ، چې کله راغی او پوښتنه مې ورنه وکړه راته یې وویل : هغه خو ستا تره دی اجازه ورته وکړه ، ما ورته وویل : ما ته خو یې ښځې پی (شیده) راکړي دي څه سړي خو نه دي، هغه وویل: سړی دې تره پرېږده چې ملاقات درسره وکړي ، عایشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وایي : پر مونږ د حجاب له فرضیت نه وروسته دا مسله منځ ته راغله ، عایشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وایي: له ولادت څخه هغه څه حرامیږي چې له نسب څخه حرامیږي .

## رضاعي خور باندې نکاح تړل حرام دي :

٥٤٢ - : عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، أَنَّهَا قَالَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ يَا رَسُولَ اللَّهِ، انْكِحْ أُخْتِي عَزَّةَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَتُحِبِّينَ ذَلِكِ؟ فَقَالَتْ: نَعَمْ، يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَسْتُ لَكَ بِمُخْلِيَةٍ، وَأَحَبُّ مَنْ شَرِكَنِي فِي خَيْرٍ أُخْتِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَإِنَّ ذَلِكِ لَا يَحِلُّ لِي، قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَإِنَّا نَتَحَدَّثُ أَنَّكَ تُرِيدُ أَنْ تَنْكِحَ دُرَّةَ بِنْتَ أَبِي سَلَمَةَ، قَالَ: بِنْتَ أَبِي سَلَمَةَ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ أَنَّهَا لَمْ تَكُنْ رَبِيبَتِي فِي

ام حبیبې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وویل : زما خور ( عزه ) په نکاح واخله ، هغه راته وویل : ایا ستا دا خوښه ده ؟ ما وویل : له بن څخه درته هسې هم نه ځانله کېږم ، خو خوښه مې ده چې په دغه خیر کې راسره خور شریکه شي ، هغه وویل : زما لپاره هغه نه ده حلاله ، ما وویل : د الله رسوله ! خبر شوي یو چې د ابوسلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لور ( درّه ) په نکاح اخلې ؟ هغه وویل : د ابوسلمه لور ؟ ما وویل : هو ، هغه وویل : که زما په سرپرستۍ کې مې پرکتې هم نه وه نو هم راته نه ده حلاله ، هغه خو د رضاعي ورور لور ده ، ما او

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| حِجْرِي مَا حَلّتْ لِي، إِنّهَا ابْنَةُ أَخِي مِنَ الرّضَاعَةِ، أَرْضَعَتْنِي وَأَبَا سَلَمَةَ ثُوَيْبَةُ فَلَا تَعْرِضْنَ عَلَيّ بَنَاتِكُنّ وَلَا أَخَوَاتِكُنّ ] ( صحيح مسلم : ١٤٤٩ ) | | ابوسلمه ته ثويبه ( شوده ) راکړي دي ، خپلې لورګانې او خورګانې راته مه راوړاندې کوئ . |
| که په محرماتو څوک نکاح وترې نو قتل يې سزا ده : | | |
| ٥٤٣ - : عَنْ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: مَرّ بِي خَالِي أَبُو بُرْدَةَ بْنُ نِيَارٍ وَمَعَهُ لِوَاءٌ، فَقُلْتُ: أَيْنَ تُرِيدُ؟ قَالَ: بَعَثَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ إِلَى رَجُلٍ تَزَوّجَ امْرَأَةَ أَبِيهِ أَنْ آتِيَهُ بِرَأْسِهِ] (جامع الترمذي:١٣٦٢) | | براء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې زما ماما ابوبرده بن نيار رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره جنډه وه ما باندې تېر شو ، ترې ومې پوښتل چې چرته ځې ؟ هغه وويل ، رسول اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ مې د يو سړي قتل پسې استوي چې د پلار ښځه (مېرنه مور) يې په نکاح اخستې ده چې سر يې ورته راوړم . |
| ٥٤٤ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنهَا قَالَتْ: [ طَلّقَ رَجُلٌ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا، فَتَزَوّجَهَا رَجُلٌ، ثُمّ طَلّقَهَا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا، فَأَرَادَ زَوْجُهَا الْأَوّلُ أَنْ يَتَزَوّجَهَا، فَسُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: لَا، حَتّى يَذُوقَ الْآخِرُ مِنْ عُسَيْلَتِهَا مَا ذَاقَ الْأَوّلُ ] (صحيح مسلم:١٤٣٣) | | له عائشې رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دی چې يو سړي خپله ښځه په درېو طلاقو طلاقه کړه ، بل سړي په نکاح واخسته خو له دخول مخکې هغه هم طلاقه کړه نو لومړی خاوند يې په نکاح اخستو اراده ولرله ، نو له نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ نه وپوښتل شول چې ايا لومړی خاوند يې په نکاح اخستی شي ؟ هغه وويل : نا ، تر څو وروستني ( خاوند ) يې د لومړی خاوند په څېر ګبين ګوتې نه وي څکلی . |
| متعه حرامه ده | | |
| ٥٤٥ - : عَنْ عَلِيّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى | | له علي رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ د خيبر په ورځ د ښځو له |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ نَهَى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ يَوْمَ خَيْبَرَ، وَعَنْ أَكْلِ لُحُومِ الحُمُرِ الإِنْسِيَّةِ ] ( صحيح البخاري : ٤٢١٦ ) | | متعې (مؤقتي نکاح) او د کورني خرو (خوړلو ) څخه منعه کړې ده . |
| ٥٤٦ - : عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ سَبْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ [عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ أَمَرَهُمْ بِالْمُتْعَةِ قَالَ: فَخَطَبْتُ أَنَا، وَرَجُلٌ امْرَأَةً، قَالَ: فَلَقِيتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ثَلَاثٍ، فَإِذَا هُوَ يُحَرِّمُهَا أَشَدَّ التَّحْرِيمِ، وَيَقُولُ فِيهَا: أَشَدَّ الْقَوْلِ، وَيَنْهَى عَنْهَا أَشَدَّ النَّهْيِ ] ( مسند احمد بن حنبل : ١٥٣٤٧ ) . | | ربيع له خپل پلار سبره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت کوي چې نبی کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته د ښځو سره په نکاح متعه امر کړی و ، نو ما او يو بل سړي يوه ښځه په نکاح واخسته ، له درې ورځو وروسته زه د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مخ شوم نو متعه يې په سختو الفاظو حرامه کړه او سختې خبرې يې د متعې اړوند وکړې ، او سخته منعه يې ورڅخه کوله |
| ٥٤٧ - : عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ سَبْرَةَ الْجُهَنِيِّ عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ نَهَى عَنِ الْمُتْعَةِ، وَقَالَ: أَلَا إِنَّهَا حَرَامٌ مِنْ يَوْمِكُمْ هَذَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ كَانَ أَعْطَى شَيْئًا فَلَا يَأْخُذْهُ ] ( صحيح مسلم : ١٤٠٦ ) . | | ربيع له خپل پلار سبره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْه نه روايت کوي چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له متعې څخه منعه کړېده ، او ويلي دي چې له نن څخه تر قيامته درباندې حرامه ده ، که چا په متعه کې ښځې ته څه ورکړې وي نو بېرته دې ترې نه اخلي . |
| د بدل نکاح حرامه ده | | |
| ٥٤٨ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الشِّغَارِ قُلْتُ | | له عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له شغار ( بدل |

| | | |
|---|---|---|
| لِنَافِعٍ: مَا الشِّغَارُ؟ قَالَ: يَنْكِحُ ابْنَةَ الرَّجُلِ وَيُنْكِحُهُ ابْنَتَهُ بِغَيْرِ صَدَاقٍ، وَيَنْكِحُ أُخْتَ الرَّجُلِ وَيُنْكِحُهُ أُخْتَهُ بِغَيْرِ صَدَاقٍ ] ( صحيح البخاري : ٥١١٢ ). | | نکاح ) نه منعه کړې ده ، عبیدالله وايي : ما نافع ته وویل : شغار څه ته ویلی شي ؟ هغه وویل : چې څوک چا ته خپله لور یا خور په دې شرط ورکړي چې لور یا خور به په نکاح ورکوي او ترمنځ یې مهر هم نه وي . |
| ٥٤٩ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ [ لَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ ] ( صحيح مسلم : ١٤١٥ ). | | له ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایلي دي : په اسلام کې د بدل نکاح بیخي نشته . |
| د اسلام په راوړلو مخکنې نکاح نه ماتیږي | | |
| ٥٥٠ - : عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ فَيْرُوزَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قُلْتُ [ يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَسْلَمْتُ وَتَحْتِي أُخْتَانِ؟، قَالَ: طَلِّقْ أَيَّتَهُمَا شِئْتَ ] ( سنن ابي داود : ٢٢٤٣ ) | | ضحاک له خپل پلار فیروز نه روایت کوي چې ما رسول الله صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ته وویل : ما اسلام راوړی دی او په نکاح کې مې دوه خویندې دي ، هغه وویل : چې کومه دې خوښه یې ورته طلاق ورکړه . |
| ٥٥١ - : عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللّهُ عَنْهُمَا [ أَنَّ غَيْلَانَ بْنَ سَلَمَةَ الثَّقَفِيّ أَسْلَمَ وَلَهُ عَشْرُ نِسْوَةٍ فِي الجَاهِلِيَّةِ، فَأَسْلَمْنَ مَعَهُ، «فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ أَنْ يَتَخَيّرَ أَرْبَعًا مِنْهُنّ ] .( جامع الترمذي : ١١٢٨ ). | | ابن عمر رَضِىَ اللّهُ عَنْهُمَا وايي : غیلان بن سلمه چې اسلام راوړ نو لس ښځې یې د جاهلیت له دوره په نکاح کې وې او ټولو ښځو یې هم اسلام راوړ ، نبي کریم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ورته امر وکړ چې څلور یې ترې د ځان لپاره غوره کړي او نورې پرېږدي . |

WWW.ARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ښځه به خپل خاوند ته نورې ښځې نه توصیفوي | | |
| ۵۵۲ – : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ لاَ تُبَاشِرُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ، فَتَنْعَتَهَا لِزَوْجِهَا كَأَنَّهُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا ] ( صحيح البخاري : ۵۲۴۰ ). | | د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: هېڅ ښځه دې د ښځې سره (لغړه، لوڅه) نه څملي، چې بیا یې خپل خاوند ته داسې توصیفوي لکه هغه چې ورته ګوري . |
| خاوند پر ښځې ډېر حقوق لري | | |
| ۵۵۳ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ لَوْ كُنْتُ آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا ] ( جامع الترمذي : ۱۱۵۹ ). | | له ابوهریرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : که چا ته مې په سجده کولو امر کولای نو ښځې ته به مې امر کړی وی چې خپل خاوند ته یې سجده کړې وه. |
| د جنتي ښځې نښې | | |
| ۵۵۴ - : عَنِ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ الْمَرْأَةُ إِذَا صَلَّتْ خَمْسَهَا وَصَامَتْ شَهْرَهَا وَأَحْصَنَتْ فَرْجَهَا وَأَطَاعَتْ زَوْجَهَا فَلْتَدْخُلْ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَتْ ] ( صحيح ابن حبان : ۴۱۶۳ ). | | له انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : کله چې ښځه خپل پنځه وخته لمونځ وکړي ، د خپلې میاشتې ( رمضان ) روژه ونیسي ، فرج ( ځان ) له ګناه ( زنا ) نه پاک کړي ، او د خپل خاوند پیروي وکړي ، نو چې د جنت هره دروازه یې خوښه شي ترې داخله به شي . |
| ۵۵۵ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، | | له ابوسعید الخدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِابْنَةٍ لَهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذِهِ ابْنَتِي قَدْ أَبَتْ أَنْ تَتَزَوَّجَ، فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَطِيعِي أَبَاكِ فَقَالَتْ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَتَزَوَّجُ حَتَّى تُخْبِرَنِي مَا حَقُّ الزَّوْجِ عَلَى زَوْجَتِهِ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: حَقُّ الزَّوْجِ عَلَى زَوْجَتِهِ أَنْ لَوْ كَانَتْ قَرْحَةٌ فَلَحَسَتْهَا مَا أَدَّتْ حَقَّهُ قَالَتْ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَتَزَوَّجُ أَبَدًا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَنْكِحُوهُنَّ إِلَّا بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ ] ( صحيح ابن حبان : ٤١٦٤ ) . | | چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يو سړي خپله لور راوسته او ورته يې وويل چې : دا مې لور ده او واده نه کوي ! نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : د پلار خبره دې ومنه ، هغې ورته وويل : په هغه ذات مې دې قسم وي چې ته يې په حقه توګه راستولی يې تر هغه واده نه کوم تر څو مې وخبروې چې خاوند په ښځه څه حقوق لري ؟ نبی کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : د خاوند په ښځه باندې حق دا دی که په پوزه يې دانه هم راپورته شي او ښځه يې په ژبه ( وينې زوی ) وختې هم يې حقوق نه شي پوره کولی ، جينۍ وويل : په هغه ذات مې دې قسم وي چې ته يې په حقه توګه راستولی يې زه به هېڅکله هم واده ونه کړم ، نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وويل : د کورنۍ رضا پرته يې بيخي په نکاح مه ورکوئ . |
| ښځه به د خپل خاوند هر وخت تابعداره وي | | |
| ٥٥٦ - : عَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ إِذَا الرَّجُلُ دَعَا زَوْجَتَهُ لِحَاجَتِهِ فَلْتَأْتِهِ، وَإِنْ كَانَتْ عَلَى التَّنُّورِ ] ( جامع الترمذي : ١١٦٠ ) | | له طلق بن علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : کله چې سړی ( خاوند ) خپله ښځه ځان د حاجت پوره کولو لپاره راوغواړي نو ورته رادې شي که څه هم ښځه په تنور ولاړه وي (ډوډۍ پخوي) . |

WWW.LARAKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| له حرامو پرته خاوند ته خپله ښځه له هرارخه روا ده | | |
| ٥٥٧ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "[ كَانَتِ اليَهُودُ تَقُولُ: إِذَا جَامَعَهَا مِنْ وَرَائِهَا جَاءَ الوَلَدُ أَحْوَلَ، فَنَزَلَتْ: {نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ}] ( صحيح البخاري : ٤٥٢٨ ). | | له جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې یهودو به ویل : څوک چې خپلې ښځې ته له شاه څخه راشي نو بچی یې چپی ( کوږ نظری ) وي ، نو الله دا ایت نازل کړ چې : ستاسو ښځې ستاسو لپاره د کروندی ځای دی ، چې څنګه مو خوښه وي هغه ځېر خپلې کروندې ته راشئ . |
| له خپلې ښځې سره په جماع کولو انسان ته اجر ورکول کیږي : | | |
| ٥٥٨ - : عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : وَفِي بُضْعِ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، أَيَأتِي أَحَدُنَا شَهْوَتَهُ وَيَكُونُ لَهُ فِيهَا أَجْرٌ؟ قَالَ: أَرَأَيْتُمْ لَوْ وَضَعَهَا فِي حَرَامٍ أَكَانَ عَلَيْهِ فِيهَا وِزْرٌ؟ فَكَذَلِكَ إِذَا وَضَعَهَا فِي الْحَلَالِ كَانَ لَهُ أَجْرٌ ] ( صحيح مسلم : ١٠٠٦ ) | | له ابوذر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلي دي : د خپلې ښځې فرج کې هم ستاسو لپاره صدقه ده ، هغوی ورته وویل : څنګه کېدای شي چې مونږ کې څوک خپل شهوت پوره کوي او اجر به پرې هم راکول کیږي ؟ هغه وویل : که خپل فرج څوک په حرامو کې استعمال کړي نو ایا ګناه یې نه کیږي ؟ که دغه شان یې په حلالو کې استعمال کړ نو ثواب یې کیږي |
| دخاوند له اجازې پرته به ښځه خپل کور کې څوک نه پریږدي : | | |
| ٥٥٩ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [لَا تَصُمِ الْمَرْأَةُ | | له ابوهریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : که د ښځې خاوند حاضر وي نو له اجازې پرته به یې روژه نه نیسي ، کور کې به د هغه له اجازې پرته چا ته اجازه |

WWW.LARAKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَبَعْلُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ، وَلَا تَأْذَنْ فِي بَيْتِهِ وَهُوَ شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ ] ( صحيح مسلم : ۱۰۲٦ ) | | هم نه کوي . |
| د هغه ښځې ګناه چې د خاوند دعوت قبول نه کړي : | | |
| ٥٦۰ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ إِذَا بَاتَتِ الْمَرْأَةُ، هَاجِرَةً فِرَاشَ زَوْجِهَا، لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ ] (صحيح مسلم: ۱٤۳٦) | | له ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : کله چې ښځه بستره کې له خپل خاوند څخه شپه بېله تېره کړي نو تر سهاره پرې ملائک لعنت وايي . |
| پر خاوند باندې د ښځې حقوق | | |
| ٥٦۱ - : عَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ، عَنْ أَبِيهِ [ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا حَقُّ الْمَرْأَةِ عَلَى الزَّوْجِ؟ قَالَ: أَنْ يُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمَ، وَأَنْ يَكْسُوَهَا إِذَا اكْتَسَى، وَلَا يَضْرِبِ الْوَجْهَ، وَلَا يُقَبِّحْ، وَلَا يَهْجُرْ إِلَّا فِي الْبَيْتِ ] ( سنن ابن ماجه : ۱۸٥۰ ) | | حكيم له خپل پلار معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کوي چې يو سړي له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه وپوښتل : ښځه پر خپل خاوند څه حقوق لري ؟ هغه وويل : چې کله خپله څه خوري بايد ښځې ته يې هم ورکړي ، او چې څنګه لباس اغوندي بايد ښځې ته يې هم ورکړي ، نه به يې په مخ وهي او نه به ورته بدترين وهل ورکوي ، او ورانه به ورسره يوائې په کور کې کوي ( ځان به ترې جلا کوي ) . |
| د ښځې سره ښه رويه کول د ښه سړي توب نښه ده | | |
| ٥٦۲ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِىَ اللّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ خِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ | | له عبدالله بن عمرو رَضِىَ اللّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : |

WWW.LARAKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| لِنِسَائِهِمْ ] ( سنن ابن ماجه : ١٩٩٨ ) . | | په تاسو کې غوره هغه دی چې له خپلو ښځو سره ښه وي . |
| ٥٦٣ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي، وَإِذَا مَاتَ صَاحِبُكُمْ فَدَعُوهُ ] ( جامع الترمذي : ٣٨٩٥ ). | | له عايشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: په تاسو کې غوره هغه دی چې له خپلې ښځې سره ښه وي او زه هم له خپلو ښځو سره ښه يم، او کله چې مو څوک مړه شي نو مذمت يې مه بيانوئ. |
| د ښځې سره به ډېر احتياط کولی شي : | | |
| ٥٦٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ الْمَرْأَةُ كَالضِّلَعِ، إِنْ أَقَمْتَهَا كَسَرْتَهَا، وَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَفِيهَا عِوَجٌ ] ( صحيح البخاري : ٥١٨٤ ) . | | له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : ښځه د پوښتۍ په څېر ده ، که يې سموې درنه به ماته شي ، او که فائده ترې اخلې نو فايده به ترې واخلې خو کوږوالی به پکې وي . |
| ٥٦٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ إِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ لَنْ تَسْتَقِيمَ لَكَ عَلَى طَرِيقَةٍ، فَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَبِهَا عِوَجٌ، وَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهَا، كَسَرْتَهَا وَكَسْرُهَا طَلَاقُهَا ] ( صحيح مسلم : ١٤٦٨ ) . | | له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: ښځه له پوښتۍ څخه پيدا ده هيڅکله يې درته نه سميږي ، که فايده ترې اخلې نو له کوږوالي سره به ترې فايده اخلې ، او که هرومرو يې سموې نو ماته به شي ، او ماتوالی يې طلاق دی . |

WWW.LARHKUD.COM

| خاوند به د ښځې بدو پسې نه کېږي | | |
|---|---|---|
| له جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ له دې نه منعه کړې ده چې سړی کور ته د شپې له مخې راشي ، په دې خاطر چې ايا ښځه خو ورسره خيانت نه کوي ؟ او يا په دې خاطر چې ځان ته يې ګناه معلومه کړي . | | ٥٦٦ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهف قَالَ [ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ أَنْ يَطْرُقَ الْمَرْءُ أَهْلَهُ لَيْلًا، أَوْ يُخَوِّنَهُمْ وَيَلْتَمِسَ عَثَرَاتِهِمْ ] ( صحيح ابن حبان : ٨١٤٢ ) . |
| له سبب پرته که ښځه طلاق وغواړي جنت پرې حرامېږي : | | |
| له ثوبان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي : هره ښځه چې له خپل خاوند څخه بغېر له کوم سبب نه طلاق وغواړي نو دجنت بوي پرې حرام دی . | | ٥٦٧ - : عَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا طَلَاقًا فِي غَيْرِ مَا بَأْسٍ، فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ ] ( سنن ابي داود : ٢٢٢٦ ) . |
| خاوند کولی شي چې له ښځې څخه سخر ته ګیله وکړي : | | |
| له عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دی چې نبي کريم صَلّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يې اړوند ابوبکر رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ ته ګيله وکړه ، د نبي کريم صَلّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ دومره خيال نه و چې ابوبکر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به ورته تکليف ورسوي نو په سينه کې يې په څپېړه ووهله ، په دغه ترې نبي کريم صَلّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ لږ خفه شو او ورته يې وويل : ابوبکره ! له دې وروسته به درته هېڅکله ګيله ونه کړم . | | ٥٦٨ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ اسْتَعْذَرَ أَبَا بَكْرٍ عَنْ عَائِشَةَ ، وَلَمْ يَظُنَّ النَّبِيُّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ أَنْ يَنَالَهَا بِالَّذِي نَالَهَا فَرَفَعَ أَبُو بَكْرٍ يَدَهُ فَلَطَمَهَا وَصَكَّ فِي صَدْرِهَا فَوَجَدَ مِنْ ذَلِكَ النَّبِيُّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وَقَالَ: «يَا أَبَا بَكْرٍ مَا أَنَا بِمُسْتَعْذِرِكَ مِنْهَا بَعْدَهَا أَبَدًا ] ( صحيح ابن حبان |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| : ٤١٨٥ ) | | |
| د ښځې وهل ناروا دي | | |
| ٥٦٩ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَمْعَةَ رَضِيع اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ لَا يَجْلِدُ أَحَدُكُمُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ العَبْدِ، ثُمَّ يُجَامِعُهَا فِي آخِرِ اليَوْمِ ] ( صحيح البخاري : ٥٢٠٤ ) . | | له عبدالله بن زمعه رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي : تاسو کې دې څوک خپله ښځه د مريي ( غلام ) په څير نه وهي چې لا د ورځې په اخر کې ورسره بیا کوروالی هم کوي . |
| د ارضاع په وخت کې ښځې سره جماع او د عزل حکم | | |
| ٥٧٠ - : عَنْ جُدَامَةَ بِنْتِ وَهْبٍ، أُخْتِ عُكَّاشَةَ رضِيَ اللّٰهُ عَنها قَالَتْ [حَضَرْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي أُنَاسٍ وَهُوَ يَقُولُ: لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَنْهَى عَنِ الْغِيلَةِ، فَنَظَرْتُ فِي الرُّومِ وَفَارِسَ، فَإِذَا هُمْ يُغِيلُونَ أَوْلَادَهُمْ، فَلَا يَضُرُّ أَوْلَادَهُمْ ذَلِكَ شَيْئًا ، ثُمَّ سَأَلُوهُ عَنِ الْعَزْلِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ذَلِكَ الْوَأْدُ الْخَفِيُّ ] (صحيح مسلم:١٤٤٢) | | د عکاشه خور جدامه رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُمَا وايي : زه نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ خوا ته راغلم په ځېنو خلکو کې ناست و او وېويل : قصد مې کړی و چې د ارضاع په حالت کې مو له کوروالي څخه منعه کړم خو روم او فارسيان مې وليدل چې هغوی په دغه حالت کې کوروالی کوي او اولادونو ته يې څه تکليف نه رسيږي ، بيا ترې دعزل متعلق پوښتنه وشوه هغه ووېل : عزل پټ وأد البنات دی . |
| د حیض په حالت او له شا نه ښځه وطي کول حرام دي : | | |
| ٥٧١ - : عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: جَاءَ عُمَرُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا | | له ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ نه روايت دی چې عمر بن الخطاب رَضِىَ اللّٰهُ عَنهُ رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ته راغی او وېويل :د الله رسوله ! غرق |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رَسُولَ اللهِ هَلَكْتُ قَالَ: وَمَا أَهْلَكَكَ؟ قَالَ: حَوَّلْتُ رَحْلِي اللَّيْلَةَ، قَالَ: فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا، قَالَ: فَأُوحِيَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذِهِ الْآيَةُ: {نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ} أَقْبِلْ وَأَدْبِرْ، وَاتَّقِ الدُّبُرَ وَالْحَيْضَةَ ] (جامع الترمذي : ۲۹۸۰) | | شوم ! هغه وويل : ولې ؟ هغه وويل :نن شپه مې كورواله سره له شاه ښځه قُبُل كې جماع وكړه ، نبي كريم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ته وحي وشوه چې [ نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ...] ستاسو ښځې ستاسو لپاره كروندې دي چې څنګه مو خوښه شي هغسې مو كروندو ته راشئ... له مخې او شا پلوه قُبُل ته راتلى شې خو له شاه او حيض په حالت كې ترې ځان وساته . |

## د ښځو ترمنځ تقسيم

| | | |
|---|---|---|
| ۵۷۲ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُا قَالَتْ [ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَأْذِنُنَا، إِذَا كَانَ فِي يَوْمِ لِلْمَرْأَةِ مِنَّا، بَعْدَ مَا نَزَلَتْ: {تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ} فَقَالَتْ لَهَا مُعَاذَةُ: فَمَا كُنْتِ تَقُولِينَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَأْذَنَكِ؟ قَالَتْ: كُنْتُ أَقُولُ إِنْ كَانَ ذَاكَ إِلَيَّ لَمْ أُوثِرْ أَحَدًا عَلَى نَفْسِي ] (صحيح مسلم : ۱۴۷۶ ) . | | له عائشې رَضِيَ اللّهُ عَنْهّا نه روايت دى چې كله دا ايت [ ترجي من تشاء...] ته كولى شې چې د خپلو ښځو شپه وروسته كړې او كولى شې چې ځان ته هغه بي بي نږدې كړې چې ستا خوښه وي... نو نبي كريم له مونږ هرې ښځې نه اجازه وغوښته ، معاذه ورته وويل : له تا څخه چې به نبي كريم صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ اجازه غوښته نو څه به دې ورته ويل ؟ عائشې رَضِيَ اللّهُ عَنْهُا ورته وويل : كه دغه اختيار له ماسره واى نو پر ځان به مې پرې نور څوك نه وى غوره كړى . |

## د هغه چا سزا چې د ښځو ترمنځ انصاف نه كوي

WWW.LARHKUD.COM

٥٧٣ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ كَانَتْ لَهُ امْرَأَتَانِ، يَمِيلُ مَعَ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَحَدُ شِقَّيْهِ سَاقِطٌ ] ( سنن ابن ماجه : ١٩٦٩ ) .

له ابوهريرة رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : څوک چې دوه ښځې لري او يوې ته په کې مايله وي نو د قيامت په ورځ به داسې حالت کې راشي چې يو اړخ به يې شل ( فلج ) وي .

که دوهمه ښځه باکره يا ثيبه وي :

٥٧٤ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ سَبْعٌ لِلْبِكْرِ، وَثَلَاثٌ لِلثَّيِّبِ ] ( صحيح ابن حبان : ٤٢٠٨ )

له انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : ( د واده په لومړی سر کې به ) د باکرې سره اووه شپې ( مسلسلې ) او ثيبې سره به ( درې شپې مسلسلې ) تېرولی شي ، ( بيا به تقسيم ږدي )

WWW.LARHKUD.COM

ښځه کولی شي خپله برخه شپه بن ته ورکړي :

٥٧٥ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا قَالَتْ: مَا رَأَيْتُ امْرَأَةً أَحَبَّ إِلَيَّ أَنْ أَكُونَ فِي مِسْلَاخِهَا مِنْ سَوْدَةَ بِنْتِ زَمْعَةَ، مِنِ امْرَأَةٍ فِيهَا حِدَّةٌ، قَالَتْ: فَلَمَّا كَبِرَتْ، جَعَلَتْ يَوْمَهَا مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَائِشَةَ، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، قَدْ جَعَلْتُ يَوْمِي مِنْكَ لِعَائِشَةَ، فَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ

له عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دی چې د سوده بنت زمعه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا پرته راته څوک دومره محبوب نه دی کاشکې زه يې په پوستکي کې وای ( يعنې د هغې عبادتونه او دينيت يې مطلب دی ) ، ډېره قوی او مخلصه ښځه وه ، کله چې يې عمر ډېر شو نو د رسول اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يې خپل نمبر عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ته ورکړ ، رسول اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يې وويل : له تاسره مې خپل نمبر عائشې ته ورکړ ، نو نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

| | | |
|---|---|---|
| عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقْسِمُ لِعَائِشَةَ يَوْمَيْنِ، يَوْمَهَا وَيَوْمَ سَوْدَةَ ] ( صحيح مسلم : ١٤٦٣ ) . | | وَسَلَّمَ به له عائشې رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا سره دوه ورځې تیرولې ، یوه یې خپله او بله یې د سوده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا . |

WWW.LARHKUD.COM

د رضاع بیان :

لویانو ته شوده ورکول د سالم لپاره رخصت و

| | | |
|---|---|---|
| ٥٧٦ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا [ أَنَّ سَالِمًا مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ كَانَ مَعَ أَبِي حُذَيْفَةَ وَأَهْلِهِ فِي بَيْتِهِمْ، فَأَتَتْ - تَعْنِي ابْنَةَ سُهَيْلٍ - النَّبِيّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: إِنَّ سَالِمًا قَدْ بَلَغَ مَا يَبْلُغُ الرِّجَالُ. وَعَقَلَ مَا عَقَلُوا. وَإِنَّهُ يَدْخُلُ عَلَيْنَا. وَإِنِّي أَظُنُّ أَنَّ فِي نَفْسِ أَبِي حُذَيْفَةَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا. فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْضِعِيهِ تَحْرُمِي عَلَيْهِ، وَيَذْهَبِ الَّذِي فِي نَفْسِ أَبِي حُذَيْفَةَ فَرَجَعَتْ فَقَالَتْ: إِنِّي قَدْ أَرْضَعْتُهُ. فَذَهَبَ الَّذِي فِي نَفْسِ أَبِي حُذَيْفَةَ ] ( صحيح مسلم : ١٤٥٣ ). | | له عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْها نه روایت دی چې د ابوحذیفه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره به په کور کې د هغه غلام سالم اوسېده ، سهله بنت سهیل رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا – د ابوحذیفه رَضيَ اللّٰهُ عَنْهُ بي بي نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغله ، او وېویل : سالم اوس لوی شوی ( بالغ شوی) دی او دخلکو په څېر هر څه پېژني ، او مونږ ته ازاد ځي راځي ، شاید د ابوحذیفه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په نفس کې ترې څه راشي ، نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل : شوده ورته ورکړه نو ته به پرې حرامه شي او د ابوحذیفه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ له نفس څخه به هم ( وسوسې ) لاړې شي ، بېرته ستنه شوه او شوده یې ورکړه نو د ابوحذیفه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په نفس کې چې څه و نوختم شول . |

له رضاعي خور سره نکاح نه کیږي :

| | | |
|---|---|---|
| ٥٧٧ - : عُقْبَةُ بْنُ الْحَارِثِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ [ تَزَوَّجْتُ أُمَّ يَحْيَى بِنْتَ أَبِي إِهَابٍ فَدَخَلَتْ عَلَيْنَا امْرَأَةٌ | | عقبة بن الحارث رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي ما له ام یحیی بن بنت ابي اهاب سره نکاح وکړه ، یوه توره ښځه راغله او وېویل چې مونږ دواړو ته یې شوده راکړې |

| | | |
|---|---|---|
| سَوْدَاءُ فَزَعَمَتْ أَنَّهَا أَرْضَعَتْنَا جَمِيعًا فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ فَأَعْرَضَ عَنِّي، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهَا لَكَاذِبَةٌ، قَالَ: وَمَا يُدْرِيكَ؟ وَقَدْ قَالَتْ مَا قَالَتْ دَعْهَا عَنْكَ ] ( سنن ابي داود : ۳۶۰۳ ) . | | دي ، زه نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلم او ټول هر څه مې ور واورول نو مخ يې رانه تاو کړ ، ما ورته وويل : د الله رسوله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! ښځه دروغ وايي ، هغه وويل : تا ته څه پته ده ؟ چې هغه دغه خبره کوي نو ښځه پرېږده ( په نکاح يې مه اخله ) . |
| د هغه رضاعت اندازه چې تحريم پرې راتللی شي | | |
| ۵۷۸ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ [ نَزَلَ الْقُرْآنُ بِعَشْرِ رَضَعَاتٍ مَعْلُومَاتٍ يُحَرِّمْنَ، ثُمَّ نُسِخْنَ بِخَمْسِ رَضَعَاتٍ مَعْلُومَاتٍ، فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُنَّ مِمَّا نَقْرَأُ مِنَ الْقُرْآنِ ] ( صحيح ابن حبان : ۴۲۲۱ ) . | | له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روايت دی قران په لسو معلومو رضاعتونو باندې نازل شوی و چې تحريم به پرې کېدی شو ، بيا په پنځو باندې نسخ شول ، نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفات شو او پنځه رضاعتونه به لوستل کېدل ( يعني په بل حکم نه دي نسخ شوي ) |
| ۵۷۹ - : عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ لَا يُحَرِّمُ مِنَ الرِّضَاعَةِ إِلَّا مَا فَتَقَ الْأَمْعَاءَ فِي الثَّدْيِ، وَكَانَ قَبْلَ الْفِطَامِ ] ( جامع الترمذي : ۱۱۵۲ ) . | | له ام سلمې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي رضاعت تر هغه تحريم نه راولي ترڅو يې کولمې ډکې (مړې ) کړې نه وي او موده يې هم له تې شکېدو نه مخکې وي . |
| ۵۸۰ - : عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ | | له ام الفضل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د رضاع باره |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الرَّضَاعِ، فَقَالَ [ لَا تُحَرِّمُ الْإِمْلَاجَةُ وَلَا الْإِمْلَاجَتَانِ وَقَالَ قَتَادَةُ: الْمَصَّةُ وَالْمَصَّتَانِ ] (سنن النسائي: ۳۳۰۸) | | کې پوښتنه وشوه، هغه وویل:یوځل او دوه ځل د سینې رودل تحریم نه راولي . |

## د نفقې بیان

## پر ځان او کورنۍ نفقه کول ډېر ثواب لري

| | | |
|---|---|---|
| ۵۸۱ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ يُقَالُ: لَهُ أَبُو مَذْكُورٍ أَعْتَقَ غُلَامًا لَهُ يُقَالُ لَهُ يَعْقُوبُ عَنْ دُبُرٍ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُ فَدَعَا بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: مَنْ يَشْتَرِيهِ فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ النَّحَّامِ بِثَمَانِ مِائَةِ دِرْهَمٍ فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ ثُمَّ قَالَ: إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ فَقِيرًا فَلْيَبْدَأْ بِنَفْسِهِ فَإِنْ كَانَ فِيهَا فَضْلٌ فَعَلَى عِيَالِهِ، فَإِنْ كَانَ فِيهَا فَضْلٌ فَعَلَى ذِي قَرَابَتِهِ أَوْ قَالَ: «عَلَى ذِي رَحِمِهِ، فَإِنْ كَانَ فَضْلًا فَهَاهُنَا وَهَاهُنَا ] ( سنن ابي داود : ۳۹۵۷ ) . | | له جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې د ابو مذکور په نوم یو انصاري سړي د یعقوب په نوم له ځان نه وروسته غلام ازاد کړ ، له غلام پرته یې نور هېڅ مال او شتمني نه وه ، نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وویل : دا څوک اخلي ؟ نو نعیم بن عبدالله النحام په اته سوه درهمو واخست ، نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بېرته درهم غلام ته ورکړل او بیا یې وویل : څوک چې فقیر وي نو په سخا دې له ځان نه شروع وکړي ، که ترې اضافه وه نو په کورنۍ دې خرچ کړي ، که نور هم ورنه اضافه وي نو په خپلوانو دې خرچ کړي ، او که نور هم ورنه اضافه وي نو دلته او هلته ( د خیر په کارونو کې ) دې ولګوي . |

## پر ځان نفقه کول ښه خیرات دی

| | | |
|---|---|---|
| ۵۸۲ - : عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْبَدْرِيِّرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ [ إِنَّ الْمُسْلِمَ إِذَا أَنْفَقَ عَلَى | | له ابومسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : کله چې مسلمان د ثواب په نیت په خپل اهل ( کورنۍ ) نفقه |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| أَهْلِهِ نَفَقَةً، وَهُوَ يَحْتَسِبُهَا، كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً ] ( صحيح مسلم : ۱۰۰۲ ) . | | وکړي نو صدقه ورله شمارل کیږي . |
| **په خپل ماتحت خرچه نه کول ګناه ده** | | |
| ۵۸۳ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْمًا أَنْ يُضَيِّعَ مَنْ يَقُوتُ ](سنن ابي داود:۱٦۹۲) | | له عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : د سړي دومره ګناه بس ده چې هغه څوک ضایع کړي چې خرچه یې لازمي ده . |
| **پر خپلو غلامانو خرچه نه کول ظلم دی** | | |
| ۵۸٤ - : عَنْ خَيْثَمَةَ قَالَ [ كُنَّا جُلُوسًا مَعَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو، إِذْ جَاءَهُ قَهْرَمَانٌ لَهُ فَدَخَلَ، فَقَالَ: أَعْطَيْتَ الرَّقِيقَ قُوتَهُمْ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: فَانْطَلِقْ فَأَعْطِهِمْ ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْمًا أَنْ يَحْبِسَ عَمَّنْ يَمْلِكُ قُوتَهُ ] ( صحيح مسلم : ۹۹٦ ) . | | خیثمه وایي : مونږ له عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره ناست وو چې خزانچي يې راننوت ، ورته یې وویل : ایا غلامانو ته دې خوراک ورکړ ؟ هغه وویل : نا ، عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ورته وویل : رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : د سړي دومره ګناه بس ده چې له خپل ماتحت نه د هغوی خوراک او خرچه رابندوي . |
| **طلاقه شوې ښځه په مخکني خاوند دنفقې حق نه لري** | | |
| ۵۸۵ - : عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : طَلَّقَنِي زَوْجِي عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ | | له فاطمة بنت قیس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دور حیات کې مې زه خپل خاوند ( درې ځله ) طلاقه کړم ، ( زه |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا سُكْنَى لَكِ، وَلَا نَفَقَةَ ] ( سنن ابن ماجه : ۲۰۳٦ ) | | نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته لاړم ) هغه راته وويل : نه پرې د سکونت حقوق لرې او نه پرې د نفقې حقوق لرې . |
| که خاوند سخت وي ښځه يې ماليت بې اجازې حسب ضرور استعمالولی شي | | |
| ٥٨٦ - : عَنْ هِنْد بِنْتِ عُتْبَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ [ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ وَلَيْسَ يُعْطِينِي مَا يَكْفِينِي وَوَلَدِي، إِلَّا مَا أَخَذْتُ مِنْهُ وَهُوَ لَا يَعْلَمُ، فَقَالَ:خُذِي مَا يَكْفِيكِ وَوَلَدَكِ، بِالْمَعْرُوفِ ] ( صحيح البخاري : ٥٣٦٤ ). | | هند بنت عتبه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وويل : ابوسفيان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بخيل سړی دی او ما ته دومره څه نه راکوي چې زما او د بچو کفايت مې وکړي ، مګر دا چې هغه پوهه نه شي او زه يې ترې واخلم ، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : په ښه نيت ترې دومره راواخله چې ستا او د بچو دې کېږي . |
| د بچو شتمني حسب ضرورت والدينو ته روا ده | | |
| ٥٨٧ - : عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ [ كَانَ فِي حُجْرِ عَمَّةٍ لِي ابْنٌ لَهَا يَتِيمٌ، وَكَانَ يَكْسِبُ، فَكَانَتْ تَخْرُجُ أَنْ تَأْكُلَ مِنْ كَسْبِهِ، فَسَأَلَتْ عَنْ ذَلِكَ عَائِشَةَ، فَقَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَطْيَبَ مَا أَكَلَ الرَّجُلُ مِنْ كَسْبِهِ، وَإِنَّ وَلَدَ الرَّجُلِ مِنْ كَسْبِهِ ] (صحيح ابن حبان : ٤٢٥٩ ) | | عمارة بن عمير وايي : زما د تندار په پرورش کې يتيم ځوی و او هغه به ګټه وټه کوله ، مور به يې تله او دهغه د ګټې وټې به يې څه راخستل ، نو له عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه يې وپوښتل ، هغې ورته وويل : نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : ډېر حلال مال هغه دی چې څوک د خپل لاس ګټه وټه خوري ، او ځوی د پلار ګټه وټه ده . |

WWW.LARHKUD.COM

## د طلاق بيان

### ښځې ته طلاق بايد په طهارت کې ورکړل شي

٥٨٨ - : عَنْ نَافِعٍ [ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، طَلَّقَ امْرَأَةً لَهُ وَهِيَ حَائِضٌ تَطْلِيقَةً وَاحِدَةً، فَأَمَرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرَاجِعَهَا ثُمَّ يُمْسِكَهَا حَتَّى تَطْهُرَ، ثُمَّ تَحِيضَ عِنْدَهُ حَيْضَةً أُخْرَى، ثُمَّ يُمْهِلَهَا حَتَّى تَطْهُرَ مِنْ حَيْضِهَا، فَإِنْ أَرَادَ أَنْ يُطَلِّقَهَا فَلْيُطَلِّقْهَا حِينَ تَطْهُرُ مِنْ قَبْلِ أَنْ يُجَامِعَهَا: فَتِلْكَ العِدَّةُ الَّتِي أَمَرَ اللَّهُ أَنْ تُطَلَّقَ لَهَا النِّسَاءُ ] ( صحيح البخاري : ٥٣٣٢ ).

نافع وايي : عبدالله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خپله ښځه په حيض کې يو ځل طلاقه کړه ، نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته امر وکړ چې له طلاق څخه بېرته ستون شي او تر هغه دې ښځه کړي چې پاکه شي ، چې کله پرې بل حيض راشي تر هغه به ورسره وي چې له حيض څخه پاکه شي ، که يې طلاق غوښته نو طلاق دې ورکړي خو چې پاکه شي او مجامعت ورسره ونه کړي ، دغه د ښځو د طلاق هغه عدت دی چې الله پرې امر کړی دی .

### په طلاق کې د کنايي کلمات د نيت پورې تعلق لري

٥٨٩ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا [ أَنَّ ابْنَةَ الجَوْنِ، لَمَّا أُدْخِلَتْ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدَنَا مِنْهَا، قَالَتْ: أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْكَ، فَقَالَ لَهَا: «لَقَدْ عُذْتِ بِعَظِيمٍ، الحَقِي بِأَهْلِكِ ] (صحيح البخاري:٥٢٥٣ )

له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روايت دی چې بنت الجون کله نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راوستل شوه ، نو چې ورنږدې شو هغې وويل : له تا څخه الله پورې پناه غواړم ، نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : په ډېر لوی ذات دې پناه ونيوله ، کور ته دې لاړه شه .

### ښځې ته اختيار ورکول بيخي طلاق نه دی

WWW.LARHKUB.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٥٩٠ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ [ خَيَّرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَاخْتَرْنَاهُ، فَلَمْ يَعُدَّهُ طَلَاقًا ] ( صحيح مسلم : ١٤٧٧ ) . | | له عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ موږ ته واک راکړ نو موږ هغه غوره کړ ، هغه بيخي اختيار ورکول طلاق ونه شمېره . |
| د منكوحې وينځې احكام چې ازاده شي | | |
| ٥٩١ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ [ كَانَ فِي بَرِيرَةَ ثَلَاثُ قَضِيَّاتٍ: أَرَادَ أَهْلُهَا أَنْ يَبِيعُوهَا وَيَشْتَرِطُوا وَلَاءَهَا، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ:اشْتَرِيهَا وَأَعْتِقِيهَا، فَإِنَّ الْوَلَاءَ لِمَنْ أَعْتَقَ قَالَتْ: وَعَتَقَتْ، فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا قَالَتْ وَكَانَ النَّاسُ يَتَصَدَّقُونَ عَلَيْهَا وَتُهْدِي لَنَا، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ، وَهُوَ لَكُمْ هَدِيَّةٌ، فَكُلُوهُ] (صحيح مسلم: ١٥٠٤) | | له عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې په بريره کې درې قضيې وې ، مالكانو يې غوښتل چې خرڅه يې کړي خو ولاء به يې د هغوی وي ، نبي كريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورياده كړه هغه وويل : وايې اخله او ازاده يې كړه ، ولاء د هغه چا حق دی چې ازادول وكړي ، عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْها وايي : او ازاده يې کړه نو نبي كريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته اختيار وكړ نو هغې ځان مختار كړ ( د غلام له نكاح نه ووته ) او خلكو به پرې صدقه كوله او هغه به موږ ته صدقه تحفه كوله ، چې كله يې ما نبي كريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ذكر وكړ ويې ويل : په هغه صدقه ده او تاسو ته تحفه ده ويې خورئ . |
| د رجعت بيان | | |
| ٥٩٢ - : عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال : [ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ | | عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي : رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حفصه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته طلاق وركړ او بيرته |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَّقَ حَفْصَةَ، ثُمَّ رَاجَعَهَا ] ( سنن ابي داود : ۲۲۸۳ ] | | يې ورته رجوع وکړه . |
| د ايلاء بيان<br>خاوند کولی شي له ښځې معلومې ورځې ايلاء وکړي | | |
| ۵۹۳ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: آلَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نِسَائِهِ، وَكَانَتْ انْفَكَّتْ رِجْلُهُ، فَأَقَامَ فِي مَشْرُبَةٍ تِسْعًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً، ثُمَّ نَزَلَ فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ آلَيْتَ شَهْرًا، فَقَالَ: إِنَّ الشَّهْرَ يَكُونُ تِسْعًا وَعِشْرِينَ ] ( صحيح البخاري : ۱۹۱۱ ) . | | له انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قسم خوړلی و چې يوه مياشت به ښځو ته نه نږدې کيږي ، خپه يې هم خوږېده ( له بنده ختلې وه ) ، په خونه کې يې ځانله نهه ويشت شپې تېرې کړې او بيا ترې راښکته شو ، هغوی ورته وويل : د الله رسوله ! تا خو يوه مياشت ايلاء کړې وه ! هغه وويل : مياشت نهه ويشت ورځې هم وي . |
| د لعان بيان :<br>په تور کې ګواهان شرط دي | | |
| ۵۹۴ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَرَأَيْتَ لَوْ وَجَدْتُ مَعَ امْرَأَتِي رَجُلًا أُمْهِلُهُ حَتَّى آتِيَ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ؟ قَالَ: نَعَمْ ] (سنن ابي داود : ٤٥٣٣ ) | | له ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې سعد بن عباده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وويل : ته څه وايې که زه مې له ښځې سره څوکووينم تر هغه به يې پرېږدم چې څلور ګواهان راولم ، هغه وويل : هو . |
| په لعان سره به ښځه او خاوند يو له بل څخه جلا کيږي | | |

WWW.LARHKUD.COM

٥٩٥ - : عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [ أَنَّ رَجُلًا أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ رَجُلًا رَأَى مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا أَيَقْتُلُهُ، فَتَقْتُلُونَهُ أَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ؟ فَأَنْزَلَ اللَّهُ فِيهِمَا مَا ذُكِرَ فِي الْقُرْآنِ مِنَ التَّلَاعُنِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَدْ قُضِيَ فِيكَ وَفِي امْرَأَتِكَ ، قَالَ: فَتَلَاعَنَا وَأَنَا شَاهِدٌ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَفَارَقَهَا فَكَانَتْ سُنَّةً أَنْ يُفَرَّقَ بَيْنَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ، وَكَانَتْ حَامِلًا فَأَنْكَرَ حَمْلَهَا، وَكَانَ ابْنُهَا يُدْعَى إِلَيْهَا، ثُمَّ جَرَتِ السُّنَّةُ فِي الْمِيرَاثِ أَنْ يَرِثَهَا وَتَرِثَ مِنْهُ مَا فَرَضَ اللَّهُ لَهَا ] ( صحيح البخاري : ٤٧٤٦ ).

سهل بن سعد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې يو سړی نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغی او ورته يې وويل : ای د الله رسوله ! ته څه وايې كه څوک له خپلې ښځې سره سړی ويني نو كه قتل يې كړي نو تاسو به يې پرې قصاصاً قتلوې او كه څنګه ؟ هغه و چې الله پاک د تلاعن ايت په دواړو کې نازل كړ ، نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : ستا او د ښځې متعلق دې الله فيصله وكړه ، صحابي وايي : دواړو د لعنت كلمات وويل او زه د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره حاضر وم ، ښځه يې له خاوند څخه بيله كړه نو دغه جاري سنت جوړ شول چې متلاعنين به سره يو له بل څخه جلا كيږي ، ښځه حامله هم وه خو خاوند يې له حمل څخه انكار وكړ چې زما څخه نه دی ، بيا به يې ځوی مور ته منسوب كېده ، سنت هم داسې جوړ شول چې مور له دغسې بچي څخه او بچی له مور څخه ميراث وړی شي .

WWW.LARHKUD.COM

## په لعان کې به خاوند ته مهر بېرته نه شي وركولی

٥٩٦ - : عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ حَدِيثِ الْمُتَلَاعِنَيْنِ، فَقَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سعيد بن جبير وايي چې له ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه مې د متلاعنينو حديث متعلق پوښتنه وكړه ، هغه وويل چې نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ متلاعنينو ته وويل : ستاسو د دواړو حساب پر الله

| | | |
|---|---|---|
| لِلْمُتَلاَعِنَيْنِ: حِسَابُكُمَا عَلَى اللَّهِ، أَحَدُكُمَا كَاذِبٌ، لاَ سَبِيلَ لَكَ عَلَيْهَا قَالَ: مَالِي؟ قَالَ: لاَ مَالَ لَكَ، إِنْ كُنْتَ صَدَقْتَ عَلَيْهَا فَهُوَ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا، وَإِنْ كُنْتَ كَذَبْتَ عَلَيْهَا فَذَاكَ أَبْعَدُ لَكَ ] (صحيح البخاري: ۵۳۱۲ ) | | دی، هرومرو درېکې یو دروغجن دی ، سړي وویل : او زما مال( مهر ) ؟ نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل : مهر اخستل دې پرې حق نه دی ، که ته دې دعوه کې رښتنی یې نو پر مال دې د هغې فرج ځان ته حلال کړی دی ، او که دروغجن یې نو بیا خو دې بیخي حق نه جوړیږي . |

WWW.LARHKUD.COM

<table>
<tr><td colspan="3">د قسم خوړلو بیان<br>په قسم او ګواهۍ کې به انسان ډېر خیال کوي</td></tr>
<tr><td>۵۹۷ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ يَجِيءُ أَقْوَامٌ تَسْبِقُ شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ يَمِينَهُ، وَيَمِينُهُ شَهَادَتَهُ ] ( صحيح البخاري : ۲٦٥۲ )</td><td></td><td>له عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : غوره خلک زما پېړۍ ده ، بیا هغه خلک چې ورپسې دي ، بیا هغه خلک چې ورپسې دي ، بیا به داسې قومونه راشي چې ګواهي به يې په قسمونو مخکې وي او قسمونه به يې په ګواهۍ مخکې وي .</td></tr>
<tr><td colspan="3">په یمین لغو باندې الله څوک نه نیسي</td></tr>
<tr><td>۵۹۸ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ اسْتَقْبَلَهُ ذَاتَ يَوْمٍ صِبْيَانُ الْأَنْصَارِ، وَالْإِمَاءُ، فَقَالَ: وَاللّٰهِ إِنِّي لَأُحِبُّكُمْ ] ( مسند احمد : ١٤٠٤٣ )</td><td></td><td>له انس بن مالک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د مدینې د انصارو ماشومان او وینځې مخامخ شوې نو ورته يې وویل : قسم په الله چې له تاسو سره مینه لرم .</td></tr>
<tr><td>۵۹۹ - : عَنْ إِبْرَاهِيمَ الصَّائِغِ عَنْ عَطَاءٍ، فِي اللَّغْوِ فِي الْيَمِينِ، قَالَ: قَالَتْ عَائِشَةُ: إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: هُوَ كَلَامُ الرَّجُلِ فِي</td><td></td><td>ابراهیم الصائغ له عطاء بن ابي رباح نه د یمین لغوه باره کې پوښتنه کړې وه ، هغه ورته وویل : عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ویلي دي چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ</td></tr>
</table>

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| بَيْتِهِ، كَلَّا وَاللَّهِ، وَبَلَى وَاللَّهِ ] ( سنن ابي داود: ٣٢٥٤ ) | | عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلي دي چې یمین لغوه د سړي په خپل کور داسې خبرې وي چې مثلا : نا والله ، هو والله . |
| د خپلې خبرې په تایید کې قسم خوړل جواز لري | | |
| ٦٠٠ - : عَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ [ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: مَا مَثَلُ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ، إِلَّا مَثَلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ إِصْبَعَهُ فِي الْيَمِّ، فَلْيَنْظُرْ بِمَ يَرْجِعُ ] ( سنن ابن ماجه: ٤١٠٨) | | له مستورد بن شداد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلي دي ویل یې : اخرت ته په نسبت د دنیا مثال داسې دی لکه تاسو کې چې څوک خپله ګوته په دریاب کې ښکته کړي نو ودې ګوري چې څومره اوبه یې ګوته کې راپورته کړې . |
| د نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قسم الفاظ | | |
| ٦٠١ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: [ كَانَتْ يَمِينُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا وَمُقَلِّبِ الْقُلُوبِ] (صحيح البخاري: ٦٦٢٨) | | له ابن عمر رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قسم الفاظ داسې و ( نا، د زړونو په اړونکي مې دې قسم وي ) |
| تصور نه بلکې قول او عمل معتبر دی | | |
| ٦٠٢ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [إِنَّ اللَّهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا، مَا لَمْ تَعْمَلْ أَوْ تَتَكَلَّمْ ] ( صحيح البخاري : ٥٢٦٩ ) . | | له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : الله پاک زما له امت نه د هغه څه تجاوز کړی دی ( معاف کړي دي ) چې په زړه ( تصور ) کې یې تیریږي راتېریږي تر څو یې یا هغه کار کړی نه وي او یا یې پرې خبرې نه وي کړي . |

WWW.LARAKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| که د قسم خوړولو په وخت څوک ان شاء الله ووايي نو نه ګناهګاريږي | | |
| ٦٠٣ - : عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ، فَقَالَ: إِنْ شَاءَ اللَّهُ فَقَدِ اسْتَثْنَى، فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ] (جامع الترمذي : ١٥٣١) | | له ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : څوک چې قسم وخوري او ان شاء الله په کې ووايي نو ( دمخالفت په وخت کې ) نه ګناهګاريږي . |
| ٦٠٤ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ مَنْ حَلَفَ فَاسْتَثْنَى، فَإِنْ شَاءَ رَجَعَ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ غَيْرَ حِنْثٍ ] ( سنن ابي داود: ٣٢٦٢ ). | | له ابن عمررَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : څوک چې قسم وخوري او استثناء په کې وکړي ، نو خوښه يې ده که کار کوي او که يې نه کوي هيڅ ګناه پرې نشته . |
| ٦٠٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[ لَا تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ، وَلَا بِأُمَّهَاتِكُمْ، وَلَا بِالْأَنْدَادِ، وَلَا تَحْلِفُوا إِلَّا بِاللَّهِ، وَلَا تَحْلِفُوا بِاللَّهِ إِلَّا وَأَنْتُمْ صَادِقُونَ ] ( سنن ابي داود : ٣٢٤٨ ) . | | له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: په خپلو پلارانو او مورګانو او بوتانو باندې قسمونه مه خورئ ، او پر الله له رښتياو پرته هم قسمونه مه خورئ . |
| په غير الله قسم خوړلوسره به الله پورې پناه غوښتلی شي | | |
| ٦٠٦ - : عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنْ أَبِيهِ [ أَنَّهُ حَلَفَ بِاللاتِ وَ الْعُزَّى ، فَقَالَ لَهُ أَصْحَابُهُ: قَدْ قُلْتَ هُجْرًا، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنَّ الْعَهْدَ | | مصعب له خپل پلاره سعد بن ابي وقاص رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت کوي چې پر لات او عزى سره يې قسم وخوړ ، ملګرو يې ورته وويل : ډيرې بدې خبرې دې وکړې ، نو نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغی او ويېل : اسلام ته غاړه کېښودل مې تازه دي |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| او پر لات او عزی مې قسم خوړلی دی ، نبي کریم صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل : درې ځل لَااِلَهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ ووایه او کڼ اړخ ته درې ځل لاړې ( توکانې ) توک کړه ، د الله پورې له شیطان نه پناه وغواړه او بیا داسې مه کوه . | | كَانَ حَدِيثًا، وَإِنِّي حَلَفْتُ بِاللاتِ وَالْعُزَّى، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قُلْ لَا إِلَهَ إِلا اللَّهُ وَحْدَهُ ثَلاثًا، وَاتْفُلْ عَنْ شِمَالِكَ ثَلاثًا، وَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ وَلا تَعُدْ ] ( مسند احمد : ۱٦۲۲ ] |
| که څوک په بل دین قسم وخوري هغسې به وي چې څنګه یې وویل | | |
| له ثابت بن ضحاک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : د اسلام نه بغیر که څوک په بل دین له قصده او په دروغو قسم وخوري نو چې څنګه یې ویلي هغسې دی ، او څوک چې پر څه شي بندې ځان مړ کړي نو الله به ورته پرې د جهنم په اور کې په دغشې ( وژونکې اله ) باندې عذاب ورکړي | | ٦۰۷ - : عَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ مَنْ حَلَفَ بِمِلَّةٍ سِوَى الْإِسْلَامِ، كَاذِبًا مُتَعَمِّدًا، فَهُوَ كَمَا قَالَ، وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ، عَذَّبَهُ اللَّهُ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ ] ( صحیح مسلم : ۱۱۰ ) |
| د نذر بیان<br>په نذر کې خیر نشته | | |
| له ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ له نذر نه منعه کړې ده او ویلي دي چې نذر هیڅ خیر له ځان سره نه راوړي ، بلکې نذر د بخیل سړي له مال څخه وځي . | | ٦۰۸ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ أَنَّهُ نَهَى عَنِ النَّذْرِ، وَقَالَ: إِنَّهُ لَا يَأْتِي بِخَيْرٍ، وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الْبَخِيلِ ] (صحیح مسلم: ۱٦۳۹) |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| د صدقاتو په څېر نذر تقدير نه شي بدلولی | | |
| ٦٠٩ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ [ أَوَلَمْ يُنْهَوْا عَنِ النَّذْرِ، إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ النَّذْرَ لاَ يُقَدِّمُ شَيْئًا وَلاَ يُؤَخِّرُ، وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِالنَّذْرِ مِنَ الْبَخِيلِ ] ( صحيح البخاري : ٦٦٩٢ ) | | ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وويل : ايا دوی له نذر څخه نه وو رابند شوي ؟ نبی کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خو وايي : نذر نه مخکې څه کولی شي او نه وروسته څه کولی شي ، په نذر سره د بخيل سړی له مال نه مال راوځي . |
| په نذر باندې حلال نه حراميږي او حرام پرې نه حلاليږي | | |
| ٦١٠ - : عَنْ زِيَادِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ [كُنْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ، فَسَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: نَذَرْتُ أَنْ أَصُومَ كُلَّ يَوْمِ ثُلاَثَاءَ أَوْ أَرْبِعَاءَ مَا عِشْتُ، فَوَافَقْتُ هَذَا الْيَوْمَ يَوْمَ النَّحْرِ، فَقَالَ: أَمَرَ اللَّهُ بِوَفَاءِ النَّذْرِ، وَنُهِينَا أَنْ نَصُومَ يَوْمَ النَّحْرِ فَأَعَادَ عَلَيْهِ، فَقَالَ مِثْلَهُ، لاَ يَزِيدُ عَلَيْهِ ] ( صحيح البخاري : ٦٧٠٦ ) | | زياد بن جبير وايي: زه د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ سره وم نو يو سړي ترې وپوښتل چې ما نذر کړی و چې ټوله زندګي به د سه شنبې او چهارشنبې په ورځ روژه نيسم ، نن ورځ ( چې ما نذر کړی دی ) د لوی اختر ورځ ده ، هغه ورته وويل : پر نذر وفا کولو باندې الله امر کړی دی او د لوی اختر په ورځ روژې نيولو څخه مونږ منعه کړی شوي يو ، سړي بيا پوښتنه وکړه هغه ورته همدومره ځواب ورکو او هيڅ يې پرې زيات نه کړل . |
| له مړي څخه به نذر پوره کولی شي | | |
| ٦١١ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ [ اسْتَفْتَى سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ | | له ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه سعد بن عبادة |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د خپلې مور باره کې چې نذر پرې و پوښتنه وکړه چې د نذر پوره کولو وړاندې وفات شوې وه ، هغه ورته وویل : ته یې ورڅخه پوره کړه . | | رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فِي نَذْرٍ كَانَ عَلَى أُمِّهِ، تُوُفِّيَتْ قَبْلَ أَنْ تَقْضِيَهُ، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: فَاقْضِهِ عَنْهَا ] ( صحيح مسلم : ١٦٣٨ ) . |
| مالي نذر منل د بخل نښه ده | | |
| له ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایلي دي : نذر منل انسان ته هغه څه نه نزدې کوي چې الله ورته لیکلی نه وي ، خو نذر د تقدیر سره موافقت خوري نو د بخیل سړي له مال څخه پرې څه وویستل شي ، هله چې بخیل خپله څه صدقات نه کوي . | | ٦١٢ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [ أَنّ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: إِنّ النّذْرَ لَا يُقَرّبُ مِنِ ابْنِ آدَمَ شَيْئًا لَمْ يَكُنِ اللهُ قَدّرَهُ لَهُ، وَلَكِنِ النّذْرُ يُوَافِقُ الْقَدَرَ، فَيُخْرَجُ بِذَلِكَ مِنَ الْبَخِيلِ مَا لَمْ يَكُنِ الْبَخِيلُ يُرِيدُ أَنْ يُخْرِجَ ] (صحيح مسلم : ١٦٤٠ ) |
| د نذر کفاره | | |
| له عقبه بن عامر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي : د نذر کفاره د قسم ( لوړې پورته کولو ) کفاره ده . | | ٦١٣ - : عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ [ كَفّارَةُ النّذْرِ كَفّارَةُ الْيَمِينِ ] ( صحيح مسلم : ١٦٤٥ ) |
| که د کفر په حالت څوک د طاعت نذر ومني هم به یې پوره کوي | | |
| له ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې د جاهلیت په دور کې عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نذر منلی و چې په مسجد حرام کې به زما په خیال یوه شپه | | ٦١٤ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [ أَنّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نَذَرَ فِي الجَاهِلِيّةِ أَنْ يَعْتَكِفَ فِي المَسْجِدِ الحَرَامِ قَالَ: أُرَاهُ قَالَ لَيْلَةً: ، قَالَ لَهُ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رَسُولُ اللّٰهِ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوْفِ بِنَذْرِكَ ] (صحيح البخاري : ٢٠٤٣ ) | | اعتکاف کوي ، نبي کريم صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : په نذر دې وفا وکړه . |
| د نذر په منلو به څوک ځان ته تکليف نه ورکوي | | |
| ٦١٥ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ [ أَنَّ النَّبِيَّ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى شَيْخًا يُهَادَى بَيْنَ ابْنَيْهِ، قَالَ: مَا بَالُ هَذَا؟ ، قَالُوا: نَذَرَ أَنْ يَمْشِيَ، قَالَ: إِنَّ اللّٰهَ عَنْ تَعْذِيبِ هَذَا نَفْسَهُ لَغَنِيٌّ، وَأَمَرَهُ أَنْ يَرْكَبَ ] ( صحيح البخاري : ١٨٦٥ ) | | له انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو سړی وليد چې د خپلو دوو بچو ترمنځ راښکل کېده ( يعنې په ولو يې ورله لاسونه اچولي وو او دواړو روان کړی و ) ويې پوښتل چې دا ولې ؟ هغوی ورته وويل : نذر يې کړی دی چې بيت الله ته به پيادل ځي ، نبي کريم صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وويل : ځان ته له تکليف ورکولو څخه يې الله غنی دی ، او بيا يې ورته امر ورکړ چې په سورلۍ سپور شي . |
| هغه نذر به نه شي پوره کولی چې د الله رضا په کې نه وي | | |
| ٦١٦ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ [ بَيْنَا النَّبِيُّ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ، إِذَا هُوَ بِرَجُلٍ قَائِمٍ، فَسَأَلَ عَنْهُ فَقَالُوا: أَبُو إِسْرَائِيلَ، نَذَرَ أَنْ يَقُومَ وَلاَ يَقْعُدَ، وَلاَ يَسْتَظِلَّ، وَلاَ يَتَكَلَّمَ، وَيَصُومَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مُرْهُ فَلْيَتَكَلَّمْ وَلْيَسْتَظِلَّ وَلْيَقْعُدْ، وَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ] (صحيح البخاري:٦٧٠٤) | | له ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول الله صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خطبه کوله نو ناڅاپه يې يو سړی ولاړ وليد ، چې پوښتنه يې وکړه خلکو ورته وويل : دا ابواسرائيل دی ، نذر يې منلی دی چې ودريږي به او نه به کيني ، نه به سيورې ته کيږي او نه به خبرې کوي او روژه به نيسي ، نبي کريم صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : ورته ووايئ چې خبرې دې هم کوي او سيورې ته دې هم کيني او خپله روژه دې پوره کړي . |
| د الله په معصيبت به څوک نذر نه مني | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٦١٧ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ مَنْ نَذَرَ أَنْ يُطِيعَ اللَّهَ فَلْيُطِعْهُ، وَمَنْ نَذَرَ أَنْ يَعْصِيَهُ فَلاَ يَعْصِهِ ] (صحيح البخاري: ٦٦٩٦) | | له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا نه روايت دى چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : څوک چې نذر ومنى چې دالله اطاعت به کوي نو د هغه اطاعت دې وکړي او که څوک نذر ومني چې د الله نافرماني به کوي نو د هغه نافرماني دې نه کوي . |
| **مباح نذر پوره کول مباح دي** | | |
| ٦١٨ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ [رَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَعْضِ مَغَازِيهِ فَجَاءَتْ جَارِيَةٌ سَوْدَاءُ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي كُنْتُ نَذَرْتُ إِنْ رَدَّكَ اللَّهُ سَالِمًا أَنْ أَضْرِبَ عَلَى رَأْسِكَ بِالدُّفِّ. فَقَالَ:إِنْ كُنْتِ نَذَرْتِ فَافْعَلِي وَإِلَّا فَلَا قَالَتْ: إِنِّي كُنْتُ نَذَرْتُ. قَالَ: فَقَعَدَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَضَرَبَتْ بِالدُّفِّ ] ( مسند احمد :٢٣٠١١ ) | | عبدالله له خپل پلار بريده رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت کوي چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له خپلې ځينو غزاګانو نه مدينې ته راستون شو ، يوه توره جنۍ راغله او ورته يې وويل : د الله رسوله ! ما نذر منلى و که الله پاک ته مدينې ته روغ او سالم راستون کړې نو زه به دې پر سر چمبه وهم ، هغه ورته وويل : که نذر دې منلى وي او خوښه دې وي نو پوره يې کړه او که دې خوښه وي مه يې پوره کوه ، هغې ورته وويل نذر مې منلى دى ، راوي وايي : نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کېناست او جينۍ يې پر سر چمبه ووهله |
| **د څه شي ملکيت چې انسان نه لري نذر يې هم صحيح نه دى** | | |
| ٦١٩ - : عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ لَا وَفَاءَ | | له عمران به حصين رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: د معصيب په منلي نذر هيڅ وفا نشته ( نه به شى پوره |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةٍ، وَلَا فِيمَا لَا يَمْلِكُ الْعَبْدُ ] ( صحيح مسلم : ١٦٤١ ) | | کولی ) او نه به هغه نذر پوره کولی شي چې بنده يې واک نه لري . |

WWW.LARHKUD.COM

<table>
<tr><td colspan="3">د حدودو بیان<br>د حد قائمولو فضیلت</td></tr>
<tr><td>٦٢٠ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ إِقَامَةُ حَدٍّ بِأَرْضٍ خَيْرٌ لِأَهْلِهَا مِنْ مَطَرِ أَرْبَعِينَ صَبَاحًا ] ( صحيح ابن حبان : ٤٣٩٧ ).</td><td></td><td>له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : په ځمکه کې د الله یو حد قائمول د اوسېدونکو لپاره یې د څلوېښت ورځې باران نه غوره دي .</td></tr>
<tr><td colspan="3">د الله حدود به په شریف او وضیع یو شان تنفذیږي</td></tr>
<tr><td>٦٢١ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا [ أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ شَأْنُ الْمَرْأَةِ الْمَخْزُومِيَّةِ الَّتِي سَرَقَتْ، فَقَالُوا: وَمَنْ يُكَلِّمُ فِيهَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالُوا: وَمَنْ يَجْتَرِئُ عَلَيْهِ إِلَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، حِبُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَلَّمَهُ أُسَامَةُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ، ثُمَّ قَامَ فَاخْتَطَبَ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ قَبْلَكُمْ، أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ</td><td></td><td>له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روایت دی چې یوې مخزومي ښځې غلا کړې وه نو قریش پرې د حد په قائمولو خفګان ونیول ، هغوی وویل: د ښځې متعلق به د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره څوک خبرې وکړي؟ هغوی وویل: اسامة بن زید رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورسره ډېره مینه ده بغیر بل څوک به ورسره خبرې ونه کړی شي، نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل: ایا ته د الله په حدودو کې شفاعت کوې؟ بیا پاڅېد او خلکو ته یې خطبه وویله چې: ستاسو نه مخکې خلک په دې برباد شوي وو چې کله به په کې شریف (لوړنسبي) غلا وکړه پرې به یې ښود، او که</td></tr>
</table>

WWW.LARHKUD.COM

| | |
|---|---|
| فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ، وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الحَدَّ، وَايْمُ اللَّهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا ] ( صحيح البخاري : ٣٤٧٥ ) . | غریب به په کې غلا وکړه نو حد به يې پرې قائم کړ، قسم په الله چې که فاطمه بنت محمد هم غلا وکړي نو زه به يې لاس غوڅ کړم. |
| که گناهگار تفصیل ونه کړي امام پرې پرده اچولی شي | |
| ٦٢٢ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ [ كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْهُ عَلَيَّ، قَالَ: وَلَمْ يَسْأَلْهُ عَنْهُ، قَالَ: وَحَضَرَتِ الصَّلاَةُ، فَصَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلاَةَ، قَامَ إِلَيْهِ الرَّجُلُ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَصَبْتُ حَدًّا، فَأَقِمْ فِيَّ كِتَابَ اللَّهِ، قَالَ: أَلَيْسَ قَدْ صَلَّيْتَ مَعَنَا قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَإِنَّ اللَّهَ قَدْ غَفَرَ لَكَ ذَنْبَكَ، أَوْ قَالَ: حَدَّكَ ] ( صحيح البخاري : ٦٨٢٣ ) . | له انس به مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې زه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وم چې یو سړی راغی او وېویل : ای دالله رسوله! حد راباندې اوښتی دی، راباندې يې نافذ کړه ، خو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترې پوښتنه ونه کړه، د لمونځ وخت داخل شو او د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره يې لمونځ وکړ، کله چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لمونځ خلاص کړ سړی ورته پاڅېد او وېویل: د الله رسوله! حد راباندې اوښتی دی د الله کتاب راباندې نافذ کړه، هغه ورته وویل: ایا تا له مونږ سره لمونځ ونه کړ؟ سړي وویل: ولې نه، هغه ورته وویل : په یقین سره چې الله درته گناه دروبښله، یا يې وویل: حد يې درته وبښه. |
| په حدودو باندې گناهونه رژیږي | |
| ٦٢٣ - : عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ[ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ | له عمران به حصین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې د جهینې د قبیلې یوه ښځه نبي کریم صَلَّى اللهُ |

WWW.LARHKUD.COM

جُهَيْنَةَ أَتَتْ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ حُبْلَى مِنَ الزِّنَى، فَقَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللهِ، أَصَبْتُ حَدًّا، فَأَقِمْهُ عَلَيَّ، فَدَعَا نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِيَّهَا، فَقَالَ: أَحْسِنْ إِلَيْهَا، فَإِذَا وَضَعَتْ فَأْتِنِي بِهَا ، فَفَعَلَ، فَأَمَرَ بِهَا نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَشُكَّتْ عَلَيْهَا ثِيَابُهَا، ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَرُجِمَتْ، ثُمَّ صَلَّى عَلَيْهَا، فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: تُصَلِّي عَلَيْهَا يَا نَبِيَّ اللهِ وَقَدْ زَنَتْ؟ فَقَالَ: لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ سَبْعِينَ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ لَوَسِعَتْهُمْ، وَهَلْ وَجَدْتَ تَوْبَةً أَفْضَلَ مِنْ أَنْ جَادَتْ بِنَفْسِهَا لِلَّهِ تَعَالَى ] ( صحيح مسلم : ١٦٩٦ ) .

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغله په داسې حالت چې غل خېتې وه ، وېويل : اى د الله نبي ! داسې څه مې کړي دي چې حد يې راباندې واجب کړى دى ، نو په ما باندې حد نافذ کړه ، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يې سرپرست راوغوښت ورته يې وويل : د دې ښځې سره ښه وضعيت وکړه چې کله يې بچى پيدا شو ما ته يې راوله ، سړي همدغسې وکړل ، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر وکړ جامې پرې راغونډې ( تاو ) کړى شوې بيا يې امر وکړ او رجم شوه ، بيا يې پرې د جنازې لمونځ وکړ ، عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وويل : د الله نبي ! ته پرې لا جنازه هم کوې او هغې زنا کړې وه ؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : دې داسې توبه ويستلې وه چې که د مديني اويا ګناهګارانو باندې تقسيم شي نو هم به پرې معاف شي ، ايا تا له دې نه بله غوره توبه ليدلې ده چې د الله لپاره يې خپله روح ورکړه ؟.

### په حد سره اخروي سزا ساقطيږي

٦٢٤ - : عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ أَصَابَ مِنْكُمْ حَدًّا فَعُجِّلَتْ لَهُ عُقُوبَتُهُ، فَهُوَ كَفَّارَتُهُ، وَإِلَّا فَأَمْرُهُ إِلَى اللهِ] (سنن

له عبادة بن الصامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : پر چا چې حد قائم شي او سزا يې زر ( په دنيا کې ) وشکله ، نو حد ورله کفاره ده ، خو که پر چا حد نافذ نه شي نو واک يې د الله په لاس کې دى .

WWW.LARPKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ابن ماجه: ۲۶۰۳ ) | | |
| **په امت کې د بې اتفاقۍ اچونکي حد وژل دي** | | |
| ۶۲۵ - : عَنْ عَرْفَجَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ [ إِنَّهُ سَتَكُونُ هَنَاتٌ وَهَنَاتٌ، فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يُفَرِّقَ أَمْرَ هَذِهِ الْأُمَّةِ وَهِيَ جَمِيعٌ، فَاضْرِبُوهُ بِالسَّيْفِ كَائِنًا مَنْ كَانَ ] (صحيح مسلم: ۱۸۵۲) | | له عرفجه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي ویل یې : ډیر زر به فتنې او امتحانونه راشي ، که چا په کې د امت د افتراق [ ګډوډۍ ) اراده ولرله او امت یو متحد و نو که هر څوک وي څټ یې په توره ووهئ . |
| **هغه اسباب چې د مسلمان وینه مباحوي** | | |
| ۶۲۶ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ، يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ، إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: النَّفْسُ بِالنَّفْسِ، وَالثَّيِّبُ الزَّانِي، وَالْمَارِقُ مِنَ الدِّينِ التَّارِكُ لِلْجَمَاعَةِ ] (صحيح البخاري: ۶۸۷۸ ) | | له عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : دهغه مسلمان وینه نه ده حلاله چې ګواهي ورکوي چې له الله نه بغیر بل حق معبود نشته او زه د الله رسول یم ، مګر په درې شیانو یې وینه ( تویول ) روا کیږي : په قصاص سره ، یا واده شده زاني وي ، یا له دین څخه وتونکی ( مرتد ) وي چې د مسلمانانو جماعت پریږدي . |
| **د زنا پر وخت له مسلمان څخه ایمان پورته وي ( کامل مومن نه وي)** | | |
| ۶۲۷ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ لَا يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلَا يَشْرَبُ الْخَمْرَ | | له ابوهریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : کله چې زناکار زنا کوي نو دغه وخت مومن نه دی ، کله چې شرابخور شراب څښي نو دغه وخت مومن نه |

WWW.LAPHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| حِينَ يَشْرَبُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلاَ يَسْرِقُ حِينَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلاَ يَنْتَهِبُ نُهْبَةً، يَرْفَعُ النَّاسُ إِلَيْهِ فِيهَا أَبْصَارَهُمْ حِينَ يَنْتَهِبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ ] ( صحيح البخاري : ٢٤٧٥ ) . | | دی ، کله چې غل غلا کوي نو دغه وخت مومن نه دی ، او کله چې چپاولګر داسې څه چور کوي چې خلک ورته ګوري او دا په چور لګیا وي دغه وخت مومن نه دی |
| له بوډا زناکار سره الله هېڅ خبرې نه کوي | | |
| ٦٢٨ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: الشَّيْخُ الزَّانِي، وَالْعَائِلُ الْمَزْهُوُّ، وَالْإِمَامُ الْكَذَّابُ ] ( سنن النسائي : ٢٥٧٥ ) . | | له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويلي دي : درقسمه خلک دي الله به ورسره د قيامت په ورځ خبرې ونه کړي ، بوډا زناکار ، متکبر فقير ، دروغجن سربراه |
| له ګاونډۍ سره زنا ډېره لويه ګناه ده | | |
| ٦٢٩ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بَنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ [ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَيُّ الذَّنْبِ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ؟ قَالَ: أَنْ تَجْعَلَ لِلَّهِ نِدًّا، وَهُوَ خَلَقَكَ، قُلْتُ: إِنَّ ذَلِكَ لَعَظِيمٌ، قُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: ثُمَّ أَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ تَخَافُ أَنْ يَطْعَمَ مَعَكَ، قُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: ثُمَّ أَنْ تُزَانِيَ بِحَلِيلَةِ جَارِكَ ] (صحيح البخاري : ٧٥٢٠ ) | | عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې ما له نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه پوښتنه وکړه چې د الله په وړاندې کومه ګناه ډېره لويه ده ؟ هغه وويل : چې ته له الله سره شريک وګرځوې په داسې حال کې چې ته الله پيدا کړی يې ، ما ورته وويل : دا خوډېره لويه ګناه ده ، بيا مې ورته وويل : بيا کومه ګناه ډېره لويه ده ؟ هغه وويل : بيا دا ګناه لويه ده چې ته د خپل ګاونډي له ښځې سره زنا وکړې . |
| د ښځې يا نارينه شا ته راتلونکي ته به الله بيخي ونه ګوري | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٦٣٠ - : عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ لَا يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَى رَجُلٍ أَتَى رَجُلًا أَوْ امْرَأَةً فِي الدُّبُرِ ] ( جامع الترمذي : ١١٦٥ ). | | له ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايلي دي : هغه سړي ته به الله بيخي ونه ګوري چې سړي يا ښځې ته د شا له پلوره راتګ وکړي . |
| حقيقي زنا ته اسباب په كار اچول هم زنا ده | | |
| ٦٣١ - : عَنِ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَا، أَدْرَكَ ذَلِكَ لَا مَحَالَةَ، فَزِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ، وَزِنَا اللِّسَانِ الْمَنْطِقُ، وَالنَّفْسُ تَمَنَّى وَتَشْتَهِي، وَالْفَرْجُ يُصَدِّقُ ذَلِكَ أَوْ يُكَذِّبُهُ ] (صحيح البخاري: ٦٦١٢) | | ابوهريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ له رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ نه روايت كوي چې الله پاک په انسان باندې د زنا څه برخې ليکلي دي او ضرور به يې کوې ، د سترګو زنا کتل دي ، د ژبې زنا خبرې كول دي ، او نفس يې ارزو او اشتها لري ، او فرج يې تصديق او يا تكذيب كوي . |
| بهر ته د تللو وخت کې به ښځه خوشبوی نه استعمالوي | | |
| ٦٣٢ - : عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ إِذَا اسْتَعْطَرَتِ الْمَرْأَةُ، فَمَرَّتْ عَلَى الْقَوْمِ لِيَجِدُوا رِيحَهَا، فَهِيَ كَذَا وَكَذَا قَالَ قَوْلًا شَدِيدًا ] ( سنن ابي داود : ٤١٧٣ ). | | له ابوموسى اشعري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْه نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايلي دي : كله چې ښځه عطر ومښي او په خلكو تېره شي او هغوى يې د عطرو بوى حس كړي نو دغه ښځه داسې او داسې ده يا له دې نه هم سخته خبره وكړه . |
| د واده شده او غير واده شده حدونه | | |
| ٦٣٣ - : عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ | | له عباده بن الصامت رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دى |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ [ كَانَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ كُرِبَ لِذَلِكَ، وَتَرَبَّدَ لَهُ وَجْهُهُ قَالَ: فَأُنْزِلَ عَلَيْهِ ذَاتَ يَوْمٍ، فَلُقِيَ كَذَلِكَ، فَلَمَّا سُرِّيَ عَنْهُ، قَالَ: خُذُوا عَنِّي، فَقَدْ جَعَلَ اللهُ لَهُنَّ سَبِيلًا، الثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ، وَالْبِكْرُ بِالْبِكْرِ، الثَّيِّبُ جَلْدُ مِائَةٍ، ثُمَّ رَجْمٌ بِالْحِجَارَةِ، وَالْبِكْرُ جَلْدُ مِائَةٍ، ثُمَّ نَفْيُ سَنَةٍ ] ( صحیح مسلم : ۱۶۹۰ ) | | چې په رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې به کله هم وحي راتله نو سخت تکلیف به ونیو او د مخ رنګ به یې بدل شو ، صحابي وایي : یوه ورځ پرې وحي راغله او ددغې ستونزې سره مخ شو ، کله چې ورنه دغه حالت پورته شو نو وېویل: له ما نه یې حکمونه زده کړئ ، دغو ښځو ته الله یوه لاره خلاصه کړه، واده شده چې دواده شده سره او غیرواده شده چې د غیر واده شده سره زنا وکړي ، نو ثیب به سل درې وهل کیږي او بیا به رجم کیږي او لونډ به سل دورې وهل کیږي او له کلي شړل هم دي . |
| په اسلامي قلمرو کې چې غیر مسلم زنا وکړي | | |
| ٦٣٤ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا [ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَمَ يَهُودِيَّيْنِ، أَنَا فِيمَنْ رَجَمَهُمَا، فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ وَإِنَّهُ يَسْتُرُهَا مِنَ الْحِجَارَةِ ] (سنن ابن ماجه: ٢٥٥٦) | | له ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه یهودان رجم کړل ، زه هم په هغه چا کې وم چې په کاڼو یې وویشتل ، ما یهودي سړی ولید چې ښځه یې له کاڼو ویشتو څخه پر ځان ساتله . |
| د وینځې د زنا حد | | |
| ٦٣٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا [ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، سُئِلَ | | له ابوهریره او زید بن خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د وینځې باره کې پوښتنه وشوه چې په داسې حالت |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَنِ الْأَمَةِ إِذَا زَنَتْ وَلَمْ تُحْصِنْ، قَالَ: إِنْ زَنَتْ فَاجْلِدُوهَا، ثُمَّ إِنْ زَنَتْ فَاجْلِدُوهَا، ثُمَّ إِنْ زَنَتْ فَبِيعُوهَا وَلَوْ بِضَفِيرٍ ] (صحيح البخاري: ۲۱۵۳) | | کې زنا وکړي چې واده شده نه وي ، هغه وويل : که زنا وکړي وبې وهئ ، که بیا زنا وکړي وبې وهئ چې بیا زنا وکړي نو خرڅه یې کړئ که د ویښتو په پړي هم وي . |
| د شرابو حد | | |
| ٦٣٦ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ مَنْ شَرِبَ الخَمْرَ فِي الدُّنْيَا، ثُمَّ لَمْ يَتُبْ مِنْهَا، حُرِمَهَا فِي الآخِرَةِ ] ( صحيح البخارى : ٥٥٧٥ ) . | | له عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : څوک چې په دنیا کې شراب وڅښي او توبه ترې ونه باسي نو په اخرت کې به ترې محروم پاتې شي . |
| په شرابو کې د حد کیفیت | | |
| ٦٣٧ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ [ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَدَ فِي الْخَمْرِ بِالْجَرِيدِ، وَالنِّعَالِ، ثُمَّ جَلَدَ أَبُو بَكْرٍ أَرْبَعِينَ، فَلَمَّا كَانَ عُمَرُ، وَدَنَا النَّاسُ مِنَ الرِّيفِ وَالْقُرَى، قَالَ: مَا تَرَوْنَ فِي جَلْدِ الْخَمْرِ؟ فَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ: أَرَى أَنْ تَجْعَلَهَا كَأَخَفِّ الْحُدُودِ، قَالَ: فَجَلَدَ عُمَرُ | | له انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په شرابو کې حد په لښتو او څپلو وهل وکړل ، بیا ابوبکر رَضِيَ اللّٰهُ حد څلوېښت دورې وهل وکړل ، خو د عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په دور کې چې خلک په ریف او کلیو کې پراخه زندګۍ کې شول نو وېویل : تاسو د شرابو حد باره کې څه فکر لرئ ، عبدالرحمن بن عوفرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ورته وویل : زه خو وایم چې په حدودو کې اخف ترین حد یې باید حد وټاکل شي ، نو عمر |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ثَمَانِينَ ] ( صحيح مسلم : ١٧٠٦ ) | | رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د شرابو حد اتيا دورې وهل وكړل . |
| شراب په عباداتو هم منفي اثر لري | | |
| ٦٣٨ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ مَنْ شَرِبَ الخَمْرَ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِينَ صَبَاحًا، فَإِنْ تَابَ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ، فَإِنْ عَادَ لَمْ يَقْبَلِ اللّٰهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا، فَإِنْ تَابَ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ، فَإِنْ عَادَ لَمْ يَقْبَلِ اللّٰهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا، فَإِنْ تَابَ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ، فَإِنْ عَادَ الرَّابِعَةَ لَمْ يَقْبَلِ اللّٰهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا، فَإِنْ تَابَ لَمْ يَتُبِ اللّٰهُ عَلَيْهِ، وَسَقَاهُ مِنْ نَهْرِ الخَبَالِ قِيلَ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ: وَمَا نَهْرُ الخَبَالِ؟ قَالَ: نَهْرٌ مِنْ صَدِيدِ أَهْلِ النَّارِ ] (جامع الترمذي: ١٨٦٢) | | له عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : كه څوک شراب وڅښي نو څلوېښت ورځې عبادت به يې قبول نه شي خو كه توبه يې وويسته نو الله يې توبه قبلوي ، كه بيا يې شراب وڅښل نو څلوېښت ورځې به يې الله عبادت قبول نه كړي خو كه توبه يې وويسته نو الله يې توبه قبلوي ، كه بيا يې شراب وڅښل نو څلوېښت ورځې به يې الله عبادت قبول نه كړي خو كه توبه يې وويسته نو الله يې توبه قبلوي ، كه په څلورم ځل يې شراب وڅښل نو څلوېښت ورځې به يې الله عبادت قبول نه كړي او كه توبه يې وويسته الله به يې توبه قبوله نه كړي ، او د خبال له نهر څخه به پرې څكل هم وكړي ، چا وويل : ابوعبدالرحمن ! د خبال نهر څه شی دی ، هغه وويل : د دوزخيانو وينې زوې دي . |
| په شرابو اموخته به وژلی شي | | |
| ٦٣٩ - : عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَاجْلِدُوهُ، ثُمَّ إِنْ شَرِبَ فَاجْلِدُوهُ، ثُمَّ | | له ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : څوک چې شراب وڅښي نو په دورو يې ووهئ ، كه يې بيا وڅښل بيا يې ووهئ ، كه يې بيا وڅښل بيا يې ووهئ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| إِنْ شَرِبَ فَاجْلِدُوهُ، ثُمّ إِنْ شَرِبَ فَاقْتُلُوهُ ] (سنن النسائي: ٥٦١٦) | | ، که بې بیا وڅښل نو مړ يې کړئ . |
| د تعزيري سزا اندازه | | |
| ٦٤٠ - : عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بن نِيَار الْأَنْصَارِيّ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، يَقُولُ [ لاَ تَجْلِدُوا فَوْقَ عَشَرَةِ أَسْوَاطٍ إِلّا فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ ] ( صحيح البخاري : ٦٨٥٠ ) . | | له ابوبرده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ نه مې اوريدلي دي چې له لسو ( ګوزارونو ) نه پورته وهل مه کوئ مګر دا که د الله حد وي ( بيا يې وکړئ ) |
| د غلا پر وخت له مسلمان څخه ايمان پورته وي ( کامل مومن نه وي) | | |
| ٦٤١ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ لاَ يَزْنِي الزّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلاَ يَشْرَبُ الخَمْرَ حِينَ يَشْرَبُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلاَ يَسْرِقُ حِينَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلاَ يَنْتَهِبُ نُهْبَةً، يَرْفَعُ النّاسُ إِلَيْهِ فِيهَا أَبْصَارَهُمْ حِينَ يَنْتَهِبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ ] ( صحيح البخاري : ٢٤٧٥ ) . | | له ابوهريرةرَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايلي دي : کله چې زناکار زنا کوي نو دغه وخت مومن نه دی ، کله چې شرابخور شراب څښتي نو دغه وخت مومن نه دی ، کله چې غل غلا کوي نو دغه وخت مومن نه دی ، او کله چې چپاولګر داسې څه چور کوي چې خلک ورته ګوري او دا په چور لګيا وي دغه وخت مومن نه دی |
| د غلا حد لاس پرېکول دي | | |
| ٦٤٢ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عَنِ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ: [ تُقْطَعُ يَدُ السّارِقِ فِي رُبُعِ دِينَارٍ ] ( | | له عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وايي: د غلاجن لاس به د دينار په څلورمه کې قطع کولی شي |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| صحيح البخاري : ٤٣٨٤) | | |
| د خائن او مختلس حد لاس قطع کول نه دي | | |
| ٦٤٣ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ لَيْسَ عَلَى مُخْتَلِسٍ، وَلَا مُنْتَهِبٍ، وَلَا خَائِنٍ قَطْعٌ ] ( سنن النسائي : ٤٩٧٥ ) | | له جابر رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : بدعنواني کونکي ( د ملي شتمنۍ غلاجن ) او چپاولګر او خيانتګر لاس باندې دلاس پرېکول نشته . |
| ٦٤٤ - : عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ[ لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ، وَلَا كَثَرٍ ] ( سنن ابي داود : ٤٣٨٨ ) . | | له رافع بن خديج رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ما له رسول الله صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه اورېدلي دي چې په کجورو ( عامو ميوو کې هم ) او د کجورې تنې په زړه کې ( دا د کجورې له تنې څخه راويستل کيږي سپين رنګ لري ) دلاس قطع کول نشته . |
| د لارشکونکي (قاطع الطريق) حد له عام غلاګر نه سخت دی | | |
| ٦٤٥ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ [ قَدِمَ أُنَاسٌ مِنْ عُكْلٍ أَوْ عُرَيْنَةَ، فَاجْتَوَوْا الْمَدِينَةَ فَأَمَرَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِلِقَاحٍ، وَأَنْ يَشْرَبُوا مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا فَانْطَلَقُوا، فَلَمَّا صَحُّوا، قَتَلُوا رَاعِيَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَاسْتَاقُوا النَّعَمَ، فَجَاءَ الْخَبَرُ فِي أَوَّلِ النَّهَارِ، فَبَعَثَ فِي آثَارِهِمْ، | | له انس رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې له عکل يا عرينه قبيلې ځينې خلک مدينې ته راغلل نو مدينه کې يې خيټې خرابې شوې نو نبي کريم صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته امر وکړ چې د شودو لنګې اوښې واخلي او متيازې او شيدې يې وڅښي نو د اوښانو سره روان شول کله چې روغ شول نو د نبي کريم صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شپونکی يې وواژه او اوښان يې هم له ځانه سره بوتلل ، د ورځې په پيل کې خبره تر مدينې راغله نو خلک يې پسې واستول ورځ لا نه |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| فَلَمَّا ارْتَفَعَ النَّهَارُ جِيءَ بِهِمْ، فَأَمَرَ فَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ، وَسُمِرَتْ أَعْيُنُهُمْ، وَأُلْقُوا فِي الحَرَّةِ، يَسْتَسْقُونَ فَلاَ يُسْقَوْنَ . قَالَ أَبُو قِلاَبَةَ: فَهَؤُلاَءِ سَرَقُوا وَقَتَلُوا، وَكَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ، وَحَارَبُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ] (صحيح البخاري: ۲۳۳ ) | | وه پښه شوې چې راپې وستل ، د لاسونو او پښو په غوڅولو يې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر وکړ، په ګرمې اوسپنې ترې سترګې هم وويستل شوې او په ګرمۍ کې واچول شول اوبه به يې غوښتلی او نه به ورکول کېدی، ابوقلابه وايي : دا ځکه چې دې خلکو هم غلا کړې وه او هم يې قتل ، له ايمان وروسته يې کفر وکړ او الله او د هغه له رسول سره يې جنګ هم اعلان کړی و |
| **د مرتد حد قتل دی** | | |
| ٦٤٦ - : عَنْ عِكْرِمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [ أَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حَرَّقَ قَوْمًا، فَبَلَغَ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ: لَوْ كُنْتُ أَنَا لَمْ أُحَرِّقْهُمْ لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لاَ تُعَذِّبُوا بِعَذَابِ اللَّهِ، وَلَقَتَلْتُهُمْ كَمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ ] (صحيح البخاري: ۳۰۱۷ ) | | له عکرمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ځيني خلک په اور وسوځول ، ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې کله خبر شو وېويل : که زه يې پر ځای وم نو ما به نه وو سوځولی ، ځکه نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : د الله په عذاب چا ته عذاب مه ورکوئ ، ما به يواځې مړه کړي وو او بس، لکه څنګه چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : څوک چې دين بدل کړي نو مړ يې کړئ. |
| **په شعري بڼه د مشرکانو هجوه کول جهاد دی** | | |
| ٦٤٧ - : عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ[ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا تَرَى فِي الشِّعْرِ قَالَ: إِنَّ | | له کعب بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يې وويل : د الله رسوله ! په شعر کې د مشرکانو هجوې څنګه وينې ؟ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| الْمُؤْمِنَ يُجَاهِدُ بِسَيْفِهِ، وَلِسَانِهِ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَكَأَنَّمَا تَنْضَحُونَهُمْ بِالنَّبْلِ ] (صحيح ابن حبان: ٤٧٠٧) | | هغه وویل : مومن سړی په توره او ژبه جهاد کوي ، په هغه الله قسم چې زما نفس يې په لاس کې دی شعرونه داسې دي لکه په غشو چې يې ولئ |
| د مشرکانو هجوه د جهاد يو ډول دی | | |
| ٦٤٨ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ جَاهِدُوا بِأَيْدِيكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ] (سنن النسائي : ٣١٩٢) | | له انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : په خپلو لاسونو او ژبو او مالونو مو جهاد وکړئ . |
| مجاهد بايد نښه باز وي | | |
| ٦٤٩ - : عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ [ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى نَفَرٍ مِنْ أَسْلَمَ يَنْتَضِلُونَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ارْمُوا بَنِي إِسْمَاعِيلَ، فَإِنَّ أَبَاكُمْ كَانَ رَامِيًا ] ( صحيح البخاري : ٢٨٩٩ ). | | سلمة بن الاکوع رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اسلم د قبيلې په ځينو خلکو تېرېده چې په ګوزارونو کې يې مسابقه سره کوله ، نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل : اسماعيلزو ! نښې ولئ ستاسو پلار هم ښه نښه باز و. |
| د شرعي عذر څښتن ته د مجاهد اجر ورکول کيږي | | |
| ٦٥٠ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ [ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ، فَقَالَ: إِنَّ بِالْمَدِينَةِ لَرِجَالًا مَا سِرْتُمْ مَسِيرًا، وَلَا قَطَعْتُمْ | | له جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې مونږ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په غزا کې وو وېويل : په مدينه ځيني خلک دي چې تاسو په هېڅ لاره نه ځئ او له کومې درې نه تېرېږئ مګر هغوی |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَادِيًا، إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ، حَبَسَهُمُ الْمَرَضُ ] ( صحيح مسلم : ۱۹۱۱ ) . | | درسره په اجر کې شریک دي ، ځکه چې مرض ( له راتګ څخه ) بند کړي دي . |
| **که له دښمن څخه ویره وي باید قران یې قلمرو ته یونه وړل شي** | | |
| ٦٥١ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [ أَنَّهُ كَانَ يَنْهَى أَنْ يُسَافَرَ بِالْقُرْآنِ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ، مَخَافَةَ أَنْ يَنَالَهُ الْعَدُوُّ ]] ( صحيح مسلم : ۱۸٦٩ ) . | | له عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له دې څخه منعه کړې ده چې قران کریم دې د دښمن خاورې ( ځمکې ، کلیو او کورونو ) ته یوړل شي ، هسې نه چې هغوی یې بې حرمتي وکړي . |
| **غوره ملګري او غوره جنګي لښکرې** | | |
| ٦٥٢ - : عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ خَيْرُ الصَّحَابَةِ أَرْبَعَةٌ، وَخَيْرُ السَّرَايَا أَرْبَعُ مِائَةٍ، وَخَيْرُ الْجُيُوشِ أَرْبَعَةُ آلَافٍ، وَلَا يُغْلَبُ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا مِنْ قِلَّةٍ ] ( سنن ابي داود : ۲٦۱۱ ) . | | له ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : بهتره ملګري څلور دي ، بهتره جنګي لیکه څلور سوه ده ، او بهتر جنګي لښکر څلور زره دی ، او دولس زریزه لښکر شکست د کموالي له کبله نه خوري . |
| **جنګي الاتو کې غیر تضمیني امانت صحیح دی** | | |
| ٦٥٣ - : عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ [ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا أَتَتْكَ رُسُلِي فَأَعْطِهِمْ ثَلَاثِينَ دِرْعًا، وَثَلَاثِينَ بَعِيرًا قَالَ: فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ: أَعَوَرٌ | | صفوان له خپل پلار څخه روایت کوي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راته وویل: زما استازي چې درته کله راشي نو دیرشت زغرې او اوښان به ورکړې ، ما ورته وویل: د الله رسوله ! امانت به ضمانتي وي اوکه نه ؟ هغه وو |

WWW.L-ARHIBUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| مَضْمُونَةٌ، أَوْ عَوَرٌ مُؤَدّاةٌ، قَالَ: بَلْ مُؤَدّاةٌ ] ( سنن ابي داود : ۳۵٦٦ ) . | | یل : بې ضمانته به یې . |
| ماشومان هم په غزا کې شرکت کولی شي | | |
| ٦٥٤ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنّ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ لِأَبِي طَلْحَةَ: [ التَمِسْ غُلَامًا مِنْ غِلْمَانِكُمْ يَخْدُمُنِي حَتّى أَخْرُجَ إِلَى خَيْبَرَ فَخَرَجَ بِي أَبُو طَلْحَةَ مُرْدِفِي، وَأَنَا غُلَامٌ رَاهَقْتُ الحُلُمَ، فَكُنْتُ أَخْدُمُ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ إِذَا نَزَلَ، فَكُنْتُ أَسْمَعُهُ كَثِيرًا يَقُولُ: اللّهُمّ إِنّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمّ وَالحَزَنِ، وَالعَجْزِ وَالكَسَلِ، وَالبُخْلِ وَالجُبْنِ، وَضَلَعِ الدّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرّجَالِ ] ( صحيح البخاري: ۲۸۹۳). | | انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ابو طلحه ته وویل چې زما د خدمت لپاره کوم زلمکی وګوره ترڅو خیبر ته لاړ شم، نو ابوطلحه له ځان سره زه په سیورلۍ سپور کړم او زه بلوغ ته رسېدلی وم او ما به د نبي صلی الله علیه وسلم خدمت کو، چې کله به چرته تم کېده دا به مې ترې ډېر اورېدل: اي الله تاپورې له غم نه پناه غواړم، د بې وسۍ او کسالت نه درپورې پناه نیسم، له بخل او بوزدیلۍ نه ، د قرض دروندوالي او د خلکو له غلبې نه درپورې پناه نیسم. |
| جهاد کې به له مشرک نه مرسته نه غوښتل کیږي | | |
| ٦٥٥ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا إِنّ رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ لَحِقَ بِالنّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ لِيُقَاتِلَ مَعَهُ فَقَالَ: ارْجِعْ . ثُمّ اتّفَقَا فَقَالَ: إِنّا لَا نَسْتَعِينُ بِمُشْرِكٍ] (سنن ابي داود : ۲۷۳۲) | | له عایشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې یو مشرک د نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوځای شو چې په ملتیا یې جنګ وکړي هغه ورته وویل : بېرته ستون شه مونږ له مشرک نه مرسته نه غواړو . |
| د خومره عمر ښښتن جهاد ته تللی شي ؟ | | |

WWW.LARKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٦٥٦ - : عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [ عُرِضْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَيْشٍ وَأَنَا ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ فَلَمْ يَقْبَلْنِي، ثُمَّ عُرِضْتُ عَلَيْهِ مِنْ قَابِلٍ فِي جَيْشٍ وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ فَقَبِلَنِي ] ( جامع الترمذي: ١٣٦١) | | عبدالله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په لښکر کې وړاندې کړی شوم او څوارلس کلن وم نو قبول نه یې کړم په راروان کال کې ورته بیا وړاندې کړی شوم او پنځلس کلن وم نو بیا یې قبول کړم . |
| چرته چې اذان کیږي جهاد پکې حرام دی | | |
| ٦٥٧ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا غَزَا بِنَا قَوْمًا، لَمْ يَكُنْ يَغْزُو بِنَا حَتَّى يُصْبِحَ وَيَنْظُرَ، فَإِنْ سَمِعَ أَذَانًا كَفَّ عَنْهُمْ، وَإِنْ لَمْ يَسْمَعْ أَذَانًا أَغَارَ عَلَيْهِمْ، قَالَ: فَخَرَجْنَا إِلَى خَيْبَرَ، فَانْتَهَيْنَا إِلَيْهِمْ لَيْلًا، فَلَمَّا أَصْبَحَ وَلَمْ يَسْمَعْ أَذَانًا رَكِبَ، وَرَكِبْتُ خَلْفَ أَبِي طَلْحَةَ، وَإِنَّ قَدَمِي لَتَمَسُّ قَدَمَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَخَرَجُوا إِلَيْنَا بِمَكَاتِلِهِمْ وَمَسَاحِيهِمْ، فَلَمَّا رَأَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالُوا: مُحَمَّدٌ وَاللَّهِ، مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيسُ، قَالَ: فَلَمَّا رَآهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ | | له انس بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې کله به نبي کریم صلی الله علیه وسلم پر مونږ باندې له کوم قوم سره غزا کوله نو تر هغه به یې غزا نه کوله چې سهار به یې کړ او کتل به یې که به یې اذان واورېد نو ترې رابند به شو او که به یې اذان وانه اورېد حمله به یې پرې کوله، مونږ چې کله خیبر ته ووتو نو د شپې هلته ورسېدو چې سهار یې کړ نو اذان یې وانه اورېد په سپرلۍ سپور او زه د ابو طلحه سره په سپرلۍ سپور شوم، او زما قدم به د نبي صلی الله علیه وسلم له قدم سره لګېده، ناڅاپه یهودان له مونږ سره په داسې حالت کې مخامخ شول چې بیلچې او کیجاوې یې ورسره وې چې کله یې نبي صلی الله علیه وسلم ولید وېویل : قسم په الله چې دا خو محمد او لښکرې یې دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله ولیدل وېویل: الله |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| قَالَ: " اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ، خَرِبَتْ خَيْبَرُ، إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ [فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ ] ( صحيح البخاري ٣٧١ ) | | اکبر، الله اکبر، خیبر ویجاړ شو، مونږ چې کله د کوم قوم په ساحه ورشو نو د وېرول شویو سبا بیا ډېر بد وي . |
| ٦٥٨ - : عَنْ انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ [يُغِيرُ عِنْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ، وَكَانَ يَتَسَمَّعُ، فَإِذَا سَمِعَ أَذَانًا أَمْسَكَ وَإِلَّا أَغَارَ ] ( سنن ابي داود : ٢٦٣٤ ). | | له انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم به د سهار په مهال حمله کوله او غوږ به یې کېښود، که به یې اذان واورېد ځان به یې ونیو او که به یې وانه اورېد حمله به یې پرې کوله . |
| جهادي قومندان باید ډېر محتاط وي | | |
| ٦٥٩ - : عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: [ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الوَلِيدِ إِلَى بَنِي جَذِيمَةَ، فَدَعَاهُمْ إِلَى الإِسْلَامِ، فَلَمْ يُحْسِنُوا أَنْ يَقُولُوا: أَسْلَمْنَا، فَجَعَلُوا يَقُولُونَ: صَبَأْنَا صَبَأْنَا، فَجَعَلَ خَالِدٌ يَقْتُلُ مِنْهُمْ وَيَأْسِرُ، وَدَفَعَ إِلَى كُلِّ رَجُلٍ مِنَّا أَسِيرَهُ، حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمٌ أَمَرَ خَالِدٌ أَنْ يَقْتُلَ كُلُّ رَجُلٍ مِنَّا أَسِيرَهُ فَقُلْتُ: وَاللّٰهِ لاَ أَقْتُلُ أَسِيرِي، وَلاَ يَقْتُلُ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِي أَسِيرَهُ، حَتَّى قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْنَاهُ، فَرَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ | | عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ما وایي چې نبي صلی الله علیه وسلم بنو جذیمه ته خالد بن ولید واستو، هغه اسلام ته راوبلل خو بنوجذیمه د ( اسلمنا ) په ځای چې مونږ اسلام راوړ داسې وویل ( صبأنا ) مونږ د پلار نیکه دین پرېښود، نو خالد بن ولید وژل او بندیان کول، او هر مجاهد ته یې خپل بندي ورکړ، یوه ورځ خالدبن ولید وویل چې هر څوک دې خپل بندي مړ کړي، نو ما وویل چې زه نه خپل بندي مړ کوم او نه به زما ملګري خپل بندیان مړه کوي، کله چې نبي صلی الله علیه وسلم ته راغلو نو قیصه مو ورته واوروله، نبي صلی الله علیه وسلم خپل لاس پورته کړ او دوه ځل یې وویل : زه تا ته د خالد له کار |

WWW.LARHIKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَسَلَّمَ يَدَهُ فَقَالَ:اللَّهُمَّ إِنِّي أَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ خَالِدٌ مَرَّتَيْنِ] ( صحيح البخاري : ٤٣٣٩ ). | | نه خپله بیزاري وړاندې کوم. |
| که محارب اسلام راوړي نه به وژل کیږي | | |
| ٦٦٠ - : عَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ [ أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَرَأَيْتَ إِنْ لَقِيتُ رَجُلًا مِنَ الْكُفَّارِ فَاقْتَتَلْنَا، فَضَرَبَ إِحْدَى يَدَيَّ بِالسَّيْفِ فَقَطَعَهَا، ثُمَّ لَاذَ مِنِّي بِشَجَرَةٍ، فَقَالَ: أَسْلَمْتُ لِلَّهِ، أَأَقْتُلُهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ بَعْدَ أَنْ قَالَهَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَقْتُلْهُ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهُ قَطَعَ إِحْدَى يَدَيَّ، ثُمَّ قَالَ ذَلِكَ بَعْدَ مَا قَطَعَهَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَقْتُلْهُ، فَإِنْ قَتَلْتَهُ فَإِنَّهُ بِمَنْزِلَتِكَ قَبْلَ أَنْ تَقْتُلَهُ، وَإِنَّكَ بِمَنْزِلَتِهِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ كَلِمَتَهُ الَّتِي قَالَ] ( صحيح البخاري : ٤٠١٩ ) . | | مقداد بن اسودرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: څه وایې که زه له کافر سره جنګ کې مخامخ شم او دواړه سره په جنګ شو، او زما لاس په توره ووهي او غوڅ یې کړ، بیا رانه په ونې پناه ونیسي او ووایي چې ما اسلام راوړ نو ایا زه یې وژلی شم ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل : مه یې وژنه، هغه ورته وویل: د الله رسوله زما لاس یې چې غوڅ کړی دی، او زما د لاس غوڅولو وروسته هغه د اسلام راوړلو اعلان وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: مه یې وژنه، ځکه که دې مړ کړ نو هغه به له وژلو وړاندې ستا په مرتبه کې یي، او ته به د هغه په منزله شې د کلمې ویلو نه وروسته . |
| د مسلمانانو په قلمرو کې د حربي وژل هم ناروا دي پاتې لا مسلمان ! | | |
| ٦٦١ - : عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ما قَالَ: [مَرَّ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ عَلَى نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ غَنَمٌ لَهُ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ قَالُوا: مَا سَلَّمَ عَلَيْكُمْ | | له ابن عباسرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما نه روایت دی چې د بنو سلیم یو سړی په صحابه کرامو تېرېده او خپلې ګډې بزې ورسره وې نو سلام یې پرې وکړ، دوی (خپل منځ کې وویل) سلام یې دربانده په دې خاطر واچو |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| إِلَّا لِيَتَعَوَّذَ مِنْكُمْ فَقَامُوا فَقَتَلُوهُ وَأَخَذُوا غَنَمَهُ، فَأَتَوْا بِهَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ } [النساء: ٩٤] (جامع الترمذي: ٣٠٣٠ ) | | چې ځان درنه بچ کړي، نو ورپورته شول سړی یې مړ کړ او ګډې بزې یې ترې واخستې او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته یې راوستې، نو الله پاک دا ایت نازل کړ: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې تاسو د الله په لار کې سفر کوئ، نو ښه تحقیق کوئ او څوك چې په تاسو سلام واچوي، هغه ته دا مه وایئ چې ته مومن نه یې، -تاسو د دنیایي ژوند سامان غواړئ، نو له الله سره ډېر زیات غنیمتونه دي |
| له کافرو سره د جنګ په وخت کې دعا | | |
| ٦٦٢ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا غَزَا قَالَ[اللَّهُمَّ أَنْتَ عَضُدِي وَنَصِيرِي، بِكَ أَحُولُ، وَبِكَ أَصُولُ، وَبِكَ أُقَاتِلُ ] (سنن ابي داود: ٢٦٣٢) | | له انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به کله غزا کوله ویل به یې : ای الله! ته مې کومکي او مرستندویه یې ستا په مرسته دښمن ته پراډ اړوم، او ستا په مرسته یې بیخ کني کوم او ستا په مرسته ورسره جنګ کوم . |
| کمزروي خلک الله ته ګران دي | | |
| ٦٦٣ - : عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ [ ابْغُونِي الضُّعَفَاءَ، فَإِنَّمَا تُرْزَقُونَ وَتُنْصَرُونَ بِضُعَفَائِكُمْ ] ( سنن ابي داود: ٢٥٩٤ ) | | له ابودرداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم نه مې اوریدلي دي ویل یې : ستاسو کمزوري راته راولئ، تاسو ته رزق او نصرت ستاسو د ضعیفانو په سبب درکولی شي . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| له فتح وروسته به مجاهدين درې ورځې په مفتوحه ځمکه پاتې کېږي | | |
| له ابوطلحهرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به کله په کوم قوم غالبه شو نو درې ورځې به يې په ميدان کې پاتې کېده | | ٦٦٤ - : عَنْ أَبِي طَلْحَةَرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ [ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا غَلَبَ عَلَى قَوْمٍ أَقَامَ بِالْعَرْصَةِ ثَلَاثًا] (سنن ابي داود: ٢٦٩٥) |
| په جهاد کې به ماشومان نه شي وژل کېدى | | |
| عطيه القرظيرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي : دقريظه په ورځ مونږ نبي صلى الله عليه وسلم ته وړاندې شول د چا چې به نامه لاندې وېښته راپورته شوي ول هغه به يې وژو او چې د چا به وېښتان نه و راختلي مخه به يې ورله خلاصوله زه په هغو چا کې وم چې وېښته يې نه و راټوکېدلي. | | ٦٦٥ - : عَنْ عَطِيَّةَ الْقُرَظِيِّ، قَالَ [عُرِضْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ قُرَيْظَةَ فَكَانَ مَنْ أَنْبَتَ قُتِلَ، وَمَنْ لَمْ يُنْبِتْ خُلِّيَ سَبِيلُهُ، فَكُنْتُ مِمَّنْ لَمْ يُنْبِتْ فَخُلِّيَ سَبِيلِي ] ( جامع الترمذي : ١٥٨٤ ). |
| په جهاد کې د ښځو او ماشومانو وژل حرام دي | | |
| له ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دى چې نبي صلى الله عليه وسلم په ځينې لاره کې وژل شوې ښځه وليده، نو د ښځو او ماشومانو له وژلو يې منعه وکړه. | | ٦٦٦ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ رَأَى امْرَأَةً مَقْتُولَةً فِي بَعْضِ الطَّرِيقِ فَنَهَى عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ، وَالصِّبْيَانِ] ( سنن ابن ماجه : ٢٨٤١ ) |
| د خپل مال په دفاع کې مرګ شهادت دى | | |
| له عبدالله بن عمرورَضِيَ اللَّهُ عَنْهُنه روايت دى چې | | ٦٦٧ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ[ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ ] (صحيح البخاري : ٢٤٨٠ ) | | ما له نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي دي ويل يې: د خپل مال په دفاع کې چې څوک مړ شي نو شهيد دی . |
| که کافره ښځه د جنګ حصه وي وژل يې روا دي | | |
| ٦٦٨ - : عَنْ رَبَاحِ بْنِ رَبِيعٍرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ [كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ فَرَأَى النَّاسَ مُجْتَمِعِينَ عَلَى شَيْءٍ فَبَعَثَ رَجُلًا، فَقَالَ: انْظُرْ عَلَامَ اجْتَمَعَ هَؤُلَاءِ؟ فَجَاءَ فَقَالَ: عَلَى امْرَأَةٍ قَتِيلٍ. فَقَالَ: مَا كَانَتْ هَذِهِ لِتُقَاتِلَ قَالَ: وَعَلَى الْمُقَدِّمَةِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَبَعَثَ رَجُلًا. فَقَالَ: قُلْ لِخَالِدٍ لَا يَقْتُلَنَّ امْرَأَةً وَلَا عَسِيفًا ] (سنن ابي داود: ٢٦٦٩) | | رباح بن ربيع رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې مونږ له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په يوه غزا کې ول نو خلک يې وليدل چې په څه شي راټول شوي ول، وېويل : وګوره چې خلک په څه راټول شوي دي؟ سړی راغلی او ويويل چې مړې شوې ښځې ته راغونډ شوي دي، نبي صلی الله عليه وسلم وويل : دې خو جنګ نه کو او د لښکر په مقدمه باندې قومانده د خالد بن وليد وه سړی يې پسې واستو چې ورته ووايه ښځه او مزدور بيخي قتل نه کړي . |
| په غنيمتونو کې مسلمانانو ته د تکليف رسولو ګناه | | |
| ٦٦٩ – : عَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَرْكَبْ دَابَّةً مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى إِذَا أَعْجَفَهَا رَدَّهَا فِيهِ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ | | رويفعرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُوايي چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي : څوک چې په الله او د اخرت په ورځ ايمان لري نو د غنيمت په سورلۍ دې نه سپريږي چې کله يې کمزروي کړي نو بېرته يې غنيمتونو کې واچوي، او څوک چې په الله او د اخرت په ورځ ايمان لري نو د مسلمانانو له غنيمت نه دې جامې نه |

WWW.LARHKUR.COM

| | | |
|---|---|---|
| بِاللهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَلْبَسْ ثَوْبًا مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى إِذَا أَخْلَقَهُ رَدَّهُ فِيهِ ] ( سنن ابي داود : ۲۱۵۹ ). | | اغوندي چې زړې یې کړي بېرته یې غنیمت کې واچوي . |
| تقسیم نه مخکې له غنیمت نه یو څه اخستل اور دی . | | |
| ٦٧٠ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ، فَلَمْ نَغْنَمْ ذَهَبًا وَلاَ فِضَّةً، إِلّا الأَمْوَالَ وَالثِّيَابَ وَالمَتَاعَ، فَأَهْدَى رَجُلٌ مِنْ بَنِي الضُّبَيْبِ، يُقَالُ لَهُ رِفَاعَةُ بْنُ زَيْدٍ، لِرَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ غُلاَمًا، يُقَالُ لَهُ مِدْعَمٌ، فَوَجّهَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ إِلَى وَادِي القُرَى، حَتّى إِذَا كَانَ بِوَادِي القُرَى، بَيْنَمَا مِدْعَمٌ يَحُطُّ رَحْلًا لِرَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ إِذَا سَهْمٌ عَائِرٌ فَقَتَلَهُ، فَقَالَ النّاسُ: هَنِيئًا لَهُ الجَنّةُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: كَلّا، وَالّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، إِنّ الشّمْلَةَ الّتِي أَخَذَهَا يَوْمَ خَيْبَرَ مِنَ المَغَانِمِ، لَمْ تُصِبْهَا المَقَاسِمُ، لَتَشْتَعِلُ عَلَيْهِ نَارًا فَلَمّا سَمِعَ ذَلِكَ النّاسُ جَاءَ رَجُلٌ بِشِرَاكٍ أَوْ شِرَاكَيْنِ إِلَى النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، فَقَالَ: شِرَاكٌ | | له ابوهریرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مونږ د خیبر په ورځ ووتو، په غنیمتونو کې مو سره سپین زر غنیمت نه کړل بلکې مالونه، جامې او نور شیان (متاع)، نو د بنو ضبیب څخه د رفاعه په نوم یو سړي نبي صلی الله علیه وسلم ته د مدعم په نوم غلام تحفه کړ، مدعم په وادي قری کې د نبي صلی الله علیه وسلم سورلۍ تیاره وله چې له نامعلوم ځای او نفر نه غشی راغی او مدعم پرې مړ شو، خلکو وویل: شهادت دې ورته مبارک وي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : نا ، قسم په هغه ذات چې زما نفس یې په لاس کې دی چې ده د خیبر په ورځ کوم څادر ( کمبل ) غنیمت کې له رسېدو نه بغیر اخستی و په ده یې اور لمبې وهي، کله چې خلکو دا واورېدل نو یو سړي یو یا دوه د بوټانو مزي نبي صلی الله علیه وسلم وته راوړل، هغه وویل: د اور یو یا دوه مزدي دي . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| مِنْ نَارٍ أَوْ: شِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ ] (صحيح البخاري: ٤٢٣٤) | | |
| په قرضداري باندې به نبي صلى الله عليه وسلم لمونځ نه کو | | |
| ٦٧١ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ كَانَ يُؤْتَى بِالرَّجُلِ الْمَيِّتِ عَلَيْهِ الدَّيْنُ، فَيَسْأَلُ: هَلْ تَرَكَ لِدَيْنِهِ مِنْ قَضَاءٍ؟ فَإِنْ حُدِّثَ أَنَّهُ تَرَكَ وَفَاءً، صَلَّى عَلَيْهِ، وَإِلَّا، قَالَ: صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ، فَلَمَّا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْفُتُوحَ، قَالَ: أَنَا أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ، فَمَنْ تُوُفِّيَ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ فَعَلَيَّ قَضَاؤُهُ، وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَهُوَ لِوَرَثَتِهِ ] ( صحيح مسلم: ١٦١٩ ). | | له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته به مړی راوړل شو او قرض به ورپورې و، پوښتنه به يې وکړه چې ايا د قرض ادا لپاره يې څه پرېښي دي؟ که به ورته وويل شول چې هو نو لمونځ به يې پرې وکړ ورنه وبه يې ويل: په ملګري مو لمونځ وکړئ، کله چې الله پاک پرې فتوحات ډېر کړل ويل به يې: زه پر مسلمانانو د هغوی له نفسونو هم ډېر لائق يم که څوک وفات شي او قرض ورپورې وي په مايې ادا کول دي، او که يې مال ميراث کې پرېښی وي نو د ورثو حق يې دی . |
| د هجرت ثواب د نيتونو په اساس | | |
| ٦٧٢ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الْهِجْرَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: أَنْ تَهْجُرَ مَا كَرِهَ رَبُّكَ عَزَّ وَجَلَّ ، وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْهِجْرَةُ هِجْرَتَانِ: هِجْرَةُ الْحَاضِرِ، وَهِجْرَةُ الْبَادِي، فَأَمَّا الْبَادِي، فَيُجِيبُ إِذَا دُعِيَ | | له عبدالله بن عمرو بن العاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْه نه روايت دی چې يو سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل : کوم هجرت ډېر غوره ده ؟ هغه وويل : چې ته هغه څه پرېږدې چې ستا د رب بدي شي، بيا يې وويل : هجرت دوه ډوله دی، د ښاري هجرت او د بانډچي هجرت، بانډ چې که راوغواړې راشي، او |

WWW.HARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَيُطِيعُ إِذَا أُمِرَ، وَأَمَّا الْحَاضِرُ، فَهُوَ أَعْظَمُهُمَا بَلِيَّةً، وَأَعْظَمُهُمَا أَجْرًا ] ( سنن النسائي: ٤١٦٥). | | خبره مني که ورته امر وکړې، خو ښاري پکې د لوی ازمېښت څښتن دی او اجر يې هم ډېر دی |
| له فتحې وروسته هجرت ثواب نه لري | | |
| ٦٧٣ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ افْتَتَحَ مَكَّةَ [ لاَ هِجْرَةَ، وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ، وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ، فَانْفِرُوا ] ( صحيح البخاري: ١٨٣٤ ) | | له ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم د مکې د فتح په ورځ وويل: له فتح وروسته هجرت نه کيږي لکن د فضايلو حصول او په هر څه کې د خير نيت صحيح دی او چې مشرتابه مو غزا ته راوغواړي نو غزا ته لاړ شئ. |
| د کافر استازي وژل هم ناروا دي پاتې لا مسلمان! | | |
| ٦٧٤ - : عَنْ نُعَيْمِ بْنِ مَسْعُودٍ الْأَشْجَعِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَهُمَا حِينَ قَرَأَ كِتَابَ مُسَيْلِمَةَ:مَا تَقُولَانِ أَنْتُمَا؟ قَالَا: نَقُولُ كَمَا قَالَ. قَالَ: أَمَا وَاللَّهِ لَوْلَا أَنَّ الرُّسُلَ لَاتُقْتَلُ لَضَرَبْتُ أَعْنَاقَكُمَا ] ( سنن ابي داود: ٢٧٦١) | | له نعيم بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْه نه روايت دی چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه واورېدل چې د مسيلمه له پيغام لوستو وروسته يې دواړو ته وويل : تاسو دواړه په کې څه وايئ ؟ هغوی وويل : چې څنګه يې هغه وايي، نبي صلی الله عليه وسلم ورته وويل : قسم په الله که قاصدان چرته وژلی شول نو د دواړو څټونه به مې وهلی وی. |
| په مسلمانه ټولنه کې به اهل کتاب نه ځورول کيږي | | |
| ٦٧٥ - : عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ | | له ابوموسی الاشعري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي : څوک |

WWW.ARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| قَالَ: [ مِنْ سَمّعَ يَهُودِيًا أَوْ نَصْرَانِيًا دَخَلَ النّارَ ] (صحيح ابن حبان:٤٨٨٠ ). | | چې یهودي یا نصراني وشرموي نو اور ته به لاړ شي . |
| د معاهد قاتل مسلمان جنت ته نه شي تللی | | |
| ٦٧٦ - : عَنْ عَبْدِ اللّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّهُ عَنْه عَنِ النّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ: [ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا مُعَاهَدًا لَمْ يَرِحْ رَائِحَةَ الجَنّةِ، وَإِنّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا ] ( صحيح البخاري : ٦٩١٤ ). | | د عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللّهُ عَنْه نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې معاهد نفس مړ کړي نو د جنت خوش بوی به حس نه کړي، او د جنت خوش بوی د څلوېښتو کالو په اندازه حس کیدی شي . |
| د ګاونډي ذمیانو حقوق ادا کول | | |
| ٦٧٧ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ، قَالَ: [ كَانَ غُلاَمٌ يَهُودِيٌّ يَخْدُمُ النّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، فَمَرِضَ، فَأَتَاهُ النّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَعُودُهُ، فَقَعَدَ عِنْدَ رَأْسِهِ، فَقَالَ لَهُ: أَسْلِمْ، فَنَظَرَ إِلَى أَبِيهِ وَهُوَ عِنْدَهُ فَقَالَ لَهُ: أَطِعْ أَبَا القَاسِمِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، فَأَسْلَمَ، فَخَرَجَ النّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وَهُوَ يَقُولُ: الحَمْدُ لِلّهِ الّذِي أَنْقَذَهُ مِنَ النّارِ ] ( صحيح البخاري : ١٣٥٦ ). | | انس رَضِيَ اللّهُ عَنْه وایي چې یو یهودي هلک به د نبي صلی الله علیه وسلم خدمت کو، هلک ناجوړه شو نبي صلی الله علیه وسلم یې پوښتنې ته ورغی او سر ته یې کېناست، نو ورته یې وویل : اسلام راوړه، هغه خپل پلار ته وکتل پلار یې ورته وویل : د ابوالقاسم صلی الله علیه وسلم خبره ومنه، نو اسلام یې راوړ، نبي صلی الله علیه وسلم راووت او ویل یې هغه ذات لره ثنا ده چې هلک یې له اوره خلاص کړ . |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| د لقطې بیان<br>په مسجد کې به د ورکو شیانو اعلانونه څوک نه کوي | | |
| ٦٧٨ - : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ سَمِعَ رَجُلًا يَنْشُدُ ضَالَّةً فِي الْمَسْجِدِ فَلْيَقُلْ لَا رَدَّهَا اللهُ عَلَيْكَ فَإِنَّ الْمَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهَذَا ] ( صحيح مسلم : ٥٦٨ ). | | له ابوهريرةرَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې له چا نه په مسجد کې د ورک شوی شیانو اعلان واوري نو ورته دې ووایي: الله دې درله پیدا نه کړي، ځکه مسجدونه ددې لپاره نه دي جوړ شوې. |
| نېک ارشادات د مسلمان ورکه ده | | |
| ٦٧٩ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ الكَلِمَةُ الحِكْمَةُ ضَالَّةُ المُؤْمِنِ، فَحَيْثُ وَجَدَهَا فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا ] (جامع الترمذي: ٢٦٨٧). | | له ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: د حکمت او نېکه خبره د مومن ورکه ده، چې چرته یې منده کړی پرې ډېر حقدار دی. |
| د مسلمان ورکه د اور لمبې دي | | |
| ٦٨٠ - : عَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ ضَالَّةُ الْمُسْلِمِ حَرَقُ النَّارِ] (سنن ابن ماجه: ٢٥٠٢) | | مطرف له خپل پلار عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: د مسلمان ورکه راخستل د اور لمبې دي. |

WWW.LARHKUD.COM

## ایا ورک شوي حیوانات ملکیت جوړې دی شي؟

۶۸۱ - : عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الجُهَنِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَهُ رَجُلٌ عَنِ اللُّقَطَةِ، فَقَالَ: اعْرِفْ وِكَاءَهَا، أَوْ قَالَ وِعَاءَهَا، وَعِفَاصَهَا، ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً، ثُمَّ اسْتَمْتِعْ بِهَا، فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ قَالَ: فَضَالَّةُ الإِبِلِ؟ فَغَضِبَ حَتَّى احْمَرَّتْ وَجْنَتَاهُ، أَوْ قَالَ احْمَرَّ وَجْهُهُ، فَقَالَ: وَمَا لَكَ وَلَهَا، مَعَهَا سِقَاؤُهَا وَحِذَاؤُهَا، تَرِدُ المَاءَ وَتَرْعَى الشَّجَرَ، فَذَرْهَا حَتَّى يَلْقَاهَا رَبُّهَا قَالَ: فَضَالَّةُ الغَنَمِ؟ قَالَ: لَكَ، أَوْ لِأَخِيكَ، أَوْ لِلذِّئْبِ] (صحيح البخاري ۹۱)

له زید بن خالد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نه یو سړي د ورک شوي شیانو متعلق پوښتنه وکړه، هغه وویل: مزی او کڅوړه یې وپېژنه، او بیا یې تر یو کال پورې خلکو ته اعلان وکړه، که یې څښتن راشي ورته یې ورکړه، بیایې ترې د ورک شویو اوښانو پوښتنه وکړه، نو هغه دومره غصه شو چې اننګي یا مخ یې سور شو، بیایې وویل: له اوښانو سره دې څه کار دی؟ هغه خپلې اوبه او خپل بوټان لري، هم اوبو ته خپله راځي او هم ونې بوټې خپله خوري، تر هغه یې پرېږده چې څښتن یې ووینې، بیا یې ترې د ورکو شویو ګډو بزو پوښتنه وکړه، هغه وویل: یا ستاوو یا دې ورور او یا د شرمخانو لپاره دي.

## موندل شوی شی هیڅکله شخصي ملکیت نه شي جوړې دی

۶۸۲ - : عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ وَجَدَ لُقَطَةً فَلْيُشْهِدْ ذَا عَدْلٍ أَوْ ذَوَيْ عَدْلٍ، ثُمَّ لَا يُغَيِّرْهُ وَلَا يَكْتُمْ، فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا، فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا، وَإِلَّا فَهُوَ

له عیاض بن حمار رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: که چا څه شی وموندل نو یو یا دوه عادلان دې پرې ګواه کړي، بیا دې پکې تغیر نه راولي او نه دې پټوي، که یې څښتن راشي هغه یې ډېر حقدار دی خو که را نه شي نو د الله مال دی چې چا ته یې ورکوي خوښه یې

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| مَالُ اللّٰهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ ( سنن ابن ماجه: ۲۵۰۵) . | | ده. |
| **ورک شیان د ملکیت په نیت اخستل جائز نه دي** | | |
| ٦٨٣ - : عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: [ مَنْ آوَى ضَالَّةً فَهُوَ ضَالٌّ، مَا لَمْ يُعَرِّفْهَا] (صحيح مسلم : ۱۷۲۵ ). | | له زید بن خالد جهني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: که څوک ورک شوي شي ته کور کې ځای ورکړي نو بې لاره دی تر څو یې اعلانونه ونه کړي. |
| **د وقف احکام**<br>**د کومې ځمکې میوه چې وقف وي خرڅول او هبه کول یې ناروا دي** | | |
| ٦٨٤ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَصَابَ أَرْضًا بِخَيْبَرَ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَأْمِرُهُ فِيهَا، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، إِنِّي أَصَبْتُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ لَمْ أُصِبْ مَالًا قَطُّ أَنْفَسَ عِنْدِي مِنْهُ، فَمَا تَأْمُرُ بِهِ؟ قَالَ: إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا، وَتَصَدَّقْتَ بِهَا قَالَ: فَتَصَدَّقَ بِهَا عُمَرُ، أَنَّهُ لاَ يُبَاعُ وَلاَ يُوهَبُ وَلاَ يُورَثُ، وَتَصَدَّقَ بِهَا فِي الْفُقَرَاءِ، وَفِي الْقُرْبَى وَفِي الرِّقَابِ، وَفِي سَبِيلِ اللّٰهِ، وَابْنِ السَّبِيلِ، وَالضَّيْفِ | | له ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهما نه روایت دی چې په خیبر کې د عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْه خیبر کې ځمکه په برخه رسېدلې وه، نبي صلی الله علیه وسلم ته راغی او مشوره یې ترې غوښته چې څه پرې وکړي، ورته یې وویل: د الله رسوله! په خیبر کې چې مې ځمکه رسېدلې ده دغسې ارزښتناک مال مې هېڅ چرته بل نشته، ستا راسره څه مشوره ده؟ هغه وویل: اصل یې وقف کړه او صدقه پرې وکړه، نو عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْه پرې خیرات وکړ چې نه به خرڅیږي او نه به په هبه کې ورکړل کیږي او نه به په میراث کې وړلی شي، په فقیرانو، په خپلو خپلوانو، د الله په لاره کې، او میلمنو باندې یې خیرات کړ، که څوک باغ پالي |

WWW.LARHIKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| لاَ جُنَاحَ عَلَى مَنْ وَلِيَهَا أَنْ يَأْكُلَ مِنْهَا بِالْمَعْرُوفِ، وَيُطْعِمَ غَيْرَ مُتَمَوِّلٍ (صحيح البخاري: ۲۷۳۷) | | او په نېکه طريقه ترې خوراک وکړي نو هېڅ باک نه کوي، يا ترې خوراک کوي او ذخيراندوزي نه کوي. |
| وقف صدقه جاريه ده | | |
| ٦٨٥ - : عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [خَيْرُ مَا يُخَلِّفُ الرَّجُلُ مِنْ بَعْدِهِ ثَلَاثٌ: وَلَدٌ صَالِحٌ يَدْعُو لَهُ، وَصَدَقَةٌ تَجْرِي يَبْلُغُهُ أَجْرُهَا، وَعِلْمٌ يُعْمَلُ بِهِ مِنْ بَعْدِهِ ] ( سنن ابن ماجه : ٢٤١ ) | | له ابو قتادهرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم فرمايي: له سړي نه وروسته چې ډېر غوره شيان پاتې کيږي نو درې دي: نېک زوی چې دعاګانې ورته کوي، صدقه جاريه چې اجر يې ورته رسيږي، او هغه علم چې عمل پرې کيږي. |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| دخرخولو او اخستلو احکام<br>په خرخولو او اخستلو کې د نرمۍ فضیلت | | |
| ٦٨٦ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [رَحِمَ اللَّهُ رَجُلًا سَمْحًا إِذَا بَاعَ، وَإِذَا اشْتَرَى وَإِذَا اقْتَضَى] (صحيح البخاري:٢٠٧٦) | | له جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: پر نرم سړي دې الله مهربانه شي، که څه پلورې هم نرمي کوي او که څه اخلي هم، او که له چا څخه خپل قرض اخلي هم نرمي کوي. |
| په اخستلو خرڅولو کې رښتیا ویل د برکت سبب دی | | |
| ٦٨٧ - : عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ البَيِّعَانِ بِالخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا، - أَوْ قَالَ: حَتَّى يَتَفَرَّقَا - فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُورِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا، وَإِنْ كَتَمَا وَكَذَبَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا ] ( صحيح البخاري: ٢٠٨٢) . | | له حکیم بن حزامرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دي چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایي: اخستونکی او خرڅونکی دواړه تر هغه په خپلې مرضۍ دي چې یو له بله جلا شوي نه وي، که دواړو رښتیا وویل او شته عیب یې ښکې بیان کړ نو په پلور پیر کې به یې برکت واچول شي، او که یې عیبونه پټ کړل او دروغ یې وویل نو برکت به ترې ختم شي. |
| مسلمان به په هیڅ شي کې دوکه نه کوي | | |
| ٦٨٨ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا، فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا فَقَالَ: مَا هَذَا | | له ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوراکي توکو په ډیرۍ باندې تېر شو لاس یې وردننه کړ نو ګوتې یې لمدې |

WWW.LARHKUD.COM

| | |
|---|---|
| يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ؟ قَالَ أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ كَيْ يَرَاهُ النَّاسُ، مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي ] ( صحيح مسلم: ١٠٢) | شوې، وېويل: دا ولې لوند دی؟ سړي وويل: باران پرې شوی دی، هغه وويل: ولې د ډيري په سر نه اچول چې خلکو يې وويني، که څوک دوکه کوي نو له مونږ څخه نه دی. |
| پر قسم باندې څه خرڅول اواخستل برکت ختموي | |
| ٦٨٩ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: [ الحَلِفُ مُنَفِّقَةٌ لِلسِّلْعَةِ، مُمْحِقَةٌ لِلْبَرَكَةِ] ( صحيح البخاري : ٢٠٨٧ | له ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي دي ويل يې: دروغجن قسم خوړل توکې خرڅوي خو برکت هم له منځه وړي . |
| په خرڅولو او اخستلو کې د قسم خور سزا | |
| ٦٩٠ - : عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ قَالَ: فَقَرَأَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مِرَارًا، قَالَ أَبُو ذَرٍّ: خَابُوا وَخَسِرُوا، مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: الْمُسْبِلُ، وَالْمَنَّانُ، وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ ] ( صحيح مسلم : ١٠٦) . | له ابو ذررَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: درې ډوله خلک دي چې د قيامت په ورځ به ورسره الله پاک خبرې ونه کړي او له ګناه نه به يې پاک نه کړي او د دوی لپاره دردناک عذاب دی، دا يې درې ځل وويل: ابوذر رضي الله نه ورته وويل: دوی خو له خير نه محروم او تاوانيان دي دوی څوک دي ای د الله رسوله! هغه وويل: هغه څوک چې جامې ځان پسې راکاږي، خپل ښه په خلکو زباتوي او د دروغو په قسم چې څوک توکې پلوري. |
| په خرڅولو او اخستلو کې قسمخور سره به الله خبرې ونه کړي | |

WWW.ARHKUD.COM

٦٩١ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ، وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ: رَجُلٌ حَلَفَ عَلَى سِلْعَةٍ لَقَدْ أَعْطَى بِهَا أَكْثَرَ مِمَّا أَعْطَى وَهُوَ كَاذِبٌ، وَرَجُلٌ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ كَاذِبَةٍ بَعْدَ العَصْرِ، لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ رَجُلٍ مُسْلِمٍ، وَرَجُلٌ مَنَعَ فَضْلَ مَاءٍ فَيَقُولُ اللَّهُ: اليَوْمَ أَمْنَعُكَ فَضْلِي كَمَا مَنَعْتَ فَضْلَ مَا لَمْ تَعْمَلْ يَدَاكَ ] (صحيح البخاري: ٢٣٦٩، ٧٤٤٦).

له ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي: درې قسمه خلک دي چې دقيامت په ورځ به ورسره الله نه خبرې وکړي او نه به ورته وګوري، يو هغه څوک چې قسم وخوري او حالانکه دروغجن وي چې په کوم نرخ توکې ورکوي له دې يې ګران اخستی دی، او هغه څوک چې له مازديګر وروسته ددروغو په قسم څه شی خرڅوي، او بل هغه څوک چې اضافه اوبه يې له خلکو بندې کړي وي، الله به ورته ووايي چې نن درڅخه خپل فضل او کرم داسې رابندوم لکه تا چې هغه اضافي اوبه بندې کړې وې چې ستا لاسونو نه وې پيدا کړې.

## صدقه کول مال پاکوي

٦٩٢ - : عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي غَرَزَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُسَمَّى السَّمَاسِرَةَ فَمَرَّ بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمَّانَا بِاسْمٍ هُوَ أَحْسَنُ مِنْهُ، فَقَالَ: يَا مَعْشَرَ التُّجَّارِ، إِنَّ الْبَيْعَ يَحْضُرُهُ اللَّغْوُ وَالْحَلْفُ، فَشُوبُوهُ بِالصَّدَقَةِ ] ( سنن ابي داود: ٣٣٢٦).

قيس بن غرزهرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي د نبي کريم صلی الله علیه وسلم په وخت کې به مونږ ته دلالان ( منځګړې ) ويل کېدل، مونږ باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم تېرېده، مونږ ته يې له دغه نوم نه په ښه نوم اواز وکړ، ويويل: ای سوداګرو! په پلور پېر کې خامخا لغويات او قسم خوړل وي نو له صدقاتو سره يې ګډ وډ کړئ.

## که مشتري بائع ته له نرخ اضافي څه ورکړي ناروا نه ده

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٦٩٣ - : عَنْ جَابِرِبن عبدالله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما قَالَ: أَقْبَلْنَا مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِينَةِ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فَاعْتَلّ جَمَلِي، وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِقِصّتِهِ، وَفِيهِ ثُمّ قَالَ لِي: بِعْنِي جَمَلَكَ هَذَا، قَالَ: قُلْتُ: لَا، بَلْ هُوَ لَكَ، قَالَ: لَا، بَلْ بِعْنِيهِ قَالَ: قُلْتُ: لَا، بَلْ هُوَ لَكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ، قَالَ: لَا، بَلْ بِعْنِيهِ، قَالَ: قُلْتُ: فَإِنّ لِرَجُلٍ عَلَيّ أُوقِيّةَ ذَهَبٍ، فَهُوَ لَكَ بِهَا، قَالَ: قَدْ أَخَذْتُهُ، فَتَبَلّغْ عَلَيْهِ إِلَى الْمَدِينَةِ، قَالَ: فَلَمّا قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ، قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ لِبِلَالٍ: أَعْطِهِ أُوقِيّةً مِنْ ذَهَبٍ وَزِدْهُ، قَالَ: فَأَعْطَانِي أُوقِيّةً مِنْ ذَهَبٍ، وَزَادَنِي قِيرَاطًا، قَالَ: فَقُلْتُ: لَا تُفَارِقُنِي زِيَادَةُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ: فَكَانَ فِي كِيسٍ لِي فَأَخَذَهُ أَهْلُ الشّامِ يَوْمَ الْحَرّةِ ] (صحيح مسلم: ٧١٥ ) | | له جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د مکې نه مدینې ته راغلو نو زما اوښه ناجوړه شوه، بیا یې ټول حدیث ذکر کړی دی خو دا هم پکې دي چې: بیا یې ما ته وویل: اوښه دې پر ما وپلوره، ما وویل: نه یې دربانديې پلورم بلکې ستا شوه، هغه وویل: نا بلکې راباندې یې وپلوره، ما ورته وویل: د الله رسوله خو ستا شوه کنه، هغه وویل: نا، بلکې راباندې یې وپلوره، ما ورته وویل: د یو سړي راباندې یوه اوقیه سره زر پور دی بس په دغه نرخ دې شوه، هغه وویل: ما واخستسه خو ترمدینې پورې پرې لاړ شه، زه چې کله مدینې راغلم رسول الله صلی الله علیه وسلم بلال ته وویل: له یوې اوقیې نه زیات سره زر ورکړه، نو هغه ما ته یوه اوقیه او یو قیراط سره زر راکړل، ما وویل: د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه زیادت به مې له لاسه ونه وځي، په یوه کځوړه کې راسره و چې شامیان د یوم الحره په ورځ واخستل. |
| خرڅ او اخستل به په رضا سره کیږي | | |
| ٦٩٤ - : عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ: الْبَيّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرّقَا، - أَوْ قَالَ: | | له حکیم بن حزام رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایي: اخستونکي او خرڅونکی تر هغه په خپلې مرضۍ دي چې یو له بله جلا شوي نه وي، که یې رښتیا وویل او عیب یې |

WWW.LARHKUB.COM

| | | |
|---|---|---|
| حَتّى يَتَفَرَّقَا - فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُورِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا، وَإِنْ كَتَمَا وَكَذَبَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا ] (صحيح البخاري۲۰۸۲) | | بیان کړ نو په پلور او پېر کې به یې برکت واچول شي او که یې عیب پټ کړ او دروغ یې وویل نو د پلور پېر برکت به یې ختم شي. |
| مشتري ته به حق پوره ورکول شي | | |
| ۶۹۵ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَرَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ [مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلاَ يَبِعْهُ حَتّى يَسْتَوْفِيَهُ] (صحيح البخاري:۲۱۲۶) | | عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې خوراکي توکې واخلي تر هغه دې بېرته نه خرڅوي چې قبض کړی یې نه وي. |
| په بیع کې شرط لګول تر هغه روا دي چې شرط حرام نه وي | | |
| ۶۹۶ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَقُولُ: [مَنِ ابْتَاعَ نَخْلًا بَعْدَ أَنْ تُؤَبّرَ، فَثَمَرَتُهَا لِلْبَائِعِ إِلّا أَنْ يَشْتَرِطَ المُبْتَاعُ، وَمَنِ ابْتَاعَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ، فَمَالُهُ لِلّذِي بَاعَهُ، إِلّا أَنْ يَشْتَرِطَ المُبْتَاعُ ] (صحيح البخاري: ۲۳۷۹) | | عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دی ویل یې: که چا کجوره له دې وروسته واخسته چې قلم شوي وي نو میوه یې د پلورونکي ده، مګر دا چې مشتري پرې شرط ولګوي، که څوک غلام واخلي او شمتني لري نو شتمني یې دهغه چا ده چې خرڅوي یې مګر دا چې مشتري پرط شرط ولګوي. |
| په خیارعیب سره بائع بیع فسخ کولی شي | | |
| ۶۹۷ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ | | له ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: که څوک ګډه بزه |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَسَلَّمَ قَالَ: [مَنِ ابْتَاعَ شَاةً مُصَرَّاةً فَهُوَ فِيهَا بِالْخِيَارِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، إِنْ شَاءَ أَمْسَكَهَا، وَإِنْ شَاءَ رَدَّهَا، وَرَدَّ مَعَهَا صَاعًا مِنْ تَمْرٍ ] (صحيح مسلم: ١٥٢٤ ) | | واخلي چې لوشول شوي نه وي، نو د دریو ورځو پورې پکې اختیار لري، که یې خوښه شي له ځان سره دې وساتي او که یې خوښه شوه بېرته دې واپس کړي. |
| خیار د بائع او مشتري دواړو حق دی | | |
| ٦٩٨ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَرَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [الْمُتَبَايِعَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالخِيَارِ عَلَى صَاحِبِهِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا، إِلَّا بَيْعَ الخِيَارِ] (صحيح البخاري: ٢١١١) | | له عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: خرڅونکی او اخستونکی دواړه تر هغه یو پر بل په خپله مرضۍ دي چې جلا شوي نه وي، مګر دا چې د خیار بیع وي. |
| په مفارقة الابدان سره خیار مجلس ختمېږي | | |
| ٦٩٩ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: [ إِذَا تَبَايَعَ الرَّجُلَانِ، فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا، وَكَانَا جَمِيعًا، أَوْ يُخَيِّرُ أَحَدُهُمَا الآخَرَ، فَتَبَايَعَا عَلَى ذَلِكَ، فَقَدْ وَجَبَ البَيْعُ، وَإِنْ تَفَرَّقَا بَعْدَ أَنْ يَتَبَايَعَا وَلَمْ يَتْرُكْ وَاحِدٌ مِنْهُمَا البَيْعَ، فَقَدْ وَجَبَ البَيْعُ ] ( صحيح | | له ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: کله چې دوه سړي اخستل او خرڅول وکړی هر یو یې تر هغه په خپله مرضۍ دی چې جلا شوی نه وي او دواړه یو ځای وي، یا پکې یو بل ته اختیار ورکړي او په دې سره عقد سر ته ورسوي نو بیع واجبه شوه، خو که له ورکولو او اخستو وروسته سره یو له بله جلا شي او بیع پکې یوهم پرې نه ږدي نو بیع واجبه شوه. |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| البخاري: ٢١١٢ ). | | |
| د طعام کیل او وزن کول له برکته ډک وي | | |
| ٧٠٠ - : عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ كِيلُوا طَعَامَكُمْ يُبَارَكْ لَكُمْ ] ( صحيح البخاري: ٢١٢٨) . | | مقداد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي: خوراکي توکي مو پیمانه کړئ ستاسو لپاره به پکې برکت واچول شي. |
| په تول ناپ کې کمي کول لويه ګناه ده | | |
| ٧٠١ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: [ لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ كَانُوا مِنْ أَخْبَثِ النَّاسِ كَيْلًا، فَأَنْزَلَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ {وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ } فَأَحْسَنُوا الْكَيْلَ بَعْدَ ذَلِكَ ] ( سنن ابن ماجه: ٢٢٢٣) . | | ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي: کله چې نبي صلی الله علیه وسلم مدينې ته راغی نو د مدينې خلک په پیمانه کې ډېر دوکه مار ول، نو الله پاک دا ایت نازل کړ ( چې څوک کم تول ورکوي هغوی لره د ویل کنده ده ) له دې وروسته يې بيا پيمانه سمه کړه |
| په سَلَمْ خرڅول او اخستل کله کیداى شي؟ | | |
| ٧٠٢ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وَهُمْ يُسْلِفُونَ بِالتَّمْرِ السَّنَتَيْنِ وَالثَّلَاثَ، فَقَالَ: مَنْ أَسْلَفَ فِي شَيْءٍ، فَفِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ، وَوَزْنٍ مَعْلُومٍ، إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ ] ( | | له ابن عباسرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې کله نبي صلی الله علیه وسلم مدينې ته راغی نو د مدينې والا به په میوو کې دوه او درې کاله (سلف) قرض کو، نو وېویل: څوک چې په څه شي کې سلف کوي نو په معلوم شي، په معلوم وزن کې او تر معلومې نیټې پورې دې (سلف) قرض وکړي. |

WWW.LARHKUD.COM

| صحیح البخاري : ۲۲۴۰) | | |
| --- | --- | --- |

## په کیل یا وزن کې سلف کول

| ۷۰۳ - : عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي الْمُجَالِدِ، قَالَ: بَعَثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ شَدَّادٍ، وَأَبُو بُرْدَةَ إِلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، فَقَالاَ: سَلْهُ، هَلْ كَانَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْلِفُونَ فِي الحِنْطَةِ؟ قَالَ: عَبْدُ اللَّهِ كُنَّا نُسْلِفُ نَبِيطَ أَهْلِ الشَّأْمِ فِي الحِنْطَةِ، وَالشَّعِيرِ، وَالزَّيْتِ، فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ، قُلْتُ: إِلَى مَنْ كَانَ أَصْلُهُ عِنْدَهُ؟ قَالَ: مَا كُنَّا نَسْأَلُهُمْ عَنْ ذَلِكَ، ثُمَّ بَعَثَانِي إِلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى فَسَأَلْتُهُ، فَقَالَ: كَانَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْلِفُونَ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَمْ نَسْأَلْهُمْ: أَلَهُمْ حَرْثٌ أَمْ لاَ؟ ] (صحیح البخاري: ۲۲۴٤). | | محمد بن ابي مجالد وايي : عبدالله بن شداد او ابوبرده زه عبدالله بن ابي اوفى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته واستولم چې دا پوښتنه ترې وکړه چې ايا د نبي کريم صلى الله عليه وسلم ملګرو به د هغه په دور حيات کې په غنمو کې (سلف) قرض کو؟ نو عبدالله وويل: مونږ به د شام له کروندګرو سره په غنمو، په وربشو او غوړو د معلومې پايمانې سره تر معلوم وخت پورې (سلف) قرض کو، ما ورته وويل: د مسلّم فيه اصل (لکه ونه يا فصل) به له چا سره و؟ هغه وويل: د دې پوښتنه مو ترې نه ده کړې، بيا يې عبدالرحمن بن ابزى ته واستولم، له هغه مې وپوښتنه وکړه هغه وويل: د نبي صلى الله عليه وسلم ملګرو به يې په دور حيات کې سلف ( قرض ) کو خو دا پوښتنه مو ورنه نه ده کړې چې ايا فصل يې لرو او که نه ؟ |

WWW.LARHKUB.COM

| | | |
|---|---|---|
| د ګران فروشۍ او احتکار بیان<br>د نرخ لوړېدو په مهال د مسلمان اعتماد | | |
| ۷۰٤ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: النَّاسُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ، غَلَا السِّعْرُ فَسَعِّرْ لَنَا، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الرَّازِقُ، وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَلْقَى اللّٰهَ وَلَيْسَ أَحَدٌ مِنْكُمْ يُطَالِبُنِي بِمَظْلَمَةٍ فِي دَمٍ وَلَا مَالٍ ] (سنن ابي داود: ۳٤٥۱ ) | | له انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې خلکو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: نرخونه پورته شول زمونږ لپاره نرخ وټاکه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله خپله نرخ ټاکونکی دی، هغه رزق تنګوي او پراخوي هغه رازق دی، داسې امید لرم چې له الله سره مې په داسې حالت کې ملاقات وشي چې هېڅوک رانه په وینه او مال کې د ظلم له مخې مطالبه نه لري. |
| احتکار ګناه ده | | |
| ۷۰۵ - : عَنْ مَعْمَرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ لَا يَحْتَكِرُ إِلَّا خَاطِئٌ ] (صحيح مسلم: ۱٦۰۵) | | له معمر بن عبدالله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: احتکار نه کوي مګر ګناهکار. |
| د خنزیرانو او بوتانو خرڅول حرام دي | | |
| ۷۰٦ - : عَنْ جَابِرٍرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ | | له جابررَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې اورېدلي دي د مکې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وسلم يقول [يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ: "إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَا بَيْعَ الْخَنَازِيرِ، وَبَيْعَ الْمَيْتَةِ، وَبَيْعَ الْأَصْنَامِ" فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ فَمَا تَرَى فِي شَحْمِ الْمَيْتَةِ، فَإِنَّا نَدْهِنُ بِهِ الْجُلُودَ وَالسُّفُنَ، وَنَسْتَصْبِحُ بِهِ، فَقَالَ: قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْهِمْ شُحُومَهَا، فَجَمَلُوهَا ثُمَّ بَاعُوهَا، وأَكَلُوْ أَثْمَانَهَا] ( صحيح ابن حبان : ٤٩٣٧ ). | | فتح په ورځ يې ويل: الله او رسول يې د خنزير، د مردارې او بوتانو پلور اوپېر حرام کړی دی، يو سړي وويل: ای د الله رسوله! د مردارې وازدو څه حکم دی؟ مونږ خو پرې پوستکي او کشتۍ غوړو او رڼا پرې کو، هغه وويل: الله دې يهودان تباه کړي، الله پرې د مردارې وازدې حرامې کړې دوی ويلې کړې خرڅې يې کړې او نرخ يې ورله وخوړه. |
| چې څه شی حرام وي ګټه وټه يې هم حرامه ده | | |
| ۷۰۷ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَظَرَ إِلَى السَّمَاءِ، وَقَالَ: [ قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ حُرِّمَتْ عَلَيْهِمُ الشُّحُومُ، فَبَاعُوهَا وَأَكَلُوا أَثْمَانَهَا، وَإِنَّ اللَّهَ إِذَا حَرَّمَ شَيْئًا حَرَّمَ ثَمَنَهُ ] (صحيح ابن حبان: ٤٩٣٨) | | له ابن عباسرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم بره اسمان ته وکتل اووېويل: الله دې يهودان تباه کړي، وازدې پرې حرامې شوې نو خرڅې يې کړې او نرخونه يې ورله وخوړل، الله چې کله يو څه حرام کړي نو نرخ هم ورله حرام کړي. |
| د سپو خرڅول او اخستل، په زنا او کهانت کمايي هم حرامه ده | | |
| ۷۰۸ - : عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: [ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الكَلْبِ، وَمَهْرِ البَغِيِّ، وَحُلْوَانِ الكَاهِنِ] (صحيح البخاري : | | له ابومسعودرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د سپي له نرخ (روپو) نه، د زناکارې له عوض نه، او د کاهن له فيس نه منعه کړې ده. |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ۲۲۳۷) | | |
| د شرابو اخستل او خرڅول ناروا دي | | |
| ۷۰۹ - : عَنْ ابنِ عَبّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ما [ إِنّ رَجُلًا أَهْدَى لِرَسُولِ اللهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ رَاوِيَةَ خَمْرٍ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: هَلْ عَلِمْتَ أَنّ اللّهَ قَدْ حَرّمَهَا؟ قَالَ: لَا، فَسَارّ إِنْسَانًا، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: بِمَ سَارَرْتَهُ ؟ فَقَالَ: أَمَرْتُهُ بِبَيْعِهَا، فَقَالَ: إِنّ الّذِي حَرّمَ شُرْبَهَا حَرّمَ بَيْعَهَا، قَالَ: فَفَتَحَ الْمَزَادَةَ حَتّى ذَهَبَ مَا فِيهَا ] ( صحيح مسلم : ۱۵۷۹) | | له ابن عباس رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې يو سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د شرابو مشک ډالۍ کړ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: ولې ته خبر نه يې چې الله دا حرام کړي دي؟ هغه وويل: نا، نو له يو سړي سره يې پټې خبرې وکړې، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: څه دې ورته پټ وويل؟ هغه وويل: ما ورته وويل چې خرڅ يې کړه، هغه ورته وويل: کوم ذات چې يې څښل حرام کړي دي خرڅول يې ورله هم حرام کړي دي، نو خوله يې ورله خلاصه کړه او ټول يې واړول. |
| ۷۱۰ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّهُ عَنْها قَالَتْ [ لَمّا أُنْزِلَتِ الآيَاتُ مِنْ سُورَةِ البَقَرَةِ فِي الرِّبَا، خَرَجَ النّبِيُّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ إِلَى المَسْجِدِ فَقَرَأَهُنّ عَلَى النّاسِ، ثُمّ حَرّمَ تِجَارَةَ الخَمْرِ ] (صحيح البخاري: ۴۵۹) | | له عايشې رَضِيَ اللّهُ عَنْها نه روايت دی چې کله په سورت بقره کې د سود ايتونه نازل شول نو نبي صلى الله عليه وسلم مسجد ته ووت، پر خلکو يې ولوستل او د شرابو سوداګري يې هم حرامه کړه. |
| له حرامو څخه په هر صورت کې ګټه اخستل حرام دي | | |
| ۷۱۱ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّهِ رَضِيَ | | له جابر بن عبدالله رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې |

WWW.LARHKUD.COM

اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّهُ: سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ عَامَ الفَتْحِ وَهُوَ بِمَكَّةَ: [ إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الخَمْرِ، وَالمَيْتَةِ وَالخِنْزِيرِ وَالأَصْنَامِ ، فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ شُحُومَ المَيْتَةِ، فَإِنَّهَا يُطْلَى بِهَا السُّفُنُ، وَيُدْهَنُ بِهَا الجُلُودُ، وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ؟ فَقَالَ: لاَ، هُوَ حَرَامٌ ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذَلِكَ: قَاتَلَ اللَّهُ اليَهُودَ إِنَّ اللَّهَ لَمَّا حَرَّمَ شُحُومَهَا جَمَلُوهُ، ثُمَّ بَاعُوهُ، فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ ] (صحيح البخاري: ٢٣٦)

له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه يې اورېدلي دي د مکې د فتح په ورځ يې ویل: الله پاک او رسول يې د شرابو، دمردارې، د خنزیر او بوتانو پلور او پېر حرام کړی دی، چا وویل: د الله رسوله د مردار شوي حیوان وازدو باره کې دې څه حکم دی؟ پر هغه کشتۍ او پوستکي غوړې دی شي او خلک پرې رڼاګانې کوي، هغه وویل: نا بلکې حرام دي، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله دې يهودان تباه کړي کله چې يې پرې الله وازدې حرامې کړې نو ویلي يې کړې او خرڅې يې کړې او بیا يې ورله نرخ وخوړ

## شراب که له هر څه وي حکم يې حرمت دی

٧١٢ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنْتُ سَاقِيَ الْقَوْمِ يَوْمَ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ فِي بَيْتِ أَبِي طَلْحَةَ، وَمَا شَرَابُهُمْ إِلَّا الْفَضِيخُ الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ، فَإِذَا مُنَادٍ يُنَادِي، فَقَالَ: اخْرُجْ فَانْظُرْ، فَخَرَجْتُ، فَإِذَا مُنَادٍ يُنَادِي أَلَا إِنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ قَالَ: فَجَرَتْ فِي سِكَكِ الْمَدِينَةِ، فَقَالَ لِي أَبُو طَلْحَةَ: اخْرُجْ فَاهْرِقْهَا، فَهَرَقْتُهَا ] (صحيح مسلم: ١٩٨٠)

له انس بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي: په کومه ورځ چې شراب حرام شول په دغه ورځ د ابوطلحه په کور کې ما پر خلکو شراب څښل، او دهغوی شراب فضیخ ( له کچه او پښو کجورو ) څخه و، په دې کې چا اواز وکړ چې خبردار شراب حرام شول، نو د مدینې په کوڅو کې يې رودونه روان ول، ما ته ابوطلحه وویل: وځه او شراب واروه، نو ما شراب وارول.

## د حرامو بیعو ډولونه

WWW.DARHKUB.COM

| | | |
|---|---|---|
| ۷۱۳ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلاَ تَنَاجَشُوا، وَلاَ يَبِيعُ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ، وَلاَ يَخْطُبُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ، وَلاَ تَسْأَلُ المَرْأَةُ طَلاَقَ أُخْتِهَا لِتَكْفَأَ مَا فِي إِنَائِهَا ] ( صحيح البخاري: ۲۱٤۰ ). | | له ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې نه منعه فرمايلې ده چې ښاري سړی دې د بانډه چې لپاره خرڅول وکړي، او نه به څوک د خپل ورور په عقد باندې بل عقد کوي او نه به يې د نکاح په پيغام خپل پيغام استوي، او نه به ښځه د خپلې خور طلاق غواړې چې له لوښې اوبه يې ځان ته راواړوي. |
| د حبل الحبله بيعې پېژندل | | |
| ۷۱٤ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا [ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَهَى عَنْ بَيْعِ حَبَلِ الحَبَلَةِ، وَكَانَ بَيْعًا يَتَبَايَعُهُ أَهْلُ الجَاهِلِيَّةِ، كَانَ الرَّجُلُ يَبْتَاعُ الجَزُورَ إِلَى أَنْ تُنْتَجَ النَّاقَةُ، ثُمَّ تُنْتَجُ الَّتِي فِي بَطْنِهَا ] ( صحيح البخاري : ۲۱٤۳ ). | | له عبدالله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له حبل الحبلې بيعې نه منعه کړې ده، دا بيعه به د جاهليت د دور خلکو کوله، يو سړي به اوښه واخستله تر دې چې بچی ترې پيدا شي، بيا يې دغه بچی په خپله خيټه کې بچی وزېږوي. |
| ولاء خرڅول يا هبه کول ناروا دي | | |
| ۷۱۵ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: [ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الوَلاَءِ، وَعَنْ هِبَتِهِ] (صحيح البخاري: ۲۵۳۵ ) | | له ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم منعه فرمايلي ده د ولاء له خرڅولو او هبه کولو نه . |

WWW.LARHKUD.COM

| په پلور او پېر کې هرډول تګي حرامه ده | | |
|---|---|---|
| ۷۱٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْحَصَاةِ، وَعَنْ بَيْعِ الْغَرَرِ ] (صحيح مسلم: ۱۵۱۳) | | له ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د کاڼي ویشتو او د دوکې له پلور او پېر نه منعه کړې ده. |
| د اضافه اوبو خرڅول حرام دي | | |
| ۷۱۷ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ لَا يُمْنَعُ فَضْلُ الْمَاءِ، وَلَا يُمْنَعُ نَقْعُ الْبِئْرِ ] (سنن ابن ماجه: ۲٤۷۹) | | له عایشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: اضافي اوبه به نشي منعه کولی او نه به د کوهي اوبه منعه کولی شي. |
| د کومو اوبو خرڅول حرام دي؟ | | |
| ۷۱۸ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:[ لاَ يُمْنَعُ فَضْلُ الْمَاءِ لِيُمْنَعَ بِهِ الكَلَأُ ] (صحيح البخاري: ۲۳۵۳) | | له ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: اضافي اوبه به په دې خاطر نه شي منعه کولی چې ګیاګانې پرې بندې شي. |
| ۷۱۹ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ لاَ تَمْنَعُوا فَضْلَ المَاءِ لِتَمْنَعُوا بِهِ فَضْلَ الكَلَإِ ] (صحيح البخاري: ۲۳۵٤). | | له ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: تاسو اضافي اوبه مه منعه کوئ د دې لپاره چې اضافي ګیاګانې پرې رابندې کړئ. |

WWW.LARKUB.COM

| | | |
|---|---|---|
| بازار ته له رسېدو وړاندې د توکو پېرل حرام دي | | |
| ۷۲۰ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ تَلَقِّي السِّلَعِ، حَتَّى تَهْبِطَ الْأَسْوَاقُ ] (صحيح ابن حبان : ٤٩٥٩). | | له ابن عمررَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له دې نه منعه فرمايلې ده چې د بازار ته د خرڅ توکو له رارسېدو مخکې دې څوک توکې واخلي. |
| د سابقه نهي څخه حکمت | | |
| ۷۲۱ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ لَا يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ، دَعُوا النَّاسَ يَرْزُقِ اللَّهُ بَعْضَهُمْ مِنْ بَعْضٍ ] ( صحيح مسلم : ١٥٢٢ ) | | له جابررَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ښاري سړی به د باندېچي لپاره څه نه خرڅوي، خلک پرېږدئ چې الله پاک له ځينو نه نورو ځينو ته رزق ورکوي. |
| مسلمان به د مسلمان پر بيع داو نه لګوي | | |
| ۷۲۲ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ لَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَلَا يَخْطُبْ بَعْضُكُمْ عَلَى خِطْبَةِ بَعْضٍ ] (صحيح مسلم: ١٤١٢) | | له ابن عمررَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ستاسو ځينې دې د نورو ځينو په خرڅ خپل خرڅ نه کوي اونه دې د ځينو د نکاح په پيغام خپل پيغام استوي. |
| د حيوان غلانځه ډکه پرېښودل حرام دي | | |
| ۷۲۳ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْه يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [إِذَا بَاعَ أَحَدُكُمُ | | ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: په تاسو کې چې څوک بزه يا د شېدو حيوان خرڅوي نو غلانځه کې دې ورله |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| الشَّاةَ أَوِ اللَّقْحَةَ فَلَا يُحَفِّلْهَا] (سنن النسائي: ٤٤٨٦). | | شيدې نه پرېږدي. |
| د مصرات د واپس کولو شرعي طريقه | | |
| ٧٢٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [لَا تُصَرُّوا الإِبِلَ وَالغَنَمَ، فَمَنِ ابْتَاعَهَا بَعْدُ فَإِنَّهُ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْتَلِبَهَا: إِنْ شَاءَ أَمْسَكَ، وَإِنْ شَاءَ رَدَّهَا وَصَاعَ تَمْرٍ ] (صحيح البخاري:٢١٤٨) | | له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي:د اوښانو او ګډو بزو په غلانځو کې شيده مه پرېږدئ،که دغسې حيوان څوک واخلي له لوشلو وروسته په دوو کې د يوې ښې خبرې اختيار من وي، که يې خوښه شي له ځان سره دې وساتي او که يې خوښه شي نو د يو صاع کجورو سره دې واپس کړي. |
| په بيع کې د مجهول استثناء حرامه ده | | |
| ٧٢٥ - : عَنْ جَابِرٍرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ المُحَاقَلَةِ وَالمُزَابَنَةِ وَالمُخَابَرَةِ، وَالثُّنْيَا، إِلَّا أَنْ تُعْلَمَ ] ( جامع الترمذي: ١٢٩٠ ) | | له جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په وږو کې د دانو په دانو خرڅولو نه، د تازو کجورو په وچو باندې، او له پښبېدو نه مخکې د فصل خرڅولو نه، او په بيع کې له استثناء نه منعه کړې ده مګر دا چې استثناء معلومه کړی شي. |
| په يو شي کې دوه بيعې حرامې دي | | |
| ٧٢٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ بَاعَ بَيْعَتَيْنِ فِي | | له ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبی صلی الله عليه وسلم فرمايي: که څوک په يوه بيعه کې دوه بيعې وکړي نو يا به يې ارزانه خوا |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| بَيْعَةٍ، فَلَهُ أَوْكَسُهُمَا أَوِ الرِّبَا ] ( سنن ابي داود: ٣٤٦١) | | نیسي او یا به ربا وي. |
| د ملامسې او منابذې بیعې حرامې دي | | |
| ٧٢٧- : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، [ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَهَى عَنِ المُلاَمَسَةِ وَالمُنَابَذَةِ ] (صحيح البخاري: ٢١٤٦ ) | | له ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یواځې د لاس لګولو له بیعې او د غورځولو راغورځولو له بیعې نه منعه کړې ده. |
| ملامسه او منابذه څه ته ویل کیږي؟ | | |
| ٧٢٨ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لِبْسَتَيْنِ وَعَنْ بَيْعَتَيْنِ، نَهَى عَنِ المُلاَمَسَةِ وَالمُنَابَذَةِ فِي البَيْعِ وَالمُلاَمَسَةُ: لَمْسُ الرَّجُلِ ثَوْبَ الآخَرِ بِيَدِهِ بِاللَّيْلِ أَوْ بِالنَّهَارِ وَلاَ يُقَلِّبُهُ إِلَّا بِذَلِكَ. وَالمُنَابَذَةُ: أَنْ يَنْبِذَ الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ بِثَوْبِهِ، وَيَنْبِذَ الآخَرُ ثَوْبَهُ، وَيَكُونَ ذَلِكَ بَيْعَهُمَا عَنْ غَيْرِ نَظَرٍ وَلاَ تَرَاضٍ ]( صحيح البخاري: ٥٨٢٠) | | له ابوسعید خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له دوه قسمه پوښاک اوله دوه قسمه خرڅولو نه منعه کړې ده، له ملامسې او منابذې نه یې منعه کړې ده، ملامسه دې ته ویل کیږي چې د شپې یا ورځې څوک د چا کپړې ته لاس وروړي او همدغه لاس وروړل د بیعې قبول وي، او منابذه دې ته وایي چې یو سړی چا ته کپړه جامه وغورځوي او هغه یې ده ته وغورځوي، له کتلو او رضا نه بغېر دغه د دواړو عقد وي، |
| په طعام کې قبض شرط دی | | |
| ٧٢٩ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلاَ | | له ابن عمررَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې خوراکي توکې واخلي تر هغه دې بېرته نه خرڅوي |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| يَبِعْهُ حَتَّى يَقْبِضَهُ ] (صحيح البخاري : ٢١٣٣ ) | | چې قبض يې نه کړي. |
| د طعام د قبض کولو وصف | | |
| ٧٣٠ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا [ أَنَّهُمْ كَانُوا يُضْرَبُونَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اشْتَرَوْا طَعَامًا جِزَافًا أَنْ يَبِيعُوهُ فِي مَكَانِهِ حَتَّى يُحَوِّلُوهُ ] (صحيح مسلم:١٥٢٧ ). | | له ابن عمررَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما نه روايت دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دور حيات کې په دې باندې مونږ. وهل کېدو چې د خوراکي توکو به مو له وزن او کيل پرته واخستې تر هغه به مو نه شوې خرڅولی ترڅو مو نه و نقل کړی . |
| دکچه مېوې خرڅولو حکم | | |
| ٧٣١ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا [ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلاَحُهَا نَهَى الْبَائِعَ وَالْمُبْتَاعَ ] (صحيح البخاري: ٢١٩٤ ) | | له عبدالله بن عمررَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تر هغه د مېوو له خرڅولو منعه کړې ده چې پخې شوې نه وي، پلورونکي او پېرونکی دواړه يې ترې منعه کړي دي. |
| د مېوو د پخوالي نښه | | |
| ٧٣٢ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: [ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ بَيْعِ ثَمَرِ التَّمْرِ حَتَّى يَزْهُوَ»، فَقُلْنَا لِأَنَسٍ: مَا زَهْوُهَا؟ قَالَ: «تَحْمَرُّ وَتَصْفَرُّ، أَرَأَيْتَ إِنْ مَنَعَ اللَّهُ الثَّمَرَةَ بِمَ تَسْتَحِلُّ مَالَ | | له انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د کجورو له خرڅولو تر هغه منعه کړې ترڅو پخې شي، مونږ. انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته وويل: پخوالی يې څه شی دی؟ هغه وويل: چې سرې او يا زيړې شي، نو چې د دغه ډول مېوې خرڅول الله منعه کړي دي نو ولې د ورور مال ځان |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| أَخِيكَ ] ( صحيح البخاري : ۲۲۰۸ ). | | لپاره حلال ګڼې؟ |
| ۷۳۳ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ [ نَهَى عَنْ بَيْعِ النّخْلِ حَتّى يَزْهُوَ، وَعَنِ السُّنْبُلِ حَتّى يَبْيَضّ، وَيَأْمَنَ الْعَاهَةَ نَهَى الْبَائِعَ وَالْمُشْتَرِيَ] ( صحيح مسلم : ۱۵۳۵ ). | | له عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د کجورو له خرخولو نه منعه کړې ده ترڅو پښې شي او په وږو کې يې له دانو خرڅولو نه منعه کړې ده ترڅو دانه سپینه ( کلکه ) شي او له اسماني افت نه په امان کې شي، پلورونکی او پیرونکی دواړه يې ترې منعه کړې دي. |
| د مزابنې بیع پیژندل | | |
| ۷۳٤ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا [أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ نَهَى عَنِ الْمُزَابَنَةِ، وَالْمُزَابَنَةُ: بَيْعُ الثّمَرِ بِالتّمْرِ كَيْلًا، وَبَيْعُ الزّبِيبِ بِالْكَرْمِ كَيْلًا ] (صحيح البخاري:۲۱۷۱) | | له ابن عمررَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له مزابنې نه منعه کړې ده، مزابنه دې ته ویل کیږي چې خوک میوه په کجورو باندې په پیمانه خرڅه کړی شي، یا ممیز په انګورو باندې په پیمانه خرڅ شي. |
| له مزابنې څخه (عرايا ) خاص ده | | |
| ۷۳۵ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ [أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ رَخّصَ فِي الْعَرَايَا أَنْ تُبَاعَ بِخَرْصِهَا كَيْلًا ] (صحيح مسلم:۱۵۳۹) | | له ابن عمررَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په عرایا کې رخصت ورکړی دی چې اټکل له مخې په پیمانه خرڅې شي. |
| عرايا په څومره اندازه کې جواز لري؟ | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ٧٣٦ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أَذِنَ لِأَصْحَابِ الْعَرَايَا أَنْ يَبِيعُوهَا بِخَرْصِهَا يَقُولُ: الْوَسْقَ وَالْوَسْقَيْنِ وَالثَّلَاثَةَ، وَالْأَرْبَعَةَ ] ( مسند احمد : ١٤٨٦٨) . | | له جابر بن عبدالله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هغه مهال واورېدل چې د عرایاو والا ته یې اجازه کوله چې په اټکل یې خرڅه کړې ویل یې: تر یو وسق، تر دوو، تر دریو وسقونو او تر څلورو. |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| د ربا بیان<br>هیڅ طعام به جنس په جنس باندې زیات نه شي خرڅولی | | |
| ۷۳۷ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ، وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ، وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ، مِثْلًا بِمِثْلٍ، يَدًا بِيَدٍ، فَمَنْ زَادَ، أَوِ اسْتَزَادَ، فَقَدْ أَرْبَى، الْآخِذُ وَالْمُعْطِي فِيهِ سَوَاءٌ ] ( صحيح مسلم : ۱۵۸٤ ) . | | له ابوسعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي، سره زر په سرو زرو، سپین په سپینو زرو، وربشې په وربشو باندې او کجورې په کجورو باندې، مالګه په مالګه باندې به خرڅولی شي هم یو څېر او هم لاس په لاس، که څوک زیات ورکړي او یا زیات وغواړي نو سود یې وکړ، په ګناه کې سود اخستونکی او ورکونکی دواړه یو شان دي. |
| سره او سپین زر به هم جنس په جنس باندې زیات نه شي اخستلی | | |
| ۷۳۸ - : عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبْتَاعَ الْفِضَّةَ بِالْفِضَّةِ وَالذَّهَبَ بِالذَّهَبِ إِلَّا سَوَاءً بِسَوَاءٍ، وَأَمَرَ أَنْ يَبْتَاعَ الْفِضَّةَ بِالذَّهَبِ كَيْفَ شَاءَ وَالذَّهَبَ بِالْفِضَّةِ كَيْفَ شَاءَ ] (صحيح ابن حبان: ۵۰۱٤) | | ابوبکره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم منعه کړې ده چې سره زر دې په سرو زرو، یا سپین په سپینو زرو دې خرڅ شي مګر دا چې یو څیر وي، او په دې یې امر کړی دی چې که سره زر په سپینو یا سپین په سرو زرو څوک څنګه خرڅوي خرڅولی شي. |
| که مذکوره اجناسو کې بدیل غائب وي خرڅول یې حرام دي | | |
| ۷۳۹ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى | | له ابوسعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي د ي: سره |

WWW.LARAKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [لاَ تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَلاَ تُشِفُّوا بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ، وَلاَ تَبِيعُوا الوَرِقَ بِالوَرِقِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَلاَ تُشِفُّوا بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ، وَلاَ تَبِيعُوا مِنْهَا غَائِبًا بِنَاجِزٍ ] ( صحيح البخاري: ۲۱۱۷) | | زر په سرو زرو باندې مه خرڅوئ مګر دا چې یو شان به وي، ځینې یې په نورو باندې په زیادت سره مه پلورې؟ سپین زر په سپینو باندې مه خرڅوئ مګر دا چې یو شان وي، ځینې یې په نورو باندې په زیادت سره مه خرڅوئ، غائب یې په حاضر هم مه خرڅوئ. |
| تفاضل پکې روا دی خو قبض پکې شرط دی | | |
| ۷٤٠ - : عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ، وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ، وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ، مِثْلًا بِمِثْلٍ، سَوَاءً بِسَوَاءٍ، يَدًا بِيَدٍ، فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هَذِهِ الْأَصْنَافُ، فَبِيعُوا كَيْفَ شِئْتُمْ، إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ] (صحيح مسلم: ۱۵۸۷) | | له عبادت بن صامت رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: سره په سرو زرو باندې او سپین سپینو زرو باندې، غنم په غنمو او وربشې پر وربشو، کجورې په کجورو او مالګه پر مالګې باندې خرڅولی شي خو چې یو شان او یو ځېر وي او لاس په لاس به وي، که مذکور اجناس سره منځ کې بدل شول نو چې څنګه مو خوښه وي هغسې یې خرڅ کړئ خو چې لاس په لاس وي. |
| د یو جنس کوټه مال به په خپل جنس متفاضل نه پلورل کیږي | | |
| ۷٤١ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِتَمْرٍ رَيَّانَ، | | له ابوسعید خدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته داسې کجورې راوړل شوې چې ډېرې په اوبو خړوب شوې وې، خو |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَكَانَ تَمْرُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْلًا فِيهِ يُبْسٌ، فَقَالَ: أَنَّى لَكُمْ هَذَا؟ قَالُوا: ابْتَعْنَاهُ صَاعًا بِصَاعَيْنِ مِنْ تَمْرِنَا، فَقَالَ: لَا تَفْعَلْ، فَإِنَّ هَذَا لَا يَصِحُّ، وَلَكِنْ بِعْ تَمْرَكَ، وَاشْتَرِ مِنْ هَذَا حَاجَتَكَ ] (سنن النسائي:٤٥٥٤) | | د نبي صلی الله علیه وسلم خپلې کجورې داسې وې چې په زیلو خړوبېدلې نو وچوالی پکې و، نو وېویل: دا مو له کومه کړئ؟ هغوی وویل: د خپلو کجورو دوو صاعو باندې مو یو صاع واخستې، هغه وویل: داسې مه کوئ دا ښه کار نه دی، بلکې خپلې کجورې خرڅوه او خپل اړتیا وړ پرې له دې نه واخله. |
| مذکوره اجناسو کې که جنس مختلف وي خو قرض پکې ربا ده. | | |
| ٧٤٢ - : عَنْ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِنَّمَا الرِّبَا فِي النَّسِيئَةِ ] ( صحيح مسلم: ١٥٩٦) | | له اسامه بن زیدرَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: سود په قرض کې وي. |
| د ربا ټولې خواوې لعنتیان دي | | |
| ٧٤٣ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ [ لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا، وَمُؤْكِلَهُ، وَكَاتِبَهُ، وَشَاهِدَيْهِ، وَقَالَ: هُمْ سَوَاءٌ ] ( صحيح مسلم: ١٥٩٨). | | له جابررَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت ویلی دی په سود خور باندې، د سود په ورکونکي او د سود په لیکونکي او ګواهانو باندې او ویلي دي چې دوی ګناه کې یو شان دي. |
| له کتو نه بغېر د شیانو ډیرې خرڅول حرام دي | | |
| ٧٤٤ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ: [ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الصَّبْرِ مِنَ التَّمْرِ لَا | | له جابررَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د کجورو د ډیري خرڅولو نه منعه کړې ده چې د کجورو په داسې ډیري دې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| يُعْلَمُ مَكِيلَتُهَا بِالْكَيْلِ الْمُسَمَّى مِنَ التَّمْرِ ] (صحيح ابن حبان: ٥٠٢٦) | | وپلورل شي چې پاېمانه يې معلومه نه وي. |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| د اقالې بیان<br>اقاله دنیوي او اخروي مشقتونه ختموي | | |
| ۷٤٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ أَقَالَ نَادِمًا بَيْعَتَهُ، أَقَالَ الله عثرته يوم القيامة] ( صحيح ابن حبان: ۵۰۲۹) | | له ابوهريرةرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: څوک چې له پښیمان نه خپله بیعه فسخه کړي الله به ترې د قیامت ورځې مشقت او تکلیف پورته کړي |
| ۷٤٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ أَقَالَ مُسْلِمًا، أَقَالَهُ اللَّهُ عَثْرَتَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ] (سنن ابن ماجه: ۲۱۹۹) | | له ابوهريرةرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: څوک چې له مسلمان څخه دبیعې عقد فسخه کړي الله به ترې د قیامت په ورځ مشقتونه لرې کړي. |
| په میوو او فصلونو کې د افتونو بیان | | |
| ۷٤٨ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِوَضْعِ الْجَوَائِحِ ] (صحيح مسلم:١٥٥٤) | | له جابررَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسماني افتونو وهلي فصل قیمت په نه اخستلو امر کړی دی. |
| په اقالې سره انسان الله ته نږدې کیږي | | |
| ۷٤٩ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: دَخَلَتِ امْرَأَةٌ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: | | له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روایت دي چې یوه ښځه نبي صلی الله علیه وسلم ته راغله او وېویل: پلار او مور مې درڅخه قربان شه، ما او زوی مې له فلاني څخه مال اخستی ومو شمارو خو په هغه ذات قسم چې تا ته یې |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| بِأَبِي وَأُمِّي، إِنِّي ابْتَعْتُ أَنَا وَابْنِي مِنْ فُلَانٍ ثَمَرَ مَالِهِ فَأَحْصَيْنَاهُ لَا وَالَّذِي أَكْرَمَكَ بِمَا أَكْرَمَكَ بِهِ مَا أَحْصَيْنَا مِنْهُ شَيْئًا إِلَّا شَيْئًا نَأْكُلُهُ فِي بُطُونِنَا أَوْ نُطْعِمُ مِسْكِينًا رَجَاءَ الْبَرَكَةِ، وَجِئْنَا نَسْتَوْضِعُهُ مَا نَقَصْنَا فَحَلَفَ بِاللهِ لَا يَضَعُ لَنَا شَيْئًا، فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَأَلَّى لَا يَصْنَعُ خَيْرًا، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، قَالَتْ: فَبَلَغَ ذَلِكَ صَاحِبَ الثَّمَرِ، فَقَالَ: بِأَبِي وَأُمِّي، إِنْ شِئْتَ وَضَعْتُ مَا نَقَصُوا، وَإِنْ شِئْتَ مِنْ رَأْسِ الْمَالِ، فَوَضَعَ مَا نَقَصُوا ] ( صحيح ابن حبان: ۵۰۳۲). | | عزت درکړی دی چې دومره مو ترې وشمارو (اخستی دی) چې یا مو په خیټه خوړلی دی او یا مو د برکت لپاره ترې مسکین ته څه ورکړي دي ، مونږ ورته ورغلو چې هغه راته شمار (حساب) نه کړي چې مونږ خوړلي دي، هغه قسم پورته کړ چې له مونږ نه به هېڅ نه کموي، نبی صلی الله علیه وسلم درې ځل وویل: قسم یې خوړلی دی چې د خیر کار به نه کوي! نو دا خبرې د کجورو والا ته ورسېدلې نو ویویل: زما پلار او مور درځخه قربان شه، که دې خوښه وي نو چې څومره کجورې یې استعمال کړي دي ورته به یې پرېږدم، او که دې خوښه وي له راس المال نه به یې ورته پرېږدم، نو چې څومره کجورې یې استعمال کړې وې ورته یې پرېښودې. |
| کومه میوه یا فصل چې افت وهلي وي نرخ معاف کول یې واجب دي | | |
| ۷۵۰ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: أُصِيبَ رَجُلٌ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثِمَارٍ ابْتَاعَهَا، فَكَثُرَ دَيْنُهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَصَدَّقُوا عَلَيْهِ، فَتَصَدَّقَ النَّاسُ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَبْلُغْ ذَلِكَ وَفَاءَ دَيْنِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِغُرَمَائِهِ: | | له ابوسعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې د یو سړي میوې چې اخستلې یې وې اسماني افت ووهلې نو ډېر قرضداری شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: خیرات پرې وکړئ نو خلکو پرې خیراتونه وکړل نو قرضونه یې پرې ادا نه شول، رسول الله صلی الله علیه وسلم یې د قرض څښتنانو ته |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| خُذُوا مَا وَجَدْتُمْ، وَلَيْسَ لَكُمْ إِلَّا ذَلِكَ ] ( صحيح مسلم: ۱۵۵٦) | | وويل: چې څومره ورسره دي هغه ترې واخلئ او نور حق مو پرې نه جوړېږي |
| د افت وهلي فصل يا ميوې نرخ اخستل حرام دي | | |
| ۷۵۱ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ مَنْ بَاعَ ثَمَرًا فَأَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ، فَلَا يَأْخُذْ مِنْ مَالِ أَخِيهِ شَيْئًا، عَلَامَ يَأْخُذُ أَحَدُكُمْ مَالَ أَخِيهِ الْمُسْلِمِ؟ ] ( سنن ابن ماجه: ۲۲۱۹). | | له جابررَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: که څوک ميوه خرڅه کړي او اسماني افت ورته ورسيږي نو له ورور څخه دې هېڅ شی نه اخلي، تاسو کې ولې څوک د خپل مسلمان ورور شتمني هېڅ په هېڅه اخلي؟ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| له مفلس سره په خپل مال سړی ډېر حقدار دی | | |
| ۷۵۲ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [ مَنْ أَدْرَكَ مَالَهُ بِعَيْنِهِ عِنْدَ رَجُلٍ -أَوْ إِنْسَانٍ- قَدْ أَفْلَسَ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ مِنْ غَيْرِهِ ] (صحيح البخاري: ۲٤۰۲). | | له ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي ویل یې: که څوک له داسې چا سره چې مفلس شوی وي او خپل مال ورسره ووینې له نورو خلکو څخه پرې ډېر حقدار دی . |
| ۷۵۳ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ أَيُّمَا رَجُلٍ بَاعَ سِلْعَةً، فَأَدْرَكَ سِلْعَتَهُ بِعَيْنِهَا عِنْدَ رَجُلٍ، وَقَدْ أَفْلَسَ، وَلَمْ يَكُنْ قَبَضَ مِنْ ثَمَنِهَا شَيْئًا، فَهِيَ لَهُ، وَإِنْ كَانَ قَبَضَ مِنْ ثَمَنِهَا شَيْئًا، فَهُوَ أُسْوَةُ الْغُرَمَاءِ ] ( سنن ابن ماجه: ۲۳٥۹). | | له ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایي: که هر چا توکې پر داسې چا پلورلي وي چې مفلس شوی وي او بعینه خپلې توکې ورسره ووینې او مقابل کې یې ترې د نرخ هېڅ هم نه وي اخستلي نو دغه توکې یې حق دی، خو که څینې نرخ یې ترې اخستی وي نو بیا د نورو په شان دی. |
| د ادا په نیت قرض کې الله له انسان سره مرسته کوي | | |
| ۷٥٤ - : عَنْ عِمْرَانَ ابْنِ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ مَيْمُونَةَ، قَالَ: كَانَتْ تَدَّانُ دَيْنًا، فَقَالَ لَهَا بَعْضُ أَهْلِهَا: لَا تَفْعَلِي، وَأَنْكَرَ ذَلِكَ عَلَيْهَا، قَالَتْ: بَلَى، إِنِّي سَمِعْتُ | | عمران بن حذیفه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي چې میمونې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا به قرضونه کول، څینو کورني غړو یې ورته وویل چې قرضونه مه کوه، هغې ورته وویل: ولې نه، ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| نَبِيِّي وَخَلِيلِي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَدَّانُ دَيْنًا، يَعْلَمُ اللَّهُ مِنْهُ أَنَّهُ يُرِيدُ أَدَاءَهُ، إِلَّا أَدَّاهُ اللَّهُ عَنْهُ ] (سنن ابن ماجه: ٢٤٠٨). | | اوريدلي دي : هيڅ مسلمان قرض نه کوي او الله پرې پوهه وي چې بيرته يې ادا کوي نو الله پاک به يې ورڅخه ادا کړي. |
| قرضدارو سره اساني کول د الله د رحمت سبب دی | | |
| ٧٥٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: كَانَ الرَّجُلُ يُدَايِنُ النَّاسَ، فَكَانَ يَقُولُ لِفَتَاهُ: إِذَا أَتَيْتَ مُعْسِرًا فَتَجَاوَزْ عَنْهُ، لَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يَتَجَاوَزَ عَنَّا، قَالَ: فَلَقِيَ اللَّهَ فَتَجَاوَزَ عَنْهُ] ( صحيح البخاري: ٣٤٨٠) | | له ابوهريرةرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: مخکې يو سړی و چې له خلکو سره به يې د قرض معامله کوله، بيا به يې خپل نوکر ته ويل: چې کله تنګدسته ته راشې نو معاف کوه يې شايد الله موږ معاف کړي، نو له الله سره په داسې حالت کې مخامخ شو چې هغه معاف کړی و. |
| پر مخلوق رحمت د الله د رحمت سبب | | |
| ٧٥٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [مَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ] (سنن ابن ماجه: ٢٤١٧) | | له ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې په تنګدسته باندې اساني وکړي الله به ورسره په دنيا او اخرت کې اساني وکړي. |
| ځينې قرض معاف کول مستحب دي | | |
| ٧٥٨ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ كَعْبٍ، أَنَّهُ تَقَاضَى ابْنَ | | عبدالله بن کعب وايي چې کعب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ له ابن ابي حدرد نه په مسجد کې خپل پور وغوښت نو |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| أَبِي حَدْرَدٍ دَيْنًا كَانَ لَهُ عَلَيْهِ فِي الْمَسْجِدِ، فَارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا حَتَّى سَمِعَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي بَيْتِهِ، فَخَرَجَ إِلَيْهِمَا حَتَّى كَشَفَ سِجْفَ حُجْرَتِهِ، فَنَادَى: يَا كَعْبُ قَالَ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: ضَعْ مِنْ دَيْنِكَ هَذَا وَأَوْمَأَ إِلَيْهِ: أَيِ الشَّطْرَ، قَالَ: لَقَدْ فَعَلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: قُمْ فَاقْضِهِ ] (صحيح البخاري: ٤٥٧) | | د دواړو اوازونه دومره لوړ شول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل کور کې واورېدل، دواړو ته راووت او له خپلې خونې یې پرده پورته کړه او اواز یې پرې وکړ: ای کعبه! هغه وویل: دا یم د الله رسوله! هغه ورته وویل: له قرض نه دې ورته دومره پرېږده او نیمايي ته یې اشاره وکړه، کعب وویل: د الله رسوله! نیم پور مې ورته معاف کړ، نبي صلی الله علیه وسلم ورته وویل: پاڅېږه او پاتې نیم قرض ورکړه. |
| سربراه کولی شي د مصلحت په خاطر چا باندې بندېز ولګوي | | |
| ٧٥٩ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا كَانَ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عُقْدَتِهِ ضَعْفٌ، وَكَانَ يُبَايِعُ، وَأَنَّ أَهْلَهُ أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ احْجُرْ عَلَيْهِ، فَدَعَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَهَاهُ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي لَا أَصْبِرُ عَنِ الْبَيْعِ، فَقَالَ: " إِذَا بَايَعْتَ فَقُلْ: هَا، وَلَا خِلَابَةَ] ( سنن ابن ماجه : ٢٣٥٤) | | له انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې د نبي صلی الله علیه وسلم په دور کې یو سړی ذهناً کمزوری و او له خلکو سره به یې اخستل او خرڅول کول، کورنۍ یې نبي صلی الله علیه وسلم ته راغله او ورته یې وویل: د الله رسوله ! په دې بندېز ولګوه، نبي صلی الله علیه وسلم راوغوښت او له اخستو او خرڅولو نه یې منعه کړ خو هغه ورته وویل: د الله رسوله، له اخستو او خرڅولو نه صبر نه شم کولی، هغه ورته وویل: بیا نو چې له چاسره اخستل او خرڅول کوې ورته وایه : واخله خو دوکه به نه وي. |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| د شتمن ټېل متول ظلم دی | | |
| ٧٦٠ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَطْلُ الغَنِيِّ ظُلْمٌ، فَإِذَا أُتْبِعَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيٍّ فَلْيَتْبَعْ ] ( صحيح بخاري: ٢٢٨٧) | | له ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: د مالدار سړي قرض کې ټېل متول ظلم دی، که تاسو کې چا ته په کوم مالداره حواله درکړی شي ورپسې دې شي. |
| په قصاص کې د وضیع او شریف هیڅ فرق نشته | | |
| ٧٦١ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ قُرَيْظَةُ وَالنَّضِيرُ، وَكَانَ النَّضِيرُ أَشْرَفَ مِنْ قُرَيْظَةَ فَكَانَ إِذَا قَتَلَ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْظَةَ رَجُلًا مِنَ النَّضِيرِ قُتِلَ بِهِ، وَإِذَا قَتَلَ رَجُلٌ مِنَ النَّضِيرِ رَجُلًا مِنْ قُرَيْظَةَ فُودِيَ بِمِائَةِ وَسْقٍ مِنْ تَمْرٍ، فَلَمَّا بُعِثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَتَلَ رَجُلٌ مِنَ النَّضِيرِ رَجُلًا مِنْ قُرَيْظَةَ، فَقَالُوا: ادْفَعُوهُ إِلَيْنَا نَقْتُلُهُ، فَقَالُوا: بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَوْهُ فَنَزَلَتْ: { وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ} وَالْقِسْطُ: النَّفْسُ بِالنَّفْسِ، ثُمَّ نَزَلَتْ: {أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ] ( سنن ابي داود: ٤٤٩٤ ) | | له ابن عباسرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې په مدینه کې بنوقریظه او بنو نضیر ول، خو بنونضیر له بنو قریظه نه ډېر معتبر و، که به له بنوقریظه څخه به چا بنونضیر کې څوک مړ کړ بیرته پرې قصاص کېده خو که له بنونضیر څخه به بنوقریظه مرګ وکړ نو د کجورو سل وسقه به ورته فدیه ورکړل کېده، کله چې نبي صلی الله علیه وسلم مبعوث شو له بنو نضیر څخه چا یو قرظي مړ کړ، ورته یې وویل: مونږ ته سړی راکړئ مونږ یې مړ کوو، هغوی ورته وویل: زمونږ او ستاسو ترمنځ به نبي صلی الله علیه وسلم فیصله وکړي، نبی صلی الله علیه وسلم ته راغلل نو دا ایت نازل شو: که تا یې ترمنځ فیصله کوله نو د عدل فیصله وکړه، او عدل دا و چې نفس دې په نفس قتل شي، بیا دا ایت نازل شو : ایا دوی دجهالت قانون غواړي؟ |

WWW.LARHKUD.COM

۷۶۲ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: لَمَّا رَجَعَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُهَاجِرَةُ الْبَحْرِ، قَالَ: أَلَا تُحَدِّثُونِي بِأَعَاجِيبِ مَا رَأَيْتُمْ بِأَرْضِ الْحَبَشَةِ؟ قَالَ فِتْيَةٌ مِنْهُمْ: بَلَى، يَا رَسُولَ اللَّهِ بَيْنَا نَحْنُ جُلُوسٌ مَرَّتْ بِنَا عَجُوزٌ مِنْ عَجَائِزِ رَهَابِينِهِمْ، تَحْمِلُ عَلَى رَأْسِهَا قُلَّةً مِنْ مَاءٍ، فَمَرَّتْ بِفَتًى مِنْهُمْ، فَجَعَلَ إِحْدَى يَدَيْهِ بَيْنَ كَتِفَيْهَا، ثُمَّ دَفَعَهَا فَخَرَّتْ عَلَى رُكْبَتَيْهَا، فَانْكَسَرَتْ قُلَّتُهَا، فَلَمَّا ارْتَفَعَتِ الْتَفَتَتْ إِلَيْهِ، فَقَالَتْ: سَوْفَ تَعْلَمُ يَا غُدَرُ إِذَا وَضَعَ اللَّهُ الْكُرْسِيَّ، وَجَمَعَ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ، وَتَكَلَّمَتِ الْأَيْدِي وَالْأَرْجُلُ، بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ، فَسَوْفَ تَعْلَمُ كَيْفَ أَمْرِي وَأَمْرُكَ عِنْدَهُ غَدًا، قَالَ: يَقُولُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: صَدَقَتْ، صَدَقَتْ كَيْفَ يُقَدِّسُ اللَّهُ أُمَّةً لَا يُؤْخَذُ لِضَعِيفِهِمْ مِنْ شَدِيدِهِمْ؟] ( سنن ابن ماجه: ۴۰۱۰).

له جابررَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم د حبشې مهاجرین راستانه شول ورته یې وویل: ایا د حبشو په ځمکه کې مو راته هغه تعجب وړ څه نه وایئ چې مو هلته لیدلي وي؟ ځینو خلکو ورته وویل: ولې نه، مونږ ناست ول چې د یو راهب ښځه یې په لاره تېره شوه او پر سر یې د اوبو لوښی و، پر یو هلک تېره شوه نو یو لاس یې ورله تر اوږو کلک ونیو نو په زنګونانو راپرېوته د اوبو لوښی مات شو، ښځه چې راپورته شوه هلک ته یې وکتل او ویویل: خائنه هغه وخت به پوهه شې چې د پرېکړو لپاره الله کرسی کېږدي، ټول اولني او اخرني راغونډ کړي، لاسونه او خپې خبرې شروع کړي او پر هغه څه غږېږي چې دوی کړي دي، سبا ته به پوهه شې چې زما او ستا به هلته څه حال وي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: ښځې رښتیا ویلي دي، ښځې رښتیا ویلي دي، داسې خلک چې له قوي خلکو نه د کمزورو بدل اخلي ولې به ورته الله عزت نه ورکوي؟

## یوه فیصله او دوه اجرونه

۷۶۳ - : عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: إِذَا

له عمرو بن العاصرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې اورېدلي دي ویل یې: قاضي چې کله پرېکړه وکړي

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ فَأَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ، وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ فَأَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ ] (سنن ابن ماجه: ۲۳۱٤) | | او تر حق ورسیږي نو دوه اجرونه به یې وشي، او که کله فیصله وکړي او خطا شي نو یو اجر یې دی. |
| د عدل پر فیصله د الله دوستانه ګتل کیږي | | |
| ۷٦٤ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللهَ مَعَ الْقَاضِي مَا لَمْ يَجُرْ، فَإِذَا جَارَ وَكَلَهُ إِلَى نَفْسِهِ ] ( سنن ابن ماجه: ۲۳۱۲). | | له عبدالله بن ابي اوفی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: الله تر هغه له قاضي سره وي چې ظلم یې نه وي کړی، چې ظلم وکړي نو خپل ځان ته یې پریږدي. |
| په غصه کې د قاضي فیصله | | |
| ۷٦٥ - : عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: لَا يَقْضِي الْقَاضِي بَيْنَ اثْنَيْنِ وَهُوَ غَضْبَانُ ] (سنن ابن ماجه: ۲۳۱٦). | | له ابوبکره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: قاضي دې په داسې حالت کې د دوو ترمنځ فیصله نه کوي چې غصه وي. |
| د کوڅې لارو شرعي اندازه | | |
| ۷٦٦ - : عَنْ عِكْرِمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ [قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَشَاجَرُوا فِي الطَّرِيقِ بِسَبْعَةِ أَذْرُعٍ] (صحيح | | له عکرمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې له ابوهریرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه مې اوریدلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې فیصله کړې ده چې کله د خلکو ترمنځ جنګ راشي نو اووه ګزه ( څنګلې ) ځای به پریږدي. |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| البخاري:٢٤٧٣) | | |

## د حاکم په فیصله حرام نه حلالیږي

| | | |
|---|---|---|
| ٧٦٩ - : عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ، وَإِنَّكُمْ تَخْتَصِمُونَ إِلَيَّ، وَلَعَلَّ بَعْضَكُمْ أَنْ يَكُونَ أَلْحَنَ بِحُجَّتِهِ مِنْ بَعْضٍ، وَأَقْضِيَ لَهُ عَلَى نَحْوِ مَا أَسْمَعُ، فَمَنْ قَضَيْتُ لَهُ مِنْ حَقِّ أَخِيهِ شَيْئًا فَلاَ يَأْخُذْ، فَإِنَّمَا أَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ ] ( صحيح البخاري: ٦٩٦٧) | | له ام سلمې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: زه انسان یم او تاسو ما ته خپل جنګونه راوړئ، شاید ځینې درپکې له ځینو نه خپل دلیل ښه وړاندې کړي او زه یې په حق کې داسې فیصله وکړم چې ښنګه یې واورم، که د کوم مسلمان وررور حق زه بل چا ته په فیصله کې ورکړم نو نه دي اخلي، ځکه چې له اور ښخه مې ورله ټوکړه ورکړه. |

## قسم خوړل په منکر او ګواه به په مدعي وي

| | | |
|---|---|---|
| ٧٧٠ - : عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: [ جَاءَ رَجُلٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ وَرَجُلٌ مِنْ كِنْدَةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ الْحَضْرَمِيُّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ هَذَا قَدْ غَلَبَنِي عَلَى أَرْضٍ لِي كَانَتْ لِأَبِي، فَقَالَ الْكِنْدِيُّ: هِيَ أَرْضِي فِي يَدِي أَزْرَعُهَا لَيْسَ لَهُ فِيهَا حَقٌّ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى | | علقمه له خپل پلار وائلرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت کوي چې یو سړی له حضرموت او بل له کنده نه نبي صلی الله علیه وسلم ته راغلل، حضرمي وویل : د الله رسوله! دی سړي زما دپلار په ځمکه قبضه اچولې ده، کندي سړي وویل: دا زما ځمکه ده او زما په لاس کې ده او ما پکې کروندې کړې دي دا پکې هیڅ حق نه لري، رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرمي ته وویل: ایا کوم دلیل لرې؟ هغه وویل: نا، بیا یې بل ته وویل: ته باید قسم وخورې، |

WWW.LARKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْحَضْرَمِيِّ: أَلَكَ بَيِّنَةٌ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: فَلَكَ يَمِينُهُ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، إِنَّ الرَّجُلَ فَاجِرٌ لَا يُبَالِي عَلَى مَا حَلَفَ عَلَيْهِ، وَلَيْسَ يَتَوَرَّعُ مِنْ شَيْءٍ، فَقَالَ: لَيْسَ لَكَ مِنْهُ إِلَّا ذَلِكَ، فَانْطَلَقَ لِيَحْلِفَ، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَدْبَرَ: أَمَا لَئِنْ حَلَفَ عَلَى مَالِهِ لِيَأْكُلَهُ ظُلْمًا، لَيَلْقَيَنَّ اللّٰهَ وَهُوَ عَنْهُ مُعْرِضٌ ] ( صحيح مسلم: ١٣٩) | | حضرمي وویل: د الله رسوله! سړی فاجر دی او د قسم خوړلو هیڅ باک نه کوي او نه ترې بیخي ځان ساتي! هغه ورته وویل: ستا پرې د قسم پرته نور حق نشته، نو ولاړ چې قسم وخوري، کله چې لاړ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: که دغه سړي د هغه په مال د ظلم له مخې قسم وخوړ نو هرومرو به له الله سره په داسې حالت کې مخ شي چې هغه به ترې مخ اړونکی وي. |
| په قرعه اندازۍ باندې پریکړه سمه ده | | |
| ٧٧١ - : عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ [ أَنَّ رَجُلًا أَعْتَقَ سِتَّةَ مَمْلُوكِينَ لَهُ عِنْدَ مَوْتِهِ، لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرَهُمْ، فَدَعَا بِهِمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَزَّأَهُمْ أَثْلَاثًا، ثُمَّ أَقْرَعَ بَيْنَهُمْ، فَأَعْتَقَ اثْنَيْنِ، وَأَرَقَّ أَرْبَعَةً، وَقَالَ لَهُ قَوْلًا شَدِيدًا ] ( صحيح مسلم:١٦٦٨). | | له عمران بن حصین رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې یو سړي د خپل مرګ په وخت کې شپږ غلامان ازاد کړل چې له دغه پرته نور مال یې نه لره، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم راوغوښتل او درې برخې یې کړل، بیا یې ورله ترمنځ خښنی وکړ نو دوه یې ازاد کړل او څلور یې بېرته غلامان کړل او سړي ته یې سختې خبرې وکړې. |
| رشوت خور لعنتي دی | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ۷۷۲ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [لَعْنَةُ اللهِ عَلَى الرّاشِي وَالْمُرْتَشِي ] ( سنن ابن ماجه: ۲۳۱۳) | | له عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي پر رشوت اخستونکي او ورکونکي دواړو دې د الله لعنت وي. |
| رشوت د لعنت سبب دی | | |
| ۷۷۳ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ الرّاشِيَ وَالمُرْتَشِيَ فِي الحُكْمِ ] ( جامع الترمذي: ۱۳۳٦). | | له ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په پرېکړو کې پر رشوت خور او رشوت ورکونکي باندې لعنت ویلی دی |
| د دعوې بیان | | |
| ۷۷٤ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَعَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ: [ مَنْ طَلَبَ حَقًّا فَلْيَطْلُبْهُ فِي عَفَافٍ وَافٍ، أَوْ غَيْرِ وَافٍ ] ( سنن ابن ماجه:۲٤۲۱) | | له ابن عمر او عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُا نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: که څوک خپل حق غواړي نو په پرهیزګارۍ دې دې وغواړي، خیر دی که لږ وي یا ډېره. |
| ګواه په مدّعي دی | | |
| ۷۷۵ - : عَنِ ابْنِ عَبّاسٍرَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنّ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [ لَوْ يُعْطَى النّاسُ بِدَعْوَاهُمْ، لَادّعَى نَاسٌ دِمَاءَ رِجَالٍ | | له عبدالله بن عباسرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:که خلکو ته په خپلو تشو دعو دنګلو څه ورکړل کېدلی شول نو ځینو خلکو خو بیخي پر نورو خلکو د وینو |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| وَأَمْوَالَهُمْ، وَلَكِنَّ الْيَمِينَ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ ] ( صحيح مسلم: ١٧١١ ) | | او مال دولت دعونې اچولې وې، خو دومره ده چې قسم په مدّعی علیه دی. |
| دروغژن قسم خور ته به الله غصه وي | | |
| ٧٧٦ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ حَلَفَ يَمِينَ صَبْرٍ لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ، لَقِيَ اللّٰهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَصْدِيقَ ذَلِكَ: إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا، أُولَئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الآخِرَةِ إِلَى آخِرِ الآيَةِ، قَالَ: فَدَخَلَ الْأَشْعَثُ بْنُ قَيْسٍ، وَقَالَ: مَا يُحَدِّثُكُمْ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ؟ قُلْنَا: كَذَا وَكَذَا، قَالَ: فِيَّ أُنْزِلَتْ كَانَتْ لِي بِئْرٌ فِي أَرْضِ ابْنِ عَمٍّ لِي، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَيِّنَتُكَ أَوْ يَمِينُهُ» فَقُلْتُ: إِذًا يَحْلِفَ يَا رَسُولَ اللهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينِ صَبْرٍ، يَقْتَطِعُ بِهَا مَالَ | | له عبدالله بن مسعودرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: څوک د دروغو قسم وخوري او دائم پرې پاتې شي په دې خاطر چې د مسلمان حق پرې غوڅ کړي نو له الله سره به په داسې حالت کې مخامخ شي چې هغه به ورته غصه وي، نو د دې په تصديق کې الله پاک دا ايت نازل کړ: هغه خلک چې د الله په عهد باندې او په خپلو قسمونو باندې پيسې ټکې اخلي نو په اخرت کې د دوی لپاره هېڅ برخه نشته، په دې دوران کې اشعث بن قيس راننوت وېويل: ابوعبدالرحمن درته څه وايي؟ مونږ ووېل: داسې داسې يې راته وويل:هغه ووېل: دا ايت زما باره کې نازل شوی دی، زما د کاکا ځوی په ځمکه کې زما کوهی و، نو نبي صلی الله علیه وسلم راته ووېل: يا به ګواه پېش کوې او يا به دا قسم خوري، ما ورته ووېل: د الله رسوله! دا خو پرې قسم ته تيار دی! نو نبي صلی الله علیه وسلم ووېل: څوک چې د دروغو قسم وخوري په دې خاطر چې د مسلمان حق پرې غوڅ کړي او دائم |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| امْرِئٍ مُسْلِمٍ، وَهُوَ فِيهَا فَاجِرٌ، لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانٌ ] ( صحيح البخاري: ٤٥٤٩) | | پرې پاتې شي او په خپل قسم کې فاجر وي نو له الله سره په داسې حالت کې مخامخ شي چې هغه به ورته غصه وي |
| د دروغو په قسم انسان له جنت نه محرومیږي | | |
| ٧٧٧ - : عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [ مَنِ اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِينِهِ، فَقَدْ أَوْجَبَ اللَّهُ لَهُ النَّارَ، وَحَرَّمَ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: وَإِنْ كَانَ شَيْئًا يَسِيرًا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: وَإِنْ قَضِيبًا مِنْ أَرَاكٍ ] ( صحيح مسلم: ١٣٧ ). | | له ابوامامه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې په خپل قسم د کوم مسلمان سړي حق راغوښ کړي نو الله به ورله اور واجب کړي او جنت به پرې حرام کړي، یو سړي ورته وویل: د الله رسوله که لږ څه وي نو بیا هم؟ هغه وویل: که څه هم د اراک د ونې لرګی ولې نه وي. |
| د صلحې بیان | | |
| ٧٧٨ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ زَادَ أَحْمَدُ، إِلَّا صُلْحًا أَحَلَّ حَرَامًا، أَوْ حَرَّمَ حَلَالًا ] ( سنن ابي داود: ٣٥٩٤). | | له ابوهریرة رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: د مسلمانانو ترمنځ سوله سلا جائز ده، احمد زیاتوي: مګر هغه صلحه نه ده جائز چې حلال حراموي او یا حرام حلالوي. |
| د صلحې اجر او ثواب | | |
| ٧٧٩ - :عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ | | له ابودرداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ایا د روژې، لمونځ |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّلَاةِ وَالصَّدَقَةِ؟ قَالُوا: بَلَى، يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: إِصْلَاحُ ذَاتِ الْبَيْنِ، وَفَسَادُ ذَاتِ الْبَيْنِ الْحَالِقَةُ ] ( سنن ابي داود: ٤٩١٩ ). | | او خيرات او صدقې له درجې هم درته لويه درجه نه درښايم؟ صحابه کرامو وويل: ولې نه د الله رسوله! هغه وويل: خپل منځ کې سره صلحه سلا کول، او خپل منځ کې ورانې ويجاړې حالقه ده ( نېک عملونه له منځه وړي ) |
| د عارېې بيان او تفصيل | | |
| ٧٨٠ - : عَنْ أَبِي أُمَامَةَرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ [ الْعَارِيَةُ مُؤَدَّاةٌ، وَالْمِنْحَةُ مَرْدُودَةٌ ] (سنن ابن ماجه:٢٣٩٨) | | له ابوامامه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم نه ما اورېدلي دي ويل يې: عاريه به بېرته ادا کولی شي او منحه ( عطيه ) به بېرته مالک ته ورکړل کيږي. |
| د شيدو لپاره چا ته بزه ورکول جنتي عمل دی | | |
| ٧٨١ - : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ أَرْبَعُونَ خَصْلَةً أَعْلَاهُنَّ مَنِيحَةُ الْعَنْزِ، مَا مِنْ عَامِلٍ يَعْمَلُ بِخَصْلَةٍ مِنْهَا رَجَاءَ ثَوَابِهَا، وَتَصْدِيقَ مَوْعُودِهَا، إِلَّا أَدْخَلَهُ اللَّهُ بِهَا الجَنَّةَ ] ( صحيح البخاري: ٢٦٣١ ). | | له عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: لوی خويونه څلوېښت دي او د لوی اجر والا په کې چا ته بزه ( وزه ) ورکول دي، هېڅ څوک نشته چې پر دغو خصلتونو او خويونو باندې د ثواب په نيت عمل کوي، او په وعدو يې د تصديق عقيده وي مګر الله به يې جنت ته داخل کړي. |
| د شيدو په صدقه کونکي د الله مهرباني | | |

WWW.LARHKUD.COM

| | | |
|---|---|---|
| ۷۸۲ - : عَنِ الْبَرَاءِ بْنَ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَقُولُ: [ مَنْ مَنَحَ مَنِيحَةَ لَبَنٍ أَوْ وَرِقٍ أَوْ هَدَى زُقَاقًا كَانَ لَهُ مِثْلَ عِتْقِ رَقَبَةٍ ] ( جامع الترمذي: ۱۹۵۷ ) | | له براء بن عازب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه نه مې اورېدلي دي ویل يې : څوک چې چا ته د شېدو مال، یا درهم ورکړي او یا ورته ورکه لاره وښايي نو د یو غلام ازادولو په څېر ثواب به يې وشي. |
| د بچو ترمنځ به په هبه کې عدل کول | | |
| ۷۸۳ - : عَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، [ أَنَّ أَبَاهُ نَحَلَ ابْنًا لَهُ غُلَامًا، فَأَتَى النَّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يُشْهِدُهُ، فَقَالَ: أَكُلّ وَلَدِكَ نَحَلْتَهُ مِثْلَ مَا نَحَلْتَ هَذَا؟، قَالَ: لَا، قَالَ: فَارْدُدْهُ ] ( سنن الترمذي: ۱۳۶۷ ] | | نعمان بن بشیر رضي الله عنه نه روايت دی چې خپل پلار يې ورته تحفه کې یو غلام ورکړی و، نو نبي صلی الله علیه وسلم ته ر اغی ترڅو په دې يې ګواه کړي، هغه ورته وویل: ایا ټول بچو ته دې داسې تحفې ورکړې دي لکه ده ته چې دې ورکړی دی؟ هغه وویل: نا، نبي صلی الله علیه وسلم وویل: بېرته دې تحفه واپس کړه. |
| تحفه قبلول د مسلمان صفت دی | | |
| ۷۸٤ - : عَنْ خَالِدِ بْنِ عَدِيٍّ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَقُولُ: [ مَنْ بَلَغَهُ مَعْرُوفٌ عَنْ أَخِيهِ مِنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ، وَلَا إِشْرَافِ نَفْسٍ، فَلْيَقْبَلْهُ وَلَا يَرُدَّهُ، فَإِنّمَا هُوَ رِزْقٌ سَاقَهُ اللّٰهُ إِلَيْهِ ] ( مسند احمد: ۱۷۹۳۶) | | خالد بن عدي الجهني رضي الله عنه وايي ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اورېدلي دي ویل يې: چې سوال او غوښتنې نه بغیر کوم مسلمان ورور ته له چا نه څه ښه ورسیږي، چې بیخي يې ورته ځان هم نه وي معرفي کړی ( چې زه يې مستحق یم ) نو قبول دې کړي، ځکه چې دا داسې رزق دی چې الله ورته راورسو. |

WWW.LAPHKUB.COM

الحمدلله الذي تتم بنعمته الصالحات وله الحمد أولا واخرا

WWW.LARHKUD.COM